تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

علامۂ عصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ سعید الایوبی
السندھاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

الناشر
مکتبۃ القراۃ والتجوید
کانسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښي اولنی او په افغاني تاریخ کښي بې ساری په زرګونو جدیدو مسئلو باندي مشتمل

تفسیر ایوبي حنفي

(تلسم ټوکی ۱۸)

تَبٰرَکَ الَّذِیْ (۲۹) عَمَّ (۳۰)

تالیف او تصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة القرأة والتجوید

کاسي روډ شالدره کوټه

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم.............. تفسیر ایوبي پښتو اتلسم ټوک
مفسر.................... الحاج مولنا ابو الفضل محمد عبید الله
الایوبي الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي
کمپوزر.................. حبیب الحق حقاني
ټایپ.................... حقاني کمپیوټر اداره
نشر کوونکې اداره.............. مکتبة القراءت والتجوید کاسي روډ کوټه
د چاپ ځای.............. لاهور

یو نظر دې خوا

هیڅ یو مسلمان هم په قرآن مجید، احادیثو یا د فقهي په کتابو کي په قصده سره غلطي نه کوي، زموږ اداره تر خپله وسه پوري د کتابو تر لیکلو وروسته تصحیح ته زیاته پاملرنه کوي، چي له دې کبله زموږ کتابونه معیاري دي، خو بیا هم بنده بنده دی، یو نه یو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کي یا په یوه جمله کي ځني صادره سي، نو زموږ د ټولو ناظرینو څخه دا خواست دی چي که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونیسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کي د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

بسم الله الرحمن الرحيم

الطبعة الاولى

١٤٣٤ هجري - ٢٠١٣ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

شارع كانسي كوئته – بلوجستان

رقم الهاتف ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI .ROAD .QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0




اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ الْوَرٰى

وبعد: محترمو لوستونكو له ډېره وخته انتظار كونكو او د تفسير ايوبي واتلسم ټوك ته ستركې په لارو ملګرو! نېكي هيلي او زېرى مي ومنئ.

الحمد لله ستاسو د دعاګانو او ارمانونو نتيجه همدغه ده ستاسو په مخ كي ده، الله تعالى دي ددې تفسير و مرتب حضرت علامه مولانا ابو الفضل محمد عبيد الله صاحب الايوبي كندهاري سليمانخيلي ته نور هم د دين متين خدمت ورپه برخه كړي.

او الله تعالى دي ددې تفسير و چاپونكي اداري (مكتبة القراءت والتجويد) ته هم ترقي او حفاظت ورپه نصيب كړي. آمين.

محترمو ملګرو! په زرګونو مسلمانانو دعاوي وكړې چي يا الله دغه تفسير ايوبي چي په تاريخ كښي اولنى داسي تفسير دى چي مرتب يې پخپله مورنى ژبه پښتو ليكلى دى، او دا يوائنى د افغانانو ويار او افتخار دى.

ولي چي موږ په افغاني تاريخ کي يو داسي ضخيم او پر ډېرو فقهي او جديدو مباحثو او پر علمي خزانو باندي مشتمل تفسير نه درلود.

لله الحمد چي ملګري را سره مله وه او د (۱۴۲۴) هجري قمري څخه دا لړۍ پيل شوه چي د خدای عزوجل په فضل په (۱۴۳۴) هجري کښي و تکميل ته ورسېدی يعني په (لس) کاله کښي.

مکتبه القرائت والتجويد په دې وياړي چي د قرآن مجيد ودې ستر خدمت ته يې ملا تړلې ده او د تجويد د کتابونو سره سره يې د علم تفسير، علم فقه او علم عقائد کتابونه هم چاپ ته سپارلي دي.

د الله تعالی څخه د دې تفسير د مقبوليت او د محشر په ورځي د دې تفسير د حجة لنا مصداق وګرځوي... آمين.

د نورو دعاګانو په هيله.

ورور مو

قاري فضل الحق حقاني
باني مکتبة القرائت والتجويد

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله حمدًا كثيرًا جزيلًا جميلًا طيبًا مباركًا فيه و مباركًا عليه كما يحب ربنا ويرضى والصلوة والسلام على من دنى فتدلى فكان قاب قوسين او ادنى وعلى اله وصحبه البررة الاتقياء. اما بعد حان ان اشرع فى تفسير سورة الملک ويسمى تبارک الذى والمانعة والمنجية.

درويش وايي: چي تفسير د سورة الملک او په بل نامه سورة تبارک الذي نامزد دی په ثلث اخير کي د شنبې د شپې د جمادی الاول اخيري نېټه شروع سو، سنه (۱۴۳۳) هـ ق، اخيري يې د رب جل وعلا په علم او قبول کي دی او قبول يې هم د خدای پاک په علم شامل کي دی، لکن يو شاعر وايي:

همت بلند دار که نزد خدا و خلق ..... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

د رب جلت رحمته څخه د کامل صحت او عافيت خوښوونکی يم چي د قرآن عظيم الشان دا دوه اخيري جزء په خير او عافيت پای ته ورسوي، وما ذالک على الله بعزيز، ولذا قال سبحانه اعونى استجب لکم.

پوه سه: چي الطبراني له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي موږ دا سورت په زمانه کي د رسول الله ﷺ المانعة بولی، او ترمذي او نورو اصحاب السنن روايت کړی دی له ابن عباس رضي الله عنهما څخه چي بعض له اصحابو څخه د رسول الله ﷺ خيمه درولې وه پر يوه قبر باندي، دده ګمان دا نه وُ چي دلته به قبر وي (يعني مځکه هواره وه د قبر نخښه نه وه) نو د شپې يو انسان چي تر خيمې لاندي د هغه قبر وُ سورة الملک يې شروع کړی حتی چي پای ته يې ورسوی او د خيمې سړي هم اورېدی، نو هغه خيمې والا راغلی و نبي کريم ﷺ ته يې دا ټوله قصه وکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل چي دا سورة مانعة دی او المنجية دی چي نجات ورکونکی دی له عذاب القبر څخه (يعني دداسي چا لپاره چي په دنيا کی به يې ددې سورة تلاوت همېشه کاوه) واخرج الطبراني والحاکم وابن مردوية او عبد بن حميد فى مسنده عن ابن عباس رضي الله عنهما چي ده وويل يو چا ته: زه تا ته يوه تحفه د حديث درنه کړم چي ته به په خوشحاله سې؟ هغه سړي ورته وويل بلی يعني را يې

کړه، قال اقرأ تبارک الذی بیده الملک یعني الی اخیره، او دا سورت ستا په اهل و جمیع ولدک (ستا په ماینه او په ټوله اولاد) او په کوچنیان د کور ستا او ستا په همسایه ګانو زده کړه، فانها المنجیة والمجادلة یوم القیامة په نیز د خدای ﷻ لقارئها، او دا سورت طلب کوي (یعني په لسان قال سره په قدرت د رب العزة) ان تنجیه من عذاب یعنی چي دی قاري ته نجات ورکړي له اور څخه وینجوبها من عذاب القبر (دا جلا جمله ده له ماقبل څخه)

درویش وايي: چي دا سورة مکیة دئ علی الاصح کما فی روح المعاني والمظهري و روح البیان لکن روح البیان وايي چي آیتونه دیرش دي او مظهري هم وايي چي آیتونه یې دیرش دي او روح المعاني په نقل د بل ویلي دي چي آیتونه یو دیرش دي.

سُوْرَةُ المُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرُۨ ۝١

تبارک مشتق دی له برکت څخه په معنی د زیادت مقتضي للکمال ده وعدم النقصان، هغه ذات لره چي په قدرت کي دده الملک دی یعني للعلویات والسفلیات.

(وهو علی کل شیئ قدیر) او خدای پاک پر هر شي باندي قادر دی.

پوه سه: چي فقیر د ید ترجمه په قدرت سره وکړه لان الید الحقیقي متمنع علی الله تعالی لانه لیس بجسم کما تحقق فی موضعه.

فائده: نسبت د برکت یې و خدای ﷻ ته وکړی باعتبار تعالیه عما سواه فی ذاته لانه واجب الوجود ولیس في الموجودات غیره واجب الوجود کما برهن علیه فی علم الکلام وفی صفاته الجمالیة والجلالیة وافعاله کما هو من اجلي الالهیات واطلاق العالم والقادر وغیرهما علی غیره تعالی مجاز وقس علیه افعاله تعالی فافهم.

پوښتنه: تبارک خو پر وزن د تفاعل دی په دې کي تعدد د فاعل غواړي؟

ځواب: روح المعاني وايي چي صیغه د تفاعل د مبالغې لپاره ده کما في امثاله ای المبالغة فی الخیر والبرکة فافهم.

پوه سه: چي شیئ په اصل کي مصدر دی د شاء و یشیئ شیئًا ای اراد، دلته په

معنی د مفعول دی فالمعنی کل ماشاء نو ذات د خدای ځندي خارج دی وکذا الممنعات کاجتماع النقیضین وارتفاعها لانها لایتعلق بها مشیته تعالی لان مشیته تعالی یتعلق بما هو الممکن فی ذاته.

والحاصل چي هیڅ دفع د ما اراد الله تعالی نه سي کولای، نتیجه یې دا ده چي خوف او رجاء دي ځوک نه کوي بېله خدای عزوجل..... بیت:

ټوله اندازه د خیر او شر بوله له خدایه څخه
کله پېښېږي نېک او بد له خپلي رائ څخه
خدمت او کن مگر شاهان ترا خدمت کنند
چاکـــر او باش تا سلطان ترا گردد غلام

درویش وایي: چي دا جمله معطوفه ده پر صله مقرره لمضون الصلة.

پوه سه: چي جمله د والله علی کل شیئ قدیر پر منزله د دعوی وه پر وجود د خدای او پر کامل قدرت د خدای او پر کمال د صفاتو د خدای، نو دې دعوې لره دلیل په کار ؤ، په وروسته آیتو کي خدای عزوجل دلائل راوړه بعض دِلائل په انفسو کي د مکلفینو من خلق الموت والحیوة وفی السمٰوات بلا تفاوت وخطور عطف تفسیر دی و خلق الارض وجعلها ذلولاً وما في الارض من الارزاق، والطیر صافات، او په مابین کي د دغو دوو دلائلو استطراداً عذاب د کافرانو ذکر کړی دی هم استطراداً ثواب د الذین یخشون ربهم المنتفعون بالحجج والبینات کل تلک الامور سیجیئ فی الآیات الآتیة، فقال:

اَلَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیٰوةَ

پوه سه: چي دا موصول یا له دې سببه چي بدل د موصول اول څخه دی یا خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو الذي خلق آه مرفوع دی.

فائده: حیوة له صفاتو څخه د خدای عزوجل دی په خدای کي معنی دا ده چي صفة یستتبع (چي مستلزم دی) علم او قدرت وللارادة وغیرها من صفات الکمال لره، او خدای عزوجل دا صفت حیوة وېشلی دی پر ممکناتو وخلقها فیها علی حسب اراته تعالی او استعدادات ددې صفت د حیوة خدای ښکاره کړي دي په ممکناتو کي علی مراتب شتّی (۱) په بعضو ممکناتو کي یې دا صفت داسي پیدا

کړی دی چي معرفت د ذات او د صفاتو د خدای ؒ کولای سي، وذالک بالقاء نور فی قلب العارف بالله، او دا قسم حیوة او مقابل د هغه چي موت دی په دې آیت کي مراد دی کریمه: افمن کان میتًا فاحییناه ای کان کافرًا منکرًا من وحدانیته تعالی فیلقی الله في قلب نور الایمان بوحدانیته تعالی في ذاته وصفاته کامثال المؤمنین الذین آمنوا و تابوا عن الشرک (٢) او په بعضو ممکناتو کي يې داسي حیوة پیدا کړی دی چي حس او حرکت ارادي په کولای سي چي هغه حیوة دی او مقابل د هغه موت دی او په هغه آیت کریمه کي اشاره ورته سوې ده (کنتم امواتًا) یعني نطفةً وعلقةً ومضغةً فاحییناکم ای نفخنا فیکم الروح فی رحم الام ثم یمیتکم علی الاجل الموعود ثم یحییکم عند الفخة الثانیة من اسرافیل الذی یعبر عنه بالبعث بعد الموت (٣) او په بعضو ممکناتو د حیوة او د مقابل د هغه چي موت دی داسي تعبیر خدای عزوجل کړی دی: یحیی الارض (یعني باخراج النباتات) بعد موتها (ای بعد یبسها) لکه په پسرلي او وروسته نباتات له مځکي را وزي وروسته تر دې چي په ژمي له نباتاتو څخه مځکه خالي وه.

پوه سه: چي دا دوه قسمه حیوة بنفخ الروح الانساني والحیواني والنباتي فی الاجسام الثلثة ای الانسان والحیوان والنبات، ولیس شیئ من الاقسام الثلثة فی الجمادات لکه ډبري، غرونه وغیرها، نو له دې سببه خدای عزوجل د مشرکانو د بتانو په باره کي داسي وايي: اموات غیر احیاء، لکن جماداتو لره نوع د حیوة سته قال الله تعالی: وان منها (ای من الاحجار) لما یحیط من خشیة الله.

وعن ابن مسعود ﷛ کنا نطعم من القصعة ونسمع تسبیح الطعام والقصعة، وفی حدیث صحیح قال رسول الله ﷺ چي هغه ډبره اوس هم پیژنم چي زه به غار حرام ته تلم دې به ویل: السلام علیکم.

پوه سه: چي دا اخیر قسم د حیوة لازم د وجود سره لیس بشیئ کما قال الله تعالی وان (نافیه) الا یسبح بحمده (ای متلبسًا بحمد الله) یعني سبحان الله وبحمده لکن لا تفقهون تسبیحهم (لکن تاسي يې په تسبیح نه پوهېږئ یعنی الجمادات) او تقابل د حیٰوة او موت تر مابین ایجاب او سلب دی چي د موت معنی داده چي عدم الحیوة مطلقًا یا عدم الملکة ای عدم الحیوة عما من شانه الحیوة فافهم، او بعض علماء

وایي چي موت صفت وجودیة دی فتقابلها مع الحیوة تضاد دی، نو دوی وایي چي موت صفة و کیفیة فی الاجسام مانعة عن العلم والقدرة.

درویش وایي: چي دا قول د دوی د بداهة او عقل څخه لېري دی لانا لاتجد فی الاموات صفة وجودیة منضمًا الی ذواتها وشان الموت شان العمی فی الاعمی ینتزع من الاعمی لیس الا فتدبر.

پوښتنه: په بخاري او مسلم کي له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی، وایي نبي کریم ﷺ وویل چي اهل نار چي نار ته داخل کړل سي یحاء بالموت حتی یجعل بین الجنة والنار ثم یذبح، بیا یوه ملکه ناره وکړي یا اهل الجنة لاموت ویا اهل النار لاموت، نو د اهل جنت خوشحالي زیاته سي او د اهل النار حزن او غم زیات سي.

درویش وایي: چي ټول ورته حدیثونه په روایاتو مختلفهٔ سره موجود دي نو ددې احادیثو معنیٰ څه ده؟

ځواب: سلف صالحین وایي چي په ورته حدیثو کي دي خوض او بحث نه کوي او ایمان دي پر وي وتفویض علمه الی الله تعالی کما في سائر المتشابهات الرحمن علی العرش استوی، ید الله فوق ایدیهم یعني في البیعة الی غیر ذالک وهذه المتشابهات کثیرة في القرآن العزیز وفي الاحادیث النبویة.

لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾

چي ستاسي امتحان واخلي.

سوال: خدای عزوجل خو په علم ازلي سره په ټولو احوالو خبر دی، نو امتحان ته څه ضرورت دی؟

ځواب: د آیت معنی داده چي ستاسي سره معامله د خیر امتحان او اختیار وکړي ایها المکلفون بوضع التکالیف بالاوامر والنواهي.

(ایکم احسن عملاً) دا جمله معطوف ثاني ده د یبلوکم، کوم څوک احسن دی از روی عمل، البغوي رحمه الله په خپل سند سره روایت کړی دی له ابن عمر رضي الله عنهما څخه مرفوعًا (یعني الی رسول الله ﷺ) په معنی کي ددې آیت احسن عملاً ای احسن عقلاً و اورع عن محارم الله واسرع الی طاعة الله انتهی.

(وهو العزیز الغفور) او خدای تعالی غالب دی په انتقام کي د عصاتو او

بخښونکی دی لمن شاء تاب ام لم يتب بعد كونه مؤمنًا.

فائده: ليبلوكم متعلق دی په خلق الموت والحيوة پوري يعني الحكمة في خلق الموت والحيوة ښكاره كول او جلا كول دي د مطيع الله عزوجل د عاصي څخه فان الحيوة مدار التكاليف والموت واعظ ساكت چي مكلف ته وايي چي ژوند غنيمت وبوله او زاد المعاد برابر كړه، ګويا مرګ په پټه خوله وايي چي وروسته تر ما بيا هيڅ عمل نسته، قال النبي ﷺ لعبد الله بن عمر رضي الله عنهما خذ من صحتك لسقمك (واخله له وخت څخه صحت خپل برخه د ناجوړی يعني په جوړ والي د خدای ج ډېر عبادت كوه چي كه ناجوړی سې بيا د غومره عبادت نسې كولای) ومن شبابك لهرمك او د ځوانی له عمر څخه برخه واخله د وخت لپاره چي كلان ساله كيږې يعني په ځوانی د خدای ج ډېر عبادت كوه او په لهو ولعب ځواني مه تېروه، ولي چي زوړ سې زړه به دي عبادت غواړي لكن د هرم له سببه به عبادت كما حقه نسې كولای (ومن فراغك لشغلك) او د فارغت په وخت كي د شغل برخه واخله، يعني چي هر وخت دي ځان فارغه وليدی د خدای ج عبادت ډېر كوه ولي په يو كار كه مشغول سوې بيا خو عبادت ډېر نسې كولای (ومن حياتك لموتك) يعني چي ژوندی يې د خدای ج عبادت ډېر كوه ولي چي مړ سې عبادت ختم كيږي (فانك لا تدري ما اسمك غدًا، ته نه) ته نه يې خبر چي ستا به څه نوم وي په آخرت كي (اسعيد ام شقي) وعن عمار بن ياسر رضي الله عنه مرفوعًا كفى الموت واعظًا وكفى باليقين غني.

الَّذِىْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ط

پوه سه: چي دا موصول بل خبر دی د هو يا صفت دی د الغفور يا بدل دی د موصول سابق.

ترجمه: هغه خدای ج چي پيدا كړي يې دي (يعني بېله مثال سابق) اووه آسمانونه، طباقًا صفت د سبع سمٰوات دی وهو مصدر دی په معنی د فاعل، والمعنى مطابقة بعضها لبعض وسماء وفوق سماء چي پنډوالی د هر آسمان د پنځه سوه (۵۰۰) كالو لار ده ومابين السمائين ايضًا مسافة خمس مائة عام حتى ينتهي الى الكرسي.

مَا تَرٰى فِىْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍ فَارْجِعِ الْبَصَرَ

يا محمد (ﷺ) او ای مخاطب کان و کلمة ما نافية مفعول د ترٰی دی (فی خلق الرحمن) والاضافة للعهد ای ما ذکر من السمٰوات السبع والاضافة الی الرحمن للتعظيم کما في بيت الله الکعبة (من تفٰوت) يعني فرق په دې معنی چي هر مخلوق ته رب جل وعلا هغه اعضاء ورکړي دي چي د هغه مناسب وي (فارجع البصر) ته په سترګو وګوره، جزاء د شرط محذوف ده ای ان زعمت ان يظهر لک التفاوت في خلق الرحمن بتکرار يعنی زه به بيا ورته وګورم ما ته به يې تفاوت ظاهر سي فارجع البصر بالتکرار.

هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُوْرٍ ﴿٣﴾

آيا ته وينې په آسمان کي څيري ځايونه، مشتق دی من فطره اذا شقه لامتناع الخرق والالتيام على السمٰوات عند الفلاسفة ابدًا وعند الاسلام امتناع الخرق الى ماشاء الله، قال اذا السماء انفطرت واذا الکواکب انتثرت وقوله تعالى والسماء منفطر به، وهذا فی قرب خراب الدنيا.

ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنْقَلِبْ اِلَيْكَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِيْرٌ ﴿٤﴾

بيا واړوه سترګي دوه واره، راوبه ګرځي سترګي يعني د پيدا کولو د شقاق په آسمان کي ستړی او بعيد له مطلوب څخه مع الذل (ينقلب) مجزوم دی چي جواب د امر دی (وهو حسير) دا بصر به ستړی وي په سبب د کثرة المعاودة الى السماء، قال البغويؒ روی عن کعب الاحبار السماء الدنيا يعني اول آسمان موج مکفوک څپې دی اوبو ځای پر ځای ممنوغ دی له نزول څخه، والثانية من درة البيضاء، والثالثة حديد والرابعة صفراء نحاس ژړ مس دي والخامسة فضة خالصة والسادسة ذهب والسابعة ياقوت حمراء، والله اعلم بحال مخلوقه.

فائده: مراد له کرتين څخه حقيقت تثنيه نه ده بلکې مراد تکثير د ارجاع دی يعني مرة بعد مرة کما قوله المحرم لبيک اللهم لبيک.

فائده: مقصود د استفهام د هل تقرير دی يعني حمل المخاطب على الاقرار.

وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ

پوه سه: چي لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله په تحقيق موږ ښائسته کړی دی السماء الدنيا ای القربی الی الارض چي اول اسمان دی په څراغانو سره چي مراد څني ستوري دي، مصابيح يې په دې وبلل چي مسافران د بر او بحر په ذوی سره لار پيدا کوي، مظهري" وايي چي ظاهره د آيت پر دې دلالت کوي چي کواکب ټول په شمول د لمر او سپوږمی مرتکزه په اول آسمان کي دي، نو پر مظهري" که سوال وسي چي دا سبع سياره کواکب حرکت يې سرعة و بطوء او شرقًا او غربًا سره مختلف دی، نو څرنګه په يوه آسمان کي کېدلای سي؟ ده جواب ورکړی دی چي آسمانونه پر ځای ولاړ دي او دا ستوري حرکت پکښي کوي لکه ماهيان په اوبو کي نو ځينې ستوري چابک روان دي او ځينې کرار، او بعض ستوري شرقًا روان دي او بعض غربًا، او مظهري" دا هم ويلي دي وما زعمت الفلاسفة خذلهم الله امر لا دليل عليه الی اخيره او صاحب د روح البيان اول د مصابيح ترجمه کړې ده حيث قال: المصابيح جمع المصباح وهو السراج وتنكيره للتعظم والمدح، بيا يې ويلي دي بکواکب مضيئة بالليل من السيارات چي پنځه ستوري دي: القمر، والعطارد والزهرة، والشمس، والمريخ، او سيارات يې په دې بولي چي حرکت بالا دی تر ثوابت وان کانت الخمسة مختلفة في حرکاتها، بيا يې ويلي دي والثوابت چي د هغو حرکت نهايت بطئ دی د سړي ګمان کېږي چي پر ځای ولاړ دي، بيا يې سوال کړی دی چي ستوري خو ټول په دې اول آسمان کي دي بلکي بعض يې په نورو آسمانو کي سي، القمر چي په اول آسمان کي ده، بيا يې جواب ورکړی دی چي آسمانونه چونکه شفاف دي واجرامًا صافية تترای وتظهر الکواکب کانت سيارة او ثوابت سواء کانت في سماء الدنيا لکه مظهري چي وويل، او فی سمٰوات اخری کما هو التحقيق تلوح في سماء الدنيا فعلی التقديرين تکون سماء الدنيا مزينة بهذه المصابيح، بيا يې ويلي دي چي په مصابيح کي قمر هم داخل دی لانه اعظم مضئ بالليل انتهی.

درویش وايي: چي کلام د روح البيان په غايت تحقيق کي دی، والله اعلم بالصواب.

وَجَعَلْنٰهَا رُجُوْمًا لِّلشَّيٰطِيْنِ وَاَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيْرِ۝۵

موږ ګرځولي دي مصابيح (عبارت له ستورو څخه) ويشتونکي د شيطانانو (چي دوی د ملکو خبرو ته غوږ ونيسي) او موږ مهيا کړی دی شيطانانو لره عذاب د اوور يعني په آخرت کي.

سوال: ستوري د آسمان که پر شيطانانو را شوه سي، نو پر مځکه يې بايد اجرام ليدل کېدلای وليس کذالک، او بل دا چي دې ستوري به ډېر وطنونه خرابولای او ډېر خلک به يې هلاکولای؟

ځواب: جرم د کواکبو له خپل ځای څخه نه را جلا کېږي بلکي د هغه ستوري څخه يوه لمبه چي شهاب يې بولي جمع د شهب ده، نو دا را جلا سي (للشياطين) چي دوی يو پر بل پورته سي ځانونه تر آسمانه ورسوي او د ملکو خبرو ته غوږ نسي، نو هغه شهاب دوی سره درپه دره کړي څوک مړه سي او څوک تپيان سي.

فائده: چونکه په دمخه آيت کي يې ذکر د شيطانانو وکړی په راتلونکي آيت کي خدای پاک ذکر د عذاب د کفارو کوي، لکون الشياطين من جملة الکافرين، او بل دا چي کفار د انس او جن اخوان الشياطين دي.

وَلِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ۝۶

او هغه کسانو لره چي کفر کوي په رب سره د دوی، يعنی د الله عزوجل توحيد نه مني بلکي بتان په عبادت کي ورسره شريک بولي، نو د داسي کسانو لپاره دی عذاب د دوږخ او دوږخ بد ځای دی د ورتګ، ولي چي وقودها الناس والحجارة او په هغه کي دوی ابدًا مؤبدًا وي.

اِذَآ اُلْقُوْا فِيْهَا سَمِعُوْا لَهَا شَهِيْقًا وَّهِيَ تَفُوْرُ۝۷

چي وغورځول سي کافران په جهنم کي.

پوه سه: چي ضمير مؤنث راجع دی و جهنم ته چي دا لفظ مؤنث سماعي دی. (سمعوا لها) دوی به واوري له جهنم څخه (شهيقًا) يعنی يوه ناره لکه د خره، وان انکر الاصوات لصوت الحمير، څوک وايي چي اور داغسي ناري وهي، او بعض مفسران وايي چي تر دوی دمخه چي و دوږخ ته داخل سوي وي پر هغو دغه ناري وهي.

درویش وايي: چي وهذا الوجه لايطرد في اول فرقة دخلوا النار فافهم، او بعض مفسرين وايي چي خپله داخلين به د خرو ورته ناري وهي، والله اعلم.

(وهي تفور) اى والحال چي جهنم ايشي په دوى سره يعني ګاهي يې پورته کړي او ګاهي يې کښته کړي لکه په دېګ کي چي غوښي وغيره واچوي او تېز اور ترلاندي کړي ګاهي کښته لا قرار لهم اصلاً ابدًا ما لا بد له (يعني دا وروسته خبره لابد منه ده دا صرف عنوان دى).

پوهه: چي طبقات په بل نامه درکات د دوږخ اووه (۷) دي (۱) جهنم (۲) لظى (۳) الحطة (۴) السعير (۵) سقر (۶) الجحيم (۷) الحاوية، لكن هريو د دغو نومانو څخه پر بل يې اطلاق کېږي فيعبر عن النار تارة بالسعير وتارة بالهاوية وغير ذالک.

پوهه: چي په هره طبقه کي جلا جلا ډلي داخل کول کېږي (۱) عصات اهل التوحيد (۲) النصارى (۳) اليهود (۴) الصائبة (۵) المجوس (۶) المشركين (۷) المنافقين.

پوښتنه: شيطانان په کومه طبقه کي دي؟

ځواب: شيطانان وېشل کېږي پر دغو درکاتو پر مرتبو د اضلال د دوى فيدخل كل قسم، نو داخلېږي هر قسم د شيطانانو سره دده چي ده ګمراهان کړي وه فكان دخوله اى الشيطان في كل دركة من الدركات الست يعني غير دركة اهل التوحيد من العصات لانهم وان ضلهم الشيطان فى المعاصي لكن لم يضلهم فى الكفر والشرک.

تنبيه: د شيطانانو يو ځاى والى د من ضلوهم سره لپاره د زيادت د غيظ د كفارو.

تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ ؕ

قريب وي چي جهنم دى (تميز) تنشق (من الغيظ) متعلق دى په تميز پوري، والجملة حال من فاعل تفور چي جهنم دى او جمله د وهى تفور حال ده من ضمير لها، والمراد من الغيظ الغصة، وهذا الغيظ اما من الله سبحانه او غيظ ملائكة جهنم اى خزنتها واما غيظ النار نفسها على اعداء الله.

سوال: اوور خو له جماداتو څخه دى نو څرنګه نسبت د غيظ ورته صحيح دى؟

ځواب: اوور له شعور سته كما اثبتنا شعور الجمادات، او يا پر طور د مجاز دى، فافهم هداک الله تعالى.

كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ ۝٨

هر وار چي واچول سي په دوږخ کي يوه ډله د کافرانو سوال څني وکړي ساتندويان د دوږخ آيا نه ؤ راغلی تاسو ته بېرونکی له عذاب څخه د خدایؐ پر کفر باندي چي مراد څني رسول دی.

قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَنَا نَذِيْرٌ ۙ۬

دوی ووايي چي هو په تحقيق موږ ته راغلی ؤ بېرونکی.

پوښتنه: دا سوال او جواب خو به په قيامت وي نو مناسب يقولوا به نه وای؟

ځواب: چونکه دا سوال او جواب متحقق الوقوع دی ځکه يې تعبير په ماضي څني وکړی چي دې ته مفسرين حکايت عن الحال المستقبلة وايي (قد جائنا نذير) دا جمله تقرير دی د معنی د بلی کمامر منا.

سوال: په اول آيت کي خو داسي وويل سول: کلما القی فيها فوج دا خو ټولو اقسامو ته د کفارو شامل ؤ او ټولو کافرانو ته خو يو نذير او يو رسول نه دی بلکې هر فوج ته جلا نذير ورغلی لکه قوم نوح ته نوح عليه السلام ورغلی او قوم فرعون ته موسی عليه السلام ورغلی او د نمرود قوم ته ابراهيم عليه السلام وعلی هذا القياس فکيف استعمل صيغة المفرد ای نذير؟

ځواب: نذير د فعيل پر وزن دی صفت په معنی د جمع او يا نذير مصدر دی مضاف ورسره مقدر دی ای اهل الانزار فيشمل جميع المنذرين يا سلمنا چي نذير مفرد په معنی د واحد دی لکن معنی د آيت دا ده قد جآء کل واحد منا نذير ای الفرق يعني يوه فرقه وايي چي موږ ته نذير راغلی ؤ نو نذير په اعتبار د اقوامو د دوږخ متعدد سو.

فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۖۚ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ۝٩

موږ د هغه نذير او رسول تکذيب وکړی (يعني چي ته را استول سوی د خدایؐ د طرفه نه يې حتی وقلنا) چي نه دی نازل کړی خدایؐ هيڅ شی له کتاب څخه او نه هيڅ شی له ارسال څخه د رسولانو.

پوه سه: چي ظاهره دا يعني (ان انتم الا في ضلال كبير) د عبارت له كلام څخه د كفارو دى و رسولانو ته مبالغة في تلاهيهم بالتشبه الى الضلال الكبير او دا هم احتمال سته چي دا دي له جانبه څخه د خزنة النار وي چي زبانية يې بولي په تقدير د قول اى قالوا خزنة النار للكفار.

درويش وايي: چي پر هر تقدير ترجمه يې دا ده نياست تاسي مگر په لويه گمراهي كي، فكلمة د ان نافية ولهذا صح الاستثناء منه بالاثبات.

وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِىٓ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿١٠﴾

او ووايي (قالوا عطف دى پر قالوا سابق) كه موږ اورېدلى واى كلام د نذير يعني سماع د قبول من غير عناد و تكبر يعني نو ايمان به مو راوړى واى په ټوله ماجاء به النذير چي په دلائلو سمعيه د نذير له خوا موږ ته ويل كېدل (او نعقل) يا مو عقل درلود اى چي په آياتو يعني په معجزاتو كي د نذير مو فكر وهلى او دغه رنگه له عقلي دلائلو څخه مو كار اخستى واى چي هغه سبب د ايمان بالله بالوحدانية او د رسول بالرسالة گرځېدلى واى.

نكته: سمع يې تر عقل دمخه راوړه لكون الادلة السمعية اولى و احرى بالاتباع لقربها الى اصابة الحق من الادلة العقلية لما ان العقل يعارضه الوهم.

تفريع: په دې آيت سره دلالت دى پر دې چي عقل سليم مطابق للوحي المنزل كېداى سي، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

(ما كنا من اصحاب السعير) نو موږ به نه واى له اصحابو څخه د اوور (يعني د هغو په جمله كي به نه واى، دا جمله جزاء د لو كنا الخ ده)

فَاعْتَرَفُوْا بِذَنْۢبِهِمْۚ فَسُحْقًا لِّاَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ﴿١١﴾

فَاعْتَرَفُوْا: هذا من قول الله او من قول الزبانية، عطف تفسير د قالوا دى عطف پر قالوا دى (بذنبهم) مراد له ذنب څخه كفر دى، والحاصل دوى اقرار وكړي په خپل كفر سره او پر كفر خپل يې اظهار د ندم وكړى لكن حين لاينفع الاقرار والندم. (فسحقًا) دا جمله دعائيه ده او سحقًا منصوب په فعل مقدر سره دى، والتقدير

فاستحقهم الله سحقًا اى ابعدهم الله من رحمته العامة بعدًا فهذا التقدير من قبيل انبت الله نباتًا يعنى الفعل الناصب من المزيد والمفعول المطلق من المجرد وهو كثير في القرآن العزيز، وكلام العرب، نكته: تقدير د فعل لپاره د ايجاز دى.

إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١٢﴾

په تحقيق هغه كسان چي بيريږي له عذاب څخه د رب د دوى بحذف المضاف اى لفظ العذاب باجماع المفسرين په پته.

پوهسه: چي د بالغيب څو معناوي مفسرينو كړي دي (١) اى غائبًا عنهم چي دا عذاب غائب دى له دوى څخه كما يعاقبوا به بعد (٢) او غائبين عنه چي تر اوسه يې نه دى ليدلى (٣) او غائبين عن اعين الناس لا كالمنافقين (۴) او بالشيئ المخفي عنهم وهو القلوب.

(لهم مغفرة) دوى لره مغفرت دى د ګنهو د دوى او ثواب دى لوى چي هر لوى ثواب چي د سړي په زړه كي ورګرځي هغه د خداى ثواب ته حقير دى، وهو الجنة ونعيمها لا مقطوعة ولا ممنوعة لان في الجنة ما لا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر، كما ورد في الحديث وهذه الجملة معترضة بين بيان احوال الكافرين چي په جمله كي خداى عزوجل احوال د مؤمنانو بيان كړى فى مقابلة بيان د عبيد الكافرين، او خداى پاک عنوان د حال د مؤمنانو خشية الله وګرځاوه اشعارًا بان الخشية من الله هي المقصود من الايمان كما قال رسول الله ﷺ رأس الحكمة مخافته تعالى، رواه الحكيم الترمذي عن ابن مسعود رضـ.

لاتخـــافوا مژده ترسنده است .... هركه مى ترسد مبارك بنده است
خوف و خشيت حال دانايان بود .... هركه درد دارد عوض درمان بود

قال فضيل بن عباس قدس سره چي ته له خداى څخه بيريږي فاسكت ساكت جواب مه ورته وايه، ولي كه ته وو وايه لا چي نه بيريږم فقد اتيت بامر عظيم يعني دا خو ډيره بده خبره ده وان قلت نعم فالخائف لايكون على ما انت عليه يعني من العاصي.

ابيات

الٰهى يا الٰهى يا الٰهى ..... ندارم جز اميدت تكيه گاهى

زکن موجود کردی جمله عالم ..... مرا از ذنب خود مکن عذر خواهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی
ندارم توشه راه قیامت ..... بجز شرمندگی و روه سیاهی
شفیع آورده ام روی محمدﷺ ..... کرم کن بر من گم کرده راهی
عبید را خاتمه بالخیر گردان ..... بحق مصطفٰی و چهار یاران

قال ابن عباس رضی الله عنهما کان المشرکون ینالون رسول الله ﷺ (یعني بهتان به یې پر وایه یا نوري بدي خبري به یې دده په شان کي کولې په خپل منځ کي) فاخبره جبرئیل بما قالوا، وروسته دوی دا مشوره وکړه چي په شان کي د ده به پټمي خبري سره کوو ولي یسمع الله امر محمد (ﷺ) فنزلت هذه الآیة.

وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِ اجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۳﴾

پوهسه: چي ظاهر د قرآن امر دی معنی یې اخبار دی یعني په پټه او کرار خبري کوئ او که په زوره او جهر سره خبري کوئ، یعني دواړه برابر دي په علم کي د خدای، په عبارت کي دا التفات دی له غیبت څخه و خطاب ته وفیه تهدید شدید، (انه علیم بذات الصدور) په تحقیق خدای په هغه شي خبر دی چي په سینو کي یعني په زړو کي وي قبل ان یتکلم بها سرًا او جهرًا.

سوال: کفارو خو اول جهر کاوه بیا اسرار ته نقل سوه او په جواب کي یې اسرار دمخه راوړی، نکته یې څه ده؟

ځواب: اسرار خو د دوی محبوب ؤ چي خدای یې نه واوري، نو دديې لپاره خدای اسرار دمخه کړی.

نکته: داسي خدای عزوجل نه وویل: فانه علیم بها د سببه دلالت پر دې چي په ذات الصدور چي خدای خبر دی تر تکلم دمخه نو وروسته تر تکلم که سرًا وي او که جهرًا په طریق اولی خدای په خبر دی.

اَلَا یَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِیْفُ الْخَبِیْرُ ﴿۱۴﴾

آیا نهٔ خبر په ذات الصدور سره (الاستفهام للانکار ونفی النفی اثبات، یعني خبر دی) چي چا پیدا کړي دي، الصدور وما فیها من قصد الخیر والشر فهو

تاكيد لما سبق (وهو اللطيف الخبير) اى المتوصل علمه الى ما ظهر وما بطن، دا جمله حال ده له فاعل څخه د خلق، علماء وايي چي خداى؟ عالم دى پر حركت د نملة السوداء (تور مېږى) على الصخرة الصماء (پر ښويه ډبره) فى الليلة الظلماء (په تكه توره شپه كي) وعلى هذا فقس علمه تعالى على مخلوقاته ذرة ذرة.

برو علم يک ذره پوشيده نيست .... كه ظاهر و پنهان بنزدش يكيست

درويش وايي: چي په آيئنده آيتو كي خداى پاک تنبيه كوي پر غايت جهل د كافرانو په بيان سره د بدائع د صنعت خپل چي هغه دلالت كوي پر كمال علم او قدرت دده او تنبيه كوي پر نهايت قبح د صنع د دوى يعني كافرانو، كه دد ې انعاماتو د رب جل وعلا دوى شكر ويلى واى او ايمان يې په الوهيت سره د خداى؟ راوړى واى لكن دوى مقابله په كفره او شرک سره وكړه .... مصرع:

بدين عقل و دانش بايد گريست

هُوَ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِىْ مَنَاكِبِهَا

خداى؟ هغه ذات مقتدر دى چي ګرځولې يې ده مځكه (يعني في ابتداء الخلقة) ذلولاً سهلاً يمكن عليها المشي، يعني تګ د انسانانو لپاره او او چي بار پر وړي لكه ابل وغيره (فامشوا فى مناكبها) اى الى جوانبها ومن يقال لجانبى الانسان المنلبين، وقيل المراد بالمناكب الجبال، بعض مفسرين وايي چي امر اباحة دى يعني واجب نه دى، بعض مفسرين وايي چي اخبار دى په صورت كي د امر يې راوړى دى.

وَكُلُوْا مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿۱۵﴾

او خورک كوئ له رزق څخه د خداى؟، عطف دى پر فامشوا يعني طلب د رزق او د خداى؟ د نعمتو طلب په مځكه كي، ولهذا المعنى قال السعدى الشيرازي؟:

اديم زمين سفره عام اوست ..... بدين خوان يغما چى دشمن چه دوست

وفي مواضع آخر قال:

اى كريمى كه از خزانه غيب ..... گبر و ترسا وظيفه خوردارى

دوستان را كجا كنى محروم ..... تو كه با دشمنان دارى

پوه سه: چي تقديم د جار و مجرور په (واليه النشور) كي لپاره د حصر دى يعنى خاص و خداى ته رجوع ده في يوم القيامة، نو په هغه ورځ به ستاسي ځخه پوښتنه وسي د شكر د ما انعم عليكم.

درويش وايي: چي هر وېښته د انسان پر بدن ژبه وګرځي او په هغه ټولو سره شكر د خداى عزوجل ووايي لاهم به يې پاى ته نه ورسوي.. سعدي شيرازي:

عمرم تمام گشت و به پايان رسيد عمر .. ما همچنان در اول وصف تو مانده ايم

نو اظهار د عجز د خداى ته ډېره ښايسته لاره ده، بايزيد بستامي قدس سره وايي چي په سلطان العارفين سره شهرت لري:

چهار چيز آورده شاها كه در گنج تو نيست
عـاجزى و مسكينى فقر و گناه آورده ايم

ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ

بالفارسية آيا ايمن شده ايد، وبالافغانية: آيا تاسي بېغمه ياست.

پوه سه: چي دا تهديد د كافرانو په بله وجه سره سره، او استفهام لپاره د توبيخ دى، نو اول همزه لپاره د استفهام دى، او دوهم همزه د نفس كلمه دى، او كلمه د من موصوله ده له فى السماء ځخه، بعض مفسرين ملائكه مراد بولي چي تدبير د عالم و دوى ته سپارل سوى دى، او بعض مفسرين وايي چي مراد ځني الله عزوجل دى نه په معنى د مكان او جهت، لانه متنزهه تعالى عن المكان والجهة، بل بتأويل من في السماء امره وقضائه، لكه دا قول د خداى عزوجل: وهو الله في السمٰوات وفي الارض، فالمعنٰى امنتم خالق السماء والارض ومالكها وفي الاسئلة (چي د يو تفسير نوم دى) خص السماء بالذكر ليعلم ان الاصنام التي في الارض للمشركين ليست بآلهة نه په دې معنى چي خداى پاک په يو جهت د جهاتو دى، لان ذالک من صفات الاجسام بل اراد فوقية القدرة والسلطنة انتهى.

قال صاحب روح البيان فانظر مما ثبت من هذه الآية وكن مع اهل السنة كذا في الكبريت الاحمر للامام الشعراني قدس سره انتهى قول روح البيان.

پوښتنه: خلک ولي په دعاء كي لاسونه د آسمان و خوا ته نسي؟

ځواب: له دې جهته يې نسي چي آسمان محل د بركاتو دى او قبله د دعاء دى كما ان

الكعبة المباركة قبلة الصلوة وجناته تعالى قبلة القلوب، وقيل ان الظرفية باعتبار توهم المشركين حيث كانوا يزعمون انه تعالى في السماء، وفي فتح الرحمن والمظهري هذا المحل من المتشابه ولا نتعرض لمعناه بل نكل علمه الى الله تعالى، انتهى.

أَنْ يَّخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُوْرُ ﴿١٦﴾

چي تاسي غيب کړي په مځکه کي (لکه قارون چي يې په مځکه کي خسف کړی په زمانه کي د موسٰی عليه السلام و قصته طويلة جدًا) نو هغه حرکت کوي، دا جمله عطف ده على يخسف وكلمة اذا للمفاجات يعني مځکه ښوري او ستاسي اجساد کښته وړي.

پوه سه: چي څوک چي به اوبو کي غيب سي هغه ته غرق وايي، او څوک چي به مځکه کي غيب سي هغه ته خسف وايي.

أَمْ أَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَاءِ

ام منقطعه دی په معنی د بل آه دی، بل يې لپاره د انتقال من مخافة الى مخافة آخر او همزه لپاره د استفهام انکاري دی والمعنى آيا تاسي په امن ياست.

أَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿١٧﴾

چي اوروي پر تاسي ډبري (كما فعل بقوم لوط واصحاب الفيل) ژر دی چي تاسي به پوه سئ چي څرنګه ؤ انذار زما عند مشاهدتكم اهو شديد او ضعيف او په دې به هم پوه سئ چي لا خلف لوعيدي.

پوه سه: چي نذير او وروسته په آيت کي نکير دواړه مصدران دي او اصل يې نذيري و انکاري ؤ حذفت الياء لدلالة الكسرة عليه وفي برهان القرآن (چي د يوه تفسير نوم دی) دوی يې و بېرول اول په خسف سره لكونهم في الارض فالخسف اقرب اليهم من السماء ثم بالحاسب من السماء لكونه اشد من الخسف كما لايخفٰى.

وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿١٨﴾

کلمه د لام جواب د محذوف ده، او په تحقيق تکذيب کړی د انبياء تر تاسي دمخه يا اهل مکة، نو څرنګه انکار زما پر هغو بانزال العذاب عليهم د من قبل څخه کفار د قوم نوح او قوم فرعون او کفار د ثمود او اضرابهم من الكفرة السابقين من اهل مكة.

پوه سه: چي همزه لپاره د استفهام دی و والواو للعطف علی محذوف تقديره الم ينظروا ما خلقنا من السماء والارض وغيرهما ولم يرو، دوی نه گوري.

اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ؕ

فائده: لفظ د صٰفّٰت حال دی له طير څخه چي په معنی د جنس دی ځکه يې صفٰت جمع راوړی او لفظ فوقهم ظرف د مقدم په ده صافات والرؤية بصرية، د صافات معنی داده چي دوی الوزي وزرونه وغوړوي في الجو التالي (ای البعيد) او د يقبضن معنی دا ده چي وزرونه بيرته وځان ته راټول کړي لپاره د کومک پر حرکت باندي.

پوه سه: چي يقبضن جمله فعليه او صافات يې اسم راوړی للدلالة على تجدد القبض وقتًا بعد وقت، ولي چي اصل په طيران کي خو بسط الاجنحة او قبض د وزرو و جنبينو ته وقتًا بعد وقت پيدا کېږي، ولي چي که همېشه يې باسطات نيولي وي خو وزرونه وچېږي يعني ستړی کېږي بياچي ځان ته يې ضم کړي لږ وسا سي بيا يې ځو زمانه خلاص نيولي وي لپاره د طيران في الجو، ولي که يې ډېره زمانه ضم ونيسي خو راشوه کېږي مځکي ته.

درويش وايي: چي حال د مرغانو په بسط او قبض کي عين حال دی د اوباز په اوبو کي، ولي هغه هم چي اوبازي شروع کړي لاسونه او پښې خلاصي ونسي چي ستړی سي بيا يې وځان ته راټول کړي يوه دقيقه قدر بيرته يې خلاص کړي او پر مخ زور وهي.

مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍۭ بَصِيْرٌ ۝۱۹

نه دی خوندي کړی په جو کي او د طبع څخه د دوی چي ثقيل په هوا کي نه کېږي بيله خدايه چي دوی ته يې تعليم د طيران کړی دی په هوا کي، په تحقيق خدایؐ پر هر شي دانا دی کيف يخلق الغرائب ويدبر العجائب.

اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ ؕ

آيا څوک دی هغه ذليل چي هغه دي ستاسي لښکر او مانع سي له عذاب څخه بيله خدايه (همزه په ام من هذا کي لپاره د انکار دی يعني مانع له عذاب څخه چي نازل سي بل څوک نسته بيله الرحمنؐ)

إِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿٢٠﴾

نه دي كافران مګر خطاوتلي او غولېدلي دي د شيطان له خوا څخه، ولي چي شيطان په زړو كي د دوی وسوسه وراچوي چي عذاب نه نازلېږي من غير ما يعتمد عليه.

پوه سه: چي دا كلام متصل دی بقوله تعالى اولم يروا په دې معنى چي دوی نه ګوري په امثالو كي د صنائع عظيمهؤ د خدای و فلم يعلموا قدرتنا على تعذيبهم بنحو الخسفه وارسال الحاصب او كه تاسي لره جند سته من دون الرحمن چي يدفع العذاب عنكم ان ارسل عليكم يعني مانع له عذاب څخه د خدای بېله الرحمن څخه هيڅ څوک نسته.

درويش وايي: چي مراد د جند المشار اليه بهذا ففي هذه الآية وفيما بعد كي بتان د دوی دي التي زعموها آلهة من دون الله دي يعني الاصنام لايتصور منهم ان ينصروهم.

درويش وايي: چي له دې سببه ما په ترجمه كي لفظ د ذليل وو ايه فافهم.

اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾

آيا هغه ذات والا قادر چي تاسي ته ايها الكفار رزق دركوي كه چېري بند كړي رزق يعني بامساك المطر او نور اسباب د رزق لكه تجارت هغه كوته كړي الى غيره من اسباب الرزق، والجواب افيرزقكم هذا المهين ای آلهتكم الاصنام (بل الجوا) يعني كفار نما او زياتوب كوي په ضلال كي او نفرت له دين څخه لجهلهم وتنفرطباعهم عن الدين الحق.

اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا عَلٰى وَجْهِهٖٓ

الاستفهام للتقرير ای حمل المخاطب على الاقرار بالحق.

پوه سه: چي كلمه د من مبتداء ده او اهدی يې خبر دی مكبًا حال دی له فاعل څخه د يمشي، د اكباب معنى سقوط دی پر مخ لازمي او متعدي دواړه دی عند صاحب القاموس دا مثال د مشرک او مؤمن لپاره د توضيح د حال د دوی، والمعنى افمن يمشي او دی هر ساعت پرمخي غځارېږي لتوعر الطريقة واختلال قواه اشد هداية الى المقصود.

اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۲۲﴾

يا هغه څوک چي تګ کوي قائمًا په ولاړي يعني پر مخ نه غوځاربږي او پر سمه لار روان وي چي هيڅ کج و پيچ نه لري که دا اهدی د دې بل جواب نسته مګر چي قسم ثاني اهدی دی.

درويش وايي: چي تشبيه د مشرک په مکبًا علی وجهه هر ساعت دا ده چي د مشرک خدايان خو ډېر دي، ګاهي لات ته پر سجده پړمخي پرېوزي ګاهي عزی ته پړمخي پر سجده پرېوزي، ګاهي منات ته الی غير ذالک، او د مؤمن خدای يو دی د هغه يو خدایؒ و عبادت ته پر صراط مستقيم د دين الاسلام روان دی فهو اهدی سبيلاً.

سوال: اهدی خو صيغه تفضيل ده نو بايد په مفضل عليه کي مشرک دی هم هدای وي؟

ځواب: په اسم تفضيل کي خو دا شرط نه دی چي په مفضل عليه کي هدايت علی الحقيقة پيدا کېږي بل يکفٰی وجوده فرضًا وتقديرًا، وقال قتادةؒ في توجيه الآية ان من اکب علی المعاصي (يعني يستمر علی المعاصي) في الدنيا يمشي علی وجهه مکبًا يوم القيامة والمؤمن يمشي يوم القيامة سويًا.

بخاري او مسلم چي په اصطلاح د محدثينو يې شيخان بولي له انس رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چي د رسول الله ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه کيف يحشر الکافر علی وجهه (ای ماشيًا علی وجهه) قال عليه السلام اليس الذی امشاه علی رجليه في الدنيا قادرًا ان يمشيه علی وجهه يوم القيامة.

پوه سه: چي په آيت مذکور کي تشنيع آخر علی الکفار.

فائده: له هغه قول څخه د خدای عزوجل: افمن هذا الذي هو جند لکم وقوله تعالی امن اهذا الذي يرزقکم چي مقصد ځني انکار د نصر او د رزقؤ من جند الکفار، دا سوال پيدا کېږي چي فمن ينصرنا ومن يرزقنا خدایؒ په قول سره جواب ورکړی.

قُلْ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ

(قل) ان من ينصرکم ويرزقکم چي تاسي يې د کتم د عدم وعرصه ته د وجود را ايستلی ياست چي په دې انشاء کي حکمت د خدایؒ دا دی چي تاسي خپل رب وپېژنئ

ولي بتان هدايهٔ ددي انشاء توان نه لري نو د هغه عبادت وكړئ دون الاصنام، او تاسي ته يې پيدا كړې ده اوريده د خبرو او ليدل په عضو مخصوص او زړونه (الافئدة) جمع د فؤاد ده په معنى د زړه.

فائده: چونكه سمع مصدر ؤ او په مصدر كي مفرد او جمع برابر دي كما تقرر في النحو، نو ځكه يې سمع مفرد راوړه بخلاف الابصار والافئدة.

پوه سه: چي حكمت د خداى عزوجل په خلق السمع كي دا دى چي تاسي مواعظ د رسولانو وغيرهم په واورئ او په جعل الابصار حكمت د خداى دا دى چي مصنوعات عجيبه د خداى په وينئ من العالم العلوي والسفلي، او د افئدة په جعل كي حكمت دا دى چي تاسي په مصنوعاتو كي د خداى فكر ووهئ او شكر د خداى و واياست او عبرت واخلئ، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

برگ درختان سبز درنظر هوشیار ... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٢٣﴾

(قليلاً) اى شكرًا قليلاً چي مفعول مطلق سي د وروسته فعل او زمانًا قليلاً چي ظرف سي د وروسته فعل، كلمه د ما زائده ده لپاره د تاكيد د قلت.

قُلْ هُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٢٤﴾

ته ووايه يا محمد، دا تاكيد دى د قل سابق، خداى هغه ذات قادر او توانا دى چي تاسي يې متفرق په مځكه كي پيدا كړي ياست، دا جمله بدل ده له جمله څخه د هو الذى انشائكم، تقديم د جار او مجرور په (واليه تحشرون) كي لپاره د حصر دى يا خاص و خداى ته حشر كېږئ يعني په ورځ د قيامت للجزاء باعمال الدنيا ان خيرًا فخير وان شرًا فشر.

درويش وايي: چي دغه عبارت په تفاسيرو كي ډېر مستعملېږي امكان لري چي مبتدي به يې په معنى نه پوهېږي او په اعراب هم، فاصل تقدير العبارة المذكورة ان كان عمله خيرًا فجزائه خير وان كان عمله شرًا فجزائه شر، مراد له خير څخه جنت دى او مراد له شر څخه دوږخ دى، اعراب يې داسي دى كلمه د ان حرف شرط دى او كان ناقصه دى عمله يې اسم دى او خيرًا يې خبر دى او مجموع جمله

شرط دی فجزائه مبتداء ده خير خبر دی او مجموع جمله يې كلمه ده فا جزاء د ان شرطيه ده وقس عليه اعراب ان شرًا فشرًا فافهم.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾

او وايي مشركان (پر طور د انكار) كله ده دا وعده د حشر بعد الموت كه تاسي ياست ايها المؤمنون رشتيا واياست چي حشر بعد الموت واقع كيږي، جزاء د شرط له ماقبل څخه فهميږي.

قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٦﴾

ووايه (جمله مستأنفه ده ګويا عليه الصلوة والسلام او مؤمنانو چي موږ دوی كافرانو ته څه جواب وركړو) په تحقيق وخت تعين وقت الحشر په نبز د خدای دی لاغيره ولو كان ملكًا مقربًا او نبيًا مرسلاً، او نه يم زه مګر بېرونكی ستاسي له عذاب څخه د يوم الحشر يعني په انذار كي شرط صرف علم دی پر وقوع د منذر منه لا العلم بتعين وقته.

فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چي دوی ويني دا موعود، اكثره مفسرين وايي چي مراد ځني عذاب دی يوم القيامة فالمعنی چي مشركان دا عذاب د آخرت او مجاهد وايي چي مراد عذاب د يوم بدر دی والله اعلم.

پوه سه: چي زلفة مصدر دی په معنی د قرب حمل په حذف د مضاف ای ذا زلفة و قرب يعني له نژدې څخه دوږخ په ورځ د قيامت و ويني، نو تور سي مخان سره د ډېر قباحت د هغه كسانو چي كفر يې كاوه يعني انكار د ورځي د قيامت او انكار د ثواب او عقاب يې كاوه.

وَقِيْلَ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿٢٧﴾

او و به ويل سي (يعني د ملائكهؤ د طرفه) دغه عقاب په اور سره هغه عذاب دی چي تاسي به يې طلب كاوه، نو تدعون مشتق دی له دعاء څخه يعني كافرانو به مؤمنانو ته ويل چي ژر دی چي دغه عذاب النار پر ما نازل سي او يا مشتق دی له

دعوی څخه یعني چي تاسي به یې په دنیا کي دعوی کول ان لا بعث ولا العقاب بالنار.

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ

ووایه (یا محمد (ﷺ) لمشرکی مکة چي دوی تمنی ستا د هلاک کوي، چنانچه مشرکینو به یو د بل سره ویل چي محمد (ﷺ) پرېږدئ یو څو ورځي به ژوندی وي اخیر به مړ سي موږ به څني خلاص سو) تاسي ایها المشرکون خبر راکړئ که هلاک کړي خدای ما او هغه کسان چي زما سره دي یعني المؤمنین، او یا پر موږ رحم وکړي بتأخیر آجالنا چي زموږ اجل وځنډوي، الاستفهام في ارئیتم لپاره د تقریر دی ای حمل المخاطب علی الاقرار والرؤیة علمیة.

فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٨﴾

څوک به خلاص کړي کافران له عذاب درد ورکونکی څخه، الاستفهام للانکار ای لا احد یجریهم، والجملة جزاء الشرط یعني ان اهلکني الله، حاصل د معنی د آیت چي تاسي لره هیڅ فائده نسته په اهلاک کي زموږ حتی تطلبونه، بلکې ستاسي فائده په دې کي ده چي متابعت وکړی د هغه چا چي تاسي له عذاب الیم څخه خلاص کړي ولا یتصور ذالک من الاصنام لکونها جمادات، بلکې خلاصونکی له عذاب څخه یوازي خدای عزوجل دی باید دا ده چي تاسي د خدای عبادت وکړی او ایمان راوړی.

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

ووایه چي هغه څوک دی خلاصونکی له عذاب څخه چي موږ دلائل د وجود ده او دلائل د قدرت او سلطان ده په ماقبل کي درته ذکر کړه، هغه الرحمٰن چي موږ یې عبادت کوو او تاسو ته مو هم دعوت درکړی د ایمان پر هغه، ولي چي هغه ورکونکی د ټولو نعمتو دی او د خلاصون د عذاب الیم دی (آمنا به) پر هغه زموږ ایمان دی او پر هغه زموږ توکل دی یعني تفویض د خپلو ټولو مو هغه ته کړی دی لان الایمان یقتضی التوکل علی المؤمن به، نو دا جمله تاکید ده د مضمون د اولو دوو جملو چي د مخه تېري سوې.

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾

ژر دی چي تاسي به پوه سئ (یعني یوم القیامة) چي څوک دی په ګمراهي ښکاره کي (یعني نحن او انتم، دا خبره دوی ته لوی تهدید او توبیخ دی)

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾

ته ورته ووایه چي تاسي خبر راکړئ که وګرځي اوبه (یعني د څاهانو یا کاریزو وغیره یعني په مځکه کي کښته ولاړي سي چي آله د وصول و هغو اوبو ته نه وي، اصلي غور مصدر دی په معنی د غائر یا یې حمل مبالغةً دی) څوک به تاسي ته راتګ وکړي په اوبو سره چي ظاهري وي پر مځکه باندي.

پوه سه: چي معین یا مشتق دی د عین جاریة څخه فالمعنی ماء جار چي بهېږي پر مځکه لکه د چینې اوبه یا مشتق دی من عین باصرة څخه یعني په سترګو معلومېږي، والحاصل چي دا خو بداهةً معلومه ده هر چا ته چي بتان د کافرانو خو دا طاقت نه لري چي دا کار دي وکړي، بلکې بتان خو پرېږده لایقدر علیه احد الا الله تعالی.

مسئله: مستحب ده قاري لره د سورة الملک چي اخیر ته ورسېږي داسي دي وایي: الله رب العالمین یأتینا بماء معین، جلال الدین السیوطي وایي چي هکذا ورد في الحدیث، تاریخ وایي چي یو سړي په مسجد کي سورة الملک وایه دې آیت ته چي را ورسېدی فمن یأتیکم بماء معین، یو یهودی په کوڅه کي تېرېدی دا آیت یې واورېدی، نو استهزاءً یې داسي وویل: بالکند والمعین یعني په کولنګ او یامه به یې را وباسو اوبه، نو ماښام چي یهودي بیده ؤ یو سړي پر دواړو سترګو په چپلاخه وواهه د سترګو اوبه یې توی سوې په دواړو سترګو ړوند سو، او هغه سړي ورته وویل چي دا د سترګو اوبه دي په کولنګ او یامه سره راوباسه، نعوذ بالله بالاستهزاء بآیات القرآن او دا معجزه وه د قرآن عظیم الشان.

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چي یو سورت دی د قرآن چي دېرش آیته یې دي شفعت لرجل حتی غفر له وهی تبارک الذي بیده الملک، رواه احمد و ابو داؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه وابن حبان والحاکم.

وروی البغوي ؒ بسنده په داسي روايت سره ان سورة من كتاب الله ماهی الا ثلثون آية شفعت لرجل فاخرجته يوم القيامة من النار وادخلته الجنة وهي سورة تبارک الذي الى اخيرها، وعن ابن عباس رضی الله عنهما قال رسول الله ﷺ هی (ای سورة الملک) المانعة (منع کونکی د عذاب دی یا معنی دا ده چي منع کونکی د قاري دده له فجور څخه والله اعلم) هي المنجية من عذاب الله (یعني نجات ورکونکی دی) رواه الترمذي، او له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ تر هغو نه بیدېدی چي تلاوت د سورة الم السجدة او تبارک الذي بيده الملک يې نه وای کړی، رواه احمد والترمذي والدرمي، وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

درويش وايي: چي په فضائلو کي د سورة الملک احاديث صحيحه كثيرة وما نقله، مشت نمونه خروار (چي يو مقوله فارسيه ده)

درويش وايي: چي زه فارغه سوم له تفسير څخه د سورة الملک بتوفيقه تعالى په ورځ د دوشنبې غرمه يوه بجه و حرمت على النوم والاستراحة لخدمة القرآن المجيد ۱۲ تخمينًا د جمادی الآخیر، يو شاعر وايي:

بقدر الكد تكتسب المعالى ..... طلب العلى سـهر الليالى
تـروم العـز ثم تنام ليلاً ..... يفوض البحر من طلب اللآلى

يو بل شاعر وايي:

همت بلند دار كه نزد خدا و خلق .... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

درويش وايي: چي زه فخر نه كوم بلكې وايم: يا الله جلت قدرتک وعم فضلک منک واليک، ستا عاريت ؤ و تاته مي وسپاری.

الحمد لله رب العالمين

ي چي دا

سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَّخَمْسُوْنَ آيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رب يسر ولا تعسر وتممه بالخير والعافية

پوهه سه: چي مظهري" دا سورة القلم ياد كړى دى او روح المعاني په نامه د سورة العلم ياد كړى دى، او روح البيان په نامه د سورة نٓ ياد كړى دى، والكل صحيح، او آيتونه د سورة د روح المعاني په نقل د جمال القرآن اثنتان و خمسون (۵۲) آية بللي دي او روح البيان وايي چي آيتونه يې (۵۲) دي، اما مظهري وايي چي آيتونه يې اثنتان وعشرون (۲۲).

درويش وايي: چي عدد د (۲۲) كما وقع فى المظهري لاشک انه سهو من الكاتب لان التفاوت بين (۵۲) كما في روح المعاني او روح البيان چي دعوى د اتفاق يې هم كړې ده، وبين (۲۲) كما في المظهري كثير جدًا.

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۝١

درويش وايي: چي اظهره دا ده چي (نٓ) له حروف مقطعه ؤ څخه دى او تفصيل د حروف مقطعه ؤ په اول كي د سورة بقره يعني عند قوله تعالى: الم تېر سو، او روح البيان وايي چي نٓ نوم د دې سورت دى حيث قال هذه سورة نٓ او بحق نٓ وهى هذه السورة وروسته روح البيان ويلي دي اقسم الله بها على سبيل التاكيد انتهى.

درويش وايي: چي په دې توجيه كي حذف د فعل قسم غواړي او كلمه د باء الجارة تقديره اقسم بنون اى هذه السورة، نو دا ډېر محذوفات به مفسرين نه كړي خوښ والله اعلم.

پوهه سه: چي دا سورت په قول د روح المعاني له اوائلو څخه د ما نزل دى كما روى عن ابن عباس رضي الله عنهما دى وايي چي تر ټولو سورتونو د مخه اقرأ باسم ربک نازل سوى دى ثم هذه السورة ثم سورة المزمل ثم سورة المدثر، انتهى ما قال ابن عباس رض، او مظهري نورې توجيه[illegible]اتي كړي فارجع اليه.

پوهه سه: چي كلمه د[illegible] واو په (والقلم) كي [illegible]لپاره د قسم ده، او مراد له قلم څخه هغه [illegible]لوح محفوظ يې نوشته كړى دى كما ر[illegible]وى عن عبادة بن الصامت رض قال قال

رسول اللهﷺ اول ما خلق الله القلم فقال له اكتب قال ما اكتب قال الله تعالى اكتب القدر، فكتب ماكان وما هو كائن الى الابد رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب، قال البغوي هو قلم من نور طوله ما بين السماء والارض آه، او دا هم احتمال ستة چي مراد جنس د قلم وي، نو خداى عزوجل چي په جنس قلم قسم واخستى لكثرة فوائده.

درويش وايي: چي په نٓ و القلم كي دومره اختلاف د مفسرينو دى خصوصًا روح المعاني، وروح البيان فلا فائدة في نقلها الا وجع رأس المتعلمين وفيما ذكرناه كفاية لذوى العقول. (وما يسطرون) چي نوشته كوي.

پوښتنه: قلم په معنٰى اول سره اى ما كتب على اللوح المحفوظ خو يو قلم ؤ، نو يسطرون يې جمع ولي راوړى؟

ځواب: لپاره د تعظيم او پر معنٰى ثاني چي مراد جنس قلم سي كمامر، نو جمعيت يې ظاهر دى، لكن سوال دا واردېږي چي په معنى ثاني سره خو د ذوى العقول څخه نه دى نو جمع د ذوى العقول ولي ورته وايي يعني يسطرون؟

ځواب: دا اقلام يې ودرول په ځاى كي د ذوى العقول تعظيمًا لها او يا ضمير د يسطرون راجع دى و اصحابو ته د دغو اقلامو او يا ضمير راجع دى وغير مذكور ته لدلالة الكلام عليه اى الحفظة الذين يكتبون اعمال بني آدم من خير وشر يا ضمير د يسطرون راجع دى و هغو علماؤ ته چي يكتبون علوم الدين فتدبر غاية التدبير.

مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ﴿۲﴾

ته نه يې متلبسًا په نعمت د خداىؒ چي پر تا يې كړى دى (۱) اى النبوة (۲) والمروة (يعني كامل غيرت) (۳) وكمال العقل (۴) المعجزات المباهرة كشق القمر وغيره (۵) جلال الفضل (۶) و انواع المكارم (۷) نزول القرآن المعجز، والعامل في الحال اى متلبسًا معنى النفي في كلمة ما، او بعض مفسرين وايي چي عامل يې مجنون دى.

سوال: په ماېين كي د عامل چي مجنون دى خو كلمه د باء واقع ده مع انه لايجوز الفصل بين العامل والمعمول؟

ځواب: كلمه د باء خو زائده ده فلاتكون مانعًا من العمل، البغويؒ وايي چي دا

قول د خدای ج جواب دی د هغه قول د کافرانو، یا ایها الذین نزل علیه الذکر (ای القرآن یعني بزعمک والا فالکفار منکرون من نزول القرآن علیه) بمجنونٌ، ته لېوني يې.

درويش وايي: چي فهم و کړئ و غباوت ته د کافرانو چي دا دومره کمال عقل چي علیه الصلوة والسلام درلودی حتی چي قبل دعوی النبوة مکې والو دی امین مکه باله، اوس چي يې د نبوت اعلان کړی اوس يې مجنون باله؟

مصرع:..... ببین تفاوت راه از کجا تا کجا.

وانما قالوا ذالک، چي بعيد باله دوی رسالت د علیه الصلوة والسلام من جانب الله، کما یدل علیه قولهم انزل علیه الذکر من بیننا یعني چي موږ اشراف د مکې موجود ؤ نو څرنګه وحي د خدای ج و یتیم ته د ابو طالب راغلې ولایدرون ان النبوة والوحي تفضل من الله یعطیه من یشآء علی حسب استعداده لذالک، او بل اعتراض د دوی دا ؤ چي مخالفت د ټولو خلګو څخه وکړي في ادعاء توحید المعبود مع ان اهل مکة یوازي درې سوه شپږ ته بالا معبودان لری او چونکه دغه مستقرًا قويًا في زعمهم اکدوا قولهم بانک لمجنون چي یو یې لام د قسم راوړی وزیادة الباء في الخبر وزیادة الباء للتاکید النفي، وعلی هذا اکدا الله نفي الجنون عنه بتلبسه بنعمته لیکون هذا القید دلیلاً وبرهانًا علی نفي الجنون عنه ﷺ، ولي هغه څوک یعني علیه الصلوة والسلام په داسي درجه د عقل او علم او کمال وي کما ذکرنا نو دعوی د جنون دده سفسعة ده لایقول به الا من هو ابلد من الحمار واحمق من ابن جنقة.

په صحیح روایت کي راغلي دي چي هغه وخت چي حلیمة السعدیة د علیه الصلوة والسلام رضعي مور وه چي دواړه پر یوې خرې سپاره سوه سجد الآتان الی الکعبة المبارکة درې واره، وقالت الآتان بنطق فصیح علی ظهري خیر النبیین وسید المرسلین وخیر الاولین والآخیرین وحبیب رب العالمین ﷺ کذا ذکر في المواهب الدینیة في حدیث طویل (دا دیو معتبر کتاب نوم دی) فثبت ان الکفار ابلد من الحمار.

درويش وايي: چي په صحیح حدیث کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام چي غار حراء ته آمد و رفت شروع کړی چي دده په نکاح کي ام المؤمنین خدیجة الکبری رضي الله عنها وه، یوه ورځ علیه الصلوة والسلام چی کور ته راغلی له غار حراء څخه خدیجه رضي الله عنها یې مخ ته وکتل مخ یې متغیر ؤ بلا غبار علیه، نو خدیجه رض سبب د تغیر د

مخ مبارک څني و پوښتی فقال لها نزل جبريلؑ فقال اقرأ ما ورته وويل ما انا بقارئ، ثم غطني، بيا جبريلؑ زه په ځان پوري ټينګ ونيولم بيا يې راته وويل اقرأ ما ورته وويل ما انا بقارئ فغطني حتى بلغ مني الجهد فقال اقرأ باسم ربک الذي خلق فهو اول ما نزل من القرآن وقال رسول الله ﷺ لخديجةؓ لقد خفت على نفسي وقالت خديجةؓ كلا تخزيک الله، فذهبت خديجةؓ به ﷺ الى ورقة بن نوفل وهو ابن عمها وكان قد خالف دين القريش في عبادة الاوثان او په دين د نصارىٰ ؤ چې په خپل زمانه کې حقه دين ؤ يعني نصرانيت، وكان كبير السن په سترګو ړوند ؤ، نو خديجهؓ ورته وويل اسمع من ابن اخيک (عليه الصلوة والسلام خو يې د ورور زوی نه ؤ لکن عادت د عربو دا دی چې مشر سړي ته وای کاکا) ورقه ورته وويل ما ذا تراه يا ابن اخي، عليه الصلوة والسلام قصه ټوله ورته وکړه او دا يې هم ورته زياته کړه چې قد خفت على نفسي، ورقه ورته وويل چې كلا هذا جبريل الذي انز التوراة على موسىٰؑ والانجيل على عيسىٰؑ، ورقه ورته وويل هل هذا امرک بدعوة الناس الى توحيد اللهؐ، عليه الصلوة والسلام ورته وويل لا، ورقه ورته وويل لئن بقيت الى وقت دعوتک لانصرنک نفرًا موزرًا اى قويًا فلما لبث ان مات ولم يبلغ الى وقت الدعوة.

درويش وايي: چې ورقة بن نوفل ته په اسلام کې موحد الجاهلية وايي يعني چې د جاهليت په وخت کې موحد ؤ.

وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ﴿٣﴾

په تحقيق تا لره تنکير د اجر دده لپاره د تعظيم دی چې تا برداشت د ډېرو سختيو او ازار د کفارو کړی دی پر تبليغ د توحيد او د قراتو د خلګو نو له دې سببه تا لره لوی اجر او ثواب دی، د (غير ممنون) معنی يا دا ده چې غير مقطوع چې قطع کېږي نه يا منون به من الناس دی چې خلک دي پر تا احسان واچوي فان الله يعطيک اجرًا جزيلاً بل على الناس منتک حيث تعلمهم طريق النجات من عذاب الدنيا والآخرة، وهذه معطوفة على جواب القسم.

وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴿٤﴾

ته يا محمد (ﷺ) پر لويو اخلاقو يې فانک تحمل من قولک ما لا تحتمل امثالک، قال رسول الله ﷺ ما اوذی احد مثل ما اوذيت فی الله يعني په تبليغ کې د

Scanned by CamScanner

توحيد و مشركينو ته په مثل د ازار د كفارو و ماته هيڅ څوک دومره نه دی ازار سوی.

رواه ابو نعيم في الحلية عن ابن انس وابن عساكر، وعن ابی هريرةؓ قال قيل يا رسول اللهﷺ ادع (ښېرا وكړه) على المشركين قال انی ما بعثت تطعانًا انما بعثت پيانونكی او نه ښېرا كونكی وانما بعثت رحمة رواه مسلم، والكفار لما رموه بالجنون ينبغي اني لايرد عليهﷺ سوال ابي هريرةؓ لو لا انيكون له خلق حسن، نو دا دوې جملې على سبيل العطف تاكيد لما سبق من نفی الجنون عنهؐ ورد لقول الكفار على ابلغ الوجوه فافهم، او ابن عباسؓ او مجاهدؒ وايي چي مراد د خلق عظيم څخه دين عظيم دی، ولا دين احب الى الله ولا ارضی عنده تعالى من دين الاسلام هو آداب القرآن، په يوه روايت كي راغلي دي چي يو چا سوال وكړی له حضرت عائشيؓ څخه عن خلق رسول اللهﷺ قالت كان خلقه القرآن (ای العمل بالقرآن) دې ورته وويل چي تا دا آيت نه دی ويلی: قد افلح المؤمنون الى اخيرها رواه مسلم واخرجه البخاري في الآدب المفرد، وقال الجنيدؒ الخلق العظيم ان لايكون همته غيره تعالى، وعن اسامة بن شريک في شرح السنة قالوا يا رسول الله ما خير ما عطى الانسان؟ قال رسول اللهﷺ الخلق الحسن، ښه اخلاق.

وعن معاذؓ كان اخير (چي رسول اللهﷺ د تبليغ لپاره يو خواته استاوه) اوصاني رسول اللهﷺ چي ما پښه په ركيب كي د آس كښېښول ان قال يا معاذ احسن خلقک للناس، رواه مالک.

وعن عبد الله بن عمرؓ قال قال رسول اللهﷺ ان من احبكم الي احسنهم اخلاقًا، رواه البخاري، وعن عائشةؓ قالت سمعت رسول اللهﷺ ان المؤمن ليدرک بحسن خلقه (چي مؤمن رسېږي په ښو اخلاقو سره) درجة قائم الليل وصائم النهار (درجې ته د هغه چا چي قيام الليل (يعني صلوة الليل كوي) او چي روژه يې وي د ورځي) رواه ابو داؤد، وعن ابی هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ لاصحابهؓ اتدرون ما اكثر ما يدخل الناس الجنة قالوا الله ورسوله اعلم، قالؐ فان اكثر مايدخل الناس الجنة تقوى الله وحسن الخلق، رواه الترمذي وابو داؤد.

وعن ابی الدرداءؓ عن النبيﷺ اثقل شيئ يوضع في الميزان للمؤمن يوم القيامة خلق حسن الى اخير الحديث، رواه الترمذي وقال حسن صحيح.

ترجمه: هغه ډېر دروند شی چي په ترازو كي ايښوول كېږي د مؤمن لپاره په

ورځ د قيامت خلق حسن دی، وعن جبيرٌ بن مطعم رضي الله عنه چي په هغه وخت کي چي زه روان وم د رسول الله ﷺ سره چي د حنين په لاره کي صحرايان مسلمانان ولاړ وه، نو اعراب پر راجمع سوه د مال سوال يې ځني کاوه، عليه الصلوة والسلام يې مجبور کړی الی سمرة (يوې ځنګلي درختي ته) په درخته کي د عليه الصلوٰة والسلام پتو بند سو، اعرابو هغه پتو حمله کړی، نو عليه الصلوة والسلام ودرېدی اعرابو ته يې وويل چي زما پتو راکړئ که زما سره وای په مثل د درختو ددې ځنګله اوښان لقسمت بينکم ثم لاتجدوني بخيلاً ولا کذوبًا ولا جنان (بزدل) رواه البخاري، وعن عائشةؓ لم يکن رسول الله ﷺ فاحشًا (بد ويونکی و يو چا ته يعني ښکنځل يعني بالطبع) ولا متفحشًا (يا بد ويونکی تکلفًا) ولا سخابًا في الاسواق (نه يې لوی لوی نارې وهلې په بازارو کي) او چا ته يې په بد ويلو جزاء په سيئه سره نه ورکول ولکن يفعو ويفصح.

درويش وايي: چي احاديث صحيحه په حسن خلق کي د عليه الصلوة والسلام لا تکاد تحصیٰ (مشت نمونه خروار، مقوله ده)

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ۝٥ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ۝٦

ژر به ته وويني (يا محمدؐ، السين للتحقيق) دوی يعني کفار به هم ووينې يوم القيامة چي څوک مجنون دی، الباء زائدة، وايکم مبتداء ده والمفتون بمعنی مجنون خبر دی.

اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝٧

په تحقيق رب ستا دانا دی په هغه چا سره چي واوړي له حق لاري څخه (يعني الکافرين، فهم نو دوی لېونيان دي على الحقيقة فان مقتضى الجنون العدول عن الطريق الحق وهو دين الاسلام الثابت بالمعجزات) او خدایٔ خبر دی په هغو کسانو چي پر هدايت وي وهم المؤمنون، هو ضمير فصل دی للتاکيد، (اعلم آه) متعلق دی باعلم.

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ۝٨

او ته اطاعت مه کوه د هغو کسانو چي ستا او د مؤمنانو تکذيب کوي، وهم کفار مکة.

پوهـه: چي کلمه د فاء لپاره د سببيت ده يعني اذا ظهر انک على الهدى والمکذبين على الضلال فلا تطعهم.

وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ ⑨

خوښه ده د مشرکانو (دا جمله حال ده له المکذبين څخه په تقدير د قد کما هو القانون النحوي في الماضي الذي وقع حالا) کلمه د لو لپاره د تمنى دى بيان د وداد دى، ادهان مشتق دى له دهن څخه چي په پښتو يې معنىٰ غوړه مالي ده، يعني که ته نرمي وکړې له دوى سره چي د دوى بتان په بد نامه ياد نه کړې مثلاً چي دا بتان جمادات له خدايه سره په معبوديت کي هيڅ ځاى نه لري، يا مثلاً چي دا بتان نه نفع رسولاى سي چي څوک يې عبادت کوي او نه ضرر چي څوک يې عبادت ونه کړي (فيدهنون) نو دوى هم غواړه مالي ستا سره کوي او د نرمۍ څخه به کار اخلي، والفاء للسببية والمداهنة يکون من الجانبين لکن د دوى دا خوښه وه چي ادهان ستا دي دمخه وي وروسته به دوى هم ادهان کوي، والادهان من جانب رسول اللهﷺ دا دى بترک نهيهم عن الشرک او يا موافقه د دوى سره احيانًا په بعض امورو کي، او مداهنت د دوى له خوا دا دى چي طعن په قرآن نه وايي يا موافقت ستا سره په بعضو امورو کي.

مسئله: مداهنت په امورو شرعيه ؤ کي د کافرانو سره حرام دى بالاجماع لکه د يهودانو چي دا عادت ؤ.

وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ⑩

تخصيص بعد التعميم دى، قتادهؒ وايي چي دا آيت په وليد بن المغيرة کي نازل سوى دى، او بعض مفسرين وايي چي په اخنس بن الشريق کي نازل سوى دى، او بعض وايي چي په الاسود بن عبد يغوث کي نازل سوي دى.

درويش وايي: چي صحيح دا ده چي مراد له دې شخص څخه وليد بن المغيرة دى لدلالة ما بعد هذا يعني قوله تعالى ان کان ذا مال وبنين، ولي تاريخ صحيح وايي چي د وليد بن مغيره لس زامن وه وکان الوليد بن المغيرة موسر غاية اليسر في ذالک الوقت چي نهه (٩) آلاف فضة يې درلوده او يو باغ يې په طائف کي هم درلودى او ده به خپلو زامنو او اقرباؤ ته ويل من تبع منکم محمدًا لا انفعه بشيئ ابدًا.

(کل حلاف) دا صیغه د مبالغې ده یعني ډېر قسمونه اخلي په حق او باطل کي به سبب د جهل دده په عزت سره د اسم الله وعدم مبالاته بالحنث (که په قسم کي حانث سي باک یې نه په کېږي) فتوی: علماء وایي چي ډېر قسمونه مکروه دي (مهین) ای حقیر الرائ والتدبیر، ولي چي ده عظمت د خدای نه دی پېژندلی والا لم یختلف به کثیرًا.

هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ﴿١١﴾

عیب ویونکی دی د خلگو او غیبت یې هم کوي، وقیل هو من یشیر بعینه وحاجبه الی عیوب الناس (مشاء بنمیم) صیغه د مبالغې ده یعنی تګ کوي په شیطانت په ماپین کي د خلگو د یوه خبره و بل ته کوي چي په شر او جنګ یې سره اخته کړي.

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾

ډېر منع کونکی دی یعني منع کوي نور خلګ له خیر څخه کالایمان والاسلام، یا منع کونکی د انفاق او عمل صالح څخه (معتد) متجاوز تر حد په ظلم کي (اثیم) یعني کثیر الاثم.

عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾

(عتل) قال الکاشفي سخت روئ وزشت خوی انتهی، وفي القاموس الاکول (یعني ډېر خورک کوي) الجافي، غلیظ القلب (بعد ذالک) وروسته تر دغه مذکور رزائلو خویو چي په ده کي موجود وه او خدای پاک ذکر کړی یو بل شی هم په ده کي سته (زنیم) ملحق بالنسب في قوم ولیس منهم چي په عربي یې دعی بولي، او روح البیان وایي الذي تبناه احد (یعني په زوی ګلوي یې بولي یو څوک) ولیس بابن له في النسب في الحقیقة کما قال الله تعالی وما جعل ادعیائکم ابنائکم ذالک قولکم بافواهکم، وفي القاموس الزنیم هو المتهم في النسب انتهی، وهذا المعنی هو الانسب لان الولید المذکور وکان الولید ابن المغیرة قد اعاه ابائه بعد ثمانی عشرة من من ولادته یعني د مخه تر (۱۸) کاله المغیرة ولید خپل زوی نه باله یعني ولد الزنی یې باله چي په پښتو یې ارمونی بولي، اتلس کاله وروسته مغیره ولید خپل زوی و باله تر دي وخته یې ولد الزنی باله، وقال ابن عباس رضی الله عنهما المراد به ولد الزنی، وروی ذالک عن عکرمه رض وانشده هذا الیت زنیم لیس یعرف من ابوه یعني الام ذو جیب فیهم.

درویش وايي: چي تر ټولو تفسيرو تفسير د ابن عباس او عکرمه زيبا دی، ولي چي د وليد نور اوصاف او احوال چي تر زنيم د مخه ذکر سوه د دې تقاضا کوي چي دی ارمونی ؤ چي دغه اخلاق په ارموني کی يو ځای کيږي، او رب جل وعلا د هيڅ يو کافر دومره بدي نه ده ذکر کړې لکه د وليد بن المغيرة حتی د فرعون الامة يعني ابو جهل يې دومره بدي نه ده ذکر کړې، له دې څخه دا معلومه سوه چي وليد اخبث الکفرة ؤ عند الله عزوجل، والله اعلم.

اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿١٤﴾

فالتقدير ان کان متعلق دی په نهی سره في لاتطع، يعني د عمومي خلګو خو دا عادت وي چي اطاعة د اصحاب مال والثروة کوي خصوصًا اذا کان ذو بنين کما الوليد بن المغيرة، ولکن ته يا محمد (ﷺ) دده اطاعت مه کوه.

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٥﴾

چي تلاوت وکړل سي پر ناموړي سړي يعني الوليد بن المغيرة د آياتو زموږ يعني آيات القرآن دی وايي (په حذف د مبتداء ای هذه) قصې د پخوانيو خلګو دی.

پوه سه: چي اساطير جمع د اسطورة ده چي د دروا‌غو قصو ته وايي، نو دده خبيث مراد دا ؤ چي د قرآن آيتونه د پخوانيو خلګو د دروا‌غو قصې دي يعني من عند الله نه دي، لکه قصه د فرعون سره د قومه غرق سوه او د نوح په طوفان کي ټوله انسانان غرق سوه الا اصحاب السفينة الی غير ذالک.

سَنَسِمُهٗ عَلَى الْخُرْطُوْمِ ﴿١٦﴾

ژر دی چي موږ به علامه ورکړو ده ته پر پزه دده.

پوه سه: چي خرطوم د فيل يا د خنزير پزي ته وايي، نو وليد يې مشابه کړی د فيل يا د خنزير سره او پزه دده يې مشابه کړه د خرطوم سره.

درویش وايي: چي دا آيت جمله مسأنفه ده بالوعيد والتهديد، قال الفراء اللغوي چي مراد له خرطوم څخه ټوله مخ دی، ولي چي بعض د شي لکه دلته خرطوم چي پزي ته وايي تعبير د کل څخه چي وجهه ده روا دی په عربيت کي، او ابو العاليه او مجاهد وايي چي مخ دده به تور وي او دا به دده علامه وي په آخرت

کي، وهذا التفسير ليس کما ينبغي، ولي چي په ورځ د آخرت کي خو د ټولو کافرانو مخان تور وي، او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي دا پزي نخښه پر پزه د وليد په ضرب ما سبقه سره وسي وفعل الله ذالک يوم بدر.

درويش وايي: چي وهذا التفسير اولی و احراء دی بالقبول من الاول کما ذکرنا.

درويش وايي: چي صاحب الکشف وايي: وهذا ای العلامة علی انف الوليد په غزاء کي د بدر ضعيف لان الوليد مات قبل يوم بدر، فلم يکن فلم يوسمه بعلامة يبقی في انفه الی وقت موته انتهی.

درويش وايي: چي زه حيران يم چي د سيد المفسرين ابن عباس رضي الله عنهما چي هغه وايي سنحمله بالسيف وفعل ذالک يوم بدر انتهی، په قول عمل و کړم او که د صاحب الکشف په خوله، مطالعه کونکو د تفسير ايوبي فتوٰی تاسو راکړئ چي د چا يعني د رئيس المفسرين عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما خبره قبوله کړم او که د صاحب الکشف خبره ومنم؟.... مصرع: زما ايمان دی پر خبره د صحابي ابن الصحابي رض.

إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ

يعني اهل مکه بالقحط والجوع کما دعی رسول الله ﷺ (چي ښيرا وکړه) و اهل مکه ته، وقال اللهم اجعل عليهم سنين (يعني د کاختی کلونه بعدم المطر عليهم وعلی الواردين لهم بالطعام) کسبع يوسف ؑ، چي قصه يې مشهوره ده او په خپل ځای کي د تفسير مذکوره ده، نو داسي لوږه پر اهل مکه خدای مسلطه کړه چي هډوکي به يې خوړل، دا آيت جمله مسأنفه ده استيناف بياني في جواب سوال مقدر يعنی ما فعل بهم (ای اهل مکة) حين کذبوا النبي ﷺ وقالوا مجنون، فاجيب انا بلوناهم الی اخيره.

پوه سه: چي کاف لپاره د تشبيه دی او کلمه د ما مصدريه ده او الف ولام په الجنة کي لپاره د عهد دی يعني يو معين باغ چي بيان به يې راسي ان شاء الله تعالی، وتقدير الکلام لکه ابتلاء د خاوندانو د باغ.

درويش وايي: چي په باغ کي اختلاف دی چي باغ چيري ؤ، روح المعاني وايي چي المعروف خبرها (مشهوره خبره د دي باغ) په نيز د مفسرينو کانت بارض اليمن بالقرب فيهم (ای اهل يمن قريبًا من صنعاء اليمن يؤدی حق الله ای العشر)

فمات صاحبها وورثها ثلثة ابناء فمنعوا خبرها (اى خبر صرامها) عن الناس، واخرج ابن المنذر وغيره عن ابن جريج كانت بارض اليمن يقال لها صروان بينها وبين صنعاء ستة اميال، واخرج ابن ابى حاتم عن بن عباس هم كانوا من الحبشة كانت لابيهم جنة وكان ابوهم رجل صالح وكان يطعم المساكين فمات فقال بنوه انه كان ابوهم لاحمق اذ حيث يعلم المساكين وقت صرامها فاقسموا كما سيجيئ في القرآن وفي رواية السهيلي هي جنة بصروان علي مراسخ من صنعاء، وفي فتح الرحمن الجنة بستان يقال له الضروان وكان اصحاب هذا البستان بعد وقع عيسى عليه السلام بيسير وكان صاحب البستان وهو رجل صالح يأخذ منها قوت سبعة ويتصدق بالباقي وكان ينادى الفقراء وقت الصرام فيأتون بلكې په دې باغ کې د کښت مځکه هم وه او هغه وږي چي د منجل څخه به خطا سوه هغه د فقراؤ وه، او د خورماؤ تر درختو لاندي به کمبلي اواري وې چي خورماوي يې پر راشوه کولې، که به خورما د کمبلي څخه خطا سوه هغه هم د فقيرانو وه، نو په دې طريقه سره به فقراؤ ته ډېر مال تول سو، نو د صالح سړي زامنو وويل چي دا کار چي زموږ پلار کاوه عيال يې لږ وه او مال يې ډېر ؤ، اوس خو عيال ډېر سو نو د پلار پر نقشه موږ نسو تلاى، فتحالوا بينهم كما حلى الله عن ضعيهم.

إِذْ أَقْسَمُوا لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴿١٨﴾

چي دوى قسم سره وکړى چي موږ به پرې کوو مېوې د باغ په وخت کې د سپېدو يعني د مخه تر دې چي مسکينان راخبرېږي (ولايستثنون) حال دى من فاعل اقسموا يعنى قائلين انشاء الله، نو معنى د انشاء الله عمومًا دا ده افعل الفعل كذا ان شاء الله ولا افعل الا ان شاء الله، نو چي لفظ الا پکښي راغلى به دې سبب ان شاء الله ته استثناء وايي فافهم.

فَطَافَ عَلَيْهَا طَائِفٌ مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿١٩﴾

نو وګرځېده پر دې باغ بلا (يعني بلا پر نازله سوه بالليل، وهو نار نازل من السماء چي د باغ درختي يې تولي وسوځولې) له جانبه څخه د خداى، او حال دا ؤ چي دوى يعني په وخت کې د نزول د طائف دوى بيده وه.

فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾

وګرځېدى باغ (كالصريم) فعيل دى په معنى د مفعول دى اى البستان كالذي صرم (اى قطع ثمارها بحيث لم يبق فيها) او يا معنى دا ده لكه شپه باحتراقها واسوادها من قرط البيض، وقال الحسنؒ اى صرم منها الشجر فليس فيها شيئ، وقال ابن عباسؓ لكه توري ايرې په لغت د خزيمه (چي د يو قوم نوم دى د هغه په لغت كي صريح تورو ايرو ته وايي)

فَتَنَادَوْا مُصْبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴿٢٢﴾

يو د بل سره يې نارې كړې چي د سپېدو وخت داخل سو (ان) مفسر دى د دوى د قول اعني تنادوا، له حرث څخه مراد باغ دى، كه تاسي مېوې د باغ جمع كوئ يعني د مخه تر خبرېدو د فقراؤ.

فَانطَلَقُوا وَهُمْ يَتَخَافَتُونَ ﴿٢٣﴾ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ﴿٢٤﴾

نو دا درې ورونه راهي سوه پټ پټ سره ګډوه، د دې سببه چي نه سي داخل و باغ ته پر تاسي نن ورځ يو مسكين، ولي چي مسكينان تر اوسه بيده دي، ولي چي عادت زموږ د پلار داؤ چي په سپينه ورځ به يې صرام د باغ كاوه، نو مسكينان پر هغه عادت د پلار زموږ په دې وخت د سپېدو كي بېغمه بيده دي.

وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ قَادِرِينَ ﴿٢٥﴾

دوى وګرځېده (غدوا) عطف دى پر انطلقوا باندي، والحرد في اللغة يكون بمعنى القصد مصدر په معنى د مفعول دى اى المقصود، وايضًا جاء بمعنى المنع والغضب، فقال الحسن والقتادة و ابو العاليةؒ على جد و جهد، وقال القرطبي و مجاهد و عكرمةؓ على مجمع چي دوى تړون سره وكړى پر منع د مسكينانو، والكل راجع الى القصد بالمعنى المذكور، وقال عبيدةؒ على منع المساكين وقال ابن عباسؓ على قدرى عند انفسهم على صرام جنتهم وثمارهم، وقال الشعبى وسفيانؒ على غصب المساكين اى حقوق المساكين.

پوه سه: چي على حرد متعلق دى به قادرين پوري، او هغه خبر دى د حرد، والجملة معطوفة على انطلقوا.

فَلَمَّا رَاَوۡهَا قَالُوۡۤا اِنَّا لَضَآلُّوۡنَ ﴿۲۶﴾ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُوۡمُوۡنَ ﴿۲۷﴾

چي دوی وليدی جنت چي په اوور سوی ؤ او تک تور ؤ، نو دوی وويل، يعني اول وار خو يې داسي وويل: چي زموږ څخه د خپل باغ لاره ورکه ده، نو دا خو زموږ باغ نه دی، او يا معنی داده چي موږ ګمراهان يو په منع کي د مسکينانو يا معنی دا ده چي موږ ان شاء الله نه وويل، بلکې موږ محرومه سوو د باغ د مېوو څخه.

قَالَ اَوۡسَطُهُمۡ اَلَمۡ اَقُلۡ لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُوۡنَ ﴿۲۸﴾

وويل ميانه د دوی په عمر کي و اعدلهم او اعقل د دوی، دا جمله مستانفه ده، ما نه ؤ درته ويلي، الاستفهام للتقرير يعني درته ويلي مي وه، چي تاسي ولي تسبيح د خدای نه واياست، ظاهره معنی خو يې دا ده، والمراد منه الاستثناء ای ان شاء الله تعالی، وانما سمی الاستثناء تسبيحًا لانه ای الاستثناء تعظيم لله کما في التسبيح يعني غرض د سبحان الله ويلو څخه او د ان شاء الله ويلو څخه تعظيم د خدای دی لانه اقرار بانه لايقدر احد علی شيئ الا ماشاء الله تعالی.

قَالُوۡا سُبۡحٰنَ رَبِّنَاۤ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيۡنَ ﴿۲۹﴾

دوی وويل پاکي ده رب لره زموږ له هر عيب او نقصان څخه بل عن کل ما لا يليق بشانه دا اقرار دی خپل په ظلم سره يعني الله بريئ عن الظلم فنحن الظالمون بمنع الفقراء وعن جنتنا (الظالمين) بمعنی المساکين کما مر عنقريب.

فَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ يَّتَلَاوَمُوۡنَ ﴿۳۰﴾

نو مخ واړاوه يو بعض پر بل بعض باندي چي ملامتيا يې يو پر بل ويل في منع المساکين، يوه به ټولو ته ويل چي مسکينان دي منع کول، هغه بل به ټولو ته ويل چي د مساکينو د منع پلان دي تصويب کړی (فاقبل) عطف دی علی قالوا.

قَالُوۡا يٰوَيۡلَنَاۤ اِنَّا كُنَّا طٰغِيۡنَ ﴿۳۱﴾

دوی وويل چي ای هلاکته زموږ راځه چي وخت دي دی، په تحقيق سره موږ ؤ چي طغيان مو کړی يعني چي د خدای راکړي نعمت چي جنت ؤ شکر مو نه وو ايه، قال العلماء النعمة صيد وشکرها قيد، کريمه: لئن شکرتم لازيدنکم.

درويش وايي: چي دا نداء د ويل عرب هلته وايي چي په ډېر لوی مصيبت اخته سي.

عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا رٰغِبُوْنَ ﴿۳۲﴾

ښايي چي رب زموږ به عوض له جنت ښخه (هغه چي موږ د فقراؤ منع پکښې مختاره کړه نو هغه باغ فحترقت) بل جنت راکړي هغه به خير وي تر دمخه جنت، ولي موږ د خداى فضل ته راغب يو، دا جمله دليل او علت دى د رجا، علماء وايي چي رغبت و فعل ته د رب العزت موجب دى د انعام... بيت:

چون بلا فرود آيد بى دافعى ..... جزء تضرع نبود ديگر دافعى

پوه سه: چي انا كنا طاغين اقرار بالمعصية وندم عليها وهو معنى التوبة، والتائب من الذنب كمن لا ذنب له (الحديث) قال البغوي قال ابن مسعود بلغني ان القوم اى اصحاب الجنة اخلصوا التوبة والرغبة الى الله تعالى، او خداى عزوجل ته د دوى صدق او اخلاص هم معلوم سو، نو دوى ته يې بل باغ چي حيوان يې باله چي په هغه كي انګور وه چي يو وابنكى د هغو انګورو د يوې غاتري بار ؤ.

مصرع:..... با كريمان كارها دشوار نيست

وفي روح البيان قال العلماء ان الله امر جبريل ان يقلع تلك الجنة المحرقة فيضعها اعز من ارض الشام، اى موضع قليل النبات ويقلع من الشام جنت العنب الكثير ويظلها موضع الجنة المحرقة، والله اعلم، ولا يبعد امثال هذا ممن خلق الارض والسمٰوات العلى.

كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۳﴾

(كذالك) خبر دى او العذاب يې مبتداء ده، اى كما فعلنا باهل مكة من قحط سنين كمامر و باصحاب الجنة كمامر عنقريب، العذاب في الدنيا على ترك شكر النعمة (و لعذاب الآخرة) او عذاب د ورځي د قيامت چي دوږخ دى چي پر كفر او معاصيو او ترك الشكر ومنع الزكوة دا اشد دي تر عذاب د دنيا كه دوى يعني كافران او اهل عصيان او د نعمت ناشكران په دې پوهېداى، نو يعلمون متعدي دى او مفعول يې محذوف دى او يا كانوا من اهل العلم نو لازمي دى، او جواب د لو محذوف دى اى ما فعلوا تلك الامور المذكورة.

اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۳۴﴾

په تحقيق هغو كسانو لره چي تقوىٰ لرونكي وي چي عبارت د ايمان او عمل بالاوامر الالٰهية كوي مع ترک المنهيات په نېز د خداى دوى لره جنات النعيم دى چي دا ليس فيها الا النعمة وليس فيها الفناء والقطع كما في نعيم الدنيا.

پوه سه: چي دا مستانفه چي لپاره د وعد د مؤمنانو يې راوړه بعد وعيد المجرمين كما هو قانون القرآن الكريم.

شان نزول: مشركانو د مكې به ويل چي كه چېري قيامت واقع هم سي موږ ته به راكړه سي بالا تر هغو جنتو او نعمتو چي مسلمانانو ته وركړل كېږي يا برابر د دوى د نعمتو كما في الدنيا، قال الله تكذيبًا لهم في هذه الدعوى.

اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ﴿۳۵﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۶﴾

آيا موږ به گرځوو والاستفهام للانكار.

پوه سه: چي انكار د تماثل ددې دوو ډلو مستلزم دى دې لره چي تفاضل د مجرمينو خو په طريق اولى نسته (مالكم كيف تحكمون) څه سبب دى تاسي ځرنګه دا حكم كوئ.

اعراب: كيف حال دى له فاعل څخه د تحكمون مقدم يې كړى پر عامل چي تحكمون دى لان كيف الاستفهام يقتضى صدارة الكلام، والمراد من الحكم الجدال المحض دى على العقل الصحيح والنقل لان العقل يحكم ان المطيع لله يكون احسن حالاً من العاصي كما لايخفىٰ.

اَمْ لَكُمْ كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ﴿۳۸﴾

ام منقطعه دى په معنى د بل آه، او بل لپاره د انتقال دى من دليل الى الآخر والهمزة للانكار، والمعنى تاسي لره كتاب سته چي نازل دي من السماء وي، والمعنى الانكار چي داسي خو هم نه ده (فيه) چي په هغه كتاب كي (تدرسون) اى تقرؤن.

(ان لكم فيه) اى في الكتاب تاسي لره هغه شى سته چي ستاسي خوښ وي د خپلو ځانو لپاره من النعيم وتشتهيه انفسكم.

اَمْ لَكُمْ اَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿۳۹﴾

اى ثبت ايمان يعني وعدې دي د خداى چي مؤكد بالايمان (ايمان) فاعل دى د لكم اى ثبت، چي پاى ته رسېدلى وي په تاكيد كي تر قيامت پورى، متعلق دى په مقدر سره في لكم اى ثابتة لكم علينا الى يوم القيامة چي خداى به له عهدې ځخه د هغه نسسي وتلاى حتى تحكم بحكمكم في ذالك اليوم (ان لكم لما تحكمون) متعلق يعني جواب دى د قسم چي د ذكر ځخه د ايمان وفهمېدى، والمعنى امرًا قسمنا لكم ان لكم ماتحكمون.

سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿۴۰﴾

ته يا محمد (ﷺ) له دوى ځخه پوښتنه وكړه چي ځوك دى ستاسي په دغه حكم سره اى قائلهم يدعيه چي دى دعوى كوي نو هغه ظاهر كړي چي ددې حكم دعوى تصحيح كړي، نو به دوى د هغه زعيم تقليد كوي.

پوه سه: چي په دې آيتو كي ټولي لاري د تسويه د كفارو د مؤمنانو سره عند الله تعالى يعني كافرانو ته به هم خداى جنتونه وركوي لكه مؤمنانو ته، لكه كفارو د مكې چي دا دعوه كوله كمامر قال المشركون من اهل مكة انا لعطى في الآخرة على تقدير وقوعه افضل مما تعطون او مثله كما اعطينا في الدنيا، وقد مر هذا الكلام مع تفسيره قريبًا.

اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ۚ فَلْيَاْتُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿۴۱﴾

يا دوى لره شركاء سته يعني الاصنام في الاخرة، لكه مؤمنانو لره چي خداى واحد لاشريك دى په ورځ د قيامت، نو دوى دي راولي خپل شركاء او دا دي ثابته كړي چي دا شركاء په ځه شي كي د خداى شريكان دي، په علم يا په قدرت يا په اراده كي يا په خلق السمٰوات والارض كي بلكې په خلق كي د مېږي الى غير ذالك ذى عقل وغيره دا خبره په باره كي د بتانو نسي ثابتولاى.

درويش وايي: چي ځوك د دوى يعني د مشركانو عنادًا و تعصبًا دعوى د شراكت د اصنامو د بعض شيانو وكړي دستي به دده دعوى پر بطلان په ابن اخت خالته به شاهدي پر اداء كړي كما لايخفٰى فافهم.

يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٍ

دا ظرف دی متعلق دی په اذکر پوري، او روح المعاني وايي چی يا متعلق دی په فليأتوا پوري وايا کان فالمراد بذالک اليوم عند الجمهور يوم القيامة ده، والساق ما فوق القدم الی الرکبة او لخول د ساق والتستير عنها (يعني پايڅې پورته کول له پندی ځخه) مثل في شدة الامر چي يو کار سخت سي حتی لفظ د کشف الساق په داسي ځای کي هم مستعمليږي چي لا يتصور ساق بوجه کما في قول الشاعر:

عجبت من نفسي و من اشفائها ..... ومن طواء الخيل عن ارزاقها
في سنة كشفت عن ساقها ..... حمراء ابری اللحم عن مراقبها

پوه سه: چي سنة د کاختی، و کال ته وايي کشفت صفت د سنة دی عن ساقها متعلق دی په کشف پوري، نو سنة ته خو ساق متصور نه دی ومع هذا قال عن ساقها چي ضمير راجع و سنة ته دی فافهم.... وقول الحاتم:

اخو الحرب ان عفت به الحرب عفها .... وان شمرت عن ساقها الحرب شمرًا

په شعر کي ضمير د شمرت او د ساقها دواړه راجع و حرب ته دی چي مؤنث سماعي دی مع ان الحرب لا ساق لها، والی هذا يعني چي مراد د کشف الساق ځخه شدة الامر دی والی هذا ذهب المجاهد و ابراهيم النخعي و عکرمة وجماعةؒ، وقد روی ايضًا عن ابن عباسؓ چنانچه اخرج عبد حميد وابن المنذر وابن ابی حاتم والحاکم والبيهقي في الاسماء والصفات من طريق عکرمةؓ چي چا له ابن عباسؓ ځخه پوښتنه وکړه د دغه آيت په باره کي (يشکف عن ساق) فقالؓ اذا اخفی عليکم شيئ من القرآن فاتبعوه في الشعر فانه ديوان العرب، کما في قول الشاعر:

صبرًا عناق انه شر باق ...... قدس لی قومک ضر الاعناق
وقامت الحرب بنا علی ساق

درويش وايي: چي روح المعاني وايي والروايات عن ابن عباسؓ بهذا المعنی کثيرة (يعني چي و يکشف عن ساق مثل في شدة الامر کمامر) انتهی قول روح المعاني، او روح البيان هم ورته معنی بيان کړې ده حيث قال يوم يشتد الامر ويصعب الخطب وشقه ههنا مثل في ذالک والا فلا کشف ولا ساق، دی وايي چي د سړي لاسونه پړې وي لکن بخيل وي نو عرب وايي يد فلان مغلولة ولا يد ثمة ولا

غل، څو ليكي وروسته يې ويلي دي فكشف الساق استعارة تمثيلية آه، بيان دد
استعارې په علم بيان كي مطالعه كړئ، او مظهري معني له ساق څخه ظاهره
اخستې ده او يو حديث طويل غاية الطول د بخاري او مسلم يې رانقل كړى دى ان
شئت فطالع المظهري، ما نه اين كار ميكنم ونه انكار ميكنم، يعني نقل الحديث
الطويل، وقال المولى الفناري ؒ في تفسير الفاتحة فالساق التي كشفت لهم عبارة
عن امر عظيم من اهوال يوم القيامة (يعني د ېري شيان د ورځي د قيامت) مولى
فناري ؒ وايي چي عرب وايي: كشفت الحرب عن ساقه (جنګ پنډۍ لڅه كړه) چي
جنګ به شدت پيدا كړى، وكذا مثل بقوله تعالى التفت الساق بالساق ظاهر
ترجمه خو يې دا وه چي يوه پنډۍ پر بله پنډۍ وپېچل سوه لكن معنى يې دا ده
چي دخلت الامور العظام والاهوال بعض په بعض په ورځ د قيامت، او بعض
مفسرين وايي چي ساق د شي هغه شي ته وايي چي په هغه سره د قوام مربوط وي
كساق الشجر وساق الانسان، فالمراد يوم يكشف عن اصل الامر فتظهر حقائق
الامور واصولها بحيث تصير عيانا واليه يشير كلام الربيع بن انس ؓ فقد اخرج
عبد بن حميد عنه انه قال ؓ حين يكشف الامر وتبكوا الاحمال (يعني ما كانت لوجه
الله فقط وما اختلف به السمعة والرياء وما كانت على وجه الاحسان او غيره)
والحديث اورده المظهري چى مراد له ساق څخه ساق الله سبحانه وتعالى دى
فالآية من المتشابه الذي نؤمن به ونكل علمه الى الله تعالى.

درويش وايي: چي دا ؤ نقل د مختلفو تفاسيرو د حاصل وما على الفقير الا
ذالک، والله اعلم بمراده في كتابه.

وَّيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۴۲﴾

دوى راوبوله سي و سجدې كولو ته، قال المظهري اى المؤمنون من الابرار
والفجار وهذه الدعوة ليست من باب التكليف اذ ليست الآخرة دار التكليف (يعني
بل للتمييز بين الابرار والفجار) فلا يستطيون: اى العصات منهم لصيرورة
ظهورهم صبقة واحدة انتهى، ما قال المظهري، وقال صاحب روح البيان اى الكفار
والمنافقون الى السجود توبيخا عظيمًا على تركهم السجود في الدنيا.

درويش وايي: چي ويدخل في زمرتهم بعض المؤمنين التاركين للصلوة طول

اعمارهم كما شاهدت في جواري رجالاً لا يصلون الصلوة اليومية اصلاً ولا يتأتى منهم، لما في الحديث اتبقى اصلابهم طبقًا واحدًا انتهى ما في روح البيان مع زيادة، او روح المعاني وايي: وفي الحديث قصير اصلاب المنافقين والكفار كصاحبى البقر.

درويش وايي: چي روح المعاني او روح البيان متفق دي چي يدعون ضمير راجمع دی و كفار او منافقينو ته، سوى المظهري فانه ارجع الضمير الى المسلمين الفجار فافهم، خذ ما صفى ودع ما قدر، والله اعلم.

خَاشِعَةً اَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ؕ

عاجزي به وي سترګي د دوی لما روی من العذاب، حال من المرفوع في يدعون.

پوه سه: چي نسبت د خشوع و سترګو ته وکړي لظهور اثر الخشوع، پښتانه وايي: سترګي يې مړې نيولي وي، والا فاعضاء كلها خاشعة ذليلة متواضعة بل الخاشع في الحقيقة قلوبهم لانها مدركة للعذاب.

(ترهقهم ذلة) د دوی ملاقي ذلت خواري او بيره ده.

وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ اِلَى السُّجُوْدِ وَهُمْ سٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾

او دوی بلل كېدل و سجدې ته يعني الى الصلوة من ذكر الجزء ارادة الكل يعني في الدنيا (وهم سالمون) او په دنيا كي خو دوی سالم وه عن كون ظهورهم طبقة واحدة.

پوه سه: چي د وهم سالمون حال دی د يدعون الثاني څخه وقوله تعالى خاشعة ابصارهم ترهقهم ذلة وكان يدعون، نوله حال دي له فاعل څخه د يدعون الاول.

فائده: په قول كي د خدایٔ وقد كانوا يدعون الى السجود وهم سالمون تعليل د عدم طاقت د سجدې كولو د دوی په آخرت كي.

فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ؕ

خدای پاک وايي چي: ته يا محمد (ﷺ) پرېږده ما يعني د دوی تكذيب په سبب زړه مه تنګوه ما ته يې پرېږده دغه كافران چي دوی تكذيب كوي په دې خبره سره چي عبارت له قرآن مجيد څخه او تسلي ده د عليه الصلوة والسلام چي د مكذبينو د قرآن په مكافات ور كړم او عذاب شديد به وركړم.

درویش وايي: چي اهل لغت وايي چي الحديث قرآن ته هم وايي و كل كلام يبلغ الانسان من جهة السمع ته هم وايي او الوحي في يقظة ته هم وايي فلا يرد ما يتوهم فافهم.

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٤﴾

ضمير د هم په (سنستدرجهم) کي راجع دی و من ته باعتبار المعنى يعني من كه څه هم مفسر لا دی لفظًا لکه جمع يعنى لان المراد به جميع المكذبين بالقرآن دی، په تاج المصادر کي وايي چي الاستدراج اندک اندک نزديک کرده رسانيدن خدای تعالى بنده را بخشم و عقوبت خود انتهى، وقيل معناه ستنذلهم الى العذاب درجة درجة الى العقاب فدرجة بالاحسان و درجة بالصحة والعافية و درجة بازدياد النعمة حتى لوقهم في العذاب بغتة (من حيث لايعلمون) چي دوی نه پوهيږي چي دا به استدراج وي بلکې دوی په دغو نعمتو سره خپل تفضل پر مؤمنانو بولي، وفي الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ اذا رئيت الله ينعم على عبد وهو مصر على معصية (اى كبيرة ورأسها الكفر) فاعلم انه مستدرج (على صيغة اسم المفعول اذا رجع الضمير الى عبد) او على صيغة اسم الفاعل انه ارجع الضمير و انه الى الله تعالى) وروى ان رجلاً من بني اسرائيل قال كم عصيت وانت لا تعاقبني (زه څومره ډېر ګنهونه کوم او ته ما ته عقاب نه راکوې) فاوحى الله الى نبي زمانه ان قل له كم من عقوبة عليک ولا تشعر كونها عقوبة، الحاصل چي ګناهونه کوي او زما خوا په عافيت کي ژوند کوي و الاستدراج مني كمامر معناه.

وَاُمْلِیْ لَهُمْ ۗ اِنَّ كَیْدِیْ مَتِیْنٌ ﴿٤٥﴾

او زه دوی ته مهلت ورکوم.

پوه سه: چي کيد مکر ته وايي چي مراد ځني عذاب د خدای دی من حيث لم يحتسبوا، او داغه رنګه کيد مکر او حيله ته وايي چي په پښتو يې چم بولي چي معنى يې اظهار دی د خلاف د ما اظهر.

سوال: نسبت د کيد و خدای ته څرنګه روا دی؟

ځواب: صورت د معامله د خدای د دوی صورت د کيد دی نو مجازًا يې کيد

بولي چي د خدای د انتقام دي په صورت کي د کيد دی د والکيد ماقلنا وما قال صاحب روح المعاني، وتسمية كيدًا لا وهو ضرب من الاحتيال لكونه في صورته من حيث انه سبحانه يفعل معهم ما هو نفع لهم ظاهرًا ومراده تعالى الضرر لهم لما علم الله سبحانه من باطنهم وتماديهم (هميشه والى) في الكفر والمعاصي وهكذا قال البيضاوي و روح البيان.

فائده: علماء د دين قويم وايي چي که چا معصيت کاوه وعقب عليه مثلاً بالفقر و مرض في البدن وكثرة الاعداء يرجى مغفرة معصية ومن ارتكب معصيت ثم يرى ازدياد النعمة عليه يومًا فيومًا يخشى عليه المكر من الله عزوجل والاستدراج نعوذ بالله من ذالک.

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۶﴾

کلمه د ام منقطعة ده په معنی د بل آه، بل لپاره د انتقال دی من دليل الى دليل آخر، او همزه لپاره د استفهام انکاري دی يعني ليس من جانبهﷺ طلب الاجر على التبليغ آيا عليه الصلوة والسلام ستاسي څخه يا كفار مكه طلب د تنخواه کوي پر تبليغ د دين اسلام، نو دوی کفار مکه په سبب د تنخواه درانه وه يعني دا تنخوا پر دوی درنه وه نو ځکه يې ستاسي څخه اعراض وکړی بلا حجة ورفع الغرامة.

اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۴۷﴾

آيا د دوی غيب موجود دی ای اللوح المحفوظ يا مراد ځني علم د مغيباتو دی.

درويش وايي: چي کلمه د ام پر قياس د ماقبل ده (فهم يكتبون) دوی له هغه څخه غيب شيان نوشته کوي، چي د هغو څخه دا دی چي محمد ﷺ رسول من الله نه دی او قرآن منزل من الله نه دی لکه کفارو د مکې چي به دا دواړي خبري کولې، جمله د ام عندهم عطف على جملة ام تسئلهم باندي.

درويش وايي: چي رب سبحانه وتعالى ټوله شکوک او شبهات د مکې والو دفع کړه بيا هم دوی لاړي ته د حق منقاد نه سوه، اخير الامر يې عليه الصلوة والسلام په دې آيت مخاطب کړی.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

نو ته صبر وکړه يا رسول الله (يعني تا ته دا د رښکاره سوه چي دوی يعني د مکې مشرکان خو ايمان نه راوړي نو ته صبر وکړه پر ازار د دوی) و حکم ته د خدایؒ ستا، يعني خدای پاک کفارو ته امهال ورکوي لا الاهمال او معامله د خدای عزوجل د دوی سره صرف او صرف استدراج دی ليکونوا مستحقين لاشد العذاب او ته يا محمد (ﷺ) زړه مه تنګوه او تلوار مه کوه په طلب کي د نزول د عذاب پر دوی مه کوه.

وَلَا تَكُنْ كَصَاحِبِ الْحُوتِ

او ته مه ګرځه لکه صاحب د ماهي يعني لکه چي ماهي تېر کړی کما سيجيئ في القصة ان شاء الله تعالى، مراد له صاحب څخه يونس عليه السلام دی، مؤرخين او مفسرين وايي چي يونس بن متى عليه السلام عبد صالح ؤ لکن په اخلاقو تنګ ؤ، نو خدایؒ چي دروند بار د نبوت پر ده واچاوه او ده دعوت و قوم ته شروع کړی قوم يې ده په ازار لاس پوري کړی او ده له نبوت څخه يې په انکار آواز بلند کړی، نو قصه يې هغه ده چي ابن مسعودؓ روايت کړی دی وهکذا عن سعيد بن جبير و وهب بن منبهؒ څخه ان الله تعالى بعث يونسؑ الى اهل نينوى من ارض موصل و هم معا (۲۰۰۰۰) الف نفوس او يزيدون فدعاهم الى الله تعالى اى الى وحدانيته تعالى نو هغو ابا وکړه خير خو مدة تبليغ د يونس عليه السلام جاري ؤ فلم يزده الا فرارًا، نو ده ښېرا د هلاک ورته وکړه او داسي يې ورته وويل: چي عذاب نازلېږي تر درو ورځو وروسته، قوم يې يو و بل ته سره وويل چي موږ به پر ده دروغ ويل په دې تجربه کړو، نو و به ګورو که يونس نن شپه په کور کي ؤ نو هيڅ شی نسته وان لم يبت فيکم فاعلموا ان العذاب مصبحکم نو په سپيدو کي عذاب راځي، فخرج يونسؑ في تلک الليلة د دوی له مابين څخه، فلما اصبحوا اغشاهم العذاب، فکان فوق رؤسهم على قدر ميل (نو سو عذاب د دوی پر سرو په قدر د يوه ميل) او آسمان پټ کړی توري وريځي خوفناکي چي دود پکښې ؤ (خافًا شديدًا) او دا وريځ او دود کرار کرار راکښته کېدل چي د دوی ښار او وطن يې په لپېټ کي ونيول، قوم يونسؑ چي دا علامې

وليدلې يقين يې سو د هلاکت فطلبوا يونسؑ يونس بينهم نو يونسؑ د شپې وتلی ؤ نو دوی نه کړی پيدا ، فقذف الله التوبة من الشرک والمعاصي نو مشر ددې قوم وويل چي يونس که نسته نو خدایؑ د يونس خو سته، نو دوی ټولو زيږه کالي واغوستل واظهرن الايمان والتوبة باخلاص النية، او ټوله حيوانات چي کوچنی ولد به يې درلودی مثلاً غوا او ددې کوچنی ګيلګی وعلی هذا القياس نور حيوانات او ښځي چي کوچنی شيرخواره عيال بې درلودی هر مور به يې د خپل اولاد څخه جلا کړه چي د مور به يې رمباړي وې او ولد به يې هم نارې وهلې نو حيواناتو او د دوی د بچيانو نارې او د ښځو د اولادو بغاري او د نورو انسانانو هم بغاري پر آسمان پورته سوې وتضرعوا الی الله تعالی...بيت:

چون فرود آيد بلا بی دافعی .... جزء تضرع نبود ديگر واقعی

فرحمهم ربهم وقالوا آمنا بما جآء به يونسؑ، واستجاب دعائهم فکشف العذاب منهم بعد ما اظلهم وکان ذالک يوم عاشورا ، او يونس عليه السلام په يوه غره کي ناست ؤ منتظر د قوم د عذاب ؤ ولم ير شيئًا يعني من العذاب، او په قوم کي د يونسؑ دا رواج ؤ چي چا چي به درواغ وويل او شاهد به يې نه درلودی هغه يې قتل کاوه نو يونسؑ د ځان سره دا وويل چي زه به څرنګه ورځم و داسي قوم ته چي ما وعده دوی ته د عذاب ورکړې وه هغه درواغ سوه يعني عذاب نه سو پر نازل (ولي يونس عليه السلام په صورت حال د ايمان نه ؤ خبر) نو که زه ورسم دوی به ما قتل کړي چي تا ولي درواغ ويل د نزول د عذاب، فانطلق يونسؑ الی البحر، نو هلته يوه کښتۍ وه چي خلک پکښي سپرېدله هغه د کښتۍ مالکانو دی پېژندی نو يې په کښتۍ کي سپور کړی بېله اجره، کښتۍ چي يوه اندازه په درياب کي ولاړه و درېده نه مخ ته تله نه شاته، نو د کښتۍ مالکانو دا وويل چي زموږ د کښتۍ دا عادت دی چي مريی چي له باداره تښتېدلی وي او زموږ په کښتۍ کي سپور وي دا کښتۍ ځای پر ځای درېږي فمن الابق من المولی فيکم چا پېغ ونه کړی، اخير يې قرعه اندازي شروع کړه، نو قرعه پر يونسؑ ودرېده فاقترعوا ثلاثًا فوقعت علی يونسؑ کذا قال ابن عباسؓ، فقال يونس عليه السلام انا العبد الآبق من المولی نو ځان يې سره د کالو و درياب ته وغورځاوه د خدای عزوجل په امر ماهی ولاړ ؤ خوله يې وازه نيولې وه

Scanned by CamScanner

يونس يې تېر کړی، حوت (ماهي) ته خدای الهام وکړی چي دا سړی يعني يونس ستا غذاء نه ده انما جعلنا بطنک حرزًا ومحبسًا وفي رواية سجنًا، بندي خانه.
درویش وايي: چي په يوه تفسير کي بېله نوم اخيستو په دې ځای کي يې ښکرور درواغ ويلي دي چي نه په هيڅ تفسير او نه کوم تاريخ کي راغلي دي تاسي د دې مقام تفسير په تفاسيرو کي مطالعه کړئ شايد پر هغو درواغو به مو علم راسي، ابن مسعود وايي چي ماهی د اوبو يعني د درياب پای ته ولاړی، د ابن مسعود په روايت څلوېښت ورځي په بطن حوت کي ؤ حتی چي يونس تسبيح د شګو واورېده فنادی في الظلمات ان لآ الـه الا انت سبحانک اني کنت من الظالمين وذالک قوله تعالی.
إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾
چي ناره يې کړه او دی ډک ؤ د غيظ او غم څخه لاجل الوقوع في المصيبة چي بېله اجازې د خدای له قوم څخه ولاړی او د ماهي په نس کي د درياب په پای کي په تکليف سو، والظرف يعني اذ متعلق په اذکر مقدر سره لا بالنهي يعني قوله ولا تکن لان ندائه سبحانه امر حسن ولايمکن انيکون منهيًا عنه، وحاصل الکلام لاتکن يا محمد ﷺ اذ نادی بالتوبة والاستغفار وهو مکظوم حيث لم يکظم الا لاستعجاله بنزول العذاب وعدم الصبر.
لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾
(لو لا) حرف امتناع حرف نحو المثال المشهور لو لا علي لهلک عمر (ان تدارکه) په معني د ماضي ده ای ادرکه.
سوال: تدارکه خو فعل مذکر دی او نعمة چي فاعل يې مؤنث دی؟
ځواب: په منځ کي د فعل او د فاعل فصل واقع دی د تدارکه په ضمير سره، نو عند الفصل يجوز تذکير الفعل کما تقرر في کتب النحو، ويحتمل چي تدارکه دي بحذف تاء التفاعل وي.
سوال: دا حال د يونس علیه السلام خو ډېر ماضي ؤ تر نزول د قرآن نو تعبير يې په مضارع وکړی حکمت يې څه دی؟

ځواب: دې ته استحضار د هيئت عجيبه ماضيه وايي، ولي مضارع خو د حال لپاره هم راځي، ګويا په قرآن مبارک کې هغه حال عجيب د يونس عليه السلام دوی ته حاضر کړی ليتعجبوا منه الناس او دا مضارع مبتداء ده په تأويل د مصدر.

سوال: د تأويل د مضارع په مقدر سره خو ان مصدريه غواړي يا ما مصدريه او دلته هيڅ شی نسته؟

ځواب: نحات وايي چې ګاهي مضارع من الحرفين المذکورين په تا د مصدر کېدای سي، ومثلوا له هذا المصرع: تسمع بالمعيدی خير من ان تراه، تسمع مبتداء ده خير يې خبر دی، ولهذا المصرع قصة طويلة عجيبة، نو چې تدارکه د مضارع له بابه د افتعال په معنی د مصدر سي، نو نعمة يې خبر دی قال وقال کېدای فافهم (من ربه) صفت د نعمت دی ای کائنة من ربه ای برحمته تعالی وتوفيقه للتوبة وقبولها منه (لنبذ) جواب د لولا دی (بالعراء) ای الارض الخالي کالاشجار والبناء (وهو مذموم) حال دی له فاعل څخه د نبذ ويتوجه اللفظ الی ذالک يعني هو مذموم نبذه وهو محمود، والحاصل لولا رحمه الله جلالة لنبذنا بالعراء وهو مذموم علی عدم التثبت والخروج من اظهر القوم بغير اذن الله وترک الاولی بعد ذنبًا بالنسبة الی الانبياء ؑ لعلو شانهم وان لم يکن ذنبًا في الحقيقة کما ورد حسنات الابرار سيئات المقربين، وان لم يکن منافية للعصمة فالمعنی ههنا لکن تدارکه الرحمة لما ناد الله يونس ؑ في الظلمات لآ اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمين وتاب حينئذ فنباه بالعراء وهو سقيم يعني في الجسد وفي صورة الصافات محمودًا مرحوم.

فَاجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَجَعَلَهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝

ورد الوحي اليه الذي انقطع زمانًا، نو خدای ج مختاره کړی دی نو يې وګرځاوه د صالح بندګانو څخه ای جعله من الکاملين في الصلاح بان عصمه من الفعل الذي کان ترکه اولی .... ابيات:

کارها از بی صبر گردد نا پسند ...... خرم آنکه از صبر باشد بهره مند
چون در افتادی بگرداب چرخ ...... صبر کن فالصبر مفتاح الفرج

فائده: دا آيات دلالت کوي پر فضيلت د صبر او بل پر دې چې ترک الاولی ګاهي د انبياء عليهم السلام څخه صادرېږي والا ما کان يونس عليه السلام مليمًا، او بل پر دې

دلالت کوي ان الندم على ما فرط من العبد و التضرع الى الله لاجل ذالک من وسائل الاکرام من الله عزوجل بل پر دې دلالت چي توفيق من الله نعمة باطنة دى او بل پر دې دلالت کوي چي صلاح درجة عالية لا يتالها الا اهل الاجتباء وفقنا الله ذالک بمحض فضله وکرمه ... مصرع: ... باکريمان کارها دشوار نيست

شان نزول الآيات الآتية: قال البغوي ؒ ان الکفار ارادوا ان يصيبوا رسول الله ﷺ بالعين (چي په پښتو کي يې نظر بولي) وقد ورد في الحديث الصحيح ان العين حق، فنظر اليه قوم من قريش چي عائلين وه فنظروا الى رسول الله ﷺ وقالوا مارئينا مثله ومثل حججه وقيل کان العين في بني اسد حتى چي يوه چاغه اوښه يا غويى چي پر دوى به تېرېدى دوى به نظر کړه نو به يې مينځي يا جاريه ته وويل چي لګن او روپۍ راواخله حتى چي د دغه اوښې يا غويي غوښي به رانيسو يو کړى چي به تېرېدى هغه اوښه يا غويى به غځار سو لغتي به يې وهلې حتى چي مالکانو به فورًا ذبح کړى، او الکلبي ؒ وايي چي يو سړى د عربو د قوم څخه داسي ؤ چي دوې يا درې ورځي به يې هيڅ شى نه خوړى ثم يرجع الى خبائه (خپلي خيمې ته) نو دده د خيمې سره به يو چاغ غويى يا پسه تېرېدى ده به داسي وويل لم ار بقرًا ولا غنمًا احسن جسمًا من ذالک فما يذهب الا قليلاً وقع على الارض فذبحه مالکه، فقال کفار مکة لهذا الرجل ان يصيب رسول الله ﷺ بالعين فعصم الله نبيه وانزل.

وَإِنْ يَّكَادُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَيُزْلِقُوْنَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ

(ان) مخفف د مثقل څخه دى اسم يې ضمير شان محذوف دى او خبر چي ليزلقونک دلالت پر کوي کما تقرر في النحو چي هر ځاى چي د ان به خبر کي لام راسي ان مخفف د مثقل څخه دى.

ترجمه: قريب ده چي هغه کسان چي کفر يې اختيار کړى دى چي تا به وښوي، روح البيان او الکلبي وايي چي تا ته به صرع در پېښ کړي يعني لېونى به دي کړي، مظهري وايي چي په تا کي به نفوذ وکړي سترګي د دوى وقال السدي ؒ يصيبونک بعيونهم يعني تا ته به يو آفت درپېښ کړي.

(لما سمعوا الذکر) چي واوري دوى قرآن چي ته يې وايه، ولي چي عليه الصلوة والسلام ډېر حسن الصوت ؤ، والمعنى پر دې حسن الصوت به دي نظر

كړي، جابر رضي الله عنه روايت كړى دى عن النبي ﷺ ان العين ليدخل الرجل القبر (يعني يو نر چي څوک نظر كړي قبر ته يې داخلوي يا بالفور يا ناجوړه سي اخير الامر قبر ته ولاړ سي) والجمل القدر: او اوبن چي نظر سي تر كټوي يې رسوي، اخرج هذا الحديث ابو نعيم فى الحلية وابن عدي عن زر رضي الله عنه مثله، وفي بخاري و مسلم وغيرهما عن ابى هريرة رضي الله عنه العين حق.

درويش وايي: چي د حقيقت په باره كي ډېر احاديث صحيح سته لكن كاشفي رحمه الله وايي چي حق تعالى براى عصمت وى يعني رسول الله ﷺ اين آيت فرستاد، او الحسن البضري رحمه الله وايي من سره د واء الاصابة بالعين ان تقرء هذه الآية وكان رسول الله ﷺ يعوذ (يعني دم يې كاوه) الحسن والحسين رضي الله عنهما فيقول اعوذ بكلمات الله التامات من كل شيطان وهامة ومن عين لامة.

سوال: فقير! تا به دوران كي د خبرو وويل چي عليه الصلوة والسلام پر حسن او حسين دم وكړى چي رقيه يې بولي په عربي ژباړه او سره ددې چي سلفيان او كثر وهابيان رقيه كول حرام بولي؟

ځواب: علماء د اهل السنة والجماعة وايي چي رقيه هلته مكروه ده چي په ماسوى د عربي ژبي وي ولايدرى ماهو يعني په ژبه كي درك نه معلومېږي چي دا الفاظ او معنى څه ده؟ وجه الحرمة چي په معنى يې څوک نه پوهېږي شايد د سحر يا د كفر الفاظ يا د شيطانانو نومان بې پكښي ويلي وي چي خلک يې منتر بولي واما الرقية بالقرآن اى ببعض سور كسورة الفاتحة والمعوذتين او ببعض آياته فحسن صحيح كما لايخفى، په پښتو يې دم بولي به عربي يې رقيه بولي او په فارسي يې آفسون بولي.

پوه سه: چي نظر په انس سره خاص نه دى بلكې ګاهي د جن له خوا وي كما روى عن ام سلمة رضي الله عنها ان النبي ﷺ رئ جارية في بيتها (تعني ان النبي ﷺ ددې په خونه كي ؤ) جارية يوه نجلۍ وه چي ناجوړې وه او مخ يې ژړ ؤ فقال لها استرقوا لها فان بها فطرة اصابت لها من الجن كما في شرح المصابيح.

وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾

نو هغهٔ چي دوی قرآن واورېدی نو دوی به ویل دا سړی لېونی دی.

وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾

او نه دی دا (یعني قرآن) مګر ذکر ای موعظة یعني نصیحت دی (للعالمین) یعني قرآن له دې جملې څخه نه دی چي مجانین دي تکلم په وکړي بل القرآن ذکر عام دی د ټولو اعیانو لپاره من الانس والجن انزله رب العالمین رحمة لهم، وعن حنظلة بن صفوان رض چي دی د ابوبکر ﷺ په مخه ورغلی، نو ابوبکر رض پوښتنه څني وکړه کیف انت یا حنظلة دی وايي وویل نافق حنظلة، قال ابوبکر رض سبحان الله ما تقول دی وايي ما ورته وویل چي موږ چي په مجلس کي د علیه الصلوة والسلام ناست ؤ او ده موږ ته نصیحت کاوه په جنت او په نار سره موږ ته دا جنت او نار داسي وګرځي لکه موږ چي یې په سترګو سره وینو، فاذا خرجنا من عندک وعافتنا الازواج والاولاد والصبیان نسینا کثیرًا في الذکر اخیر خبره یې علیه الصلوة والسلام ته ورسول، نو رسول الله ﷺ ورته وویل که تاسي پر هغه حال باقي وای لکه زما نصیحت ته چي به ناست واست، نو به ملکو ستاسي سره مصافحه کولای ملکو پر فراش ستاسو او په لارو کي ستاسو لکن حنظلة ساعة فساعة یعني ګاهي چنین و ګاهي چنان، رواه مسلم.

فائده: عن الحسن رح دواء اصابة العین ان یقرء الانسان یعني المعان بنفسه که یې دا آیت په یاد ؤ او یقرئها علیه غیره، په حدیث مرفوع کي راغلي دي چي چا پوښتنه وکړه د علیه الصلوة والسلام څخه چي اولیاء الله څوک دي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي هغه کسان دي چي د دوی په لیدو سره د سړي خدای ج ور په یاد پړي.

ختم بتوفیق الله عزوجل تفسیر سورة القلم یوم الاربعاء وقت الضحی ۱۵ تخمینًا د جمادی الاخیر سنه (۱۴۳۳) هجري قمري.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

سُوْرَةُ الْحَاقَّةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثِنْتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَآقَّةُ ﴿١﴾ مَا الْحَآقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْحَآقَّةُ ﴿٣﴾

له اسماؤ څخه د قيامت دی سميت بها لانها حق وثابت وقوعها لاريب فيه او يا يې له دې سببه الحاقه بولي لانها يظهر حقيقة اعمال العباد (ما الحاقة) څه شی ده ورځ د قيامت، الإستفهام لتعظيم شانها وتخويف حالها، كلمه د ما مبتداء ده او ادراک يې خبر دی، والاستفهام للانكار والجملة الاستفهامية لپاره د تهويل د شان د مفعول الادراک ده، او معنی د آيت دا ده الحاقة ماهی ای شيئ عظيم من العقل لا تعلم حقيقتها وكنهها.

كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ وَعَادٌۢ بِالْقَارِعَةِ ﴿٤﴾

تكذيب وكړی ثموديانو، قوم د صالح عليه السلام دی او تانيث د كذبت چي مسند دی و ثمود ته باعتبار تأويل ثمود بالقبيلة (وعاد) او قوم عاد چي د هود عليه السلام قوم دی (بالقارعة) دا هم له نومانو څخه د قيامت دی سميت بالقارعة لانها تقرع قلوب الناس بالافزاع والاحزان (چي دا ورځ ټکوي زړونه د خلکو په افزاعو په بېرونکو حالاتو سزا او په غمو سره)

سوال: د القارعة څخه هم مراد ورځ د قيامت ده چي دمخه تعبير په الحاقه سره ځني وسو، نو بايد چي تعبير په ضمير ځني کړه سوی وای يعني وكذب ثمود وعاد بها؟

ځواب: دې ته وضع د مظهر په ځای کي د مضمر بلفظ مرادف له مع زيادة وصف القرع الذي ليس في الحاقة.

فَاَمَّا ثَمُوْدُ فَاُهْلِكُوْا بِالطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾

دا جمله تفصيل ده د ما اجمل في الجملة الاولی يعني كذبت آه، او دا جمله عطف ده پر كذبت والفاء للسببية، وحاصل المعنی كذبت ثمود وعاد بالقارعة نو دوی هلاک سوه د تكذيب د القارعة فالثمود فاهلكوا بالطاغية ای الصيحة (نعره) جاوزت مقادير الصياح، كذا قال قتادة وهو الصحيح وذالک ان جبرئيل عليه السلام يأمر

ربه تعالى صياح صيحة واحدة فهلكوا جميعًا فلم يبق صغيرهم ولا كبيرهم ذكرهم ولا اثاهم، او په بعضو روايتو كي راغلي دي چي پر دوی يوه صيحه د آسمان له خوا چي په هغه كي آوازونه د هري تكي وه و رعدت كل شيئ في الارض نو زړونه يې وچاودل په سينو كي، او بعض مفسرين وايي چي طاغية مصدر دی كالعافية، فمعنى الآية اهلكوا بسبب طغيانهم في الضلال من تكذيب صالح ؑ وقتل الناقة، وقيل المراد بالطاغية قذار بن سالف عاقر ناقة والتاء للمبالغة، او يا مراد هغه جماعت دی چي متفق ؤ پر عقر د ناقه، نو دوی قذار بن سالف ته دا كار وسپاره، تفصيل د كلام دا دی چي صالح ؑ په نبوت سره ثموديانو ته وروا ستاوه، نو صالح ؑ دوی ته دعوت د توحيد وركړی دوی ابا ئخني وكړه وطلبوا منه ان يخرج من هذه الصخرة واشاروا الى صخرة عظيمة ناقة عشراء چي د لسو مياشتو بلاربه وه يعني پر لسمه مياشت د اوښي د لنگول وخت دی او هغه اوښه سمدستي لِنگېږي او جونگی بې هم لكه مور په جسم كي دی، نو موږ پر تا ايمان راوړو، نو صالح ؑ و خدای عزوجل ته خواست وكړی نو په صخره كي داسي اواز پيدا سو لكه د يو حيوان څخه په وخت كي د لنگېدو د هغه اواز اورېده نو ډېره سره وچاوده فخرجت منها ناقة عظيمة چي په مابين كي د دوو جنبينو د دې (١٢٠) گزه مسافه وه، او في الحال دې اوښي ته د لنگېدو وخت راغلی او د غومره جونگی ئخني پيدا سو لكه مور، بيا هم دوی بالاتفاق ايمان رانه وړی او دوی سره وويل هذا من سحره، بعض راويان وايي چي صرف څلور سوه كسانو ايمان راوړی، نو دا ناقه د دوی نقمه او عذاب وگرځېده ولي چي د دوی او د دوی د مواشيو اوبه د څاه وې ناقه چي به ور ورسېده له د څاه اوبه به يې ټولي وڅښلې او دا بله ورځ به يې دوی او د دوی پسو ته اوبه پرېښولې او هم پر دغه تقسيم وا ښه د ځنگله يوه ورځ د اوښي او د جونگي او بله ورځ د دوی د مواشيو وه او دا كار د ثموديانو كافرانو لپاره درد سر وگرځېدی، نو يو جماعت د ثموديانو پر دې سره متفق سوه چي اوښه به قتل كوو نو بعض اشقاهم قذار بن سالف فعقروا الناقة يعني پرپښو يې په توره وهل اخير د پښو ولوېدل دوی ذبح كړه او غوښي يې سره تقسيم كړې، راوي وايي جونگي چي د مور حالت وليدي ميدان يې كړه هغه صخري ته چي موريې ئخني راوتلې وه او درې نارې يې وكړي او په هغه صخري ننوتی، قوم دا كار

وکړی او صالح علیه السلام ته یې وویل: ایتنا بما تعدنا، چي تا به موږ ته وعده راکول چي تاسي ایمان رانه وړئ پر تاسي عذاب نازلېږي؟ ان کنت من الصادقین، نو صالح علیه السلام ورته وویل تمتعوا في دارکم بعد قتلها ثلثة ایام چي په اوله ورځ به مو مخان تک زېړ وي او په دوهمه ورځ به مو مخان تک سره وي او په دریمه ورځ به مو مخان تک تور وي، ویأتیکم العذاب د څلورمي ورځي په سهار کي، فکان ذالک.

درویش وايي: چي د جونګي هغه درې ناري و دغه عذاب ته اشاره وه اتخذت الذین ظلموا الصیحة فاصبحوا في دارهم جاثمین (ای میتین کلهم کان لم یغنوا) ګویا دوی اقامت نه ؤ کړی په خپلو سرایو کي یعني سرایونه یې په صیحه د جبریل ؑ تولـه و نړېدل، تاریخ قدیم وايي چي وروسته تر هلاک د قوم صالح علیه السلام سره د اهل او عیال او څلور زره مسلمانانو مکې مکرمې ته ولاړل او صالح علیه السلام بعد مجئ اجل الموت په مکه کي وفات سو او هورې دفن کړه سو، والله اعلم.

فائده: ثمود قوم عرب وه او د دوی وطن په مابین کي د الحجر والشام ؤ چي حجاج د شام د دوی خرابې ویني هم.

سوال: خدای پاک دلته وویل د ثمودیانو د هلاک په باره کي فاهلکوا بالطاغیة، د ظاغیة تفسیر قتادة وغیره په صیحه د جبریل ؑ کړی دی کمامر تفصیله او په بل ځای کي د قرآن کریم د ثمود د اهلاک په باره کي داسي راغلي دي فاخذتهم الرجفة چي د مځکي ښورېدو یعني زلزله او په مابین کي د صیحه او رجفه تعارض سته؟

ځواب: په صیحة د جبریل ؑ په خپل طاقت د مځکي سره زلزله هم ملګرې وه فیصح اضافة اهلاک قوم ثمود الی الصیحة والرجفة، او په قرآن کریم کي هم اهلاک د قوم ثمود دواړو ته کړل سوی فلا تعارض فافهم وتشکر.

وَاَمَّا عَادٌ فَاُهۡلِكُوۡا بِرِيۡحٍ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٍ ۙ﴿۶﴾

پوهـه: چي د قوم عاد کورونه په احقاف کي وه وهو الرمل المستدیر بین عمان الی حضرموت الیمن وکانوا غربًا چي ډېر جسیم او طول القامة خلک وه چي تر ټولو جګ یې سل ګزه (١٠٠) وه او تر ټولو کښته قامت والا یې شپېته (٦٠) ګزه

ؤ (فاهلكوا بريح) هلاک کړه عاد قوم هود په باد سره (صرصرًا) يا معنى شديد البرد يا شديد الصوت كذا في القاموس، لكن په پښتو باد صرصر شديد الصوت ته وايي (عاتية) اى تجاوز الحد يعني ګويا د باد سر کښي وه له خزانو څخه ګويا په قدرت يې نه درلوده چي ضبط يې کړي.

پوه سه: چي بادونه خداى عزوجل مسخر کړي دي و ميکائيل ته تهب باذنه وتنطع باذنه لا له اعوان لا اعوان ملک الموت، روى في الحديث انه ما يخرج من الريح الا بقدرها فاذا اشتد غضب على قوم عاد اخرج ريحًا خارجة عن قبض الخزان، ولهذا سميت عاتية (معنى سرکښه د خزانو څخه) او يا يې معنى دا ده چي حاوي وه پر عاديانو چي دوى يې په هيڅ حيله دفع نسواى کولاى نه په زېرخانو او نه د غرو په غارو کي، ولي چي دوى به په غار ننوتل باد به هورې پسي ورننوتى وهلكهم.

سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَّثَمٰنِيَةَ اَيَّامٍ حُسُوْمًا

خداى دا باد مسخر کړى بقدرته (په دې دفع يې توهم ددې وکړى چي دا باد په اوضاع د کره د هوا سره يې تړون درلودى) عليهم: اى على قوم عاد، اووه شپې او اته ورځي، له سهار څخه د چهار شنبې شروع سو الى غروب الشمس من الاربعاء الآخر اى الى غروب الشمس من الارجاء الاربعة الاخر، وهب بن منبه وايي چي دې ورځو ته عرب ايام العجوز وايي ذات البرد الشديد والرياح الشديدة سميت عجوزًا لانها عجز الشتاء الى اخيره، او بعض مفسرين وايي چي يوه سپين سرې ښځه له قوم عاد څخه په يوه غار ننوتلې وه باد پسي ورننوتى دا يې رأويستل فقتلها في اليوم الثامن من نزول العذاب، وانقطع العذاب وقوع السحور اخيرة المقتولات (حسومًا) جمع د حاسم ده لكه شهود چي جمع د شاهد ده او کلمه حال ده له مفعول څخه د سخرها، ومعناها متتابعات يعني پرله پسې بيله وقفې په دغه ورځو او شپو کي، عرب وايي: حسم الكى (يعني داغ) وهوان تتابع على موضع الداء الى ان يبرء كذا قال مجاهد قتادة، او يا معنى دا ده چي داسي شپې او ورځي وي چي خالي من كل خير چي په پښتو يې سوى فال او بد فال ورځي بولي، كما في قوله تعالى: في ايام نحسات، كذا قال ابن عطيه، او يا معنى دا ده قاطعات اى قطعن دابرهم اى اخزهم كذا قال زجاج والنضر بن شميل.

فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ۝٧

ته به وينې (اى مخاطب غير معينه) قوم عاد په دغو شپو او ورځو كي (صرعى) جمع د صريع دى په معنى د مصروع يعني هلاک شده لكه تنې د خورما.

سوال: ترى خو مضارع ده او دا حال د قوم عاد خو ډېر وخت د مخه د نزول القرآن پېښ سوى دى، نو څرنګه يې تعبير په ترى وكړى؟

ځواب: په عربيت كي دې ته حكايت د حال ماضيه وايي ليتحجبوا منه.

درويش وايي: چي تشبيه د قوم عاد چي هلاک سوي وه د خورما په تنو سره چي منځ يې وينو خوړلى وي او غځاره سوې وي په اعتبار د طول، ولي چي عاديان ډېر غټ خلګ وه كمامر، او د خورما د درختي هم ډېره جګه تنه ده.

فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ ۝٨

نو ته اوس وينې اى مخاطب غير معينه دوى لره (من باقية) اى نفس باقية، والاستفهام للتقرير اى حمل المخاطب على الاقرار.

وَجَاءَ فِرْعَوْنُ وَمَن قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ بِالْخَاطِئَةِ ۝٩

او راغلى فرعون، خصصه بالذكر لغاية عتوه و تكبره.

پوهه: چي ابو عمرو او كسائي (قبله) په كسره د قاف او په فتح د باء وايي چي معنى يې جانب دى اى من معه من جنده، او نور قاريان يې په فتح د قاف او په سكون د باء وايي چي مقابل د بعد دى، نو مراد ځني هغه كافران دي چي تر فرعون د مخه وه.

(والمؤتفكات) مراد ځني قرى د لوط ؑ ده چي پر دوى ځمكه چپه سوه يعني الخسف والمراد بها اهلها مشتق دى من افک بمعنى غاب (بالخاطئة) اى بالخصلة الباطلة يعني الشرک والمعاصي، نو دوى نافرماني وكړه يعني فرعون موسىٰ و قوم لوط بل كل امة كافرة رسولهم.

پوښتنه: د رسول لفظ يې مفرد راوړى مع ان لكل قوم رسول علحدة فينبغي ان يقول رسلهم بصيغة الجمع؟

ځواب: رسول دلته په معنى د جمع دى لان النحات قالوا ان فعول و فعيل يتسوي فيه المذكر والمؤنث والواحد والجمع.

فَعَصَوْا رَسُوْلَ رَبِّهِمْ فَاَخَذَهُمْ اَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿۱۰﴾

نو موږ دوی ونیول، عطف دی پر ما سبق والفاء للسببية (اخذة رابية) ای زائدة في الشدة، فهذه الكلمة مفعول مطلق لپاره د بيان.

اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ حَمَلْنٰكُمْ فِى الْجَارِيَةِ ﴿۱۱﴾

موږ هغه وخت سرکښي وکړه اوبو يعني تر حد بالا سوې چې پر هر فورية شئ من الجبال وغيرها لوړي سوې يعني په زمانه کي د نوح علیه السلام چي ده ښېرا وکړه: رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارًا (حملناكم) موږ تاسي حمل کړاست په سفينه نوح کي چي جاري وه پر سر د اوبو.

سوال: نوح علیه السلام د نهه نيم سوه (۹۵۰) په کلو کي د تبليغ ډېر کړاونه د قوم پر ده مسلط وه، دا ښېرا يې ولي دومره وځنډول دمخه به يې ورته کړې وای؟

ځواب: تر دغه وخته د نوح علیه السلام امید نه ؤ قطع سوی د ایمان حتى نزل قوله تعالى لن يؤمن من قومک الا من آمن، نو دده امید چي قطع سو نو دغه ښېرا يې وکړه رب لاتذر الخ.

فائده: خطاب د کم د اهل مکه سره دی فتقدير الكلام حملنا آبائكم واجدادكم وهلم جرا في الجارية.

لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِيَهَاۤ اُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿۱۲﴾

چي موږ وګرځوو دا سفينه يا په بل فعلة دا فعل چي نجات د مؤمنانو دی چي په کښتی کي وه مع طغيان الماء من حده (لكم تذكرة) ستاسي لپاره عبرت او دليل پر وجود د قادر مطلق والخالق بلا مانع على مايشاء وكمال قهره على الكافرين المغرقين ورحمته على المؤمنين (وتعيها) او چي دا قصه په ياد ولرئ او فکر پکښي ووهئ (اذن) غوږونه.

پوه سه: چي وعي چي معنى يې حفظ دی صفت د قلب دی او اسناد چي دلته يې و غوږو ته وکړی مجازًا دی غوږونه اسباب د وعي القلب دي، او يا معنى دا ده چي وعي يې وکړې اصحاب الاذن بحذف المضاف ثم حذف المضاف اى لفظ الاصحاب واجرى حكمه اى الوعي على المضاف اليه.

فائده: تنکیر د واعیة لپاره د تقلیل چي اذن واعیة لږ دی، وفي الحدیث المرفوع قال رسول الله ﷺ لا خیر في العیش الا للعالم الناطق ومستمع واعی.

وگر نیستی سمع وگفتار وگوش — خبر کی رسیدی بسلطان هوش
گرچه ناصح را بود صد واعیهٔ — پند را اذنی بباید واعیه
گر نبودی گوشهای غیب گر — وحی ناوردی زگردون یک بشیر

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ ﴿١٣﴾

چي پوه کړل سي په شپیلۍ کي، حضرت عمرؓ له نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه: ما الصور؟ قال الصور قرن ینفخ فیه.

درویش وایي: چي لکه په پخوانۍ زمانه کي چي به د ملنګیانو سره ورسره ؤ چي پکښي پوه به یې کړل لوی اواز به یې وکړی دوی ښکر باره باله، ددې معنی دا نه ده چي صور اسرافیل دغه مقدار مذکور دی بلکې دا یوه شبه ده د تقریب و ادیانو ته د سامعانو.

پوه سه: چي نفخة چونکه پر وزن د فعلة دی چي نحات یې لپاره د مرت نو وحده یې تاکید دی.

فائده: د علماؤ په تعداد کي د نفخات اختلاف دی بعض علماء وایي چي نفخات درې دي (۱) نفخة الفزع (۲) نفخة الصعق ای الموت (۳) نفخة البعث بعد الموت چي په قیامت کي کیږي، اما نفخة الفزع یو خوفناکه ناره ده ممتدده چي ټوله خلګ اهل مواشي خپل مواشي پرېږدي او د ښار پر خوا روان سي، ودې نفخه ته په حدیث کي اشاره راغلې ده چي یو لېوه د لوی رمې څخه پسه یوسي چوپان ورپسي میدان کړي پسه ځني خلاص کړي لېوه لېري ورته کښېني او په نطق فصیح ورته وایي چي نن خو تا دا پسه راڅخه خلاص کړی هغه ورځ به یې څوک راڅخه خلاصوي یوم لا راعي لها غیري دا اشاره و نفخة الفزع ته ده چي ما دمخه وویل چي مواشي به خلګ خوشي پرېږدي او ښارو ته به وتښتېږي، اصحابوؓ وویل سبحان الله اذئب یتکلم؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل فانا نؤمن وابوبکر وعمر رضي الله عنهما یعني ابوبکر او عمر رضي الله عنهما دلته حاضر نه وه، الی اخیر الحدیث، او په هغه آیت هم ددې نفخة الفزع ته اشاره ده یوم ینفخ في الصور ففزع من في السمٰوات والارض الی اخیر الآیة،

او دوهم نفخ في الصور ده چي په آيت كي ورته اشاره ده يوم ينفخ في الصور فصق من في السموٰات والارض اى ماتوا الا من شاء الله لكه جبريل[ع] او ميكائيل[ع] او اسرافيل[ع] او عزرائيل[ع] واختار هذا القول ابن العربي[رح] و ورد صريحًا في حديث طويل عن ابى هريرة رضي الله عنه بلفظه فينفخ فيه (اى الصور ثلثة نفخات) الاولى نفخة الفزع كمامر، والثانية نفخة الصعق اى الموت كمامر، والثالثة نفخة القيام لرب العالمين نفختان فقط، يعني نفخة الفزع ونفخة الصعق يوه ده، ولي چي خلك چي وبېرېږي له ډېري بېري څخه اخير مړه سي، وهذا القول قد صححه القرطبي وقد اطال المظهري فيه الكلام بالنقض والابرام كما هو ديدنه والله اعلم.

درويش وايي: چي د روح المعاني او روح البيان په نېز هم نفختان دوې دي الاولى للصعق والموت، والثانية نفخة للبعث والنشور.

وَّحُمِلَتِ الْاَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿١٤﴾

مځكه او غرونه د خپلو ځايو څخه ايسته سي او مځكه او غرونه سره وجنګول سي، په يوه وار الدك والهدم يو دي، كذا في القاموس، او الجوهري وايي چي معنى يې كسر دى، وكذا قال البغوي[رح]، والحاصل ان الارض والجبال صارتا مستوية دفعة واحدة لاترى فيها عوجًا (كوږ والى) ولا امتًا (نه پورته ځاى)

فائده: جزاء د شرط محذوفه ده اى اذا نفخ في الصور حملت الارض انقضت الدنيا وحقت الحاقة.

فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾

په دغه ورځ هغه قيامت المنطنصرة واقع سي التي وجب وقوعها بالكتاب والسنة واجماع الامة يا معنى دا ده وقعت الامور الواجبة الوقوع من الحساب والجزاء بالجنة او النار.

وَانْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ﴿١٦﴾

او چي سره څيري او چاك سي آسمان، اللام للجنس اى السماء بعد السماء الى ان ينهى العرش العظيم، عطف دى پر وقعت (فهي يومئذ واهية) نو آسمان په دغه ورځ ضعيف وي لكه زړو دېوال او سره د شدت د جسم او محكم والي چي ده درلودى.

وَّالْمَلَكُ عَلٰٓى اَرْجَآئِهَا ۭ

او ملكي، يعني د هر آسمان چي ځيري سي پر اطرافو د هغه آسمان چي هغه له شق ځخه به نجات كوي يعني ملكي، و نزول الى الارض ته چمتو وي تا چي پر مجمع عظيم د انس او جن را تاؤسي، والحاصل چي اووه آسمانه او د هر آسمان ملكي چي راشوه سي او پر مجمع غاية العظمة را تاؤسي ويقول الملائكة اليوم اين المفر (نن ورځ چېري دی ځای د تېښتي)

وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾

او اخستى وي عرش د خداى (اضافة العرش الى الله لتعظيم المضاف كبيت الله) ضمير د فوقهم راجع دى و ثمانية ته.

سوال: ارجاع د ضمير و وروسته ذكر مرجع وي او ځرنگه د مخه تر وقوع؟

ځواب: ثمانية مقدم دى په ذكر كي لكونه فاعلاً فلا جرح في الارجاع.

پوه سه: چي ضمير د فوقهم يا راجع دى و هغو ملكو ته چي على ارجاء السماء وي، روح البيان وايي چي هغه اته دي، وهو جسم لايعلم عظمته الا الله انتهى، نور مفسرين د عرش د تسميه ځخه په فلك تاسع سره انكار كوي او وايي چي دا بناء دى پر مذهب د حكماؤ، په حديث شريف كي راغلي دي چي اوس عرش د ځلورو ملكو پر اوږو دى چي ورځ د قيامت سي ځلور نوري پر زياتي كړل سي چي اته سي، ابو الحسن وايي ثمانية آلاف والاول هو الانسب لظاهر اللفظ ولعدم الاحتياج الى تقدير آلاف.

درويش وايي: وههنا اشكال ان قوله تعالى ويوم ينفخ في الصور صعق من في السمٰوات ومن في الارض الا من شاء الله اى ماتوا، له دې آيت ځخه دا معلومېږي چي ملائكه هم مري، نو دا ملكي و الملك على ارجائها ځرنگه دي؟

ځواب: اجاب صاحب روح المعاني ولعل هذا الانشقاق بعد موت الملائكة في النفخة الاولى واحيائهم قبل الناس كما يقتضيه الاخبار، وقال الامام الهمام في التفسير الكبير يحتمل انيكونى يفوق على الارجاء لحظة ثم يموتون ويحتمل انيكون تلك الملائكة هم المراد في الاستثناء في قوله تعالى الا من شاء الله، نو

پر دوارو وجهو ينحل ما يقال ان الملائكة يموتون في الصعقة الاولى لقوله تعالى فصعق من في السمٰوات والارض فكيف يصح والملائكة على ارجاء السماء والعلم عند الله انتهى قول الامام وقول روح المعاني.

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾

په دغه ورځ تاسي پیشېږئ (يعني على ربهم) ايها الناس على الله للحساب وهذا العرض بعد النفخة الثانية للبعث (خافية) اى فعلة خافية اى سريرة پټ، قال رسول الله ﷺ يعرض الناس يوم القيامة ثلثة عرضات په دوو اولو عرضو كي فجدال ومعاذير، څوک ناحقه بحثونه کوي يعني ربنا ما كنا مشركين او څوک عذرونه کوي يعني بعض دا وايي چي زموږ مشرانو او ساداتو موږ ګمراهان کړو فاتهم ضعفًا من العذاب، غرض يې دا دی چي زموږ د كفر ګناه پر دوی واچوه موږ معذور وګڼه، او بعض وايي ربنا فارجعنا اى الى الدنيا فان كفرنا فانا كنا ظالمين، فالثالثة دريم عرضة فعند ذالک تظاهرت الصحف (عمل نامې) فاخذ بيمينه واخذ بشماله، رواه الترمذي عن ابى هريرة رضي الله عنه.

فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿١٩﴾

نو هغه څوک چي ورکړل سي عمل نامه په راسته لاس وهو المؤمن.

پوهسه: چي دا جمله د على عطف تعرضون او تفصيل د عرضة ثالثة دی (فيقول) اى ذالک المؤمن لپاره د اظهار د خوشحالۍ (فيقول) خبر دی لمن، (هاؤم) اسم دی په معنى د خذ دی، يقال في العربي هاء يا رجل ويا رجلان و امرئة ويا امرئتان وهاؤم يا رجال و هاؤن بالنساء (اقرءوا كتابيه) تاسي وو اياست زما عمل نامه، والها لسكت.

فائده: تنازع الفعلان يعني هاؤم و اقرؤا په مفعوليت کي ده كتابيه، نو عمل يې اقرؤا ته ورکړی لقربه چي ثاني نژدې دی و حذف مفعول الاول يعني هاؤم.

فائده: په كتابيه کي وفي حسابيه او ماليه او سلطانيه تهوله د سكت چي ثابتي پاتېږي په حال کي د وقف او په نېز وصل حذف کېږي لکن قراء وقف حسن بولي په تهولو کي چي ثابته پاته سي، ولي چي په وروسته کي في الايام الخالية کي ثابته پاته سوې ده.

إِنِّيْ ظَنَنْتُ أَنِّيْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾

پوهه: چي ظننت په دې ځای کي په معنی د علمت وايقنت دی.

سوال: چي مراد يقين ؤ نو ولي يې ظننت وايه؟

ځواب: هضمًا لنفسه واستحقارًا لنفسه عن دعوی العلم بحضرت ذی الجلال علام الغيوب، او بيضاوي وايي لعله عبر بالظن اشعارًا بانه لايقدح في الاعتقاد ماياتي في النفس من الخطرات التي لاينفک عن العلوم النظرية (انی ملاق حسابية) مفعول دی د ظننت قائم مقام د دوو مفعولو دی چي زه ملاقي کېږم د حساب سره لپاره د حساب خپل، يعني ځکه يې په دې مقوله عمل وکړی حاسبوا قبل ان تحاسبوا، کنايه له دې شخه ده چي په دنيا کي ما د خپلو اعمالو د حسنه او د سيئة مقايسه سره وکړه که حسنات به ډېر وای د خدای د توفيق شکر مي وايه، او که به سيئة ډېر وای تدارک به مي په توبه او استغفار کاوه والتضرع الی حضرت الجلال ته او داسي به مي ويل:... ابيات:

الٰهی يا الٰهی يا الٰهی ..... ندارم جز اميدت تکيه گاهی
ندارم توشه راه قيامت ..... بجز شرمندگی و روه سياهی
ندارم طاعت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت آه آهی

عبد الله بن المبارک له ابی عثمان النهدي شخه روايت کوي قال ان المؤمن ليعطی کتابه في ستر من الله، په پټه د خدای له خوا فيقصر سيئاته رنګ يې تغير وخوري ثم يقرء حسناته، نو مخ يې له تغير شخه خلاص سي ثم ينظر الی کتابه فاذا سيئاته قد بدلت حسنات فعند ذالک يقول هاؤم اقرؤا کتابيه.

فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾

نو دغه من اوتي کتابه بيمينه په داسي عيش کي وي، مراد له عيش شخه ما يتعيش، صاحب قاموس وايي ای مرضية آه و انما قال رضية له دې سببه چي عيش خو راضي نه بلکې صاحبها راض بها، فالعيشة مرضية لا راضية، او بيضاوي وايي چي راضية صيغه د نسبت ده ای ذات رضی فيصدق علی الفاعل والمفعول، او يا اسناد د رضی و عيش ته مجاز ده.

درويش وايي: چي صيغې د نسبت په عربي کي ډېري دي، مثل زيد لابن (اى بائع اللبن) وعمرو تامر (اى صاحب التمر يعني بائعة)

فِیْ جَنَّةٍ عَالِیَةٍ ﴿٢٢﴾

په جنت کي چي عالي مقام دى (في جنة) اى كائن في جنة (عالية) چي رفيعة الرتبة دى عند الله من خيث القرب بلا كيف، يا معنى دا ده رفيعة المكان دى لانها في السماء يا معنى دا ده چي رفيعة الدرجات والابنية والاشجار، چونکه د رفيعة الاشجار ځخه دا توهم کېدى چي مېوې خو په تکليف سره شکېږي نو خداى دا توهم دفع کړى بقوله:

قُطُوْفُهَا دَانِیَةٌ ﴿٢٣﴾

مېوې يې نژدې دي چي قائمًا وقاعدًا وراقدًا يې پرې کولاى سي يعني چي د دوى ورته اراده سي د خوراک ښاخونه د درختو ورته مائله کېږي چي دوى خورک ځني وکړي بيرته ښاخونه خپل حال ته ولاړ سي.

کُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِیْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِی الْاَیَّامِ الْخَالِیَةِ ﴿٢٤﴾

خورک کوئ د درختو د مېوو او ځيښاک کوئ د اوبو د ولې ځخه او د شيدو د ولې ځخه او د عسل د ولې ځخه او د شرابو د ولې ځخه يعني مما يشتهونه من الاكل والشرب، والتقدير آكلاً هنيئًا وشرابًا هنيئًا.

پوه سه: چي هنيئ هغه خورک يا ځښاک ته وايي چي پر معده بوج او ثقل نه راولي يعني د معدې درد، تکليف او ثقل نه راولي چي په فارسي دارو درمان ورته وايي او په پښتو ورته وايي دارو دي سه.

پوه سه: چي دا جمله په تقدير د قول خبر بعد الخبر دى د فهوا.

سوال: د کلوا او اشربوا ضمير جمع دى نو راجع و چاته دى؟

ځواب: نظر و معنى ته وهو والتقدير وهم يقال لهم من جانب الملائكة كلوا و اشربوا الخ (بما اسلفتم) متعلق دى په کلوا واشربوا پوري على سبيل التنازع، والمعنى بما قد تم من الاعمال الصالحة والسلف هو المتقدم من الشيئ.

درويش وايي: چي له دې سببه يوه ډله چي اوس پيدا سوې ده لپاره د اضلال د

اهل السنة والجماعة عن طريق الحق ځانو ته سلفيان وايي چي د يوه مذهب د مذاهبو اربعه مشهوره ؤ څخه ځانو نه مقلد نه بولي او سره ددې چي په اجماع د امة مرحومه حق دائر دی په، منځ کي د دغو څلورو مذاهبو، او دوی په ډېره بې شرمي سره حکم د شرک او ضلال کوي.

فائده: تاسي د فقير رساله چي نوم يې سيف القندهاري على عنق السلفي دی مطالعه کړئ حقيقت حال ددې فرقې به درته معلوم سي.

(في الايام الخالية) يعني في الايام الماضية من الدنيا من الحسنات والاعمال الصالحة، وعن مجاهد رح المراد بما اسلفتم آه الصيام فيكون المعنى كلوا واشربوا بدل ما امسكتم عن الاكل والشرب لوجه الله لاسيمًا في الايام الحارة (لکه د دوبي ورځي) وهو الاولى، ولي چي جزاء او ثواب لابد انيكون من جنس العمل وملايمًا له، كما قال الله تعالى اليوم تنساهم كما نسوا لقاء يومهم هذا، وقوله عزوجل ان تسخروا منا نسخرمنكم ونظاهر ذالک.

درويش وايي: چي د مجاهد قول که څه اولى دی من انيكون الجزاء مثل العمل لكن مع هذا العموم اولى كمامر فالصيام كما قال مجاهد رح داخلاً في العموم دخولاً اوليًا فافهم.

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ

او هغه څوک چي ورکړه سي عمل نامه يې په چپه لاس وهو الكافر، البيهقي د مجاهد رح څخه روايت کړی دی چي د کافر چپه لاس تر شا وباسي فيأخذ بها كتابه او ابن السائب وايي چي چپه لاس د کافر ملکه ور وپېچي چي شاته ور سېدی عمل نامه ورکړي.

فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾

نو دا کافر چي په عمل نامه کي اعمال خبيثه خپل وويني او سوء العاقبة نو داسي وايي د تأسف په لهجه (يٰليتني) المنادى محذوف والتقدير يا قوم ليتني (لم اوت كتابيه) چي ماته نه وای راکړه سوې عمل نامه او زه نه وای خبر چي زما حساب څرنګه دی، دا خبره دی هلته کوي چي عاقبت السوء و ويني.

وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾

الضمير راجع الى النفخة او يا راجع وغير مذكور ته، والتقدير اى يا قوم الموتة في الدنيا او على العدم بمعنى الحالة من العدم بعد الوجود (كانت القاصية) القاصية للحيوة مطلقًا بحيث لم احيى من العدم الى عرصة الوجود او احيٰى يوم القيامة.

مَا اَغْنٰى عَنِّىْ مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّىْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾

ماته فائده نه ورسول هغه مال زما چي په دنيا كي ما درلودى (يعني دفع د عذاب يې نه وكړه) نابود سو زما څخه هغه ملک او تسلط او جباريت چي ما په دنيا كي پر خلګو درلودى، لكه وليد بن المغيرة يا ابو جهل وغيرهما، نو خداى ج و خزنة جهنم ته وايي.

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾

ونسئ دا كافر او دواړه لاسونه يې جمع كړئ و غاړي ته چي كښته نسي كتلاى، بيا يې و دوږخ ته وغورځوئ.

پوه سه: چي كلمه د ثم دواړه ځايه د تراخي في الزمان لپاره نه ده بلكي للتغاوت في الشدة قدم المفعول اى الجحيم للحصر اى لا تصلوه الا الى الجيم اى دوږخ.

ثُمَّ فِىْ سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿٣٢﴾

وروسته به بيا په ځنځير كي چي ګزانه به اويا ګزه وي داخل به يې كړي يعني پر وي پيچي.

فائده: فاء في فاسلكوه زائدة لپاره د تحسين د لفظ ده لپاره د عطف نه ده حتى يلزم اجتماع العاطفين (اى لفظ ثم والفاء) روايت كړى دى ابن ابى حاتم والبيهقي عن طريق العوفي عن ابن عباس رض قال چي دا ځنځير يې په دبره ور چخ كړي او ترپزه يې راوباسي حتى لايقوم على رجليه چي پر پښو نسي ولاړيدلاى، قال نون البكائي الشامي سبعون ذراعًا كل ذراع سبعون باعًا كل باع ابعد مما بينك وبين مكة او دى په كوفه كي و.

درويش وايي: چي به بيان كي د سبعون ذراعًا نور اقوال هم سته چي د قدرت د خدای يو انموذج دی كلها آمنا په اذا صح النقل والرواية.

إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ ﴿٣٣﴾

ده ايمان نه درلودی بالله العظيم، دا جمله مستانفه ده لپاره د بيان د سبب د عذاب مذكوراو د عظيم لفظ يې ددې لپاره ووايه چي الله عزوجل مستحق د عظمت دی فمن تعظم غيره يستوجب العذاب يعني من الاصنام وغيرها.

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿٣٤﴾

ثوک يې نه باعثه كول پر عذاب د مسكين، يعني بل ته يې هم نه ويل چي دا مسكين ته طعام وركړه فضلاً عن مال نفسه هغه ته يې په طريق اولی نه وركاوه.

مسئله: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي كافران يعذبون على فروع الاعمال لان الاطعام والحث عليه من فروع الاعمال.

فائده: تخصيص د يحض چي يې وكړی په ذكر سره لان اقبح القبائح الكفر بالله واشنع الشنائع البخل وقسوة القلب (سختي د زړه چي پر مسكين يې زړه نه سوځي).

فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ ﴿٣٥﴾

الفاء للسببية يعني په سبب د ما قبل چي عدم الايمان بالله ؤ او بخل ؤ، نسته ده لره نن ورځ يعني په ورځ د قيامت دوست چي د ده دي غمخور سي.

وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴿٣٦﴾

او نه خوراكي شی سته.

پوه سه: چي غسلين نو نه او وينه ده د دوږخيانو چي يو ځای جمع كېږي بيرته دوی ته د طعام په توګه وركول كېږي، مشتق له غسل څخه دی اخرج ابن ابی حاتمؒ عن عكرمه عن ابن عباسؓ الغسلين صديد اهل النار، او په بل روايت كي د ابن عباسؓ دي ما ادري ما الغسلين لكني اظنه الرقوم.

درويش وايي: چي الاول هو الاشهر والاظهر.

لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُونَ ﴿٣٧﴾

مستثنٰی مفرغ ده په محل کي د فاعل ده.

فائده: له خطاء څخه مراد هغه ده چي مقابل د عمد ده، ولي هغه خو معفو ده کما في الخبر الصحيح رفع عن امتي الخطاء والنسيان بلکې د هغې محاورې څخه مأخوذ خطئ الرجل اذا تعمد الذنب، صفت د غسلين.

سوال: غسلين کما مر مشروب دی، نو په اکل يې ولي تعبير ځني وکړی؟

ځواب: په اعتبار د طعام په مخه آيت کي، روح البيان وايي په ترجمه کي د الخاطئون ای اصحاب الخطايا وهم المشرکون، دی وايي چي الخاطئ هو الذي ضد الصواب متعمدًا.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾

درويش وايي: چي بعض مفسرين وايي چي د دې عبارت معنی دا ده چي زه قسم نه اخلم، ولي خبره ښکاره ده قسم ته ضرورت نشته، او بعض اهل العلم وايي چي کلمه د لا زائده ده ای اقسم زما دي قسم وي پر تقدير اول معنی يې دا ده يا هغه ده چي ذکر سول، يا معنی دا ده لکه کفارو د مکې چي به ويل: ان محمدًا (ﷺ) تقول القرآن علی الله من نفسه وهو شاعر او کاهن ولا بعث ولا نشور، او زه اخلم قسم په هغه شيانو سره چي تاسي يې وينئ له علاماتو څخه د وجود د ده او د توحيد د خدای ج وقدرته وجلاله، شيخ سعدي قدس سره وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

او په هغه شيانو سره چي تاسي يې نه وينئ نه په سترګو او نه په بصيرت د زړه من مراتب صفاته الجلالية والجمالية، او يا ذات د خدای ج وقيل ما تبصرون دنيا ده او ما لا تبصرون الآخرة دی، وقيل ما تبصرون اجسام دي و ما لا تبصرون الارواح دي، يا ما تبصرون انس دي و مالا تبصرون الجن والملائكة دي، او يا ما تبصرون يې نعم ظاهره دي او ما لا تبصرون نعم باطنه دي کالعلم والذکاوة.

وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٩﴾ إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿٤٠﴾

په تحقيق دا قرآن کريم دی (يعني ما انزل بي) قول د رسول دی يبلغه من الله

سبحانه وتعالى يعني لايقوله محمد ﷺ من نفسه كريم على الله يعني محمد ﷺ.

وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ۭ قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿41﴾

او نه قرآن د شاعر قول دى (كما يقول اهل مكة)

پوه سه: چي كلمه د ما زائده ده لتاكيد القلة قليلاً يا منصوب دى على المصدرية اى ايمانًا قليلاً يا منصوب على الظرفية دى اى زمانًا قليلاً، ايمان قليل د هغه چا دى چي صدق د قرآن ورته ظاهر سي بمعجزات او كثرة د عدم ايمان مبني دى پر تعنت او عناد او تكبر.

وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿42﴾

او نه قول د كاهن دى (چي شيطانانو به پر خپلو اتباعو په شرارت بعض غيبي خبري كولې) تاسي به لږ زمانه په معاني كي د قرآن فكر كولائ يا د رسول الله ﷺ په احوالو كي غور نه كوئ چي د احوالو څخه د كاهنانو تباين كلي لري.

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿43﴾

مصدر په معنى د مفعول دى اى منزل.

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ ﴿44﴾

پوه سه: چي تقول باب د تفعل دى ابن حاجب" ډېري معناوي د تفعل راوړي دي چي يوه د هغو تكلف دى نحو تزهد فلان اى حصل الزهد بالتكليف، نو په دې ځاى معنى د تقول افترى وتكلف وتصنع چي حاصل درواغ په تكلف پر خداى' وايي (علينا) پر موږ باندي چي دا وحي د خداى' دي (الاقاويل) جمع د اقولة ده المراد بها الاقاويل الكاذبة.

لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿45﴾

اى المفترى (باليمين) متعلق دى په اخذنا پوري يعني تر راسته لاس به يې نيولى واى لپاره د ازلال دده، او يا معنى داده چي خپل راسته لاس فعلى التقدير الثاني هو من المتشابهات كالوجه يا يد الله فوق ايديهم، يعني په بيعت د رسول الله ﷺ وامثاله.

ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾

مونږ به قطع کړې وای رګ چې مسمٰی په وتین سره دی چې هغه د زړه یو رګ دی چې هغه قطع سي انسان بس مري چې په بعض لغاتو کي دې ته هاټ فیل وایي.

فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾

نو ستاسي څخه څوک دی د منقول مفتری دفع کونکی دده څخه، او په تحقیق دغه (ای القرآن) پند او نصیحت دی لپاره د تقوی دارو خلګو لانهم هم المنتفعون به.

وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾

او په تحقیق مونږ خبر یو چې بعض ستاسي څخه یا کفار مکه تکذیب کونکي د قرآن یاست (والمراد به چې مونږ به درکړو جزاء پر تکذیب وعدم التذکر بالقرآن)

وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾ وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾

او قرآن سبب د حسرت دی پر کافرانو چې دوی به ارمان کوي چې کاشکي مونږ پر قرآن ایمان راوړی وای چې له دې ورځي د قیامت به له عذابه خلاص وای.

په قاموس کي وایي: الیقین ازاحة الشک یعني ازالة الشک، د مثال په توګه یو سړی د لیري بل څوک وویني نو په دې کې شک وي چې زید به وي او که بل څوک چې رانژدې سي نو یې شک زائل سي چې هغه زید دی، وفي الصحاح الیقین من صفة العلم وهو فوق المعرفة وحمله علی القرآن لکه زید عدل ای متیقن کمال الیقین کانه نفس الیقین، والحق ضد الباطل.

درویش وایي: چې بعض صوفیه کرام قدس اسرارهم وایي: چې اعلی د مراتبو د علم حق الیقین دی و دونه علم الیقین، د اول مثال دا دی: علم العاقل علی الموت اذا ذاقه، ومثال الثاني کعلم العاقل عند رؤیته رؤیة الملائکة یعني عزرائیل واعوانه، ومثال الثالث کعلم العاقل المؤمن بالموت یعني وقتًا ما في جمیع احواله انتهی، او عقلاء وایي چې حق الیقین دا دی لکه سړی یوه عضوه د اور سره متلافي یعني وسوځل سي، او د عین الیقین مثال دا دی لکه سړی چې اور ته ناست او حرارت یې ور رسیږي، او د علم الیقین مثال دا دی لکه په سائر

الاحوال د عاقل دا يقين وي چي اور گرم دی، فافهم هداک الله، نو د قرآن درجه د حق اليقين ده په نېز د مؤمنانو لسطوع برهانه و وضوع حقيقته، کريمه ان کنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله الآية، کريمه: ولا يأتون بمثله وان كان بعضهم لبعض ظهيرًا.

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

نو ته تسبيح او تنزيه د خدای په نامه و وايه چي عظيم دی والمخاطب هو رسول الله ﷺ.

پوه سه: چي العظيم يا صفت دی د اسم يعني الله دی يا د ربک دی، ولا يخفى على العاقل المؤمن عظمة كليهما، وعن عقبة بن عامر الجهني چي څه وخت چي پر رسول الله ﷺ باندي دا آيت نازل سو فسبح باسم ربک العظيم قال اجعلوها في ركوعه ای مضمونه سبحان ربي الغظيم، او چي دا آيت نازل سو سبحان ربي الاعلى قال رسول الله ﷺ اجعلوها في سجوده ای مضمونه، يعني سبحان ربي الاعلى، وليس المراد في الموضعين نفس هذين الآيتين ولهذا فسرت الفقير ای بمضمونه، وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان (يعني د قيامت په ورځ په ترازو کي) حبيبتان الى الرحمن، سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم.

فائده: د ركوع او د سجدې تسبيح سنت دي او ادنى د كمال يې درې دي وهذا مذهب جمهور الفقهاء وقال احمد واجبة، او هم داغسي اختلاف دی في تكبيرات الانتقالات وفي سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد في القومة.

درويش وايي: چي الحمد لله والمنة والصلوة على سيد البرية وعلى آله وصحبه البررة، له تفسير څخه د سورة الحاقة پر يوولس (١١) بجې تخمينًا د رجب الخير په وخت د درې بجې سنه (١۴٣٣) هجري قمري فارغ سوم.

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سَاَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ۙ﴿۱﴾

وغوښتی یو غوښتونکي عذاب چي واقع کیدونکی دی.

روایت کړی دی النسائي وابن ابی حاتم عن ابن عباس رضي الله عنه چي سائل نضر بن الحارث دی حیث قال چي دا قرآن که ستا د خدای له خوا وي مور خو يې نه منو فامطر علینا حجارة من السماء او أتنا بعذاب الیم، او خدای عزوجل هغه عذاب پر نضر بن الحارث باندي په ورځ کي د بدر نازل کړی حیث قتل کافرًا، نو پر دې تقدیر مراد له سوال څخه دعاء ده ویدل علیه تعدیته بالباء (بعذاب واقع) عذاب دی چي واقع کېږي پر کافرانو، روایت کړی دی ابن المنذر له الحسن رحمه الله څخه چي دا آیت چي نازل سو سأل سائل بعذاب خلکو وویل چي دا عذاب به پر چا نازلیږي؟ فقال الله تعالی واقع للکافرین.

لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ۙ﴿۲﴾ مِّنَ اللهِ ذِى الْمَعَارِجِ ؕ﴿۳﴾

لپاره د کافرانو، نسته د هغه لپاره دفع کونکی له جانبه د خدای لتعلق اراته بذالک.

پوښتنه: چي ذی المعارج صفت د خدای دی والمعارج جمع د معرج ده چي په پښتو يې ځنې بولي، ولیس المراد به المعارج الحسیة بل المراد به درجات القرب الی الله تعالی بلا کیف التي تبلغها الانبیاء والاولیاء والملائکة او درجات القبول یصعد فیها الکلم الطیب والعمل الصالح او المصاعد في دار الثواب او درجات الجنة، عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ في الجنة مائة درجة بین کل درجتین کما بین السماء والارض (چي د پنځه سوه کالو مسافت دی) والفردوس اعلاها درجة منها تفجر انهار الجنة الاربعة (چي له فردوس څخه رابهیږي څلور ویالې یعني الماء واللبن والعسل والخمر) ومن فوقها عرش الرحمن فاذا سئلتموها الله تعالی فاسئلوا الله الفردوس، رواه الترمذي.

پوښتنه: فردوس چي اعلی د درجاتو د جنت دی، نو دا خو به مقر او ځای د انبیاء علیهم السلام او د اولیاء الله رحمهم الله وي، نو عموم خلکو ته دا سوال د فردوس هم روا دی او که څه رنګه؟

ځواب: با کریمان کارها دشوار نیست، ونیز گفته اند:

همت بلند دار که نزد خدا و خلق باشد بقدر همت تو اعتبار تو.

وعن ابى سعيد الخدري رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ان اهل الجنة يتراؤن اهل الغرف (جمع د غرفة ده يعني بالا خانه) من بينهم كما تراؤن الكوكب الدري (اى روشن) الغاير في الافق من المشرق او المغرب، صحابه كرامو رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دا ځايونه به مختص په انبياء عليهم السلام پوري وي لايبلغها غيرهم؟ قال عليه السلام بلىٰ، په جواب کي د نفي د دوى له غير څخه فالمعنى هو غير ته هم ور رسيدا ى سي، والذي نفسي بيده رجال آمنوا بالله وصدقوا المرسلين، بخاري او مسلم.

درويش وايي: چي دا قول د عليه الصلوة والسلام پر عموم نه دى محمول والله اعلم، او ابن مسعود رضي الله عنه په ترجمه کي د المعارج داسي ويلي دي، ذى السموات وقال سماها معارج لان الملائكة يعرج فيها (اى السمٰوات)

تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ۟ؕ

خېژي و سمٰواتو ته ملائكه، او د روح څخه مراد جبريل عليه السلام دى، اورده بالذكر لفضله كما لايخفىٰ (اليه) اى الله او عرشه (في يوم آه) بعض مفسرين وايي چي دا جار او مجرور متعلق دى چي واقع دلالت پر كاوه، فالتقدير يقع العذاب بهم اى الكفرة في يوم كان مقداره خمسين الف سنة يعني يوم القيامة كذا اخرج البيهقي عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنه، او يمان وايي: چي په ورځ کي د قيامت پنځوس موطن دى هر موطن يې زر كاله دى، او بخاري او مسلم له ابى هريرة رضي الله عنه دې ورځي په طول يو طويل حديث بيان كړى دى او مظهري په هغه طول سره راوړى دى ان شئت فارجع الى كتابى الشيخين والى تفسير المظهري، او علامه بغدادي رحمه الله په تفسير روح المعاني کي وايي چي ظاهره دا ده چي في يوم متعلق دى په تعرج پوري او يوم په معنى د وقت دى والمراد به مقدار ما يقوم الناس الى رب العالمين الى ان يستقر اهل الجنة في الجنة واهل النار في النار الى ما لا نهاية له ويشير الى هذا ما اخرج الامام احمد وابن حبان وابو يعلى وابن جرير والبيهقي في البعث والنشور عن ابى سعيد الخدري رضي الله عنه، دى وايي چي سوال وكړه سو د عليه الصلوة والسلام څخه عن يوم كان مقداره خمسين الف سنة، ما اطول هذا اليوم (څونه اوږده ورځ ده دا ورځ؟) فقال عليه الصلوة والسلام والذي نفسي بيده وانه ليخفف على المؤمن (سپكه تېرېږي دغه طويله ورځ پر مؤمن) يكون اهون عليه من صلوة مكتوبة وهو يصلها في الدنيا.

پوه سه: چي د علماؤ اختلاف دی في المراد بهذا التقدير على هذا الوجه فقيل الاشارة الى استطالة هذا اليوم لشدته لابهذا المقدار حقيقة ويروى هذا عن ابن عباس رض والعرب تصف اوقات الشديدة والحزن بالطول واوقات الرخاء والفرح بالقصور.

درویش وايي: چي ددې طول او قصر ژوندی مثال دا دی چي د دوبي په یوه میاشت کي چي رمضان داخل سي دا روژه هره ورځ پر روژياتي دومره اوږده سي لکه دوې ورځي، ولي چي خوله د روژياتي د اوبو څيښلو څخه بنده وي او سره ددې د شعبان اخيري ورځ پر دغه مقدار وه، يو سړي چي د دوبي روژه نيولې وه بل سړي ته يې وويل قبل الزوال الشمس چي پرون په دغه وخت كي لمر پر غروب ؤ نن لمر ځای پر ځای لکه ولاړ چي وي، وقال محمد بن اسحاق معنى الآية لو سار ابن آدم من الدنيا الى موضع العرش سيرًا بطيئًا على الفرض صار سبعين الف سنة.

فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ۝٥

نو ته صبر وکړه يا محمد (ﷺ) پر تکذيب د دوی تا لره (صبرًا جميلاً) يعني طلب د استعجال د عذاب مه كوه او اضطراب هم مه كوه، والفاء للسببية متعلق دی په سئال پوري، وجه يې دا ده چي سوال د تعنت او استهزاء لکه کفارو د مکې چي به کول طبع انساني ده چي د سړي زړه تنگوي، فالمعنى فاصبر صبرًا جميلاً او زړه مه تنگوه د دوی له سوالو څخه او تلوار مه كوه په طلب كي د نزول د عذاب پر دوی.

إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ۝٦ وَنَرَاهُ قَرِيبًا ۝٧

په تحقيق دوی (يعني كفار مكه) ويني يعني عقيده يې د عذاب ده و دوی ته لیري بلکې امکان هم نه لري د دوی په عقيده كي لانكارهم البعث بعد الموت.
ونراه قريبًا (لان ما هو آت قريب وانما البعيد عند العاقل ما هو فات)

يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ ۝٨

هغه ورځ چي وګرځي آسمان لکه میس چي ويلي كړي يا نور ويلي كېدونکي اشياء يا لکه صفر يا صرف وغيرها او يا لکه د زرنيو د تيلو خته برخه، له ابن مسعود رض څخه روايت دی السماء بالمعنى الجنسي الوانًا تكون كالمهل وتكون وردًا كالدهان وتكون السماء واهية سست سره څيري سي وتكون احوال مختلفة.

وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ۝٩

او وګرځي غرونه لکه رنګ کړي وړۍ ابيض و اسود لان الجبال مختلف الالوان او غرونه چي ميده ميده سي او هوا ته پورته سي نو لکه رنګارنګ وړۍ داسي شکل ګرځي يعني بعضي توري وړۍ بعض سپيني بعض ژړي لکه د اوبښ بعضي وړۍ چي دا ټوله سره مخلوط رنګونه په هوا کي سره وپاشل سي غرونه هم په هوا کي داغسي نمائش ښکاره کوي.

وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ۝١٠

او پوښتنه نه کوي يو قريب که پلار وي او که ورور وي الی غير د بل قريب ولي چي هر يو په خپل غم اخته وي، کريمه: فاذا جائت الصاخة يوم يفر المرء من اخيه الی اخير الآية.

يُبَصَّرُونَهُمْ ط

دا جمله صفت دی د حميم يعني دا عدم السوال المذکور له دې سببه نه دی چي دوی يو د بل سره نه ويني بلکې لشدة حال نفسه، او يا سوال ته ضرورت نه لري لدلالة الاحوال کبياض وجوه المؤمنين وسواد وجوه الکافرين من اقاربهم.

سوال: حميم حميمًا خو يې دواړه مفرد راوړه او دواړو ته ضمائر د جمع په يبصرونهم کي راجع سوه؟

ځواب: دواړه نکره په سياق کي د نفي راغلي دي، وقال النحات النکرة في سياق النفي تعم.

يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ۝١١

الظاهر ان المراد بالمجرم المجرم الکامل وهو الکافر بای نوع من الکفر، دا جمله حال ده له فاعل څخه د يبصرونهم او يا د مفعول د هغه.

پوښتنه: جمله چي حال واقع سي عائد و ذی الحال ته خو ضرورت دی وليس ة شيئ من ذالک؟

ځواب: نحات وايي چي راګرځول د اسم چي دلته المجرم دی کافي دی د ربط لپاره، يا جمله مستانفه ده يعني جواب د سوال محذوف وهو ما يصنع المجرم

فقيل في جوابه ان المجرم يشتغل بنفسه عن غيره تر دې اندازې چي تمنى د دې کوي چي اقرب د اقاربو په دنيا کي خپل د خلاصون فديه وګرځوي فضلاً عما لايهتم بحاله من اموال الدنيا.

درويش وايي: چي على هذا التقدير دا آيت مبارک لا يسئل الحميم حميمًا خاص په کفارو پوري دی او هر چه مؤمنان دي هغه په ورځ کي د قيامت خپل د اقرباؤ غم ورسره وي چي حتى الممکن شفاعت يې وکړي په دې باب احاديث نبويه په تواتر معنوي سره موجود دي، کما قال رسول اللهﷺ والذي نفسي بيده ما منکم من احد باشد مناشدة اى طلبًا وشفاعة من المؤمنين بالله يوم القيامة لاخوانهم الذين في النار يقولون ربنا کانوا اى اهل النار من المؤمنين يصومون معنا الى اخير الحديث، متفق عليه اى رواه البخاري ومسلم.

(لو يفتدي) چي فديه ورکړي له عذاب څخه من حرف جر متعلق دی په يفتدي پوري (من عذاب يومئذ) په دغه ورځ (اى يوم القيامة) په خپلو زامنو سره.

وَصَاحِبَتِهٖ وَاَخِيْهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيْلَتِهِ الَّتِىْ تُـْٔوِيْهِ ﴿١٣﴾

او په مازنو سره او په ورور سره او هغه نژدې قبيله چي دی له هغو جلا سوی دی، والمراد في الآية هو الآباء الاقربين (التي تؤيه) چي سړی هغو ته پناه وروړي په وخت کي د سختی.

وَمَنْ فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ثُمَّ يُنْجِيْهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا اِنَّهَا لَظٰى ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِّلشَّوٰى ﴿١٦﴾

او ټوله مخلوق چي په مځکه کي دي من الجن والانس وغيرهما (ثم ينجيه) بيا وروسته تر دغو فداياؤ نجات ورکړی سوی وای (کلا) حرف ردع دی والمعنى لاينجيه من عذاب شيئ، نو حاصل دا دی چي مجرم دي خواهش نه کوي ولي چي فائده نه ورته کوي (انها) ضمير مؤنث راجع دی ونار ته چي مؤنث سماعي دی.

سوال: نار خو په ماقبل کي هيڅ نه دی ذکر سوی؟

ځواب: د مرجع لپاره ذکر حکمي هم کافي دی يعني له عذاب څخه ولي چي عذاب د يوم القيامة نه دی مګر نار فافهم، په حديث صحيح کي راغلي دي چي خدای عزوجل وايی (يعني د ملکي په خوله) وهغه اهون ته اهل عذابًا يعني تر ټولو اهل النار يې عذاب سپک وي که تا لره ما في الارض يعني ټوله وای تا فديه

کاوه له عذاب څخه ددې ورځي، هغه ورته ووايي نعم، فيقول الرب جل وعلا چې ما په دنيا کي ستا څخه آسان شی غوښتی وانت في صلب آدم بان لا تشرک بي.

(لظی) روح البيان وايي چي لظی علم دی او رياء طبعه ثانيه د اور وکذا قال البغوي والمظهري چي لظي خالص ته وايي چي هيڅ اثر د اور نه وي پکښې يعني خالص سکروټي وي.

(نزاعة للشوی) چي کښونکی دی، او د شوی تفسير بعض مفسرينو په اطرافو سره کړی دی يعني اليدان والرجلان، وقيل جمع د شواة ده چي د سر پوستکي ته وايي واليه ذهب مجاهد رح، وقيل اللحم دون العظام، وقال الکلبي رح ياء الدماغ کله ثم يعود کما کان.

تَدْعُوْا مَنْ اَدْبَرَ وَتَوَلّٰى ﴿۱۷﴾ وَجَمَعَ فَاَوْعٰى ﴿۱۸﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ﴿۱۹﴾

بولي ای النار خبر بعد خبر لان چا چي اعراض کړی له حق څخه او اعراض يې کړی دی له طاعت څخه د خدای عزوجل نو اور ورته ووايي الي يا مشرک الي يا منافق ماته راسه، قال ابن عباس رض تدعوا ای النار الکافرين والمنافقين بلسان فصيح (وجمع) ای المال (فاوعی) ای جمع في وعاء وامسکه ولم يعط حق الله منه ای الزکوة (ان الانسان خلق هلوعًا) په تحقيق انسان پيدا سوی دی هلوعًا.

درويش وايي: چي عطية له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چي تفسير د هلوع دغه وروسته آيت دی.

اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا ﴿۲۰﴾ وَّاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا ﴿۲۱﴾

چي ده ته يو شر يعني فقر او مسکنت ورسېږي بې صبري کوی او شکايت کوي، او چي ده ته خير يعني مال ورسېږي نو دی يې في سبيل الله نه صرفوي او شکر يې نه وايي، له ابن عباس رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل لو کان لابن آدم واديان من مال (که وي ابن آدم لره دوې شېلې د مال يعني من ذهب وفضة او مواشي) لاتبغي (غواړي به دريمه شيله) ولا يملأ جوف ابن آدم الا التراب (ای تراب القبر) ويتوب الله على من تاب، متفق عليه.

درويش وايي: چي بعض مفسرين وايي چي هلوع حريص ته وايي على ما لايحل، رواه السدي عن ابی صالح عن ابن عباس رض، او قتاده وايي چي هلوع

الجزوع ته وايي، وقال مقاتل ضيق القلب والهلع شدة الحرص وقلة الصبر وقال سعيد بن جبيرؒ چي هلوع بخيل ته وايي، فقير وايي چي تر ټولو اول او الافضل تفسير القرآن بالقرآن دی كما مر في روايت ابن عباس رضي الله عنهما، و درلباب از مقاتلؒ نقل ميكند كه هلوع جانوريست از پس كوه قاف كه هر روز هفت صحرا از گياه خالی ميكند يعنی همه خشايش آن می خورد وآب هفت دريا می رساند و در گرما و سرما صبر ندارد وهر شب در انديشنه آنست كه فردا چه خواهد خورد حق سبحانه وتعالی آدمی را دربی صبری و هميشه دراند يشه روزی كه فردا چه خواهد خورد بدين دابه تشبيه ميكند انتهی، والله اعلم.

درويش وايي: چي والله اعلم دا قصه دروغ ده او شان نزول د آيت په دې قصه سره بيانول استخفاف د قرآن دی او تبيان چي حواله و مقاتل ته کړې ده زما په فكر دا حواله هم غلطه ده ولي چي مقاتلؒ لوی مفسر دی، والعلم عند الله ولا يعلم جنود ربک الا هو، بلكه اين چنين ابيات بسيار زيبا است دربيان هلوع مردمان:

جانوری را كه بجز آدميست ..... معده چو پرشد سبب بی غميست
آدميست آنكه به سيری برد ..... بر سر سيری غم روزی خورد
خور همه عمر چه بيش وچه كم .... روزی هر روزه از خوان كرم
از ره حرص وامنش همچنان ..... هيچ غمی نيست بجز فكر نان

وعن انسؓ قال قال رسول الله ﷺ يهرم ابن ادم (زړېږي ابن آدم) ويشيب منه اثنان (او ځوانېږي په ده كي دوه خويه) الحرص على المال والحرص على العمر صدق رسول الله ﷺ ويدل عليه التجربة.

إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾

ای المؤمنين الكاملين.

فائده: خدای پاک تعبير د مؤمن كامل په مصلی سره وكړی فان الصلوة اعلى مقامات الايمان، وقد ورد الصلوة معراج المؤمنين وعماد الدين، سعدي شيرازي قدس سره وايي: روز محشر كه جان گداز بود .... اولين برسش نماز بود لكن المراد بالمصلين هغه لمونځ كونكی دی چي لمونځ يې پر طريقه د احسان وي ای الاخلاص كما ورد في الحديث الذي رواه البخاري ومسلم چي جبريلؑ چي پر

صورت د انسان و عليه الصلوة و السلام ته په حضور د مسلمانانو يعني صحابه كرامو رض راغلى او پوښتنه يې وكړه ما الايمان؟ عليه الصلوة و السلام جواب وركړى، بيا يې وويل: ما الايمان ما الاسلام؟ عليه الصلوة و السلام جواب وركړى، بيا يې پوښتنه ځني وكړه ما الاحسان؟ عليه الصلوة و السلام وويل الاحسان ان تعبد الله كانك تراه فانه ان لم تكن تراه فانه يراک او كما قال عليه الصلوة و السلام.

درويش وايي: چي زموږ د زماني داسي خلګ دي بدن يې د رمسجد ودل درد كان الى غير ذالک، روى مسلم عن حبيب رض قال قال رسول الله ﷺ عجبًا لامر المؤمن ان امره كل له خير وليس ذالک لاحد الا المؤمن ان اصابته السراء شكر (يعني كه دوى ته ورسيږي خوشالي و المال شكر يې ووايي) فذالک خير له وان اصابته شر لكه فقر، مرض، صبر پر وكړي فكان خيرًا له.

(الذين هم على صلاتهم دائمون) هغه كسان دي چي پر پنځو سرو لمونځو دوام او هميشه توب كوي لايشغلهم عنها شواغل، وقد ورد خير الاعمال ادومها، وعن عائشة رضي الله عنها كان عمله ﷺ ديمة.

پوښتنه: لمونځ يې ولي تر ټولو اعمالو د خير مقدم راوړى؟

ځواب: قال رسول الله ﷺ اول ما فرض الله تعالى على امتي الصلوة الخمس، وفي حديث اول ما يرفع عن امتي الصلوات يعني اول چي پرېږدي امت لمونځونه به وي يعني و قيامت ته نږدې، وقال عليه الصلوة و السلام اول چي زما له امت څخه سوال كيږي لمونځونه دي فان حسنت فقد افلح وان فسدت كه يې د لمونځو حال خراب ؤ فقد خاب وخسر، او لمونځونه تاخير نه لري له وخت څخه مګر هغه چي پر تيمم او ايماء قدرت نه لري او روژه په مرض كي مؤخره كيږي و اخير ما اوصى النبي ﷺ يعني في مرض موته الصلوة و ما ملكت چي مراد ځني مريان دي.

وَالَّذِيْنَ فِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ﴿۲۴﴾ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ﴿۲۵﴾

او هغه كسان دي چي په اموالو كي د دوى حق معلوم وي (من الزكوة والعشر) د هغه چا لپاره چي سوال كوي او د محروم لپاره چي سوال خو كوي او مسكين مګر صاحب المال يې په حال خبر وي.

وَالَّذِيْنَ يُصَدِّقُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٢٦﴾

او هغه كسان دي چي تصديق او ايمان يې وي پر ورځ د جزاء الاعمال چي ورځ د قيامت ده، ولې چي كامل ايمان چي ځوک ولري پر يوم الجزاء لايكون جزوعًا في الشر بل صابرًا محتسبًا ستر ګي د ثواب خداى ته لري، و وقت الصبر او نه هم منوعًا كېداى په حال د خير بلكې مال د لاسه باسي په زكوة وغيره طالبًا للثواب.

وَالَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿٢٧﴾

او هغه كسان دي چي با اين له عذاب څخه د خداى بېرېږي، فان مقتضى الايمان الخوف والرجاء.

اِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَاْمُوْنٍ ﴿٢٨﴾

په تحقيق له عذاب څخه د خداى ځوک بېغمه نه دى يعني يقينًا لان الايمان بين الخوف من عذابه و الرجاء الى رحمته ومغفرته.

وَّالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ

او هغه كسان دي چي د فرجو (كه نر وي او كه ښځه) ساتونكي وي د ما لايحل كالزنى وللواطة.

فائده: والذين كه څه هم مفعول دى د حافظون لكن چي د مخه يې كړى لپاره د رعايت د فواصلو يعني اواخر الآيات او لام يې لپاره د تقويت د عمل زائد كړى.

پوه سه: چي ازواج جمع د زوج ده چي نر او ښځي دواړو ته وايي والمعنى چي نر دي خپل فرج له ماينې څخه نه سپموي او ښځه دي هم خپل فرج و مېړه ته تحفه كوي، مګر ښځه دي خپل د مخ خوا نه سپموي دون دبرها لانها لواطة صغرى، ويدل قوله تعالى فأتوا حرثكم ولي ځاى د كښت د ښځي د مخ خوا ده نه دبره دې چي هغه محل الفرث دى، واما في الرجلين فلا يجوز الاستعمال لانه لواطة كبرى.

پوه سه: چي اكثره مفسرين وايي چي كلمه د على په معنى د من الجارة، فالتقدير والذين هم فروجهم حافظون الا من ازواجهم، په ازواج كي نر او ښځه دواړه شامل دي او بعض علماء چي ګمان كوي چي ازواج خو جمع د زوج ده زوج خو نر ته وايي ښځي ته خو زوجه بتاء التانيث وايي.

درويش وايي: چي دا ګمان باطل دى الا يسمعون قوله تعالى لآدم عليه السلام يا آدم

اسكن انت وزوجک الجنة الآية، والحاصل ان الزوج مقابل الفرد دی نو که ښځه
مېړه نه لري نو فرد ده چي مېړه پیدا کړي زوج یعني جوت سي، وهکذا في جانب
الزوج چي ماینه نه لري فرد دی چي ماینه یې وکړه زوج سو.

اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿٣٠﴾

یعني مینځیاني چي دې ته ملک یمین وایي.

سوال: مشهوره خو دا ده چي کلمه ما د غیر ذوی العقول لپاره ده او مینځه خو
له ذوی العقول څخه ده؟

ځواب: مریی او ښځه جاري مجری غیر ذوی العقول دي، ولي چي شرع انور
دوی ملحق په غیر ذوی العقول پوري عقابًا علی کفرهم، نو شرع یې بیع او شراء او
استخدام روا بولي.

فائده: مراد له ماملکت ایمانکم څخه منځیاني دي چي په عربي سرایا بولي نه
مریان ولي چي اتیان د مالک و دبري ته د مریي ناروا دی کمامر في سورة البقرة
بالسنة والقیاس، یعني په حدیث سره هم ثابت دی او په قیاس سره هم پر اتیان د
ماینې په حالت کي د حیض، کریمه: ویسئلونک عن المحیض قل هو اذی
فاعتزلون الی اخیر الآیة.

درویش وایي: چي ددې آیت د عموم څخه ډېر شیان خارج سوه مثلاً وطي د
ماینې په حال کي د حیض یا د نفاس، او دغه رنګه نه ده روا وطي د هغه مینځي
سره چي د مالک سره یې تی رودلی وي، او دغه رنګه نه ده روا ښځي ته چي خپل د
مریي له ذکر څخه فائده واخلي الی غیر ذالک (فانهم غیر ملومین) دوی په دغه
مستثنیاتو کي ملامت نه دي عند الله عزوجل.

فائده: دا جمله تعلیل ده د مضمون د استثناء یعني قوله الا علی ازواجهم آه، فان
حفظ الفرج ای الذکر عن الزوجة والسریة یعني مینځه او د دوی سره جماع کول پر
وجه مشروع ای في قبلهن لا في ادبارهن لا یلام علیه لانه مباح بل مندوب ضرورة
ابقاء النسل و وقت عدم الحیض والنفاس وعدم المحرمیة بالرضاع والجزئیة.

فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿٣١﴾

که چا طلب د جماع کاوه یعني ماسوی الزوجات والسرایا بالشروط

المذكورة، نو دغه كسان دي تجاوز كونكي، ولې چي اتيا په فعل حرام سره يې وكړي او سره ددې چي كفايت موجود ؤ، قال رسول اللهﷺ انما رجل رئ امرئة يعني بېګانه ښځه چي خوښه يې سول يعني د جماع لپاره فليقم الى زوجته فورًا دې خپلې ماينې ته ورسي او جماع دې ورسره وكړي فان معها دده د ماينې سره سته يعني الفرج مثل الذي لكه د هغې ښځي چي دده خوښه سوې وه.

فوائد هذه الاية: (۱) په دې آيت سره دليل دی چي استمناء باليد يعني په لاس كي ځان انزالول حرام دی وهو قول العلماء قاطبة، قال ابن جريج سئلت العطاءؒ عنه ای الاستمناء فقال مكروه ای كراهة تحريم، ده وويل چي ما اورېدلي دي د عليه الصلوة والسلام څخه چي بعض خلګ به په ورځ د حشر بعث سي او په لاسو كي به يې حمل وي وهم هؤلاء، او په دې باب كي حديث د انسؓ موجود دی قال قال رسول اللهﷺ ملعون من نكح يدًا يعني چي په لاس كي ځان انزال كړي (۲) له دې آيت څخه دا هم معلومه سوه چي نكاح د متعه چي ايرانيان يې صيغه بولي هم حرامه ده، ولې چي ښځه په نكاح سره متعه په جمله كي د زوجاتو نه داخلېږي حتی هغه لكه شيعه ګان چي متعه روا بولي، وايي چي په نكاح د متعه ميراث يو دبله نسي وړای نو دغه ښځه نه ماينه ده نه سريته او آيت مبارك خو وايي: فمن ابتغى وراء ذالک آه نو د صيغه نكاح كونكی هم من العادون دی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُوْنَ ﴿۳۲﴾

او هغه كسان دي چي دوی د اماناتو د دوی او عهد لره د دوی مراعات كونكي وي او محافظت كونكي وي اي يحفظون الامانات ويحفظونها الى اهلها.

فائده: بعض امانات په مابين كي د بنده او د خدای عزوجل وي لكه لمونځونه، يوه مياشت روژه والزكوة والحج على الغني، الغسل عن الجنابة وغيرها، والفرائض الواجبة حقًا لله تعالى كلها من هذا الباب، والامانات بين العباد كانوا دائع والبضاعات والعواري، نو پر بنده باندي واجب ده وفا په ټولو سره، او وفا په وعده سره لكه په عهد الميثاق كي يعني الست بربكم؟ قالوا بلى وغير ذالک كما ان الله اخذ العهد عن اهل الكتاب ان يبينوا نعوت النبيﷺ في كتابيهما ولا يكتمونها يا هغه وعدې چي ستاسي تر مابين واقع كېږي في

المعاملات لکه بیع ثمن موجل یا شراء مبیع موجل کالسلم.

روی البخاري عن ابی هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ آية المنافق ثلث وزاد في مسلم وان صلی وصام وزعم انه ثم اتفقا الشيخان (۱) اذا حدث كذب (۲) واذا وعد خلف (۳) واذا اوتمن خان.

درويش وايي: چي په مسلمان کي چي دا درې علامې موجودي وي دې ته منافق عملي وايي، ابو داؤد د عبدالله بن ابی الحسماء څخه روايت کړی دی چي ما يو شی رانيوی د نبيﷺ څخه د مخه تر دې چي ده ته نبوت نهٔ وو کړه سوی، نو يو څه مبلغ مي ورکړی يو څه مبلغ پاته سو، ما ورته وويل چي ته دلې ودرېږه زه به يې دستي درلـه راوړم، عبدالله وايي چي زه ولاړم هغه وعده د عليه الصلوٰة والسلام سره د ما عليه مي هېره سوه درې ورځي وروسته مي په ياد سوه چي راغلم رسول اللهﷺ ته فقال لقد شققت علي (ډېر تکليف دي پر ما تېر کړی) زه تا ته دا درې ورځي منتظروم (يعني لمراعات العهد الذي عاهدتک)

پوښتنه: امانات يې جمع راوړی او عهد يې مفرد راوړی حکمت يې څه دی؟

ځواب: عهد مصدر دی فلا يحتاج الی جمعه کما قال النحات بخلاف الامانته فانه بمعنی ما اوتمن عليه.

درويش وايي: چي روح المعاني يوه بله وجه معقوله راوړې ده چي عبارت عربي يې ډېر زيبا دی لکن نقل و پښتو ته يې ګران دی فانظر الی عبارة روح المعاني.

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهٰدٰتِهِمْ قَآئِمُوْنَ ﴿۳۳﴾

او هغه کسان چي دوی پر شهاداتو خپل ثابت قدمه وي يعني شهادات پټوي نه او تغير هم نه وررسوي بالزيادة والنقصان ولايخافون في اداء الشهادات لومة لائم سواء كانت الشهادة خالصًا لله تعالى كالشهادة على توحيده تعالی لآ اله الا الله والرسالة محمد رسول الله او شهادة اهل الكتاب من اليهود والنصارى من الشهادة على نعوت النبي اخير الزمان التي في التورات والانجيل يا شهادة برؤية هلال رمضان اولاً و اخيرًا يا شهادات په حدود سره يا شهادت په حقوق د بندګانو في المعاملات او يا شهادت پر خپل ځان وهو الاقرار بالديون او يا شهادت على الوالدين والاقربين.

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۳۴﴾

او هغه کسان دي چي د لمونځو حقوق پر ځای کوي من ادائها في اوقاتها بالجماعة وارکانها وسننها ويحترزون عن فواتها من الاوقات وغيرها من اداب الصلوة.

اُولٰٓئِكَ فِيْ جَنّٰتٍ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۳۵﴾

دغه کسان چي دغه صفات پکښي موجود وي په جنتو کي به وي سره د کرامت، دا جزا د اؤلئک دی، في جنات متعلق دی په مکرمون سره قدم علیه لرعاية الفواصل.

فَمَالِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قِبَلَكَ مُهْطِعِيْنَ ﴿۳۶﴾

پس څه سبب دی هغه کسانو لره، قال البغوي ؒ نزلت في جماعت من الكفار كانوا يجتمعون حول النبي ﷺ يستمعون كلامه ويستهزؤن ويكذبونه، فقال الله تعالی توبيخًا لهم مالهم ينظرون اليک ويجلسون عندک ولا ينتفعون بما يستمعون منک.

فائده: الفاء للسببية وكلمة ما استفهامية للتوبيخ خبره مابعده (قبلک) ظرف دی د مابعد (مهطعين) حال دی د الذين كفروا څخه او عامل يې معنی د فعل ده ای مايصنعون ای الكافرون چي ستا وخوا ته چابک چابک روان وي او غاړي يې جګي نيولي وي او سترګي يې جګي درته نيولي وي، كذا قال البغوي ؒ او په قاموس کي وايي هطع كمنع هطوعًا اسرع مقبلاً آه.

عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِيْنَ ﴿۳۷﴾

متعلق دی مهطعين پوري (عز) جمع د عزة ده په معنی د جماعة يعني جماعات متفرقه ټوک د راسته لاس د خوا ټوک د چپه لاس د خوا، په قاموس کي وايي عزة كعبدة العصبة من الناس (ای جماعت د خلګو)

اَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيْمٍ ﴿۳۸﴾

آيا طمع لري هر سړی له دې کفارو څخه چي دی به داخلېږي يعني په ورځ د قيامت و نعمتو ته د جنت، الاستفهام للانكار يعني بېله ايمان او عمل صالح.

پوه سه: چي دا رد دی د هغه د مشرکانو چي دوی به سره د اعتقاده ويل چي

بعث بعد الموت محال دی، دا به يې هم ويل: لو كان البعث حقًا كما يقول محمد كنا افضل منه كما في الدنيا.

كَلَّا ۖ إِنَّا خَلَقْنَاهُمْ مِمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

داغسي نه ده (رد دی د دغه باطل د دوی وبالفارسية نه اينچنين بلكه كافران به جنت راه نيست)

سوال: څرنګه دوی ته د طمع نسبت وکړه سو او دوی دا خبره استهزاء کوله؟

ځواب: رب جل وعلا خبر دی په احوالو سره د دوی فلعل بعضهم يطع ذالک او يا مراد دا دی چي دفع د وهم د بعض ضعفاؤ د دوی چی داسي طمع د دخول جنت ته به صحيح وي (انا خلقناهم مما يعلمون) په تحقيق موږ دوی پيدا کړي دي له هغه څه څخه چي علم پر لري، مفسرين وايي چي په دې آيت کي دليل دی پر نشائة الآخرة يعني بعث بعد الموت په نشئات اولی سره و بطلان دعوی استحالة البعث بعد الموت او دليل دی پر بطلان د طمع في دخول الجنة بلا ايمان، وحاصل الكلام چي تاسي ايها الكفار خبر ياست چي تاسي ماده نطفة چي مستقذر شی ده ثم من علقه ثم من مضغة كذالک ولا يقتفر شيئ من ذالک الاكرام ولا يناسب عالم القدس، نو هغه څوک چي خپل ځان کامل نه کړي په ايمان او طاعت سره ولم يتخلق بالاخلاق المرضية عند الله سره لم يستعد لدخول دار الكرامة الجنة في يوم القيامة ....مصرع: اين خيال است ومحال است و جنون.

فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ إِنَّا لَقَادِرُونَ ﴿٤٠﴾

بعض مفسرين وايي: في مثل هذه العبارة چي زه قسم نه اخلم، ولي دا وروسته چي راځي يعني انا لقادرون آه بې قسم ظاهره ده، او بعض مفسرين وايي چي لا زائد دی ای اقسم، او حسين كاشفي په تفسير حسيني کي وايي فلا يعني نه چنانست كه كفار ميگويند سوگند ميخورم (برب المشارق والمغارب) ای رب مشارق الكواكب ومغاربها او يا مراد دا دی مشرق الشمس والقمر كل يوم من ايام السنة، ولي چي لمر او سپوږمی هره ورځ په جلا جلا مشرق کي راخيژي او په جلا جلا مغرب کي لوېږي (انا لقادرون) يعني موږ قادريو والجمع للتعظيم.

عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ ۙ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿۴۱﴾

پر دې چې موږ بدل کړو خیر تر کفارو د مکې یعني دوی به هلاک کړو او ښه انسانان به په عوض کې د دوی پیدا کړو.

پوهه: چې دا تبدیل خو نه دی واقع سوی وانما ذکر الله عزوجل تهدیدًا لکفار مکة تاچې دوی ایمان راوړي، وقیل بدل الله اهل مکة بالانصار والمهاجرین في المدینة (وما نحن بمسبوقین) موږ نه مغلوبه کیږو یعني چې داغسې اراده وکړو چې دوی هلاک کړو او په ځای کې د دوی خیر تر دوی پیدا کړي دا جمله معطوف ده پر انا لقادرون باندي.

فائده: په ذکر کي د رب المشارق والمغارب استدلال دی پر لوی قدرت د خدای ج چې اسمانونه او مافیها من الشمس والقمر والکواکب واختلاف مشارق کل منها ومغاربها في کل یوم، نو خدای ج مغلوب او عاجزه نه دی له تبدیل څخه د اهل مکة په من هم خیر منهم.

فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۴۲﴾

کلمه د فاء لپاره د سببیت ده، والمعنی اذا علمت (چې ته پوه سوې) قدرتنا علی اهلاکهم (چې موږ قدرت لرو پر اهلاک د دوی) فلا نهتم (نو ته غم مه کوه) ولي زه استدراج د دوی کوم او عذاب ورکوم اشد العذاب، اما في الدنیا کما في یوم بدر واما في الآخرة فالنار مثوی لهم (یخوضوا) چې دوی دي بحث کوي په باطلو خبرو کي الذي من جملته ما حکی عنهم او بعث او ساتېرې په دنیا کي الذي من جملته ما حکی عنهم او بعث او ساتېرې په دنیا کي بالاشتغال بما لاینفعهم وانت بما امرت به.

فائده: دا دوه لفظه مجزوم دي په جواب کي د امر یعني فذرهم.

فائده: هذا الامر والآیة یعني فذرهم الی اخیر الآیة منسوخة بایت السیف کما قال صاحب روح البیان (حتی یلاقوا) چې دوی ملاقي کیږي تر هغې ورځې چې د عذاب سره د القیامة ملاقي کیږي هغه عذاب چې د دوی سره یې وعده کړه سوې وه په دنیا کي یعني في آیات القرآن العزیز.

يَوْمَ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْاَجْدَاثِ

بدل دی د یوم سابق څخه یعني هغه ورځ چې دوی راووځي له قبرو څخه، جمع د جدث ده وهو القبر.

Scanned by CamScanner

پوه سه: چي چونکه عادت د عربو عادت دفن الميت في القبر ؤ نو له دې سببه يې قبور ذکر کړه ورنه هر چېري چي وي که درياب ماهيان جوړ کړي يا تر دېوالو د خونو په نسبت د زلزلې مدفون وي الى غير ذالک.

سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾

سراع جمع د سريع ده لکه کرام جمع د کريم حال دى له ضمير ځخه د يخرجون يعني په تلوار او چابکوالي، يعني ګويا دوى و نصب ته په تلوار ورځغلي، روح البيان وايي چي نصب کل مانصب فعبد من دون الله چي بتان دي او له ابن عمر رض ځخه روايت دى چي نصب دام د ښکار د ماهيانو دى چي ماهيان پکښې بندي ښکاري چابک ورځغلي چي سره جمع يې کړي.

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ

حال دى من فاعل يوفضون، چي پر دوى احاطه کړې ده ذلت يعني اثار د ذلت پر دوى محيط وه.

پوه سه: چي خاشعة حال دى فاعل يې ابصارهم دى لکن على الاسناء المجازي يعني خشوع چي صفت د ټولو اعضاؤ د بدن وه اسنا يې و سترګو ته لظهور اثاره په سترګو کي چنانچه پښتانه وايي مړې سترګي يې نيولي وي، يا وايي چي په مړو سترګو ګوري.

ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

دغه هغه ورځ ده چي د دوى يعني کفارو سره وعده کړه سوې وه په دنيا کي په قرآني آياتو سره او پر ژبه د رسول الله ﷺ وهم في الدنيا ينکرون ذالک اليوم فاذا رؤها ذلت ذلة بعيدة مؤبدة عليهم ابصارهم.

درويش وايي: چي تفسير د سورة المعارج په وخت کي د ضحوة الکبرى من يوم الجمعة ۱۵ د رجب الخير سنه (۱۴۳۳) هجري قمري په توفيق د خداى عزوجل پاى ته ورسيدى، ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه البررة، په هم دغه ورځ تفسير د سورة نوح شروع سو، رب سهل وتمم بالخير.

سُوْرَةُ نُوحٍ مَّكِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً فِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة نوح چي مکية دی او آيتونه يې په نيږ د مظهري اته ويشت (۲۸) دي، او روح البيان وايي چي يا اووه ويشت يا اته ويشت دي، او روح المعاني وايي چي آيتونه د کوفي قراؤ په نيږد اته ويشت دي او د بصري قراؤ په نيږد نهه ويشت دي او د نورو قاريانو په نيږد دېرش دي، والله اعلم بالصواب.

إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ

په تحقيق موږ استولی نوح دده و قوم ته.

پوه سه: چي په ابتداء کي يې ان حرف تحقيق راوړی للاهتمام برسالته.

فائده: بعض علماء وايي چي نوح اسم عجمي دی، الجواليقيؒ وايي چي عربو يې استعمال رواج کړی چي دې ته په اصطلاح کي عجمي معرب وايي، او کرماني وايي چي معنی د نوح په سرياني لغت کي الساکن ته وايي.

سوال: پر دې تقدير خو په نوح عجميت او علميت دواړه سته، نو ولي غير منصرف نه کړی يعني منون يې ووايي؟

ځواب: لعدم زيادته علی ثلثة احرف مع سکون الحرف الاوسط وليس بعربي اصلاً (کذا في روح المعاني) او هغه خبره چي الحاکم په مستدرک کي کړې ده انما سمی نوحًا لکثرة نوحه وبکائه علی نفسه (يعني فيکون عربيًا) قال روح المعاني لايکاد يصح، والمشهور ان اسمه عبد الغفار، او په يو روايت ضعيفه کي راغلي دي چي ده يو وخت سپی وليدی چي ګرګ ؤ نو يې بد ځني راغله پر تو يې کړه، نو خدایؑ سپی پر خبرو راوستی اتعيبني ام تعيب خالقي؟ فندم وناح.

درويش وايي: چي دا مقام معرکة الاراء د مفسرينو دی، مظهري وايي چي د من قوله تعالی الی قومه څخه دا معلومه سوه چي نوحؑ مبعوث الی الناس کافة نه ؤ کما يدل عليه حديث جابرؓ قال قال رسول اللهﷺ اعطيت خمسًا لم يعطهن احد من قبلي، وذکر في الحديث من جملتها وکان النبي يبعث الی خاصة وبعثت الی الناس عامة، والحديث متفق عليه انتهی قول المظهري، وفي روح المعاني في تفسير قومه من سکان جزيرة العرب ومن قرب منهم لا الی اهل الارض عامة

لاختصاص نبينا ﷺ بعموم البعثة من بين المرسلين علیہم السلام انتهى، له ابن عباس رضی اللہ عنہ ځخه روايت دى چي په مابين كي د رسول الله ﷺ او د نوح علیہ السلام عشرة قرون.

درويش وايي: چي نوح علیہ السلام معمر الانبياء ؤ اجماعًا او په حديث مرفوع كي راغلي دي ان نوحًا بعثه الله لاربعين سنة فلبث في قومه (۹۵) او وروسته تر طوفان (۶۰) حتى نشر الناس.

درويش وايي: چي په اتفاق سره نوح علیہ السلام شيخ المرسلين ؤ من اولى العزم من الرسل و اول نذير على الشرك لكن دلته دا سوال پيدا كيږي چي ځه جرم ؤ د اهل دده ماسوى دده د قوم چي ټولو ته يې عمومي ښيرا وكړه (رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارًا) ولي چي نوح علیہ السلام خو د ټولي نړۍ د اقوامو لپاره استول سوى ؤ او دا هم نه ده معلومه چي د مځكي انسانان زما ځخه عصيان كوي او خداى پاک وايي وما كنا معذبين حتى نبعث رسولاً نو ماسوى د قوم د نوح علیہ السلام ځخه نوري اهل دنيا ته چي هغو ته نبي نه ؤ را استولى ده طوفان عذاب ولي پر نازل كړى چي يوازي اهل سفينه چي لس كسه وه نيم نر او نيم ښځي، ددې سوال په جواب كي بعض مفسرين وايي چي نوح علیہ السلام ته دا معلومه سوه چي كفره د زمانې دده پر سجيه (خوى) دي يستحقق ان يدعى بالاهلاک عليهم انتهى، وهذا الجواب ضعيف مخالف لظاهر قوله تعالى وما كنا معذبين حتى نبعث رسولاً لكن په انسان العيون كي وايي په دې قول كي د عليه الصلوة والسلام وكان كل نبي يرسل الى قومه اى جميع اهل زمنه من اهل الارض او جماعة خاصة ومن الاول نوح فانه مرسلاً لجميع من كان في زمنه من اهل الارض ده ته چي خداى ج خبر وركړى انه لا يؤمن منهم الا من آمن قال رب لاتذر على الارض من ديارًا.

پوښتنه: چي رسالت د نوح علیہ السلام ټوله اهل الارض ته عام سي نو دده د رسالت او د رسالت د عليه الصلوة والسلام نو ځه فرق سو، وهو مخالف لما مر من الحديث؟

ځواب: رسالت د نوح علیہ السلام عام دى لجميع من الارض في زمنه او رسالت د نبينا ﷺ عام لجميع من في الارض في زمنه ويعم من يوجد بعد زمنه الى يوم القيامة لآختم به اى بنوح علیہ السلام الرسل فلا مساوات بين رسالة نوح علیہ السلام رسالة رسول الله ﷺ.

درويش وايي: چي پر قول د مظهري رحمہ اللہ يعني نوح علیہ السلام نبي د قوم مخصوص ؤ لا لجميع

اهل زمنه، يرد السوال بانه لا جريمة للقوم الآخرين حتى قال نوحؑ رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارًا، وايضًا يلزم مخالفة لقوله وما كنا معذبين حتى نبعث، ولي تر قول د مظهريؒ خو بقيه انسانانو ته يعني ماسوى قوم مخصوص د نوح ارسال ده نهٔ سوى او عذاب د طوفان پر نازل سو، وما عزه المظهري چي كه رسالت د نوحؑ كه جميع من في الارض ته وي يعني دده په زمانه كي فيلزم مخالفة الحديث الصحيح الذي اورده المظهريؒ من قولهؐ وكان النبي يبعث الى قومه وبعثت الى التامة فيلزم المساوات بين نوح وبين النبيؑ فغير لازم كما مر قريبًا فتدبر غاية التدبير.

اَنْ اَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١﴾

دا چي وبېروه قوم ستا يعني له عذاب څخه د خدایؐ د مخه تر دې چي راځي دوی ته عذاب يعني يا في الدنيا لكه طوفان يا په آخرت كي وهو النار ان لم تؤمنوا.

قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢﴾

وويل نوح ای قومه زما (فكسرة الميم عوض عن المضاف اليه كما اشرنا اليه في الترجمة) زه تاسي لره بېرونكی يم له عذاب څخه يعني په قيامت كي ان لم تؤمنوا په ښكاره توګه يعني نه تر ژبه لاندي.

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٣﴾

بيان دی د منذر به عبادت دلته د توحيد دی ای وحد الله ولا تشركوا به شيئًا او د خدایؐ له عذاب څخه وبېرېږئ في الدنيا والآخرة كما مر (واطيعوني) او زما په خوله وكړئ يعني په هغه كارو چي زه تاسي ته امر دركوم يعني طاعة الله و ترک الشرک.

يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى

(يغفر لكم) تاسي ته به خدایؐ شرک ماضی والمعاصي درو بخښي لان التائب من الذنب كمن لا ذنب له.

فائده: يغفر مجزوم جواب د امر دی كما هو القانون النحوي، د عمرو بن العاصؓ څخه روايت دی قال اتيت النبيؐ (يعني لپاره د بيعت پر اسلام) فقلت ابسط يمينک فلا بايعک كما هو القانون في البيعت فبسط يمينه فقبضت يدي (ما لاسونه موټ كړه يعني دده پر لاس مي نه كښېښول) فقالؑ ما لک يا

عمرو؟ (څه کوې چي لاسونه دي موټ کړه) قلت اردت اشترط (زه يو شرط په بيعت کي غواړم) قال فشرط ماذا؟ قلت اردت ان يغفر لي (يعني چي ماته بخښه کېږي يعني د شرک ماضي او د نورو معاصيو) قال اما علمت يا عمرو ان الاسلام يهدم (نړوي) ماكان قبله، وان الهجرة اى الى المدينة يهدم ماكان قبلها وان الحج يهدم ماكان قبله (زيادة على المسؤل عنه لعمرو بن العاص رض) رواه مسلم، وعن معاذ رض قال كنت ردفا لرسول الله ﷺ على حمار زه تر شا سپوروم، د عليه الصلوة والسلام پر خره، ليس بيني وبينه الا مؤخرة الرحل (د کتي هغه د پاى لرګى) فقال يا معاذ اتدري ما حق الله على عباده وما حق العباد على العباد.

درويش وايي: چي په ثاني جمله کي تعبير په حق العباد على الله سره مشاكلة للجملة الاولى والا فلا يجب على الله شيئ من جانب العباد كما لايخفى، قلت الله ورسوله اعلم خداى او رسول خبر دى، قال فان حق الله على العباد ان يعبدوه ولا يشركوه به تعالى شيئا وحق العباد على الله ان لايعذب من لايشرک به شيئا فقلت يا رسول الله ﷺ افلا ابشر به الناس، قال لاتبشرهم فيتكلوا (يعني پر دغه اعتماد کوئ او عمل پرېږدي) متفق عليه، او له انس رضي الله عنه څخه دا قصه همدغه رنګه مروي ده لکن په هغه کي دا زيادت سته چي معاذ رض دغه حديث خلګو ته وو وايه، او سره ددې چي عليه الصلوة والسلام دى منع کړى ؤ په نېږد مرګ چي زکندن يې ؤ، تاثما له سببه ددې چي کتمان د علم ګناه ده (نو د تاثما معنى دا ده چي تجنبا عن الاثم يعني په کتمان کي د علم)

پوه سه: چي په (من ذنوبكم) کي کلمه د من لپاره د تبعيض ده يعني هغه ذنوب چي خالصا حق الله وي لا حقوق العباد كالغصب والسرقة وغيرهما (و يؤخركم) او تاسي به وځنډوي بېله عذابه (الى اجل قريب) چي اجل موعود دى، کريمه: اذا اجلهم لا يستأخرون ولا يستقدمون، لکن دا تهوله چي خداى د دوى سره کوي بشرط الايمان وترک الشرک واتيان الطاعات اللازمة.

فائده: قضاء الهي دوه قسمه ده، يوه قضاء معلق ده په شرط سره مثلاً په لوح محفوظ کي نوشته وي ان فلانا ان اطاع الله تعالى عوفى الى مدة كذا مثلاً وان عصى الله يرسل عليه الطوفان مثلاً او غير ذالک من عذاب الله عزوجل، وهذا القسم من القضاء تبديل يې راوړى بفقدان الشرط وهو معنى قول الله تعالى يمحوا

الله مايشاء ويثبت وعنده ام الكتاب اى اللوح المحفوظ وعن سلمان الفارسي رض، قال قال رسول الله ﷺ لايرد القضاء الا الدعاء (اى الغير المبرم) ولا يزيد في العمر الا البر (اى الاحسان مع الوالدين والاقرباء) رواه الترمذي، وهذا ايضًا من قسم غير المبرم، واما القضاء المبرم فهو المراد بقوله جل ذكره لا تبديل لكلمات الله.

درويش وايي: چي علماء قاطبه وايي چي كتابونه دوه دي اللوح المحفوظ وكتاب المحو والاثبات.

إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾

اى الاجل الذي قدره الله في الازل (اذا جاء) پر تقدير ازلي د خداى ج (لايؤخر) هغه نه ځنډول كېږي.

تنبيه: په دې آيتو كي باعثه كول دي په طاعاتو سره په اوقاتو كي د مهلت د خداى عزوجل يعني تاخير د خداى ج قبل الاجل المبرم .... بيت:

تـوبه كن امروز تو هرگز نگو كه فردا كنم
شايد بميرى صبحدم فردا نيابى درشمر

پوښتنه: مذهب د اهل السنة والجماعة خو دا دى چي اجل يو دى لايزيد ولا ينقص حتى ان المقتول ميت باجله، دوى وايي چي ما ورد في الحديث لايزيد في الا البر كمامر دوى چي دد دې حديث داسي كوي چي البر د ېروي ثوابونه د طاعاتو، نو پوښتنه دا ده چي ماقبل بيان ستاسي خو د مذهب سره د معتزله سمون خوري؟

والجواب: كلا وحاشا معتزله خو له تقدير څخه د خداى ج منكر دي حتى چي دوى وايي چي قاتل خالق دى د موت د مقتول لا بتقديره تعالى، ومامر هو مذهب اهل السنة، نو د دې معنى د دوى چي اجل واحد دى لايزيد ولاينقص مراد ځني هو الاجل الثابت بالقضاء المبرم لاتبديل فيه لايستقدمون ساعة ولا يستأخرون والمقتول ميت باجله المبرم.

درويش وايي: وان شئت تحقيق هذا المقام من مذهب اهل السنة والجماعة والمعتزلة فارجع الى كتاب العلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني يعني شرح العقائد النسفي وشرح المقاصد او الى كتاب الملل والنحل للعلامة عبد الكريم الشهرستاني رح وفي شرح السيد الجرجاني على المواقف للقاضي العضد رح

ايضًا دواء لهذا المرض الساري والله اعلم بحقيقة الحال.

(لو كنتم تعلمون) اى لو كنتم من اهل العلم فهو منزل منزلة اللازم دى، الى ههنا حكى الله عزوجل قول نوح عليه السلام الى قومه، قال ابن عباس رضي الله عنه بعث نوح عليه السلام چي دى د څلوېښتو کالو ؤ، او دى ژوندى ؤ وروسته تر طوفان شپېته کاله، او مقاتل رحمه الله وايي دى چي سلو کالو ته ورسېدى، وقيل (٥٠) کاله وقيل (٢٥٠) کاله وکان مجموع عمره (١٤٥٠) کاله، واتفق اهل التاريخ القديم ان لبث اى نوح عليه السلام يدعوا قومه زر کاله په پنځوس کم.

انموذج ظلم القوم على نوح عليه السلام وانموذج صبر نوح عليه السلام على اذى القوم في طول زمان دعوته اياهم الى التوحيد، روى الضحاک عن ابن عباس رضي الله عنه چي قوم نوح به دى دومره وواهه چي بېهوښه به سو نو دى به يې په يوه کراسته کي ووپېچى او په يوه تاريکه خونه کي به يې وغورځاوه بظن انه قد مات، خداى عزوجل به صحت ورکړى، بيا به راووتى او دوى ته به يې په دعوت د توحيد د خداى عزوجل خوله پوري کړه، او حکايت کړى دى محمد بن اسحاق المؤرخ الجليل عن عبيد بن عمر الليثي چي قوم پر راجمع سوه پر نوح عليه السلام دومره به يې سخت خپه کړى يا په لاسو يا په غاړه کي په تناؤ اچولو سره حتى چي پرده به غشي او بېهوشي راغله، يو ګړى وروسته چي به په هوش کي راغلى قال رب اغفر لقومي فانهم لا يعلمون، مراد له غفران څخه غفران د خنق دده ؤ، ولي چي دوى نه پوهېږي حتى اذا عادوا الى المعاصي والشرک واشتد عليه منهم البلاء انتظر التجلى يعني کاميابي من قرن آخرين فلا يأتى قرن الا کان اخبث من الذين قبلهم حتى کان الاخرون منهم داسي به يې ويل چي دا سړى زموږ د پلرو او نيکه ګانو سره داغسي لېونى ؤ لايقبلون منه شيئًا يعني زموږ اباء او اجداد دده هيڅ خبره نه ده منلې په هيڅ شي کي فحينئذ ضاق صدره فشکى الى الله تعالى.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴿٥﴾ فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَاءِي إِلَّا فِرَارًا ﴿٦﴾

او وويل ده اى زما ربه په تحقيق ما دعوت ورکړى خپل قوم ته د ورځي او د شپې (يعني دعوة مکررًا) نو نه کړى زيات زما دعوت دوى مګر فرار له قبول څخه د توحيد او ايمان څخه او له رسالت څخه.

وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوٓا۟ أَصَٰبِعَهُمْ فِىٓ ءَاذَانِهِمْ

او ما چي به هر وخت دعوت ورکړی و ايمان ته چي بخښنه وکړي دوی ته سبب د ايمان راوړو، نو دوی به واچولې ګوتي په غوږو کي ای انا ملهم د ګوتو سرونه بذکر الکل و ارادة الجزء.

وَٱسْتَغْشَوْا۟ ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا۟ وَٱسْتَكْبَرُوا۟ ٱسْتِكْبَارًا ۝٧

او کالي به يې پر ځانو را وپېچل يعني چي ولاړ سي زما له مجلس څخه او دوام به يې ورکړی کفر او عصيان ته، او کبر به يې مختاره کړی استکبارًا عظيمًا (کما يدل عليه التنکير په استکبار کي)

ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا ۝٨

منصوب على المصدرية لانه احد نوعي الدعاء (ای الدعوت الى الايمان) ای دعاء مجاهرًا به و بالفارسية، آشکارا درمحافل ايشان.

ثُمَّ إِنِّىٓ أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا ۝٩

بيا به يې اعلان ورته وکړی، بيا به يې علحده علحده پټ ورته ويلي دي، و ايراد ثم لتفاوت وجوه الدعوة فان الجهار اغلظ من الاسرار و الجمع بينهما اغلظ من الافراد، والغرض ماترکت نحوًا من انحاء الدعوة.

فَقُلْتُ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۝١١

بيان لقوله دعوتهم، وقال البغوي ؒ ان قوم نوح لما کفروا زمانًا طويلاً حبس الله منهم المطر فقحطوا او عقيم وګرځولې خدای ؑ ښځي د دوی څلوېښت کاله يعني اولاد يې نه کېدی فهلکت اولادهم بالصقم و اموالهم بالقحط وعدم المطر عليهم نو فحينئذ قال لهم نوح ؑ (استغفروا ربکم) تاسي بخښنه وغواړئ له خدای ؑ څخه بالتوبة عن الکفر و الندم على المعاصي په تحقيق دی خدای ؑ کثير المغفرة (وقد ورد في الحديث من تاب تاب الله عليه) خدای ؑ به ګرځوي آسمان يعني المطر (من قبيل ذکر الحال باسم المحل) و معنى مدرار کثير الدور يعني ډېر ورښت کونکی قحط به دفع سي اموال او زراعت به مو ډېر سي.

وَّيُمْدِدْكُمْ بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ اَنْهٰرًا ﴿۱۲﴾

خدای‌ؒ به کومک ستاسي وکړي په مالو سره په سبب د ډېرو بارانو او زراعت (وبنين) په سبب د دفع عقم عن نسائکم، او تاسي ته به خدایؒ درکړي باغونه د مختلفو مېوو لکه انګور، انار اینځر وغیره په کثرت د اوبو، او تاسي ته به درکړي ویالې او رودونه په سبب د کثرة الدور یعني کما کانت لکم قبل ارسال نوح علیه السلام، په دې کي اشاره ودې ته ده چي دا قحط او قلة المال وغیره آفات چي پر تاسي مسلط وه په سبب د کفر ستاسي او انکار د نوح علیه السلام له رسالت څخه.

فائده: قحط المطر بلاء عام لاینزل الا بشوم المعاصي من العوام او ددې بلاء د قحط مخ نیوی نه کېږي مګر نه په استغفار سره، نو له هم دې سببه نوح علیه السلام و قوم ته وویل اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (۱۰) يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ، او هم دا سبب دی چي مشروع دی استغفار په استسقاء کي، له شعبيؒ څخه روایت دی ان عمرؓ خرج بالناس یستسقی بالناس فلم یزد علی الاستغفار حتی رجع، یو چا ورته وویل ما سمعناک (موږ ستا څخه هیڅ نه واورېده چي تا طلب د باران وکړی) عمرؓ ورته وویل چي ما طلب د باران وکړی پر برابر د آسمان الذي یستنزل بها القطر، ثم قرء عمر رضی الله عنه استغفروا ربکم انه کان غفارًا یرسل السماء علیکم مدرارًا، یعني عمرؓ دا قول د نوح علیه السلام خپل دلیل وګرځاوه.

مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَارًا ﴿۱۳﴾

پوهسه: چي کلمه د ما استفهامیه ده مبتداء ده لکم یې خبر دی و جملة لا ترجون من ضمیر المخاطب في لا ترجون والعامل فیه معنی د فعل ده چي له مقام څخه فهمېږي ای ما تصنعون لاترجون ولله حال دی د وقارًا څخه قدم علی ذی الحال لنکارته کما هو القانون النحوي، چي ذی الحال چي نکره وي تقدیم د حال پر واجب ده کذا في الکافیة، والوقار العظمة اسم مصدر دی من التوقیر بمعنی التعظیم، قال ابن عباسؓ ومجاهدؒ لا ترون لله عظمة فالرجاء بمعنی الاعتقاد عبر عن الاعتقاد بالرجاء الذي یتبع ادنی الظن مبالغة، وفي تفسیر الحسیني پس چیست شمارا که امید ندارید یعني نمی شناسید مر خدا را عظمت و بزرګ داری و اعتقاد

نمی کنید تا بترسید از نافرمانی او انتهی، وفي کشف الاسرار هذا الرجاء بمعنی الخوف والوقار العظمة فالمعنی لاتخافون عظمته تعالی، وعن ابن عباس ؓ مالکم لاتخشون منه تعالی عقابًا ولاترجون منه ثوابًا بتوقیرکم ایاه تعالی.

وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾

او خدای تاسي انسانان پیدا کړي یاست په ډول ډول حالاتو سره، الحال الاول خلقکم عناصر ای الارض والماء والهوا والنار، الحال الثاني مرکبات، الحال الثالث الاغذیة للانسان، الحال الرابع اخلاط اربعه ای الدم والبلغم والصفراء والسوداء، الحال الخامس نطفًا، الحال السادس علقًا، الحال السابع مضغة، الحال الثامن عظامًا ونحوها، الحال التاسع ثم انشأکم خلقًا آخر ای مغایر بجمیع انواع الحیوان، الحال العاشر نفخ الروح فیکم فتبارک احسن الخالقین ثم یمیتکم ویقبرکم (ای علی عادة العرب) ثم یعیدکم احیاء تارة اخریٰ، فیعطی المطیع منکم الثواب ویعاقب العاصي.

درویش وایي: چي تر اوسه پوري خدای عزوجل و قریشو ته آیات د قدرت او د توحید په انفسو کي د دوی ذکر کړه او اوس آیات افاقیه پر قدرت عالیه خپل او پر بلامشارکة الغیر فیها ذکر کوي لیعلم یؤمنون هو من عند الله عزوجل.

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾

آیا تاسي علم نه لرئ؟ (الاستفهام للتقریر والتعجیب) جوړي کړي الله عزوجل اووه آسمانونه پوړ پر پوړ (طباقًا) یعني بعضها فوق بعض او په منځ کي د هر سافل او عالي مسیرة خمس مائة سنة کما یدل علیه ان حادیث المتواترة المعنی.

وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾

او ګرځولې يې ده سپوږمۍ په هغه کي نور، یعني في بطنه وهو السماء الدنیا.

سوال: ضمیر خو راجع دی و ټولو آسمانو ته او سره دد ې چي سپوږمۍ خو یوازي په اول آسمان کي ده؟

ځواب: هذا من قبیل ما جاء في الحدیث نزل رسول الله ﷺ دور بني النجار مع انه لم ینزل في کل دور بني النجار بل في بعضها، قال البغوي ؒ الشمس والقمر

وجوهها الى السمٰوات وضوء الشمس والقمر ولا نور شمس والقمر واشتقها الى الارض، كذا روى عن ابن عباس رضـ.

فائده: مثل الشمس بالسراج لانها يزل الظلمة عما يقابله كما يرفعها، السراج عما حوله.

سوال: قانون خو دا دى چي مشبه به به اقوى وي په وجه كي د مشبه، مع ان السراج ادنى ضياء تر شمس كما لا يخفى؟

ځواب: وجه يې ظهور د سراج ده په اذهانو كي د خلكو لشدة احتياجهم اليه.

وَاللّٰهُ اَنْۢبَتَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ نَبَاتًا ﴿۱۷﴾

پوښتنه: د الله لفظ خو قريبًا تېر سو نو ولي يې ضمير نه ورته راجع كاوه؟

ځواب: التذاذًا باسم المحبوب الحقيقي.

سوال: مقصود خو انشاء د خلكو ده نو په انبات سره يې د څه حكمت لپاره وكړه؟

ځواب: انبات ادل پر حدوث دى تر انشاء من الارض بان خلق آباكم آدم عليه السلام من الارض، او يا يې وجه دا ده چي تاسي يې له نطفې څخه پيدا كړي ياست والنطفة من الغذاء چي منبت يې مځكه ده، (نباتًا) مصدر دى من غير باب فعله لان نبات مصدر مجرد وانبت فعل مزيد، او بعض نحات وايي چي نباتًا اسم مصدر دى په معنى د انبات، او بعض مفسرين وايي چي نباتًا مفعول د فعل محذوف دى تقديره انبتكم فنبتّم نباتًا.

ثُمَّ يُعِيْدُكُمْ فِيْهَا وَيُخْرِجُكُمْ اِخْرَاجًا ﴿۱۸﴾

يعني مقبورين بعد الموت فيها كما عادة العرب، نو دا سوال نه پيدا كيږي چي هنود خو مړي سوځي وروسته تر مرګ (ويخرجكم) بيرته مو له مځكي څخه راباسي په ورځ د حشر (اخراجًا) دا مصدر راوړه لپاره د تاكيد دى ليدل على تحقق الحشر.

وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ بِسَاطًا ﴿۱۹﴾ لِّتَسْلُكُوْا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ﴿۲۰﴾

او خداى ګرځولې ده مځكه ستاسي لپاره فرش (كلمه د لام لپاره د نفع دى، يعني لكه قريش چي هري خواته پر ګرځي) تا چي تاسي سفر وكړئ په مځكه كي پر لارو فراخو.

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي

وويل نوحؑ يا رب قوم خو زما څخه عصيان وکړی فيما امرتهم به.

پوه سه: چي دا جمله پر منزله د تاکيد ده د هغې جملې چي د مخه تېره سوه من قوله تعالى قال رب انى دعوت ليلاً ونهارًا فلم يزدهم دعائي الا فرارًا، الخ فان مآل الجملتين واحد.

درويش وايي: چي دا جمله تمهيد دی وښېرا ته.

وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾

او اتباع يې وکړه (يعني مسکينانو په کفر کي) د هغه کسانو چي بډايان دي او شتمني والا دي مال د دوی او اولاد د دوی مګر نه تاوان د آخرة، ولي چي دوی په خپلو اموالو او اولادو سره غولېدلي وه او له عذاب څخه د آخرت غافله وه.

وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾

(ومکروا) عطف دی پر لم يزده او ضمير د مکروا راجع دی و من جمع ته په اعتبار د معنى لکثرتهم في المعنى.

فائده: کبار په تشديد سره مبالغه ډېره ده کبار بلا تشديد ای مکروا کبيرًا في غاية الکبر، د دوی مکر يو داؤ چي دوی د دين د توحيد څخه پسخند جوړه کړي ؤ، او بل مکر يې داؤ چي سفله خلګ به يې پر اذيت د نوح عليه السلام هڅوله.

وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾

او دوی به يو و بل ته ويل مه پرېږدئ عبادت د خپلو خدايانو.

پوه سه: چي (ودًا) نافعؒ بضم الواو وايي والباقون بالفتح کما هو المطبوع في المصاحف المطبوعة.

فائده: الهة د دوی خو ډېر وه مګر دا مذکوره بتان د دوی تخصيص بعد التعميم دی في الهتکم ذکر کړه، قال البغويؒ قال محمد بن کعبؒ هذه اسماء قوم صالحين کانوا بين آدم ونوح عليهما السلام نو چي دوی مړه سوه نو دوی لره اتباع وه د يقتدون بهم ويأخذون معبدهم في العبادة ثم نشاء بعدهم اقوام فجائهم ابليس وقال

لو صورتم صورهم كان انشط لكم واشوق في العبادة على مسالكهم ففعلوه يعني دوى مجسمې د صالحينو جوړې كړې، ثم نشاء قوم يعني بل نسل چي پيدا سو فقال لهم ابليس ان الذين كان من قبلكم كانوا يعبدونهم، نو تاسي يې هم عبادت كوئ نو خلكو شروع كړى عبادت د مجسمو د هغو صالحينو او هغه مجسمې يې په نومانو د صالحينو مسمىٰ كړې، وقال عن ابن عباس رضي صارت الاوثان التي كانتا تعبد في قوم نوح في العرب، اما ودًا فكان لقوم كله في دومة الجندل واما سواع فكان لقبيله هذيل، واما يغوث فكان لقوم مرو ثم لبني غطيف بالجرف عند السباء واما يعوق فكان لهمدان، و اما نسرًا فكان لقبيلة حمير و ذى الكلاع، وقال ابن عباس رضي ان تلك الاوثان المعبدون في قوم نوح دفنها الطوفان تحت التراب حتى اخرجها الشيطان لمشركى مكة فاخذها الاقوام المذكورة وزادوا اللات والعزى ومنات، انتهى قصة المعبودات في قوم نوح د مشركى مكة.

وَقَدْ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا ضَلٰلًا ﴿۲۴﴾

اى رؤساء قوم نوح، يا ضمير راجع و اوثانو ته دى فالاسناد مجاز كما في قوله تعالى رب انهن (اى الاوثان) اضللن كثيرًا من الناس لانهم اضلهم الشيطان يسمها (اى اوثان) ولا تزد الظالمين اى الكافرين يعني نه زياتوي كافرانو ته مګر ضلالاً، وهذا الدعاء بعد ماقيل له انه لن من قومک الا من قد امن وقيل معناه الا هلاگا وضياعًا، وقيل المراد بالضلال عدم اهتدائهم الى ما اراد تبيهم وقيل الى مصالح دنياهم.

مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ

كلمه د مزيدة للتاكيد والتفخيم وكلمة من للسببية متعلق دى په اغرقوا پوري اى من اجل خطاياهم (اغرقوا) دوى غرق سوه په طوفان سره.

پوه سه: چي كلمه د فاء للعطف بلا تراخ چي مراد ځني عالم برزخ او قبر دى فان القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفرة النيران كما ورد في الخبر.

تفريع: نو دا آيت دليل دى پر عذاب القبر خلافًا للمعتزلة وغيرهم من اهل الاهواء المنكرين لعذاب القبر والنعيم في القبر ولا يعباء بقولهم لانه قد ورد من الآحاديث مما لايخفى على عذاب القبر وانعقد عليه اجماع السلف رح (اى قبل ظهور

هذه الفرق الضالة) وعن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا وضع في قبره او ورسره راغلي خلک ځني ولاړسي او ميت اوري ترپی د چوټو د دوی، نو ورته راسي دوه ملکي فيقول ما كنت تقول في هذا الرجل يعني محمد ﷺ يعني دده صورت مبارک په ويني، فأما المؤمن فيقول اشهد انه عبد الله ورسوله فيقال له (ای من جانب الملائكة) انظر الى مقعدک من النار (يعني ان كنت كافرًا) قد ابدلک الله به مقعدًا من الجنة (يعني بسبب الايمان بالله وحده ورسول) فيراهما جميًا.

درویش وايي: چي دا بنده تر ابده پوري په سرور او خوشحالی کي وي، واما المنافق والكافر فيقال له ما كنت تقول في هذا الرجل يعني محمدًا ﷺ فيقول ما ادري زه نه یم خبر چي رسول ؤ او که نه لكن كنت اقول ما يقول الناس.

درویش وايي: چي دا جواب د منافق ؤ او هر چه کافر دی هاه صاه چي کلمه د تحير ده فيقال (ای للمنافق) لا دريت ولا تليت فيضرب بمطارق من حديد په شوندانو د وسپني ضربةً يو وار دی يو لو بغاره او چغه وکړي چي وايې ورې هغه ده ته نژدې شيان من الحيوانات غير الثقلين ای الانس والجن الى ههنا متفق عليه، او د عثمان رضی الله عنه څخه روايت دی چي دی به يو قبر ته ودرېدی يعني د دعاګويي لپاره دومره به يې ډېر وژړل چي ږيره به يې په اوښکو لنده سوه، يو چا ده ته وويل چي په وخت د تلاوت د قرآن دي دومره نه دي ژړلي لکه ودې قبر ته چي ودرېدلې؟ عثمان رضی الله عنه ورته وويل ان رسول الله ﷺ قال ان القبر اول منزلة من منازل الآخرة فان نجا منه (ای عذاب القبر) فما بعده ايسر منه (تر قبر آسانه دی) وان لم ينج منه (که يې عذاب له نجات څخه نه کړی پيدا) فما بعده اشد منه، قال عثمان رضی الله عنه وقال رسول الله ﷺ ما رئيت منظرًا قط (د بېري ځای) الا والقبر افضع منه، رواه الترمذي وابن ماجه، وعن ابی سعيد رضی الله عنه قال رسول الله ﷺ يسلط على الكافر في قبره (۹۹) ماران الى اخير الحديث الطويل، رواه الدارمي وروى الترمذي نحوه وقال (۷۰) بدل (۹۹) والله اعلم.

پوه سه: چي تنكير د نارًا في قوله فادخلوا نارًا لپاره د تعظيم دی.

فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا ﴿۲۵﴾

او دوی يعني الكفار نسي پيدا کولای ما سوی له خدای ج څخه کومکيان ای لايجد احد منه احدًا ينصره لان مقابلة الجمع بالجمع يفيد انقسام الاعاد على

الاحاد، په دې آيت کې اشاره ودې ته ده چې دوى خو ډېر آلهه درلوده لکن د دوى پر کومک نه ودرېدل.

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾

او وويل نوح (دا وينا او ښېرا نوح عليه السلام وکړه چې دا آيت پر نازل سو چې لن يؤمن من قومک الا من قد آمن) لاتذر على الارض آه، مظهري وايي اى ارض قومه واللام للعهد (من الكافرين ديارًا) اى احدًا سکن دارًا مظهري وايي چې دا نکره ده په سياق کې د نفي يعنى ديارًا نکرة ده تر لاتذر لاندي واقع سوه فيعم او اصل د ديار ديوار ؤ کلمه د واو يې په يا سره واړول بيا يې ادغام وکړى لکه په سيد کې چې اصل يې سيود ؤ.

درويش وايي: چې د مظهري مذهب دا دى چې په طوفان نوح سره يوازي قوم د نوح هلاک سوي وه د ټولي مځکي کافران نه دي هلاک سوي.

درويش وايي: چې دا مذهب خلاف دى د هغه مشهور کالشمس على نصف النهار خبري څخه چې نوح عليه السلام آدم ثاني د مځکي دى، او داغه رنګه خلاف ده له ظاهر څخه د قرآن ههنا يعني لاتذر على الارض من الكافرين ديارًا چې نکره په سياق کې د نفي د ټولي دنيا کافرانو ته شامل دى او داغه رنګه خلاف ده چې په دې قصه کې بل ځاى چې نوح عليه السلام چې کښتۍ جوړه کړه له هر نوع څخه د حيواناتو يې يوه يوه جوړه يعني نر او ښځي پکښې سپرولې، يعني غويى او غوا، خر او خره وهکذا که يوازي قوم نوح د طوفان ښکار واى نو دې ته څه ضرورت ؤ ولي چې نوره دنيا د کافرانو خو باقي وه په نېز د مظهري په هغو کې موجود وه، او داغه رنګه قول د مظهري خلاف دى چې نوح عليه السلام چې په کښتۍ کې سپرېدى خپل زوى کنعام چې کافر ؤ دعوت ورکړى چې راسه په کښتۍ کې سپور سه هغه ورته وويل سئاوى الى الجبل يعني من الماء (زه به پناه وروړم و يو لوړ غره ته چې ما له اوبو څخه وساتي) نوح عليه السلام ورته وويل لاعاصم اليوم من الماء عاصم من خو نکره په سياق کې د نفي راغلې ده نو بايد عام وي که چېرې د نوري مځکې کفار نه غرقېداى خو زوى بې ورته ويلې واى چې زه به نورو کفارو ته چې نه غرقېږي ولاړ سم، وايضًا قول المظهري، التاريخ القديم چې وايي چې په طوفان نوح کې پر يو

لوی غره چي جبل نهاوند يې بولي په مابين کي د طي او قبرستان دی چي نهايت جگ دی يو قامت او به ولاړي وې، صرف مظهري دا خبره مدنظر نيولې ده چي نوحؑ خو يو ازي د خپل قوم نبي ؤ و ټولو کافرو ته د نړۍ خو نبي نه ؤ حتی چي دده په ښېرا ټوله دنيا د طوفان په لپېټ کي راغله، ددې خبري جواب تفصيلاً فقير د مخه اوراقو کي ورکړی دی فتذکر.

اِنَّكَ اِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوْا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوْٓا اِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿۲۷﴾

په تحقيق که ته دا کفار پرېږدې دا تعليل د ښېرا د نوحؑ دی، دوی گمراهان کوي عبادک ستا بندگان يعني المؤمنين، او دوی نه زېږوي مگر فاجر يعني فاسق مبالغ في الکفر، قال محمد بن کعب ومقاتل والربيع انما قال نوح هذا الدعاء على الکفار حين اخرج کل مؤمن من اصلابهم وارحام نسائهم، ای جميع کفرة وقت نوحؑ او خدایؑ وچي کړې ملاوي د رجالو د دوی قبل العذاب وارحام نسائهم، قيل (۹۰) کاله فاخبر الله نوحًا بانهم لايؤمنون ای کفرة الدنيا ولا يلدون مؤمنًا فدعى الله نوحؑ رب لاتذر على الارض من الکافرين ديارًا، فعم الطوفان کلهم من قومه وسائر کفرة الدنيا فافهم.

درويش وايي: چي حال د قول د مظهري چي طوفان نوح مخصوص په قوم نوح پوري بولي ټوله کفارو ته د نړۍ يې شامل نه بولي او د فقير د قول حال چي طوفان نوح شامل ټولي نړۍ ته بولي هغه چا ته به معلومېږي چي روح المعاني په دې مقام کي په غور سره مطالعه کړي من اول قصة نوحؑ بيا تر اخيره پوري، او داغه رنگه روح البيان هم په غور سره مطالعه کړي او د فقير ما سبق من البيان هم په غور مطالعه کړي والوصول الى حقيقة مراده تعالى من هذه الآيات انما هو من عند الله العزيز الوهاب لکن د فقير خواهش د مطالعه کونکو څخه دا دی چي حق په رجالو سره نه وپېژني بلکې رجال په حق سره وپېژني.

رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ

يا رب ماته بخښنه وکړې او زما و مور او پلار ته.

پوه سه: چي د نوحؑ د پلار نوم لمک بن خوشلخ ؤ او د مور نوم يې سجار بنت اترشي ؤ.

وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ط

الضحاک وايي چي له بيتي څخه مسجد مراد دی (مؤمنًا) احتراز له ابليس څخه، ولي هغه په سفينه کي نهٔ و رسره باحتيال (و للمؤمنين والمؤمنات) يعني الى يوم القيامة هر څوک چي وي او په هر دين کي چي وي.

درويش وايي: وهذا دعاء شامل غاية الشمول.

وَلَا تَزِدِ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا تَبَارًا ﴿۲۸﴾ ع

او ته مه زياتوې کافرانو ته هر څوک چي وي، وهذا ايضًا دعاء شامل لجميع الکفرة الى يوم القيامة (الا تبارًا) يعني هلاکًا واستجاب الله دعائه.

درويش وايي: چي قصه د نوح؏ په په دې سورت کي په اختصار سره ذکر سوه، ولي نه ذکر د کښتۍ د جوړېدو پکښي سته نه ذکر د سپرلۍ پکښي.

فائده: په کښتۍ کي د نوح؏ دده درې زامن وه حام، سام، يافس او يو څو محدود کسان د مؤمنانو او دده د زامنو زوجات او د ټولو حيواناتو نر او ښځه، دا کښتۍ شپږ مياشتي د اوبو پر سر وه اخيرًا چي امر د خدای؏ وسو يا سماء اقلعي او به دي بندي کړه و يا ارض ابلعي، ای مځکي اوبه دي نوش کړه، نو کرار کرار کښتۍ کښته کېده چي پر جودي چي يو غر دی په الجزيرة کي لنګر واچاوه.

درويش وايي: چي سره ددې مظهري وايي چي طوفان نوح ټوله نړۍ ته شامل نهٔ و بلکې فقط قوم مخصوص پکښې و چي قوم د نوح پکښي هلاک سوه.

پوره تاريخ د کښتۍ چي وځېږل سي حال د قول د مظهري؏ به معلوم سي.

درويش وايي: چي هغه څو محدود کسان چي په کښتۍ کي دده سره ملګري وه وروسته تر کښته کېدو په مرور د زمان د هغو نسل نه سو پاته بلکې دده د درو زامنو نسل دی تر قيامته پوري، نو له دې سببه نوح عليه السلام ته آدم ثاني وايي، والله اعلم.

فقير وايي: چي له تفسير څخه د سورة نوح پر پنځه ويشت (۲۵) تخمينًا د رجب الخير په ورځ د جمعې بعد الصلوة په توفيق د خدای عزوجل فارغ سوم ولله الحمد والتوفيق والمنة وعلى سيد رسله الصلوة والسلام والتحية وعلى آله وصحبه البررة و على ازواجه المطهرة وعلى من دينه الاسلام الى يوم القيامة.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن سعى فيه آمين يا رب العالمين

سُوْرَةُ الْجِنِّ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ

(قل) یا محمد (ﷺ) و خپل قوم ته وحي کړل سوي دي و ماته، ای اوحي الي باعلام الله عزوجل.

فائده: د دې اخبار فائده دا ده چي رسول الثقلین ای الانس والجان دی.

(انه استمع نفر من الجن) دا چي ماته غوږ نیولی دی یو څو نفرو د پیرانانو چي ما قرآن وایه د سورة طه.

پوه سه: چي نفر ته له درو څخه تر لسو پوري وایي، فقیل کانوا تسعة من الجن نصیبین وقبل سبعة، والجن اجسام ذات ارواح کالحیوان عاقلة کالانسان خفیة عن اعین الناس او له دې سببه یې جن بولي لکه جنین د مور په رحم کي یا جنت جنت بولي لاستتار ارضها بالاشجار، اصل خلقت د دوی له اور څخه دی یعني ماده یې اور دی لکه د آدمؑ چي ماده یې تراب دی، کریمه: والجان خلقناه من قبل (ای قبل الانس) من نار السموم (چي دود یې نه درلودی خالص اور ؤ) دوی متصف په ذکورت او انوثت دی یتولدون، قال المظهري والظاهر ان الشیاطین قسم منهم بخلاف الملائکة فانهم لایتصفون بالذکورة والانوثة.

پوه سه: چي وجود د شیطانانو او د جن او د ملکو ثابت بالشرع وانکره الفلاسفة ولسبت العقول العشرة التي اخترعوها من الملائکة چي دوی عقول عشره مجرد بولي له ماده څخه بخلاف الملائکة فانها اجسام ذات ارواح والله اعلم، عن ابن عباسؓ انطلق رسول الله ﷺ چي یوه ډله د اصحابوؓ ورسره وه الی سوق عکاظ (د یو ځای نوم دی چي په هغه کي د خرید او فروخت لپاره موقت بازار جوړېږي په کال کي) فاذا لهم صلوة الفجر ببطن نخلة (چي د یو ځای نوم دی) نو علیه الصلوة والسلام صلوة الفجر په جهرًا قرائت سره ووایه فمر علیهم نفر من الجن وهم في صلوة نو دوی غوږ ونیوی و قرائت ته د رسول الله ﷺ، وفیه دلیل چي رسول الله ﷺ دوی نه دي لیدلي، ولي که یې لیدلي وای نو اسناد و وحي ته یې ولي کاوه یعني اوحي الي، وکذا لم اشیر بحضورهم واستماعهم القرآن ولم

يقرء عليهم القرآن قصدًا بلكې اتفاقي پېښ سوه حضورهم وقت قرائة النبيﷺ او د دوی غوږ ورته نيول فاخبره الله بذالک، نو له دغه ځای څخه دا نفر ولاړه وخپل باقي قوم ته، فقالوا يا قومنا انا سمعنا قرآنا عجبًا الخ، فانزل الله عليه نبيه قل اوحي الي قول الجن، او اکثره مفسرين داسي وايي چي ابو طالب چي مړ سو خرج رسول اللهﷺ وحده الی الطائف چي ده طلب کاوه د ثقيف له قبيلې څخه د النصر والمنعة من قومه يعني ساتونکی له قريشو څخه، فروی محمد بن اسحاق عن يزيد بن زياد عن محمد القرضي چي هغه وويل چي رسول اللهﷺ چي طائف ته ورسېدی قصد يې وکړی يو څو کسانو ته د ثقيف د قوم چي سادات د ثقيف وه واشرافهم چي درې ورونه وه عبد ياليل وسعود وحبيب چي زامن وه د عمير، او د يوه ماينه د دوی د قريشو څخه وه فجلس اليهم فدعاهم الی الله ای التوحيد له في الذات والعبادة، او دوی ته يې وويل چي زه دد دې غرض لپاره تاسي ته راغلی يم چي تاسي زما سره کومک وکړئ پر اسلام او زما سره ودرېږئ په مقابل کي د هغو کسانو چي زما تکذيب کوی يعني قومه من قريش، يوه ورته وويل هو يمرط ثياب الکعبة (دا د دوی قسم ؤ سخت) ان کان ارسلک الله، هغه بل ورته وويل چي خدای بل څوک نه سو پيدا کولای چي ته يې رسول کړې، دريم ورته وويل والله ما اکلمک زه ستا سره په دې کي هيڅ خبري نه کوم ابدًا ان کنت رسولاً من الله کما تقول لانت اعظم خطرًا من ارد عليک الکلام وان کنت تکذب علی الله فلا ينبغي ان اکلمک، فقام رسول اللهﷺ نا اميده له اشرافو څخه د ثقيف، او عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل اذ فعلتم ما فعلتم چي کومک مو پر دين د اسلام نه را سره وکړی فاکتم علي (نو دا زما حال يعني تاسي ته په عجز راتګ پټ وساتئ) د عليه الصلوٰة والسلام په دې کي غرض دا ؤ چي قريش خبر نه سي ولي ډېر به دلاوره سي پر ما باندي، نو دا کار دوی نه وکړی بلکې دستي يې قريش په خبر کړه چي ستاسي رسول يعني په نامه د رسول موږ ته مرکه راغلی ؤ چي زما سره کومک وکړئ پر قريشو باندي، او د ثقيف قوم خپل خره ځوانان امر کړه او داغه رنګه مريان چي ښکنځل ورته کوئ او چغي او نارې پسي وهئ حتی چي پر عليه الصلوٰة والسلام ډېر خلګ را جمع سوه او دی مبارک يې مجبوره کړی چي ننوزي په باغ د عتبه او شيبه ابنی ربيعه او دوی دوه هم په دې باغ کي موجود وه، دی مبارک يو

ځای کښېنستی وابنا ربیعة ینظران الیه، فلما اطمئن رسول اللهﷺ.

درويش وايي: چي زه به عربي الفاظ د پاکي خولې د علیه الصلوة والسلام رانقل کړم چي په پښتو کي د غسي خواږه الفاظ نسته، قال رسول اللهﷺ اللهم اني اشکوا الیک ضعف قوتي وقلة حیلتي وهواني علی الناس وانت ارحم الراحمین وانت رب المستفضین قانت ربي الی من تکلني الی یبعد یتهجمولي او الی عدو ملکته امري ان لم یکن بک علي غضب فلا ابالي ولکن عافیتک اوسع بي، اغوذ بنور وجهک الذي اشرقت له الظلمات وصلح امر الدنیا والآخرة من ان تنزل بي غضبک او یحل علي سخطک لک العتبي حتی ترضی لاحول ولاقوة الا بک.

نو د ربیعه زامنو چي دا حال زار د علیه الصلوة والسلام ولیدی زړه یې پر وسو نو د دوی یو مریی نصراني المذهب چي عداس یې نوم ؤ دوی و هغه ته وویل چي ته دا اوښکي د انګور واخله په دغه غاب کې کښېږده و هغه سړي ته یې کښېږده ورته ووایه و یې خوره، عداس همدغسي وکړه انګور چي یې علیه الصلوة والسلام ته کښېښول علیه الصلوة والسلام لاس وروغځاوه و قال باسم الله ثم اکل نو عداس چي دده مبارک نوراني مخ ته وکتل داسي یې وویل والله لایقول مثل هذا الکلام اهل اهذه البلدة، قال علیه الصلوة والسلام من ای البلاد انت یا عداس وما دینک، قال انا نصراني وانا رجل من اهل نینوی قال رسول اللهﷺ امن قریة الرجل الصالح یونس بن متیؑ، عداس ورته وویل چي ته یونس بن متی څه پېژني؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي هغه زما ورور هغه هم نبي ؤ زه هم نبي یم، عداس پر علیه الصلوة والسلام ور نسکور سو لاسونه او پښې یې ورمچ کړې، د ربیعه زامنو یو و بل ته وویل چي زموږ مریی دې سړي فاسد کړی، نو عداس چي راغلی مالکانو یې ورته وویل: ویلک تا ولي ددې سړي لاسونه او پښې ورمچ کړې؟ عداس ورته وویل یا سیدي ما علی وجه الارض خیر من هذا الرجل ماته دې سړي خبر راکړی په داسي خبرو چي لایعلمه الا نبي، نو دوی و عداس ته وویل ویحک یا عداس لایصرفنک ای هذا الرجل عن دینک یعني النصرانیة فان دینک خیر من دینه عداس د دوی خبره ونه منل.

فَقَالُوْٓا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ۙ﴿١﴾

اى هؤلاء الجن الذين سمعوا القرآن من النبي ﷺ اى حين رجعوا الى قومهم، موږ واورېدى مقرؤ (مصدر په معنى د مفعول دى) عجبًا، يعني بديع التعظيم والمعنى مباين (اى جلا) له كلام څخه د مخلوق مصدر دى وصف به مبالغة.

يَّهْدِيْٓ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ؕ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۙ﴿٢﴾

دي قرآن هدايت او راهنمايي كوله ورشد. ته اى الحق والصواب ته من التوحيد والرسالة الذي دل عليه العقل والبرهان صفت اخرى دى د قرآن (فآمنا به) نو موږ پر هغه ايمان راوړى او موږ شريک نه گرځوو په عبادت د خپل رب سره هيڅ څوک يعني من خلقه سواء كان صنمًا او ملگا او غير ذالک.

وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۙ﴿٣﴾

ضمير د انه للشان، او بعض مفسرين وايي چي راجع دى و ربنا ته بالفتح وكذا مابعده من الجمل المصدرة بان په يوولس ځايه كي نو ټوله عطف دي پر انه استمع آه فيكون من جملة الكلام الموصى به يعني عبارة الجن كانه قيل قل اوحي الي كيت وكيت الى اخيره، او بعض قراء وايي چي بل قرائت يې متواتر هم دى انه په كسره د ان.

درويش وايي: چي د هغه قرائت په تصحيح او بيان كي مظهري او روح البيان او روح المعاني ډېرو تأويلاتو ته مجبور سوى دى حتى قال المظهري ولولا هذه القرائة من المتواترات لما احتجنا الى التكلفات في توجيها.

درويش وايي: چي چونكه په مصاحفو مطبوعهؤ ټولو كي انه بالفتح دى نو متعلمين د تفسير ايوبي څه ضرورت لري چي ځانونه په كش مكش كي اچوي، او عمومي مطالعه كونكي د دې تفسير كه هغه تكلفات زه رانقل كړم هوا درمشت به وي والله اعلم.

پوښتنه: آيا رسول الله ﷺ جنياتو بالمشافهة امر بالمعروف كړى دى؟

ځواب: نعم قال الخفاجي انه قد دلت الاحاديث التي ان وقادة الجن (اى ملاقاتهم) كانت ست مرات وهذا دليل على انه ؑ مبعوث الى الجن والانس جميعًا، وقال مقاتل ؒ لم يبعث قبله (اى النبي ﷺ) الى الجن والانس جميعًا.

درویش وايي: چي په منځ کي د عليه الصلوة والسلام والجن ملاقات متعدد وارونه واقع سوی دی او عليه الصلوة والسلام بذاته الشريفة دوی ته بالمشافهة احکام د اسلام او امر او نهي ورته کړي دي لهذا په احاديثو کي مختلف حديثونه راغلي دي فالکل صحيح، روی مسلم عن علي بن محمد قال حدثنا ابراهيم بن اسمعاعيل بن ابراهيم عن داوُد عن عامر قال سئالت علقمة هل کان شهد ابن مسعود رض مع رسول الله ﷺ قال انا سئلت ابن مسعود رض فقلت هل شهد احد منكم مع رسول الله ﷺ ليلة الجن؟ فقال ابن مسعود رض کنا ذات ليلة دی مبارک په تاريکه کي د شپې زموږ څخه ورک سو هر څو چي مو په شېلو او په غرو کي پسي وکتل پيدا مونه کړی نو زموږ دا خيال سو چي چا به پورته کړی يا يې هلاک کړی دی، ابن مسعود رض وايي چي يوه بله شپه تېره سوه چي اکثره خلګو به د ډېره غمه څخه سترګي نه وي پټه کړې، سهار چي سو عليه الصلوة والسلام پيدا سو، نو موږ صورت حال ځني وپوښتی، اتاني داعي الجن (يعني موږ جمع کثير دلته ستا د تبليغ امر او نهي په انتظار يو نو زه ورسره ولاړم فقرئت عليهم القرآن، قال ابن مسعود رض چي موږ ته عليه الصلوة والسلام هغه د جنياتو آثار او د پلو ځايونه راوښوول، قال الشعبي وطلبوا الزاد (يعني نفقه) وکانوا من جن الجزيرة، فقال عليه الصلوة والسلام کل عظم ذکر عليه اسم الله يقع بي اليکم يکون فيه لحمًا وکک البعرة عطف علی دوابکم، فقال رسول الله ﷺ يعني خطابًا لاصحابه رض فلا تستنجوا بها فانها طعام اخوانکم من الجن.

درویش وايي: چي په حديث صحيح کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام امر کړه سو ان ينذر الجن ويدعوهم الی الله ويقرء عليهم القرآن فصرفوا اليه نفر من نينوي وجمعهم له (ای الله عزوجل) فقام رسول الله ﷺ اني امرت ان اقرء علی الجن الليلة فايکم يتبعوني څوک زما سره ځي؟ نو خلګو سرونه کښته واچول، بيا عليه الصلوة والسلام وويل چي څوک زما سره ځي فاتبعه عبدالله ابن مسعود رض قال عبدالله رض ولم يحضر معنا غيري، نو زه او عليه الصلوة والسلام سره راهي سوو حتی اذا کنا باعلی مکة دخل نبي الله ﷺ دخل شعبًا يقال له شعب الجحون او يوخط يې راوګرځاوه بيا يې ماته وويل اجلس فيه (په دې خط کي کښېنه) فلا

تخرج عنه حتى اعود اليک ثم انطلق حتى قام او قرآن مبارک يې شروع کړی، عبد اللهؓ وايي چي ما ليدل مثل النسور لکه باښې راکښته کېدلې، وروسته ډېر آوازونه پورته کېده يعني ګډېړ مې اورېدی حتى خفت على نبي اللهﷺ يعني چي څوک دښمنان پر راجمع سوي دي چي مړ يې نه کړي او پرده اسودة کثيرة راتهول دي چي زما او دده تر منځ دا اسودة يعني اشخاص حائل دي يعني ما دی نه ليدی او دده مبارک آواز مي نه اورېدی، وروسته لکه د وريځي ټوټې روان سوه، نو عبد اللهؓ وايي چي عليه الصلوة والسلام فارغ سو عند طلوع الفجر نو عليه الصلوة والسلام ماته راغلی او راته وه يې ويل چي ته بيده سوې؟ فقلت لا والله يا رسول الله، بلکې څو واره ما قصد وکړی چي تر خلګو فرياد ورسوم يعني ستا په باره کي حتى چي ما واورېده چي تا لکړه ټکول، اقعدوا اجلسوا کښېنئ، نو مي زړه مطمئن سو الى اخير الحديث الطويل.

درويش وايي: چي ما د مخه تاسي ته وويل چي واقعه د وعظ او تبليغ او قرآن ويل څو واره متعدد وارونه پېښه سوې ده، فلا تعارض بين الآحاديث الواردة في تلک الواقعة فافهم.

(وانه) ضمير عائد الى ربنا، جد ربنا، دا جمله خبر ده د ان والعائد وضع المظهر موضع المضمر فالاصل انه تعالى جد فوضع المظهر موضع المضمر للتصريح بالربوبية، ومعنى جد ربنا جلاله وعظمته، کذا قال مجاهد وعکرمة، وقال القرطبي الا انه ونعمائه وقال بعضهم الا ملک ربنا.

درويش وايي: چي والکل صحيح انسب بربوبيته تعالى کما قال السعدي الشيرازيؒ:

ای برتر از قياس گمان و وهم
واز هرچه گفته اند شنده وخوانده ئيم
مجلس تمام گشت وبپايان رسيد عمر
ما همچنان در اول وصف تو مانده ئيم

(ما اتخذ صاحبة ولا ولدًا) خبر بعد الخبر دی لان يعني تعالى جل جلاله من اتخاذ الصاحبة (ماينه) او ولد لکه شان دی د مربوبينو يعني لکه نصاری چي

وايي چي عيسى ابن الله دى نو مريم د خداى صاحبه ده نعوذ بالله من ذالک، يا لکه بعض مشرکين چي وايي ملائکه بنات الله دي.

پوښتنه: دا جنيات نو څه په خبر وه؟

ځواب: هغه قرآن چي د نبي کريم ﷺ څخه دوى اورېدلى ؤ هغه دلالت پر دې کاوه چي رب جل وعلا نه شريک په عبادت کي لري او نه نسبت د صاحبه او ولد وده ته صحيح دى، فتدبر هداک الله.

وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ﴿٤﴾

او وو جاهل زموږ، قال قتاده و مجاهد هو ابليس وقيل المراد به مردة الجن (سرکښه يعني ګمراهان د جن) پر خداى ج باندي قولاً ذا شطط.

پوه سه: چي شطط مصدر دى په ابعد دى فالمعنى قولاً بعيدًا تعالى او دغه رنګه شطط جور ته وايي په حکم کي دا معنى هم صحيح ده يعني د دوى قول جور دى په حکم کي پر خداى ج بانه له تعالى صاحبة و ولد، او دغه شطط تجاوز دى تر حد والي دا معنى هم صحيح ده، کذا في القاموس.

وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ﴿٥﴾

او زموږ دا عقيده وه چي هرګز به نه وايي انس او جن پر خداى ج دروغ.

پوه سه: چي انس يې د مخه کړى په اعتبار د شرافت ورنه په وجود کي خو جن د مخه دى.

پوه سه: چي دا خبره عذر دى د جن د مسلمانانو له خوا چي موږ چي تقليد د سفيه کاوه ددې سببه چي شان او خبره دا وه چي زموږ عقيده وه چي څوک به هرګز پر خداى ج دروغ نه وايي ولهذا اتبعنا قوله وصدقناه في ان الله صاحبة و ولد، نو موږ چي قرآن کريم واورېدى وتبين لنا الحق موږ پوه سوو چي سفهاء دروغ ويله.

وَّاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ

او شان دادى چي هغه وه خلګ له انسانانو څخه، وروسته جمله يعني (رجال من الانس) خبر د کان دى (يعودون) يعني پناه به يې غوښته او التجاء بې کوله.

فائده: په لفظ کي د رجال اشاره ودې ته ده ان للجن نساء کالانس لان رجال يقابل

النسوة ولذا قيل في حقهم انهم اى الجن يتو الدق لكنهم ليسوا بمنظرون كابليس وذريته قال اهل التفسير كان رجل من العرب اذا وقع في واد تعز في بعض اسفاره وخاف على نفسه من الجن، نو به يې داسي ويل اعوذ بسيد هذا الوادي من شر سفهاء قومه يريد الجن وكبيرهم فيبيت في امن حتى يصبح، پيرانانو چي دا واورېده استكبروا وقالوا چي زموږ تابع سوه الانس والجن وذالك معنى قوله تعالى.

فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ۝٦

عطف على يعوذون اى فزاد الرجال العائذون بهم من الانس لهم اى للجن (رهقا) اى تكبرًا وعتوًا وسفهًا يعني په دې يې تكبر كاوه چي انسانان هم زموږ تابع سوه، اخرج ابن المنذر وابن ابى حاتم وابن ابى الشيخ عن كردم بن السائب الانصاري قال خرجت مع ابى المدنية په يو حاجت كي نو زموږ شپه د يو راعي الغنم سره وسوه حتى انتصف الليل مجاء ذئب يو ورى يې حمله كړى د پسو څخه فوثب الراعي، شپانه وغورځېدى وقال يا عامر الوادي جارك زه ستا همسايه يم فنادى مناد لانراه يا سرحان ارسله فجاء الحمل يشتد حتى دخل في الغنم ولم تصبه كدمة (اى ضرر) فانزل الله تعالى على رسوله بمكة وانه كان رجال من الانس الآية، قال مقاتل اول من تعوذ بالجن قوم من اهل اليمن وروسته په بني حنيفهؤ كي دا استعاذه رواج سوه، وروسته په عربو كي دا استعاذه معمول وګرځېده، فاذا جاء الاسلام تركوا تلك الاستعاذة وجعلوا مكانها اعوذ بالله من الشيطان ومن الانس والجان.

وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ۝٧

او هغو ګمان كاوه لكه تاسي چي ګمان كوئ (اى الانس كمشركى مكة لكه تاسي اى معشر الجن) چي هرګز به خداى ژوندى نه كړي بعد الموت هيڅ څوك من الانس والجن وغيرهما، ومعنى الآية انهم اى الجن ظنوا كاظننتم ايها الكفار بمكة اى القريش عدم البعث فاذا نزل القرآن او جن واورېدى آمنوا بالبعث، فعليكم ايها الكفار ان تؤمنوا كما آمنوا.

وَّاَنَّا لَمَسْنَا السَّمَآءَ

اى لمس السماء (يعني بعد بعثت النبي ﷺ)

فائده: ظاهره دا ده چي مراد له سماء څخه وريځ ده، ولي چي د سماء اطلاق پر هر

مافوقک باندي کيږي کما يقال في عرف العرب سماء البيت اى سقفه ويدل عليه حديث عائشةؓ قالت سمعت رسول اللهﷺ يقول ان الملائکة تنزل في العنان وهو السحاب (چي ملکي راکښته کيږي له اسمانه و عنان ته چي عنان وريځ بولي) نو دا ملکي يو د بل سره وايي هغه کار چي قضاء د خدایؐ له جانبه په آسمان کي سوې وي فتسرق الشياطين السمع اى المسموع من الملائکة فيتوجه اى الشياطين الکهان (غيب گويان) نو دا کهان سل درواغ د ځان له خوا په گډ کړي، رواه البخاري.

سوال: په بعض اخبار کي راغلي دي صريح په داسي لفظ چي مراد حقيقة السماء دی (يعني لا السحاب چنانچه عن ابی هريرةؓ ان النبيﷺ قال اذا قضى الله الامر في السماء ضربت الملائکة اجنحة عاجزي کوي و امر ته د خدای عزوجل لکه ځنځير چي پر ښويه ډبره ټکوي، نو چي بيره ولاړه سي له زړو څخه د دوی قالوا ای بعضهم لبعض ما قال ربکم قالوا الذي قال هو الحق وهو العلي الکبير فسمعوا ها مسترقوا السمع ای الشياطين وهکذا هکذا يعني بعض د دوی يو پر بل سربېره وي، و وضع سفنان بکفه يعني گوتي يې سره خلاصي ونيولې لپاره د بيان د هيئت د شيطانانو يو پر بل باندي فيلقها الاول ای العالي على الجميع على من تحته ثم وثم حتی يلقها الاخير على لسان الساحر او الکاهن وربما ادرک الشهاب قبل ان تلقيها وربما يلقها قبل ان يدرکها الشهاب الی اخير الحديث رواه البخاري وفي حديث ابن عباسؓ قريبًا من ذالک قلنا ليس في هذين الحديثين اي الحديث الذي رواه ابو هريرة وابن عباسؓ وما في معناهما ان الجن يخطف من السماء الدنيا، ولعل المعنى ان اهل السماء الدنيا يعني الملائکة الذي سمعوا الخبر في السماء الدنيا ينزلون الی العنان ای السحاب، نو شيطانانو غوږ ورته نيولی وي هغه يې غلا کړي دا اخبار، الی اخير الحديث.

درويش وايي: چي دا توجيه او تأويل د مظهري ؤ للآية لکن روح المعاني او روح البيان وغيرهما آيت مذکوره پر ظاهر حمل کړی دی، والله اعلم فتدبر [فخذ ما صفا ودع ماکدر] صاحب د کشف الاسرار وايي د دې آية په تفسير کي من مواضع استماع الاخبار من السماء لان لکل حی من الجن باب في السماء يستمعون الاخبار، روح البيان وايي: وجه الجمع بين الاستراق من السماء و وجه الاستراق من العنان ای

السحاب کمایدل علیه حدیث البخاري ان الملائکة قد ینزلون الی العنان فیذکرون الامر المقدر في السماء یستمعون تلک الاخبار من العنان وقد یتوجه کل حی من الجن الی بابه فیستمعون الاخبار من الملائکة من ذالک الباب.

درویش وايي: چي وهذا وجه وجيد لوشئت ان لکل حی من الجن باب في السماء.

فَوَجَدْنٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيْدًا وَّشُهُبًا ﴿۸﴾

موږ پیدا کړې دی آسمان (حرسًا) اسم جمع د حارث دی لکه خدم جمع د خادم ده، و معنی الحارث نگهبان او پهره دار (شدیدًا) یعني من الملائکة الذین یمنعون الجن من الاستماع (شهبًا) جمع د شهاب ده وشعلة نار انتشرت من النجوم چي په پښتو کي وايي ستورې ولوېدی.

وَّاَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ؕ فَمَنْ يَّسْتَمِعِ الْاٰنَ يَجِدْ لَهٗ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿۹﴾

ځوک چي غوږ نسي في مقعد من المقاعد او طلب د استماع د ملکو کوي اوس یعني بعد مبعث النبي ﷺ، دی یعني المستمع د ځان لپاره اور چي له ستوري څخه جلا سي، رصدًا جمع د رصد ده، یعني دده لپاره په انتظار وي، نو ددې سببه له استماع څخه دوی منع سوه بالکلیة.

فائده: دا معجزه د رسول کریم ﷺ للجن ده د ایمان راوړلو لپاره.

وَّاَنَّا لَا نَدْرِيْۤ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿۱۰﴾

او موږ نه پوهېدلو قبل ذالک (رشدًا) هدایت لکن اوس چي قرآن منزل علی رسوله ﷺ واورېدی په دې پوه سوو ان الذي حال بیننا وبین خبر السماء هو بعث هذا النبي، حتی دا وګرځي معجزه د دغه نبي د کهنوو، ولي کاهنان له راوړلو څخه د خبر د آسمانو چي ذریعه د جن بې کاوه عاجزه پاته سوه، نو دا خبره ظاهره سوه چي انما اراد الله هدایة ورشدًا.

فائده: دا دري جملې احتجاج پر حقیت د قرآن ورسوله علیه السلام.

پوه سه: چي شر او خیر جمیعًا که څه په خلق د خدای دی لکن په عبارت کي د نظم جلیل اسناد د خبرې و خدای ته صراحة وکړی او اسناد د شرېي کنایة وکړی حیث اورده بصیغة المجهول (یعني ارید) لپاره د ادب.

وَّ اَنَّا مِنَّا الصّٰلِحُوْنَ وَ مِنَّا دُوْنَ ذٰلِكَ ۭ كُنَّا طَرَآىِٕقَ قِدَدًا ۙ﴿۱۱﴾

پوه سه: چي مراد له صالحون څخه هغه کسان د جن دي چي ايمان يې پر تورات وغيره من الکتب والانبياء السابقين عليهم السلام درلودی (ومنا) ای منا قوم دون الصالحين، موږ وو پر مختلفو لارو او مذهبو (قددًا) ای مختلفة او متفرقة، مثلاً بعض مرجئة او بعض رافضة وغير ذالک من الفرق الضالة.

پوه سه: چي دا قول د دوی انا منا الصالحون الخ تمهيد دی لقولهم کما سيئاتي انا ظننا ان لن نعجز الله الآية، وانا لما سمعنا الهدی الآية، حاصل د خبرو د دوی دا دی چي ايمان او تصديق نه وي کار نه دی چي موږ پر لار کړي بلکې جن د مخه تر موږ پر مذاهبو مختلفه وه بعض منهم صالحين وبعضهم دون ذالک.

وَّ اَنَّا ظَنَنَّاۤ اَنْ لَّنْ نُّعْجِزَ اللّٰهَ فِي الْاَرْضِ وَ لَنْ نُّعْجِزَهٗ هَرَبًا ۙ﴿۱۲﴾

ظن دلته په معنی د يقين دی يعني زموږ يقين بتعليمنا في القرآن المنزل على النبي العربي محمدًا ﷺ او يا معنی دا ده بعلمنا بما في التورات (الن نعجز الله) چي هيڅ کله عاجزه کولای نسي چي خدای ارادہ ورته د سوء او د عذاب ورته وکړي په مځکه کي من الانس والجن، او هرګز خدای عاجزه کولای نسي په تېښته من الارض الى السماء ان طلبنا هربًا ځای د تېښتي، وقيل ذالک.

وَّ اَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰۤى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ

او موږ چي قرآن واورېدی يعني من محمد ﷺ موږ ايمان پر راوړی، نو تاسي ای زموږ قومه ايمان پر راوړئ لتکونوا من الصالحين.

فَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِرَبِّهٖ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَّ لَا رَهَقًا ۙ﴿۱۳﴾

نو څوک چي ايمان پر رب خپل يعني بالتوحيد في الذات والمعبودية، کلمه د فا سببية ده او کلمه د من شرطيه ده جزاء يې وروسته ده يعني قوله تعالى (فلا يخاف) خبر د مبتداء محذوفي دی، ای هو لايخاف (بتحسًا) يعني نقصان په ثواب کي (ولا رهقًا) ای ظلمًا او يا معنی دا ده ولا ان ترهقه ذلة، وقيل غير ذالک.

وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿۱۴﴾

او په تحقيق دي زموږ څخه مسلمون اى ابرارًا، قاسطون له قسط څخه مشتق دى چي مجرد دى يقال قسط الرجل اذا جار فمعنى القاسطون الجائرون عن الحق وهو الايمان (فمن اسلم) اى بالله ورسوله دغو كسانو مختاره كړى د رشدًا اى طريقًا موصلاً الى الفلاح.

درويش وايي: چي دا آيت بيان دى د حال د فريقينو مذكورينو.

وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿۱۵﴾

او هرچه جائران كافران دي، نو دوى ماده د دوږخ ده چي په دوى سره به اور بلېږي لكه په لرګو چي اور بلېږي (الاصول المرضوعة)

درويش وايي: چي دا يو څو قواعد مسلم دي عند الاكثرين من علماء المذاهب الاربعة (۱) خداى پاک چي هر څوک مكلف كړي په احكام سره د دين نو پر تقدير د اطاعت د هغو احكامو به خداى ثواب وركوي په جنت سره، او پر تقدير د انكار د هغو احكامو څخه خداى عذاب بالنار وركوي.

(۲) مكلف د خداى عزوجل له خوا انس او جن دواړه دي كمايدل عليه الآيات المتعددة من سورة الجن يعني على تكليف بالاحكام الآلهة.

(۳) اتفق العلماء للمذاهب الاربعة ان الجن يعذبون بالنار كما يدل عليه قوله تعالى واما لقاسطون فكانوا لجهنم حطبًا، نو د دې مفهوم دا دى چي مؤمنانو ته د جن خداى پاک ثواب وركوي بالجنة، وايضًا ويدل عليه قوله تعالى فمن يؤمن به فلا يخاف نجسًا ولا رهقًا كمامر، ولي دا آيت تصريح ده بان الجن پر تقدير د دې ايمان راوړي دوى نه بېرېږي د بخس او رهق څخه نو ثواب بالجنة وركول كېږي كما لايخفى، وحكى عن سفيان عن ليث ان للجن ثواب الجن ان عن النار ثم قال يقال لهم كونوا ترابًا.

درويش وايي: وهذا القول ليس بشيئ دا قول حيواناتو ته دى چي مكلف نه دي ويل كېږي، واما الجن فهم مكلفون فما معين تكليفهم يعني چي جن ته كونوا ترابًا وويل سي فما معنى تكليفهم.

درويش وايي: چي علماء پر دې متفق دي چي كفارو لره د جن خو عذاب سته

لقول الله تعالی واما لقاسئون فکانوا الخ، په ثواب کي يې اختلاف دی بعض علماء وايي چي دوی لره ثواب سته، او له ابن مردويه څخه روايت دی چي ما پوښتنه وکړه عن حمزة بن حبيب څخه هل للجن ثواب؟ قال نعم وقرء هذه الآية لم يطمثهن (ای الحورات) انس ولا جان، فالانسان يعني ښځي د انسانانو للانس والجنيات للجن، او مالک و ابن ابی ليلی وايي چي جن لره ثواب في الاحسان کما يکون لهم عذاب في الاسائه تعني حال د جن لکه حال د انس دی، روايت کړی دی ابو الشيخ عن طريق الضحاک عن ابن عباسؓ قال الخلق بارکة فخلق في الجنة کلهم وهم الملائکة وخلق في اقتار کلهم وهم الشياطين، وخلق في الجنة والنار وهم الجن والانس يعني کافر هذين الفريقين في النار ومؤمن هذين الفريقين في الجنة، او له ابن وهبؒ څخه چا پوښتنه وکړه هل للجن ثواب و عقاب؟ قال نعم.

درويش وايي: چي مؤمنانو ته د جن ثواب وايي دليل په عموماتو سره د آيتو وايي قال الله تعالی ان الذين آمنوا و عملوا الصالحات کانت لهم جنات الفردوس نزلاً يعني په دې آيت کي تخصيص د انس نه دی کړی ونحو ذالک من الخطابات الواردة في سورة الرحمن، ولمن خاف مقام ربه جنتان فبأی آلاء ربکما تکذبان (ضمير د تثنيه راجع و انس او جان ته دی) حور مقصورات في الخيام فبأی آلاء ربکما تکذبان لم يطمثهن قبلهم انس ولا جان، وقال بعض العلماء ليس للجن ثواب الا نجاتهم من النار، قال البغويؒ الشافعي المذهب واليه ذهب ابو حنيفةؒ.

درويش وايي: چي دا د تعجب خبره ده امام اعظم ابو حنيفهؒ خو دا مذهب دی کما نسب اليه البغويؒ بلکې امام توقف کړی دی په ثواب کي د جن سبب د توقف يې دا دی چي و جن ته عذاب د خدای عزوجل ورکړی دی، و اما القاسطون فکانوا لجهنم خطبًا او د مؤمنانو په باره کي يې صرف دا ويلي دي فمن اسلم فاؤلئک تحروا رشدًا، د جنت ذکر يې نه دی کړی، مظهريؒ وايي والصحيح عندي قول الجمهور (يعني اثبات الثواب للجن المؤمنين وبه قال ابو يوسف و محمدؒ)

درويش وايي: چي د مذهب د جمهورو اهل العلم تائيد هغه حديث هم کوی عن انسؓ عن النبيﷺ ان مؤمنی الجن لهم ثواب وعليهم عقاب (يعني عند العصيان من اوامره تعالی کما للانس) فتدبر هداک الله تعالی الی فهم دقائق القرآن الکريم.

وَّاَنۡ لَّوِ اسۡتَقَامُوۡا عَلَى الطَّرِيۡقَةِ لَاَسۡقَيۡنٰهُمۡ مَّآءً غَدَقًا ﴿۱۶﴾

پوه سه: چي ان په دې آيت کي مفتوح باتفاق القراء ان مخفف د مثقل څخه دی اسم ضمير شان محذوف دی او جمله شرطيه يې خبر ده، ومجموع الجملة عطف ده على انه استمع نفر من الجن، فالمعنى انه استمع نضر من الجن ضمير د استقاموا راجع دی و انس ته يا انس و جن دواړو ته، كذا في روح البيان كه سم دريدلي وای جن او انس (على الطريقة) پر هغه طريقه چي رضاء د خدای ج پكښې وي چي دين د اسلام دی عمومًا (لاسقيناهم مآءً غدقًا) مونږ به اورولای پر دوی اوبه ډېري، مقاتل ؒ وايي نزلت هذه الآية بعد ما رفع المطر عنهم سبع سنين بدعاء النبي ﷺ، او بعض مفسرين وايي چي مراد د ماء غدقًا څخه مراد رزق واسع دی مجازا لان الماء سبب د رزق دی لان به ينموا جميع المطعومات كما اريد له رزق څخه مطر في قوله تعالى وما انزل الله من السماء من رزق فاحيا به الارض يعني مونږ به ور كړي وای اموال كثيره وعيشًا رغدًا فراغه، وبالفارسية هر آئينه ميدهم ايشان را آب بسيار بعد از تنگ سالى يعنى روزي ايشان فراخ گردانيم، كما قال الله تعالى ولو ان اهل القرى آمنوا واتقوا لفتحنا عليهم بركات من السماء.

لِّنَفۡتِنَهُمۡ فِيۡهِ ؕ وَمَنۡ يُّعۡرِضۡ عَنۡ ذِكۡرِ رَبِّهٖ يَسۡلُكۡهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿۱۷﴾

(لنفتنهم) متعلق دی په واستقيناهم پوري، يعني چي مونږ امتحان وكړو كيف شكرهم، كما قال عمر رضي الله عنه اينما كان الماء كان العشب (شين گياه) و اينما العشب كان الماء، يعني غنم، اوربشي، جوار، او مېوې رنگارنگ واينما كان المال تكون الفتنة اى الامتحان (ومن يعرض عن ذكر ربه) څوک چي اعراض روئ گرداني وكړي له ذكر څخه د خدای عزوجل يعني عن عبادة ربه يا له موعظت څخه د خدای ج يا د وحي څخه د خدای ج چي قرآن عظيم الشان دی (يسلكه عذابًا صعدًا) دی به داخل كړي عذاب سخت ته چي پر معذب شاوخوا راگرځېدلى وي وهو معنى يسئلكه، والمراد بالعذاب اما عذاب الدنيا كما وقع عليهم في بدر او في القبر او عذاب الآخرة وهو النار.

پوه سه: چي صعد مصدر دی، وصف به العذاب مبالغة، او بعض مفسرين وايي چي صعد يو ښوی غر دی په دوږخ كي چي وليد بن المغيرة مكلف گرځوي ملائكه چي دې غره ته وخېژه په څلوېښت كاله.

سوال: وليد بن المغيرة څرنګه دا ښوى غره ته ختلاى سي؟

ځواب: د لوړي خوا څخه يې ملکي په ځنځيرانو کشوي چي سرته ورسېږي کښته يې راپوري وهي چي قعر د دوږخ ته ورسېږي، بيا يې مکلف کړي په ختلو سره وهلم جرا الى ما لا نهاية له.

فائده: د بعض خلګو په زړو کي به شيطان دا وسوسه ور واچوي چي کافر خو پنځوس يا اتيا يا سل کاله وغيره تېر کړي دي، بايد ژوند ور ختم کړي، ويقال له کن ترابًا؟

ځواب: ژوند دوه واره دى يو په دنيا کي او يو په آخرت کي کافر خو خپل تول ژوند که هر څو کلونه چي وُ په کفر کي تېر کړه، ولم يلتفت الى موعظة الرسل، نو به بالفور دوهم ژوند چي پاى نه لري په دوږخ او عذاب کي تېروي، والحاصل ان الدنيا يوم والآخرة يوم، فاليوم بيوم وعلى هذا قياس کړه حال د مؤمنانو چي دوى خپل عمر د دنيا په اسلام او طاعت کي تېر کړه، نو د آخرت عمر به يې تول په جنتو کي وي، کريمه: لاظلم اليوم فافهم وخلص قلبک عن وسواس الشيطان ورفقائه من سفهاء الانس، ولهذا قال الله عزوجل يوسوس في صدور الناس من الجنة (اى الشياطين) والناس (اى تابعوهم من السفهاء) وقل اعوذ بالله من الشياطين من الجنة والناس.

وَّاَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ اَحَدًا ﴿۱۸﴾

عطف دى على قوله انه استمع فالمعنى اى الي چي مساجد مختص دي په خداى عزوجل پوري و بعادته خصوصًا المسجد الحرام، ولذالک قيل بيت الله.

فائده: مراد له مساجدو څخه چي لپاره د پنځو وختو لمونځو بناء سوي وي و ذکر الله تعالى (فلاتدعوا مع الله احدًا) نو تاسي عبادت مه کوئ (يعني په دغو مساجدو سره د خداى) هيڅ شى، حسين کاشفي په تفسير حسيني کي وايي: پس مخوانيد درآن جا با خداى تعالى يکى را چنانچه يهود و نصارى در کنائس (جمع د کنيسة ده معبد اليهود) وصوامع (جمع د صومعة ده معبد النصارى) عزير را بالوهيت ياد ميکنند (يعنى يهود) و مسيح يعنى عيسى را بالوهيت ياد ميکنند (اى النصارى)

بوه سه: چي په مقابل کي د يهودانو او نصارى ؤ مؤمنان خداى پاک چي په اخلاص کامل سره دعوات کوي اذا دخلوا المساجد وارادبها کلها وامر بتطهيرها فقال طهرا بيتي.

درویش وایي: چي په دې آیت کي که څه هم مراد بیت الشریف الکعبة دی بقرینة مابعدها یعني للطائفین الخ لکن حکم د تطهیر د مسجد حرام نورو ته هم شامل دی کما لایخفی، وامر رسول الله ﷺ جنبوا مساجدنا صبیانکم (یعني داسي صبیان چي احتمال د قلوب د مسجد په بول وغیره پکښي موجود وي) ومجانینکم (د لېونیانو څخه) وشرکائکم د بتانو څخه ویلیکم و خصوماتکم ورفع اصواتکم واقامة حدودکم، یعني که څوک د زنی مستحق ؤ دباندي تر مسجد به حد ورکوئ او توري له تېکي څخه کښلي مسجد ته مه داخلېږئ او دباندي تر مسجد د طهارت ځایونه یعني د اودسو لپاره جوړ کړئ، او خوش بویاني په ورځ د جمعې پکښي لګوئ، رواه ابن ماجه عن واصله مرفوعًا، او نهي کړي دي علیه الصلوة والسلام د غزلو په مسجدو کي یعني چي پر طریق لهو و لعب وي بخلاف الاشعار التي فیها بیان الامور الشرعیة وعن البیع والشراء فیها، یعني الا للمعتکف بدون حضور المبیعة المسجد او دغه رنګه نهي کړي دي علیه الصلوة والسلام د حلقه کښېنستلو په مسجد کي بلکي د صفو پر هیئت به کښېنئ، رواه ابو داؤد والترمذي، وعن انس رض قال رسول الله ﷺ عرضت علي اجور امتي حتی القذاة (یوه خاشه چي څوک له مسجد څخه وباسي یعني په دې کي خدای ج اجرت ورکوي) رواه ابو داؤد و الترمذي، وعن ابی هریرة رضی الله عنه چي تاسي و وینئ هغه مسلمانان چي په مسجد کي یا شی خرڅوي یا یې رانسي تاسي ورته وایاست لا اربح تجارتک، وقال الحسن رح اراد بها ای المساجد ټوله مځکه لقوله علیه الصلوة والسلام جعلت بي الارض مسجدًا (د لمانځه ځای) وطهورًا فلا تدعوا مع الله احدًا، واخرج ابن ابی حاتم من طریق ابی صالح عن ابن عباس رض قال قالت الجن اتأذن لنا ان اتا تشهد مسجدک في الصلوة، فانزل الله تعالی ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدًا.

درویش وایي: چي حاصل ددې دا دی چي جن ته یې اجازه ورکړه او دا طریقه یې ور وښوول فلا تدعوا مع الله احدًا.

وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ۝١٩

الضمیر للشان والضمیر کما اوتی الیه، هغه وخت چي ودرېږي عبد الله.

سوال: عبد الله لا رسول الله ولا نبي الله للتواضع لانه حکایته عن نفسه لانه من

جملة مايوحى اليه باعتبار العطف، وقال المجدد في مکتوباته العبودية اقصی مراتب الکمال، يا اشاره ودې ته ده چي عبد الله حقيقي بنده د خدای دی چي په دې کي اضافت د عبد و اسم اعظم ته د خدای چي الله عزوجل دی، کما في رد المحتار (تدعوه) حال من عبد الله ای يعبده ويذکره (چي د خدای عبادت به يې کاوه او د خدای ذکر به يې کاوه) کادوا يکونون عليه لبدًا، قريب ده چي دوی (ضمير د کادوا راجع دی و جن ته کما قال ابن عباس والضحاک و روح المعاني ای قرب الجن روح البيان) دا بيان دی د هغه حال چي عليه الصلوة والسلام و اصحاب کرامو ته د سهار لمونځ په بطن النخلة کي ورکاوه.

پوه سه: چي لبد جمع د لبدة ده لکه قرب چي جمع د قربة ده، لبدة هغه شي ته وايي چي يو پر بل سره پراته وي، ومنها لبدة الاسد يعني د زمري هغه وېښتان چي پراوږو يې يو پر بل سره سرېږه وي، يعني جنيات يو پر بل سرېږه به ولاړ وه تعجبًا لما شاهدوا من عبادته وسمعوا من قرائته واقتداء اصحابه به قيامًا ورکوعًا و سجودًا لانهم دوی يعني جنياتو وليدل هغه حالات د لمانځه چي دمخه يې نه وه ليدلي او وايې وريدی هغه کلام چي دمخه يې نه ؤ اوريدلی.

پوښتنه: وړاندي تېره سوه چي د بيت النخلة د سهار د لمانځه جنيات نهه (۹) کسه وه، نو دوی ولي يو پر بل سپرېده او دومره ازدحام يې ولي کاوه؟

ځواب: روح المعاني ددې په جواب کي وايي والظاهر انهم کانوا کثيرون د بيت النخلة د لمانځه په وخت کي لا تسعة انتهی، دا سوال روح البيان هم راوړی دی او جواب يې داسي ورکړی دی چي دوی يعني جن د يو جهت څخه را روان وه کرار کرار پسي ډېرېدله حتی کادوا انيکونوا عليه بعدًا.

درويش وايي: چي الحسن و قتادة و ابن زيد وايي ددې آيت په ترجمه کي لما قام عبد الله بالدعوة الی التوحيد کاد الجن والانس مجتمعين لابطال امره ليطفؤا نور الله بافواههم ويأبی الا ان يتم نوره وينصره علی اعدائه.

درويش وايي: چي په دې سره که څه هم هغه دمخه سوال دفع سو چي په بيت النخلة کي خو جن نهه کسه وه نو ازدحام ته څه حاجت ؤ لکه چي فقيل په نقل د قول د روح المعاني جواب ورکړی او روح البيان له خوا هم، لکن د الحسن وغيره پر تفسير د انه فتحه نه صحيح کېږي لانه ليس مما اوحی اليه کما يقضيه الفتح الا ان

يقال چي د دوی پر تفسير انه په کسره د همزه کلام مستانف دی يعني الواو للاستيناف لا للعطف، نو دا بيان دی د حال د تبليغ د عليه الصلوة والسلام کما قال هؤلاء، والله اعلم بالصواب.

قُلْ اِنَّمَآ اَدْعُوْا رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٠﴾

ته ورته ووايه يا رسول الله (ﷺ) چي په تحقيق زه عبادت د رب زما کوم او نه شريک کرځوم د خدای سره په عبادت کي هيڅ څوک يا هيڅ شی، نو تاسي ولي پر ابطال د کار زما چي په دعوت الاسلام سره جمع ياست، قال مقاتل چي کفار د مکي عليه الصلوة والسلام ته وويل لقد جئت بامر عظيم ای التوحيد فارجع عنه زمونږ غرض ستا خير دی، فنزلت هذه الآية ومابعدها، يا معنی دا ده چي قال عبد الله حين اشتاق الجن الی کلا په فقال لهم انما ادعوا ربي فادعوا انتم ايضًا کدعائي ولا تشرکوا به احدًا.

قُلْ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) و مشرکينو ته چي زه مالک نه يم ستاسي د ضرر او نه د هدايت.

پوهه: چي مراد دا دی چي زه مالک نه د نفع يم نه د ضرر او نه د نفع او نه د هدايت او نه د ضلال، يعني هذه الامور ليس في قدرتي بل بقدرة الله عزوجل لانه تعالی هو الضار النافع الهادي المضل، فترک من احد المتقابلين ما ذکر في الآخر يعني يعني د ضر مقابل چي نفع ده هغه يې نه کړه ذکر رشد دلالت پر کوي او د رشد چي معنی يې دلالت دی مقابل يې نه کړی ذکر ولي ضر دلالت پر کوي چي په معنی د ضلال دی.

درويش وايي: چي دا سي صنيع ته په اصطلاح د علم بيان صنعة احتباک وايي.

قُلْ اِنِّيْ لَنْ يُّجِيْرَنِيْ مِنَ اللّٰهِ اَحَدٌ ۙ

ته دوی ته ووايه چي هرگز ما نسي له عذاب څخه هيڅ څوک خلاصولای يعني که زه مخالفت وکړم له امر څخه د خدای او زه خدای ته شريک ووايم فرضًا، او يا معنی دا ده چي ما ته نجات نه سي راکولای له يو ضرر څخه چي د خدای په تقدير ما ته متوجه وي من مرض ای مرض کان او موت وغيرهما هيڅ څوک.

درویش وايي: چي دا حقيقت ايمان او اخلاص دی په توحيد کي اذ الاخلاص في التوحيد الاقبال الى الله عزوجل والاعراض عن من سواه فافهم.

وَّلَنْ اَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ﴿۲۲﴾

او هرګز زه نه سم پيدا کولای ما سوی له خدای عزوجل څخه ځای د پناه چي هغه ته زه ميل وکړم ان اراد الله بي سوء.

درویش وايي: چي په دې دوو جملو سره جواب دی د هغه قول د مکې والو چي عليه الصلوة والسلام ته به دوی وويل چي که ته نبي او رسول يې د خدای فأتنا بعذاب من عند الله، او يا کفارو به ده ته ويل ارجع عن دينک (يعني د توحيد دين پرېږده او خپل د اجداد دين ته را واوړه موږ تا ته د خير اراده لرو.

اِلَّا بَلٰغًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِسٰلٰتِهٖ ؕ

يعني بېله تبليغه له جانب څخه د خدای (ورسالاته) عطف على بلاغًا، والاستثناء من قوله لا املک فان التبليغ ارشاد، وما بينهما اعتراض مؤکد لنفي الاستطاعة فلا يلزم الفصل بين المستثنى والمستثنى منه بالاجنبي يعني لا املک لکم من دفع الضرر او ايصال الرشد الا التبليغ والرسالاته فاني املکه.

پوه سه: چي رسالات يې جمع راوړه له دې سببه چي رسالات انواع متعدده لري کما لايخفى.

وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ﴿۲۳﴾

او څوک چي عصيان نافرماني د خدای او له رسول څخه د خدای وکړي في الامر بالتوحيد ولم يؤمن به، نو په تحقيق دوی لره اور د جهنم دی خالدين فيها ابدًا دی، فيها ضمير راجع دی نار ته چي مؤنث سماعي دی او وروسته تر خلود يې ابدًا راوړی لپاره د تاکيد لان الخلود قد يطلق على المکث الطويل وان لم يدم، فدفع بالتاکيد ذالک التوهم.

حَتّٰۤى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ

تر هغو پوري چي دوی ووينې هغه شی چي د دوی سره يې وعده کړه کېده چي يا عذاب په دنيا کي لوقعة بدر و اما الساعة يعني ساعة الموت فان من مات فقد قامت قيامته.

پوه سه: چي حتى غاية ده لقوله تعالى يكونون عليه لبدًا چي معنا يې اجتماع د كفارو ده لابطال امر النبي ﷺ.

فَسَيَعْلَمُوْنَ مَنْ اَضْعَفُ نَاصِرًا وَّاَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾

ژر دى چي دوى به پوه سي (يعني چي عذاب پر دوى نازل سي اما في الدنيا و اما في الآخرة) چي څوک ډېر ضعيف دى په مرسته كونكو كي او لږ دى په عدد كي يعني دوى كفار اضعف ناصرًا دي او اقل عدد دى كه نبي الله ﷺ دى.

پوه سه: چي جمله استفهاميه يعني من اضعف آه قائم مقام د دوو مفعولينو د فسيعلمون دى، فقال الكفار متى هذا الوعد (اى وعد العذاب) ان كنتم صادقين فنزل.

قُلْ اِنْ اَدْرِىْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّىْٓ اَمَدًا ﴿٢٥﴾

ته ووايه (يا محمد ﷺ) دوى ته زه نه يم خبر (ان نافيه ده) دا چي نژدې (خبر دى د وروسته مبتداء يعني ما توعدون، چي ستاسي سره وعده كړه كېږي من العذاب او الساعة، او يا به وګرځوي زما رب د هغه ما يوعدون لپاره اجلاً زمان طويل لا يعلمه الا الله.

فائده: دا جمله استفهاميه قائم مقام د دوو مفعولو ده ان ادري چي معنى يې علم دى چي دوه مفعوله غواړي كما في النحو.

عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ﴿٢٦﴾

زما رب په غيب خبر دى، دا كلمه يا صفت د ربي ده يا خبر د مبتداء محذوفي دى اى هو. (فلا يظهر على غيبته احدًا) اى من الخلق يعني علم نه وركوي پر غيب خپل هيچا ته.

پوه سه: چي مراد له غيب څخه ما غاب عن الحس لكه ورود د عذاب پر كافرانو و ما غاب عن العقل الصرف لكه مثلاً الواحد نصف الاثنين يا اجتماع النقيضين محال دى چي عقل صرف پوهېږي يا بداهة لكه مثال اول او يا په دليل سره لكه مثال ثاني.

فائده: مراد له غيب څخه هغه شى دى چي تر اوسه نه وي پيدا لكه اخبار د معاد جسماني او العدم بعد الوجود كاخبار المبدء والقصص الماضية التي انقطعت الرواية

عنها، او يا هغه شي ي د بندګانو څخه غائب وي من اسماء الله تعالى وصفاته التوقيفية التي يدل عليه البرهان، واما قام عليه الدليل العقلي والبرهان النقلي لوجوده تعالى و وجوبه وتوحده وكونه متصفًا بصفات الكمال منزهًا عن سمات النقص والزوال دا د غيب څخه نه دى بلكې د شهادت څخه دى لشهود مايدل عليه من العالم..... بيت:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقى دفتريست معرفت كردگار

وكذا مسئلة حدوث العالم مثلاً ليس من الغيب بل من الشهادة ولي چي مشاهدة وهو تغير د عالم وكل متغير محدث، وهذه الاقسام من الغيب لايمكن العلم الا بتوفيق الله عزوجل، الدلائل القائمة عليها، او د اقسامو د غيب دى چي غيب دى بالنسبة الى بعض دون كاحوال الجن زموږ څخه غيب او جن ته ښكاره دى، او لكه د بعض الاشياء البعيدة موږ ته غيب دى او جن په خبر دى، او داغه رنګه احوال د آسمانو زموږ عامو خلګو څخه غيب دى دون اهل السموٰات يعني الملائكة واحوال اهل المشرق بالنسبة الى اهل المغرب غيب وكذا العكس، او دا قسم د غيب ګاهي حاصلېږي بالوحي والالهام الصحيح او ګاهي دا قسم د غيب حاصلېږي په رفع سره د حجاب، چنانچه روايت كړى دى مسلم له ابى هريرة رضي الله عنه څخه چي رسول الله ﷺ وويل ما قريشو ته وويل چي زه په شپه معراج ته ولاړم د كعبة الله څخه پر براق د بيت المقدس مسجد ته ورغلم .... بيت:

درآن مسجد امام انبياء شد ..... صف پشنيان را پيشوا شد

بيا آسمانو ته ولاړم، قريشو زما څخه سوال وكړى د احوالو د مسجد الاقصى چي زما خو ټوله په ذهن كي نه وه ثبت صرف دوه ركعته لمونځ مي پكښي كړى ؤ فكربت كربًا شديدًا فرفع الله بيت المقدس اليّ يعني حجابونه يې پورته كړه ما ورته كتل او قريشو ته مي بيانول، فليس هذا من علم الغيب بل علم المشاهدة، وروى البيهقي چي عمر رضي الله عنه يو لښكر استولى ؤ او هغه لښكر تر قومنده لاندي د سارية رضي الله عنه ؤ، نو په دې دوران كي عمر رضي الله عنه د جمعې د ورځي خطبه ويل بس نابېره يې نارې كړې يا سارية الجبل (لپاره د تحذير د غره يعني احد الجبل) قصه دا وه چي جنګ بين المسلمين والكافرين د غره په لمن كي جارى ؤ د كافرانو يوه ډله د غره د خوا راغله تا چي مسلمانان مابين ته سي، نو عمر رضي الله عنه د يا سارية الجبل نارې شروع

کړې، رواه ابی عمران، نو دا هم علم الغیب نه ؤ بلکې علم شهادت ؤ، ولې خدایؒ په خپل قدرت حجاب له سترګو څخه د عمرؓ لیرې کړی په سترګو یې له مدینې څخه سره د مسافة بعیده خپل لښکر په ولیدی، وما ذالک علی الله بعزیز.

إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ

(الا من ارتضی) عائد و من ته محذوف دی ای من ارتضاه، ولې خدایؒ ګاهي مطلع ګرځوي لیکون معجزة له وبشری للمطیعین وخدرًا للعاصین (من رسول) له رسول څخه مراد عام دی که بشر وي او که ملکي وي او رسول په دې ځای کې عام دی چې ټولو انبیاؤ ته شاملیدای سي لا بالمعنی الاخص ای من ارسله الله بشریعة جدیدة وکتاب لانه اصطلاح جدید بلکې قیل یشتمل الاولیاء بعموم المجاز، قال رسول اللهﷺ العلماء ورثة الانبیاء، وایضًا ورد بطرق عدیدة صحیحة العلماء مصابیح الارض بل ورد في حدیث انسؓ العلماء اسناء الرسل مالم یخالطوا السلطان ویداخلوا في طلب الدنیا، و اتفق اهل السنة والجماعة ان کرامات الاولیاء معجزة لنبیهم لانه قد حصل لاولیاء کرامات باتباع رسولهم.

فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا ﴿٢٧﴾

او ګرځوي د هغه شا وخوا ساتونکي (یسلک) ای یجعل، ذکر بعض الجهات والمراد جمیعها (رصدًا) جمع د راصد ده ای حفظة من الملائکة یحفظونه ای الرسول من الشیاطین ان یسترقوا السمع او یخلطوا بالوحي ما لیس منه، قال مقاتلؒ وغیره چې خدای عزوجل اتاه ابلیس في سورة ملک د هغه نبي سره به یې خبرې کولې فبعث من بین یدیه ومن خلفه (والمراد جمیع الجوانب) رصد له ملکو څخه فاذا الشیطان في صورة ملک رصد یې رسول ته خبر ورکړي چې دا شیطان دی فاحذره واذا جاء ملک اخبره الراصد هذا رسول ربک.

لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسَالَاتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ

پوښتنه: علم د خدایؒ خو ازلي دی فما معنی المضارع؟

ځواب: معناه لیتعلق علمه تعالی موجودًا او معناه لیمیز الله (ان) مخفف د مثقل دی اسم یې محذوف ضمیر شان دی (قد ابلغوا) دا خبر د ضمیر شان دی چې رسولانو

رسولی دی (رسالات ربهم) يعني هغه احکام وغيرها چي خدایؒ په را استولي وه بلا تغير ولا اخفاء بعضها (واحاط) ای الله عزوجل ای علم الله (بما لديهم) ای عند الرسل لانه تعالی لايخفی عليه شيئ في السمٰوات والارض ولو کان ذرة.

وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ﴿۲۸﴾

او د خدای عزوجل په علم کي محفوظ دی هر شی از روئ عدد.

فائده: عددًا تمييز محول له مفعول څخه دی چي کل شيئ دی نو عددًا معنًی مفعول دی ای احصٰی عدد کل شيئ من مثاقيل الجبال يعني فلانی غر څو مثقاله دی، ومکائيل البحار يعني فلانی درياب څو پيمانې دی، وعدد قطران الامطار وعدد ما اظلم عليه الليل واشرق عليه النهار والله اعلم.

درويش وايي: چي له تفسيره د سورة الجن د پنجشنبې په ورځ د ماپښين پر درې بجې په توفيق د خدای عزوجل فارغه سوم، و لله الحمد والمنة والصلوة والسلام علی سيد البرية وآله وصحبه البررة.

کچکول د فقر من العبد العاصي بانواع المعاصي الی حضرت عزيز الغفار.

الـهی عبدک العاصی اتاکا ..... مقرًا بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لذاک اهل ..... وان تطرد فمن يرحم سواکا

حاشا لجودک ان تقنط عاصيًا ..... الفضل اجزل والمواهب اوسع

چهار چيز اورده ام شاها که در کنج تو نيست

عاجزی و مسکينی فقر گناه اورده ام

زما د ټول عمر د خوشحالۍ ورځ به هغه وي

چي تفسير ايوبي برب الناس ته ورسيږي

مصرع: .... با کريمان کارها دشوار نيست

لسعت حية الهوی کبدی .... فلا دواء لها ولا راقی

الا الحبيب الذی شغفت به .... فعنده شفائی وترياقی

قال الله عزوجل فادعوني استجب لکم، ليلة الجمعة المبارکة شهر شعبان المبارک.

سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ عِشْرُوْنَ اٰيَةً فِيْهَا رُكُوْعَانِ

يٰٓاَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ ۙ﴿۱﴾

التزمل مشتق من تزمل عليه ثيابه اذا تلفف بها ثم ادغم التاء في الزاء، هذا الخطاب للنبي ﷺ في اول الوحي دمخه تر تبليغ د رسالت، وروسته بيا خطاب بالنبي و الرسول سره ورته كېدى.

درويش وايي: چې تړوله تفصيل ددې قصې به په سورة اقرأ كې راسي ان شاءالله تعالى.

قُمِ الَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا ۙ﴿۲﴾

اى صل، تعبير يې په قيام سره وكړى تعبيرًا عن الكل بجزئه وركنه، له دې څخه دا معلومه سوه چې قيام ركن د لمانځه دى.

پوه سه: چې الليل ظرف زمان د قم دى.

فائده: حرف جر يې ځني حذف كړى دلالت كوي چې قم الليل كله كما في قوله صمت الشهر فانه يدل على صوم الشهر كله بخلاف صمت في الشهر فانه يصدق بصوم بعض الشهر و ان كان يومًا او يومين او ثلثة مثلاً (الا قليلاً) مكر لږ.

درويش وايي: چې په (الاقليلاً) سره استثناء بقى الحكم بقيام بعض الليل چونكه استثناء مبهم ده نو په مستثنى منه كي هم ابهام راغلى فيكون قيام الليل چونكه مبهما اى لابد له من بيان فبينه الله سبحانه بقوله.

نِّصْفَهٗٓ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيْلًا ۙ﴿۳﴾

پوه سه: چې نصفه بدل دى من اللّيل المستثنى منه القليل بدل الكل، فتقدير الكلام قم بعض الليل اى نصفه (او انقص) عطف على قم الليل ياكم (منه) تر نصف (قليلاً) اى زمانًا قليلاً، نو قليلاً طرف زمان دى او نقصانًا قليلاً نو قليلاً مفعول مطلق دى يعني القيام دى اكثر تر نصف النصف اى.

اَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ۗ﴿۴﴾

اى على النصف يعنى ستا خوښه وي، فالمأمور به في هذه الآية اكثر من ربع الليل ولو ساعة كه څه هم يو ګړى وي، قال المظهري وغيره و الظاهر ان الامر

بالقيام (اى التهجد) في هذه الآية للوجوب كما هو المقتضى للامر المطلق من القرائن لغير الوجوب كما في قوله تعالى اذا صليتم (اى صلوة الجمعة) فانتشروا وابتغوا من فضل الله، فان الانتشار ليس بواجب كما لايخفى ومقتضى كلام البغوي ؒ وهو المستفاد من قول عايشة ؓ وغيرها ان قيام الليل بهذه الآية كان واجبًا على النبي ﷺ وامته ثم نسخ، قال البغوي ؒ كان النبي ﷺ واصحابه ؓ يقومون على هذه المقادر المذكورة نو يو سړی چي قيام به يې کاوه په دې نه پوهېدی چي ثلث الليل به كله وي او نصف الليل به كله وي ثلثان به كله پوره كېږي.

درويش وايي: چي په هغه زمانه كي ساعات مروجة اليوم نه وه او نه د زنگ چي سړی يې پر هر وخت برابر كړي زنگ ورته وهي لكه نن سبا چي دا آساني سته چي سړي ته نصف الليل او ثلث وغيرهما په معلومېږي، نو اصحابو ؓ احتياطًا تر سپېډو پوري په لمونځو د تهجد بخت وه واشتد ذالک عليهم حتى چي د ډېري ولاړي څخه يې پښې وپړسېدلې، نو خدای ارحم الراحمين پر دوی رحم وكړی وخفف عنهم ونسخ المقادير المذكورة بقوله عزوجل فاقرؤا ما تيسر منه او له اول څخه د سورة چي د قيام الليل په باره كي نصف الليل او ثلثه وغيرهما متعين تر اخير پوري چي نسخ وه يو كال تېر سو.

له سعيد بن هشام ؒ څخه روايت دی چي زه ورغلم سيدتنا عائشة ؓ ته فقلت يا ام المؤمنين انبئني (ما خبر كړه) عن خلق رسول الله ﷺ، قالت الست تقرء القرآن؟ (دې راته وويل آيا تا قرآن نه دی تلاوت كړی؟) قلت بلى (يعني د قرآن تلاوت كوم) قالت فان خلق نبي الله كان القرآن (اى العمل بالقرآن) قلت فقيام رسول الله ﷺ (يعني د قيام الليل خبر يې راته ووايه) يا ام المؤمنين قالت الست تقرء سورة المزمل؟ قلت بلى قالت فان الله افترض القيام في اول الامر اى في هذه السورة فقام رسول الله ﷺ واصحابه ؓ حولاً حتى چي پښې يې وپړسېدلې وامسک الله خاتمتها اثنى عشرة شهرًا ثم نزل التخفيف في اخير هذه السورة قصار قيام الليل تطوعًا بعده فريضته، رواه ابو داؤد والنسائي والبغوي وكذا اخرج الحاكم.

درويش وايي: چي مظهري چي دغه احاديث مذكوره يې هم روايت كړي دي خلاف د هغو څخه چي دی گويا د اجتهاد دعوه كوي والظاهر عندي الى اخير دعواه والله اعلم فقير عندي نه لري.

(ورتل القرآن ترتيلاً) عطف دی علی قوله قم الليل.

پوه سه: چي امر بالترتيل لپاره د ندب دی و الترتيل روح المعاني يې ترجمه داسي کړې ده على تؤدة په ارام سره او په مهلت سره وتبيين الحروف بحيث يتمكن السامع من عددها چي اورېدونکی يې قدرت د شمېر لري او په صراح کي چي د لغت کتاب دی وايي: الترتيل ارسال الكلمة من بسهولة واستقامة الحروف او قاموس يې هم ورته ترجمه کړې ده، او له ابن عباس رض څخه روايت دی بينه بيانًا او الحسن رح يې هم ورته ترجمه کړې ده، وعَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سُئِلَ أَنَسٌ كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: «كَانَتْ مَدًّا»، ثُمَّ قَرَأَ: {بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} يَمُدُّ بِبِسْمِ اللهِ، وَيَمُدُّ بِالرَّحْمَنِ، وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ رواه البخاري، ددې تفسير دا دی چي الف د لفظ الله به يې ښکاره ووايه او داغه رنګه الف د الرحمٰن بقدر حركة واما مد الرحيم فيجوز بقدر الحركتين في الوقف واما في الوصل فلا يجوز الا بقدر حركة، راوي چي د ام سلمة رض څخه پوښتنه وکړه د قرائت د النبي ﷺ فاذا هي تنعت قرائة النبي ﷺ مفسرًا حرفًا حرفًا يعني هر حرف به يې ښکاره وايه، رواه الترمذي و ابو داؤد والنسائي، او داغه رنګه له ابو داؤد څخه روايت دی ان النبي ﷺ كان يقطع القرائة يعنی يقول الحمد لله رب العالمين ثم يقف (يعني وقفة خفيفة) الرحمن الرحيم ثم يقف، رواه الترمذي، او داغه رنګه ترتيل حسن الصوت ته بقرائة القرآن ته هم وايي يعني لا على اوزان الموسيقي فانه حرام، د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی قال قال رسول الله ﷺ يقال يعني يوم القيامة لصاحب القرآن ای حافظه اقرء يعني القرآن او لوړ ځه ورتل كما كنت ترتل في الدنيا فان منزلتک عند اخير آية تقرئها، رواه ابو داؤد و احمد والترمذي والنسائي.

پوه سه: چي حكمت په ترتيل کي دا دی چي که قاري په معنی د قرآن پوهېدی (يعني لا كعوام العجم) فكر به په معاني ؤ ددې قرآن او په الفاظو بليغه ؤ کي د قرآن وکړي، والخوف عند آية الخوف والرجاء عند آية وعد الله بالجنة والثواب وکړي، وعن عبيد المليكي رح وكان له صحبة قال قال رسول الله ﷺ يا اهل القرآن لاتتوسدوا القرآن، قرآن بالښت مه ګرځوه، واتلوه حق تلاوته ای ساعاته اناء الليل واناء النهار يعني په ساعات د شپې او ورځي وتغنوه.

درويش وايي: چي مراد له غنّٰی څخه الصوت دی لا الغناء على اوزان

الموسيقي فانه كمامر حرام وتدبروا ما فيه لعلكم تفلحون، وعن ابن سعد الساعدي قال بينا نحن نقرء القرآن چي ناڅاه عليه الصلوة والسلام راووتى فقال الحمد لله كتاب الله واحد وفيكم الاخيار اى العلماء بالقرآن وفيكم الاحمر والاسود والابيض يعني په رنګ، الى اخير الحديث.

إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ۝

موږ به وحي وكړو تاته يا محمد (ﷺ) قول چي دروند دی.

پوه سه: چي په مراد كي د قول ثقيل اختلاف دی، بعض مفسرين وايي چي له قول ثقيل څخه مراد الامر بقيام الليل دی ولي قيام الليل دروند دی پر نفس، نو پر دې دا جمله تاكيد دی د ما سبق يعني قم الليل آه.

سوال: سين خو لپاره د استقبال قريب دی او سره ددې چي قم الليل خو دمخه تېر سو؟

ځواب: نحات وايي چي سين لپاره د تاكيد هم راځي، وقيل المراد به القرآن والاستقبال على معناه لان القرآن لم ينزل دفعة قال محمد بن كعب رح القرآن ثقيل على المنافقين، والمشركين كما في قوله تعالى ثقل على المشركين ماتدعوهم اليه والثقل على المنافقين بالطريق الاولى لان المنافقين اغلظ في الكفر من المشركين، وقال الحسن رح بن الفضل ثقيل في الميزان يعني قرائة القرآن ثقيل في الميزان حين يؤذن الاعمال كما ورد في الحديث الاخير من البخاري، قال رسول الله ﷺ كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان حبيبتان الى الرحمٰن سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم، وقال مقاتل رح ثقله اى القرآن لما فيه من الامر والنهي والحدود كحد الزنى والسرقة واليه ذهب قتادة رح ايضًا، وقال ابو العالية ثقيل لما فيه من الوعد والوعيد.

فائده: حاصل ددې اقوالو دا دی لما فيه من التكاليف الشاقة والوعد والوعيد و ذكر القيامة ثقيل على المكلفين خصوصًا على النبي ﷺ ولي چي پر ده مبارک يو وار تحمل ؤ د قرآن بيا يې رسول و امت ته وه، وثقل نزول القرآن على النبي ﷺ يفهم من قوله تعالى: لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ. آه، وعن

عبادة بن الصامت رضي الله عنه كان رسول الله ﷺ اذا نزل الوحي كرب اليه (يعني اضطراب به ورپيښ سو) وتربد وجهه (مخ مبارک به يې متغير سو) وفي رواية چي بعض اوقات به وحي نازليدې عليه الصلوة والسلام به سر کښته وځړاوه او اصحابو رضي الله عنهم به هم سرونه کښته وځړول فانقض الوحي، او په بخاري او مسلم کي عن عائشة رضي الله عنها ان الحارث بن هشام رضي الله عنه سئال رسول الله ﷺ وقال يا رسول الله كيف يأتيک الوحي قال رسول الله ﷺ يأتيني احيانًا مثل سلسلة الجرس (لکه پرله پسې اواز د ږنګولې وهو اشد عليّ (دا پر ما ډېر سخت وي) فيصم عني وقد وعيت، بيا هغه سلسلة الجرس قطعه سي ما له هغه ځخه مانزل من القرآن فهمولی وي، وقد يأتني الملک يعني جبرئيل عليه السلام په صورت د رجل زما سره خبري وکړي نو زه ضبط کړم کما يقول، وعن عائشة رضي الله عنها لقد رئيته اى النبي ﷺ ينزل عليه الوحي في اليوم الشديد البرد يعني په داسي ورځ چي سخت يخ ؤ فيفصم (وحي به قطع سوې) وان جبينه يتفقد عرقًا (تر تندي به يې خوله بهېدله (يعني ثقل الوحي) متفق عليه.

قال الكاشفي رحمه الله درويش وايي: چي حين نزول وحي بر آنحضرت ﷺ بر آن که مذکور شد (يعنی درحديث عائشة رضي الله عنها) اگر بر شتر سوار بودی دست وپای شتر خم گشتی و اگر تکيه بر ران يکی از ياران داشتی خوف شکستن آن بودی و درآن محل روی گل برگ آنحضرت ﷺ متغير ميشدی، انتهی.

إِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ أَشَدُّ وَطْأً وَأَقْوَمُ قِيلًا ۝

په تحقيق قيام د شپې.

پوه سه: چي ناشئة مصدر دی پر وزن د فاعلة دی کالعافية بمعنى العفو كذا قال الازهري، وقالت عائشة رضي الله عنها الناشية قيام الليل بعد النوم، وهذا هو معنى التهجد، وقال ابن الكيسان هي قيام الليل آخيره يعني چي وروسته بيا بيده نه سي بلکې تر صبح پوري ويښ وي، وقال سعيد بن جبير رحمه الله وان زيد اى ساعة من الليل قام فقد نشاء، وقال عكرمة رضي الله عنه هي القيام من اول الليل اى بعد النوم سويعة.

درويش وايي: چي روح المعاني ناشية مصدر نه بولي لقوله اى النفس التي تنشاء من مضجعها الى العبادة يعني ناشئة صيغه د اسم فاعل ده موصوف يې نفس دی چي مؤنث سماعي دی واكثر اللغويين ان هذه الكلمة بهذا المعنى عربية وقيل حبشية

والظاهر هو الاول (اشد وطئًا) الوطئة الموافقة ته وايي يعني سخت دی موافقة القلب مع اللسان، له دې سببه چي د خلګو اصوات او خبري نه وي چي زړه په بند سي.

درويش وايي: چي دا معنى مبني ده پر قرائت د ابو عمرو او ابن عامر﷬ چي دوی دا لفظ بكسر الواو وبفتح الطاء والمد وايي، او د جمهور پر قرائت چي بفتح الواو وسكون الطاء وايي، نو بيې معنى دا ده اشد ثقلاً من صلوة النهار لان الليل للنوم والراحة نو سړی چي اشد العبادات ثقلاً مع مراعات السنة چي مختاره کړي كان اشد ثوابًا واشد تأثيرًا والنفس واثقل في الميزان يوم القيامة.

درويش وايي: چي د مظهري ضد و نقيض يو د بله سره مه ګوره ولي سړی حيرانوي چي د اشد وطئًا تفسير په كوم تفسير چي ده رانقل کړی دی و کړم ولي يو د بل سره ضد او نقيض دی فطالع التفسير المظهري في هذه الآية حتي يظهر لک صدق ما قلنا، وقال ابن زيد في تفسير وطئًا افرغ له بالنسبة الى النهار لانه تعرض له ای للمصلى حوائج و موانع كما في النهار، وقال الفراء اثبت وطئًا واسهل للمصل من ساعات النهار لان النهار خلق لتصرف العباد في الامور الدنيوية، والليل خلق للخلوة مع الاحباء والعبادة للمحبوب الحقيقي جل سلطانه ويظهر هذا للصوفي الحقيقي.

(واقوم قيلاً) ای اثبت قرائة للقرآن بسكون الاصوات بخلاف النهار كما يدل عليه التجربة.

إِنَّ لَكَ فِى ٱلنَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ۝٧

په تحقيق تا لره يا محمد (ﷺ) چابک تګ په خپلو مهماتو لکه دعوت د خلګو و توحيد ته و تبليغ الاحكام الى الخلق والاشتغال بورود الخلق للمناظرات والشغل ببيعة الناس وغيرها، نو له دې كبله د تهجد و لمانځه ته مخ راواړوه لان الليل افرغ من المشاغل المذكورة دا جمله تعليل د ما سبق يعني من قوله قم الليل الآية.

درويش وايي: چي مختصر بيان د فضائل د صلوة الليل ذا دی عن ابی هريرة﷠ قال قال رسول الله ﷺ قال ينزل ربنا كل ليلة الى سماء الدنيا (هذه الكلمة من المتشابهات) حين يبقى ثلث الآخير ويقول من يدعوني فاستجب له من يسئلني فاعطه من يستغفر فاغفر له، متفق عليه، وعن جابر﷠ قال سمعت رسول الله ﷺ ان في الليل ساعة لايوافقها پر هغه ساعت نه برابرېږي عبد مسلم چي سوال و کړي په

هغه ساعت د يو خير له امورو څخه د دنيا او د آخرت مګر خداى ؒ هغه خير ورکوي، رواه مسلم وعن عبد الله بن عمرو ؓ قال قال رسول الله ﷺ چي هغه محبوب د لمونځو د خداى عزوجل په نيز لمونځ ؤ د داؤد ؑ او محبوب د روژو عند الله صيام ؤ د داؤد ؑ چي لمونځ يې دا ؤ چي تر نيمي شپې پوري بيدېدى او تر ثلث د شپې يې تهجد کاوه او بيا سدس الليل بيرته بيدېدى (يعني حتى يطلع الفجر) او روژې يې داسي چي يوه ورځ بې روژه وه بله ورځ بې خوړله.

درويش وايي: چي تر همېشه روژې دا د داؤد ؑ روژې ډېري سختي وې، ولي چي د همېشه روژو سره سړى عادت کېږي، وعن ابى امامة ؓ قال قال رسول الله ﷺ عليكم بقيام الليل چي دا له عادت څخه د صالحانو وه تر تاسي د مخه وهو قربة لكم الى ربكم (او قيام الليل نژدې والى ستاسي و رب ته يعني سبب د نژدې والي بلا كيف و خداى ؒ ته) ومكفرة للسيئات (او سبب د بخښني د ګنهو ستاسي دى) ومنهيات الاثم (او له ګناه څخه مو منع كوي) رواه الترمذي، وعن ابى سعيد الخدري ؓ قال قال رسول الله ﷺ ثلاثة يضحک الله منهم (من المتشابهات والتأويل يظهر الرضى منهم) الترسل اذا قام بالليل (قيد د ترسل اتفاقي) والقوم اذا اصطفوا في الصلوة (مسلمانان چي په لمانځه كي) واذا اصطفوا في قتال العدو، رواه البغوي في شرح السنة، وعن عمرو ابن عيينة ؓ قال قال رسول الله ﷺ اقرب مايكون الرب من العبد في جوف الليل الآخير فان استطعت انتكون ممن يذكر الله في تلک الساعة فكن، رواه الترمذي، وعن ابن عباس ؓ قال قال رسول الله ﷺ اشرف امتي حملة القرآن (اى المحافظين لكتاب الله) واصحاب الليل (اى المتهجدين) رواه البغوي في شعب الايمان.

درويش وايي: چي كافي ده مؤمنانو لره دغه مقدار د احاديث صحيحه ؤ په فضيلت كي د قيام الليل، ومن الله التوفيق لما يحب اليه ويرضىٰ.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا ﴿٨﴾

او دوام كوه يا محمد ﷺ.

فائده: تفسير مونږ په دوام سره وكړى لانه عليه الصلوة والسلام لم يكن غافلاً عن ذكره تعالى.

فائده: مراد له دوام څخه دوام عرفي دى لا الحقيقي لعدم امكانه كما في روح

المعاني، والحاصل همېشه توب كوه پر ذكر د خداى عزوجل ليلاً ونهارًا پر هره وجه چي وي من تسبيح (سبحان الله) وتهليل (لآ اله الا الله) و تحميد (الحمد لله) وصلوة وقرائة القرآن و دراسة علم خصوصًا د سهار تر لمانځه وروسته وقبل غروب الشمس فانهما من ساعات الفتح والفيض.

فائده: ذكر الله على الدوام من وظائف المقربين سواء كان قلبًا كما هو وضيفة النقشبنديين او لسانًا كغيرهم او اركانًا (په اعضاؤ سره) وسواء كان قيامًا او قعودًا او على جنب.

فائده: حالات د ذكر چي يې عام كړه تا چه دوام عرفي امكان پذير سي، والانصاف ان ذكر القلب رئيس الاذكار كما ان القلب رئيس اعضاء الجسد قال رسول الله ﷺ ذاكر الله في العاملين بمنزلة الصابر في الغازين (يعني لكه صابر په جنگ كي د كفارو) او فرار كونكى له جنگ څخه چي په لمانځه كي سودا او فكر د بل شي ورسره وي من امور الدنيا لايعتد به، كريمه: ويل للمصلين الذين هم عن صلاتهم ساهون (اى غافلون)

دروېش وايي: چي فكر په لمانځه كي د داسي شي كه ؤ چي هغه هم عبادت وي لمانځه ته تاوان نه كوي لكه يو سړى چي په لمانځه كي فكر وهي چي حج يا عمرې ته تللى واى، والدليل على ذالک چي په فاروق نامه كي (چي د يو كتاب نوم دى) وايي چي امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه چونكه د غزواتو ډېر شائق ؤ په خپله دى وايي د الفاروق په حواله چي زه چي پر لمانځه ودرېږم يعني خفيه لمونځ دا فكر وهم چي پر فلاني جهت به په خپله جهاد ته تللى واى يا دي يو سړى استولى واى، چنانچه ددې شاهد دا دى چي ده يوه سريه استولې وه مشريې ساريه رضي الله عنه ؤ، ورځ د جمعې وه چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه پر خطبه ولاړ ؤ په منځ كي د خطبې يې نارې كړې يا سارية الجبل الجبل ساريه رضي الله عنه هم د عمر بن الخطاب رضي الله عنه دا ناره واورېدله، لښكر ته يې حكم وكړى چي غره ته پورته سئ چي امير المؤمنين د غره له خوا څخه د خطر نارې وهي، او داغه هم وه چي كافرانو د غره له خوا د حملې لپاره ځانونه چمتو كړي وه او سره ددې چي له مدينې منورې څخه د جنگ تر ځايه ځو فرسخه مسافت ؤ.

دروېش وايي: چي دا موجوده حكايت كرامت ؤ د امير المؤمنى عمر رضي الله عنه او

معجزه وه د آنحضرت ﷺ کما تقرر في کتب العقائد، وفي المثنوي:

اولیا را هست قدرت ازاله ..... تیر برجسته بگرداند زراه

نو سلفیان چي پر باطل مذهب دي او خپل د مشائخو ورته کارونه یې نه دي لیدلي نو دوی دغه زموږ حکایات صحیحه پر کذب حمل کوي، رغم الله انفسهم کیف یحکمون، وقیل قل بسم الله الرحمن الرحیم عند ابتداء قرائة القرآن.

الفتوی: اجماع د علماؤ ده چي قرائة د بسم الله آه في اول الفاتحة واجب ده، او داغه رنګه واجب ده بسم الله د هر سورت سره چي قراي له هغه څخه ابتداء د قرائت کوي، واختلفوا في التسمیة بین السورتین وهذا الاختلاف بین ائمة القرائة فانظر في علم القرآءت.

(وتبتل الیه تبتیلاً) یعني ځان قطع کړه له ماسوا څخه د رب جل وعلا.

پوه سه: چي تبتل باب د تفعل دی او تبتیلاً مصدر دی د باب، نو تبتیلاً مفعول مطلق دی من غیر بابه العامل فیه.

سوال: اصل مصدر د باب د تفعل یې ولي نه راوړی؟

ځواب: رعایة للفواصل (ای الاواخر الآیات التي هي من المحسنات) والمنی القطع الی الله انقطاعًا تامًا بالعبارة واخلاص النیة والتوجه الکلي الیه، وبالفارسیة یعنی نفس خود را از ریشه ما سوی الله مجرد ساز و از همگی رود روآر.

دل درو بند واز همه بگسل .... هر چه غیر اوست بدر کن ازدل

پوه سه: چي تبتل کسبي شی دی مرتب دی پر تبتیل، فهو ای التبتیل مقدم علی التبتل، او الحسنؒ په تفسیر کي د تبتل وایي اجتهد، او ابن زید وایي چي د تبتل معنی دا ده چي رخصت ورکړه و دنیا ومافیها ته و التماس ما عند الله.

فائده: له تبتل څخه مراد دا نه دی چي د خلګو سره ملاقات پرېښول سي یا تقصیر کول په حقوقو کي د اقاربو خصوصًا ذوی الرحم یا قطع د صلة الرحمن یا عیادت د مریض و لو کان اجنبیًا، یا ترک د بیع او شراء لنفقة العیال لان هذا یقال رهبانیة ولا رهبانیة، کریمه: ورهبانیة ابتدعوها ما امرنا الله الآیة، وقد جاء في الحدیث الصحیح حین سئل عثمان بن مظعونؓ رسول الله ﷺ في امور کانت عن قسم الرهبانیة ان لنفسک علیک حقًا ولاهلک علیک حقًا ولضیفک علیک حقًا

فاعط كل ذی حق حقه، بل المراد قطع العلاقة الحسية والعلمية عن القلب، وللصوفية في التبتل كلمات طويلة دقيقة، وقيل في معنى التبتل شعر:

دل درو بند و از همه بگسل .... هرچه غیر اوست بدرکن از دل

وهذا معنی قول الصوفية الطريق الذي نحن بصدده... قطعه:

خطوتان المخطوة الاولى الانقطا عن الخلق والثانية الوصول الى الحق واحدهما لازمة للاخرٰی، ثم اورد المظهري كلامًا طويلاً كما هو دابه لافائدة فيه الا تحيير المتكلم.

رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا ۝

چي دی خالق د مشرق او مغرب (والمشهور المشرق والمغرب للشمس، ويحتمل المشرق والمغرب لكل كوكب له طلوع و غروب) نسته معبود بالحق لا في الذات ولا في الصفات او نه په معبوديت بيله ده، الفاء في (فالتخذه) للسببية يعني اذا كان الامر كذالک يعني كونه ربًا لجميع المخلوقات وتوحده بالالوهية ددې تقاضا كوي چي انسان دې ټوله د دنيا او آخرت كارونه ده ته وسپاري.

پوه سه: چي رب المشرق والمغرب مبتداء ده خبر يې (لآ اله الا هو) دی.

فائده: په دې آيت كي دفع د توهم ده چي له خلكو څخه بعض امورو ته د ژوندانه خلل ور رسوي، ولي چي انسان په امورو كي د تعيش يو وبل ته چاره نه لري كما لايخفٰى ويدل عليه التجربة، نو خدای عزوجل دا توهم باطل وګرځاوه، وجه د بطلان يې دا ده چي رب جل وعلا رب دی د مشرق او مغرب ومابينهما من البلاد والقرى والصحارى ومافيها من المخلوقات ومناقبهم وافعالهم والقلوب ټوله دده په قبضه كي د قدرت دي يصرفها كيف يشآء هيڅ نفع او هيڅ ضرر نسي رسولای عن احد الى غيره تعالى بيله اذنه او ارادې دده، نو فاتخذه وكيلاً حسبک عن غيره نعم المولى ونعم الوكيل، وعن ابی ذر رضی الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم ان الذهادة في الدنيا ليس بتحريم الحلال كما يقول احد پر ماې د پسه غوښي حرامي، واضاعة المال يا مال ضائع كول، ولكن الذهادة والدنيا ان لاتكون بما في يديک اوثق بما في يد الله ای قدرته او چي مصيبت درورسيږي ارغب يعني ډېر رغبت مه كوه ددې چي نه وای را رسيدلی لان ثوابها اعظم، هذا حاصل ما في الترمذي، قال شيخنا الاجل امامنا وقبلتنا المعروف

الكرخي رحمه الله ان من اول هذه السورة الى هذه الآية اشارة الى مقامات السلك (جمع د سالک ده) من الخلوة بالليل والاشتغال بقرائة القرآن وذكر الرحمن ونطى ماسواه والتوكل عليه ثم اشار الى اعلى مقامات السلوك هو الصبر على جفاء الاعداء.

وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًا ۝۱۰

نو ته صبر وكړه پر هغو خبرو چي قريش يې كوي (من الخرافات في حق الله تعالى من الشريک في الالوهية والصاحبة والولد، او ستا په حق كي من الشاعر والكاهن والساحر وغير ذالک نعوذ بالله من كلها) او ته خداى مختار كړه له دوى څخه يعني مه ورسره كښېنه او مه د دوى د خبرو جواب وركوه مكافاتًا او وسپاره امور د دوى و خداى عزوجل ته فانه تعالى نعم المولى ونعم النصير وبكل مايقولون في حقي وحقک خبير.

فائده: دا آيت منسوخ دى په آيت القتال سره.

وَذَرْنِىْ وَالْمُكَذِّبِيْنَ اُولِى النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًا ۝۱۱

او ما پرېږده اى مع المكذبين يعني الواو بمعنى مع، ويجوز انيكون يعني ته وسپاره امور د دوى و ماته فان لي غنية في مجازاتهم عنک يعني ته فارغ البال كښېنه ولي زه د دوى په مكافات تا ته ضرورت نه لرم (او النعمة) چي دوى خاوندان د نعمت دي او په هغو نعمتو غره دي او مهلت وركړه دوى ته قليلاً، كه ظرف سي معنى يې زمانًا قليلاً او كه مفعول مطلق سي نو معنى دا ده امهالاً قليلاً وعلى التقديرين معنى دا ده چي موږ تا ته امر د قتال د دوى دركوو ليعذبكم الله بايديكم ويشف صدوركم مؤمنين، قال مقاتل بن حبان نزلت في قوم من المشركين قتلوا ببدر وعندي العموم افضل كما لايخفى.

اِنَّ لَدَيْنَآ اَنْكَالًا وَّجَحِيْمًا ۝۱۲

په تحقيق زموږ په نيز، دا جمله دليل دى د في قوله ومهلهم قليلاً (انكالاً) جمع د نكل ده چي قيد ثقيل ته وايي يعني د اور (وجحيمًا) او دوږخ او اور دى.

وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا اَلِيْمًا ۝۱۳

او خواړه دي چي د ډېري لوږي په خوله كي نه كښته تېرېږي او نه پورته راوزي،

بعض راویان وايي چي دا خواړه د درختي د زقوم دي، او بعض مفسرين وايي چي دا ضريع دي، واخرج عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ الضريع شيئ في النار چي مشابه د ځوز سره دی چي بد بوی يې دی تر هري بدي جيفه او تر اور ډېر تود دی چي کافر ته يې په خوله ورچخ کړي نه ونس ته شوه کېږي او نه خولې ته راپورته کېږي.

فائده: اخرج ابن الدنيا عن حذيفة رض چي مراد له عذاب اليم څخه ماران او لړمان د اور دي چي خدای ج عذاب اليمًا وباله تر مذکوره نورو عذابونو يې د دې څخه د شدائدو اندازه معلومه کړه، واخرج مسلم عن ابی سعيد الخدري رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ ان اهون اهل النار (چي هغه سپک د اهل النار از روئ عذاب) چي دده په پښو چوټې وي چي پاډې يې پر پښه تړلي وي د اور يعني چي نور جسد يې اور نه وي د هغو چوټو په سبب دده په سر کي ماغزه ايشي لکه په کټو کي چي اور ترلاندي وي او غوښي وغيره کښته پورته پکښي اوړي.

يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾

هغه ورځ چي زلزله او په ښوريدو وي مځکه او غرونه.

فائده: رجفه د مځکي او غرونو دمخه ده تر نفخة الاولی د اسرافيل عليه السلام.

پوه سه: چي مفسرين وايي چي يوم ظرف دی لقوله تعالی ان لدينا انکالاً.

سوال: زمانه د ظرف او مظروف خو سره يوه وي او سره ددې چي ان لدينا انکالاً په قيامت کي دی او رجفة الارض والجبال قبل النفخة الاولی، فأين الظرفية فيها؟

ځواب: ان يوم القيامة يوم ممتد مما قبل النفخة الاولی الی لايدخل اهل الجنة الجنة واهل النار النار فيتجد زمان رجفة الارض والجبال وزمان ان لدينا ابکالاً آه، فيتدبر غاية التدبير هداک الله تعالی.

(الجبال کثيبًا مهيلاً) عطف علی ترجف، اخرج ابن ابی حاتم عن ابن عباس رض ای رملاً سائلاً چي په ښتو يې ريګ روان بولي، او الکلبي رح وايي چي دا هغه رمل دی چي ثابت پروت وي چي يو مټ ځني واخلي نور پسي راوښوېږي.

إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَاهِدًا عَلَيْكُمْ

په تحقيق موږ در استولی تاسي ته يا اهل مکة (رسولاً) يعني محمد ﷺ په داسي حال کي چي پر تاسي به شاهدي اداء کوي چي تاسي يې اجابت وکړي او که امتناع.

سوال: عليه الصلوة والسلام خو ټولي نړۍ والو ته را استول سوى ؤ؟

ځواب: مكه چونكه ام القرىٰ ده نو ارسال و مكې والو ته ارسال دى ټولو نړۍ والو ته كما صرح به في قوله تعالى وما ارسلناك الا كافة للناس.

درويش وايي: چي روح البيان بلكې اكثره مفسرين وايي د شاهدًا په معنى كي اى في يوم القيامة لكن دلته دا توهم پيدا كيږي چي د رسالت دده يعني د تبليغ د احكام الله و خلګو ته خو دنيا او زمانه د شهادت دده پر امت بالاطاعة والانكار، نو ورځ د قيامت ده فلا يتحد الزمانان؟

ځواب: دا آيت له قبيل ځنځه د هغه آيت دى چي كافرانو ته وايي فادخلوها خالدين يعني خلود خو په وخت كي د دخول نه دى، نو مفسرين په يوه خوله وايي اى مقدرين الخلود فيها، نو دلته هم دډې آيت معنى دا ده انا ارسلنا اليكم رسولاً مقدرًا شهادة عليكم في يوم القيامة والله اعلم بمراده في كتاب.

كَمَآ اَرْسَلْنَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا ﴿١٥﴾

لكه موږ چي استولى ؤ فرعون ته يعني و قوم ته دده رسول يعني موسىٰ.

پوه سه: چي كما ارسلنا صفت د مصدر محذوف دى يعنى ارسالاً الى اهل مكة محمد (ﷺ) كما ارسلنا الى فرعون وقومه موسى عليه السلام.

فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ فَاَخَذْنٰهُ اَخْذًا وَّبِيْلًا ﴿١٦﴾

نافرماني وكړه فرعون د رسول يعني موسىٰ، نو ونيوى موږ دى يعنى عذاب پر نازل كړى په اخذ شديد ثقيل سره فادخله في البحر ثم ادخل في النار.

فائده: ماده د وبيل لپاره د ثقل ده مثل طعام وبيل اى ثقيل على العدة چي هضم كيږي نه والوبل من المطر الثقيل منه.

فَكَيْفَ تَتَّقُوْنَ اِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَّجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيْبًا ﴿١٧﴾

نو څرنګه به ځان ساتي له عذاب ځنځه د خداى كه تاسي پر كفر باندي دوام وكړئ يا اهل مكة (يومًا) اى عذاب يوم (فيجعل الوالدان) دا جمله منصوب محلاً صفت ده يومًا دى والعائد محذوف اى فيه، والمعنى چي وكړ ځول كيږي ځوانان يا هلكان چي وېښتان يې سپين سي من شدة اهوال ومخاوف ذالک لان الشيب يسارع عند تفاهم المصائب يا له جهته ځنځه د طول دډې ورځي.

فائده: بعض مفسرين وايي چي دا محمول پر حقيقت دى ويؤيده ما قال في الكشف چي يو سړى دى چي وېښتان يې لكه د كارګه بوڼكي تک تور وه سهار چي راكښېني د ډېري او د سر وېښتان يې تک سپين وه، چا پوښتنه ځني وكړه چي دا ولي؟ ده په جواب كي ورته وويل چي زه بېګاه بيده سوم ورځ د قيامت مي په خوب وليده او جنت او دوږخ مي وليدل او بعض انسانان ملكو په ځنځيرانو د اور دوږخ ته كشول فلأجل ذالک الحال اصبحت كما ترون يعني چي وېښتان مي ټول سپين دي.

پوښتنه: ايصال الضرر الى الصبيان غير جائز يوم القيامة بلكې دوى له جهت څخه د غير مكلفيت مخصوصول من كل ضرر وعن كل خطر؟

ځواب: په قيامت كي چي هغه شدائد او اهوال وليدل سي چي پر انبياء عليهم السلام پر زنګنو كښېني فما ظنک بغيرهم من الاولياء والشيوخ والصبيان .... بيت:

بروزى كه دهشت خورد انبياء ..... تو عذرى ګناه را چه دارى بيا

او بعض مفسرين وايي چي آية محمول دى پر تمثيل او مجاز واليه ذهب المظهري، له ابى سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دى عن النبي ﷺ يقول الله تعالى يا آدم فيقول لبيک وسعديک والخير كله بيديک اخرج عن ذريتک بعث النار (جلا كړه ستا له اولاد څخه حصه د اور) آدم عليه السلام ورته وو ايي چي څومره حصه د اور، خداى پاک ورته وو ايي چي په زر نفره كي نهه سوه نهه نيوي (۹۹۹) عليه الصلوة والسلام وويل چي په دغه وخت كي سپين ږيرى كېږي صغير يعني له ډېره خوفه څخه او كه حامله ښځه وي هغه حمل وغورځوي، وترى الناس سكرٰى (يعني چي شراب يې څښلي وي مست وي) وما هم بسكارٰى (اى حقيقةً) لكن عذاب الله شديد، صحابه كرامو چي دا خبره واورېده قالوا اينا ذالک الواحد، د دوى دا خيال سو چي په مؤمنانو كي ورته حساب جاري دى، قال[٢] ابشروا (خوشحاله اوسئ) فان من يأجوج و مأجوج (قومان عظيمان من كفرة الدنيا وراء السد السكندري) الف ومنكم واحد، عليه الصلوة والسلام نور زېرى د خوشحالى پر وكړه، والذي نفسي بيده (اى بقدرته) ارجوا ان تلونوا ربع اهل الجنة صحابة رض الله اكبر ووايه د ډېري خوشحاليه، ثم قال مبشر الاعظم ﷺ اني ارجوا ان تكونوا ثلث اهل الجنة فكبرنا، فقال ابى ارجوا ان تكونوا ثلثًا اهل الجنة فكبرنا.

درويش وايي: چي دا زېرى مكرر روح الامين ورته راوړى فقال ما انتم في

الناس كشعرة السوداء في جلدة الثور الابيض او كثرة بيضاء في جلدة ثور اسود، متفق عليه دا جمله صفت دى ليوم والعائد غير المجاز كما في قولهم صام نهاره او العائد محذوف وتقديره يوم يجعل فيه الولدان فيه.
درويش وايي: چي په صحيح خبر كي راغلي دي چي ټوله جنتيان د ټولو امتو به يوسل وشل (۱۲۰) صفه وي (وطول الصف لايعلم الا الله تعالى) په دې (۱۲۰) صفه كي به اتيا (۸۰) امت د عليه الصلوة والسلام وي او څلوېښت (۴۰) صفه نور امتونه وي، اتيا دوه ثلثه د څلوېښت دي.
درويش وايي: چي عقل شاهد د نقل مذكور من كثرة تعداد اهل جنت من هذه الامة يعني الذكور والاناث دليل يې دا دى چي عليه الصلوة والسلام مبعوث سو اديان سابقه ټوله منسوخ سوه، نو چي عليه الصلوة والسلام يې په نبوت ونه منى هغه ټول كافران اهل النار دي، او بل دا چي عليه الصلوة والسلام مأمور بالجهاد دى د جهاد په وجه په لكاوو كسان له كفر څخه خارج په اسلام كي داخل سوه، وهكذا في زمن الخلفاء الراشدين ﷺ په لكاوو كسان په اسلام كي داخل سوه چي دا ټوله اهل جنت دي ثم وثم الى نفخ الصور اهل جنت مخ پر زياتيدو دي او اهل النار تقريبًا وعدم التناهي ته نژدې كيږي په سبب د عدم قبول د دين د اسلام يومًا په يومًا فتدبر فهذا سانح عزيز قل من نبه عليه والله الموفق والحمد لله رب العالمين.
السَّمَآءُ مُنْفَطِرٌۢ بِهٖ ؕ كَانَ وَعْدُهٗ مَفْعُوْلًا ﴿۱۸﴾
مراد له سماء څخه معنى جنسي ده، مبتداء ده يعني آسمان سره د غايت عظمت او د نهايت احكام (منفطر) خبر د مبتداء دى يعني منشق پاره پاره كيږي، ضمير د به راجع دى و ذالک اليوم ته.
سوال: سماء خو مؤنث دى خبر يې ولي مذكر راغلى؟
ځواب: سماء يا په تأويل د سقف دى يا په تأويل د شي اى شيئ منشق به، وهذا كله لشدة ذالک وثقله واذا كان حال السماء فكيف السماء.
(كان وعده مفعولاً) دى موعود د خداى حتمًا كيدونكى لاستحالة خلف الموعود عليه تعالى.
فائده: دا دوى بيله عطفه راوړى لجوازه كما في قوله الرحمن علم القرآن خلق

الانسان علمه البيان.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿١٩﴾

په تحقيق سره دغه، اى الآيات المتلوة عليک پند دى چي بندګانو ته احوال د منبد او معاد بيانوي او بيان د هغي لاري کوي چي وصل کونکې و خداى ته وي، ځکه يې دا وروسته آيت په کلمه د فاء راوړى (فمن شآء) التذکر او تګ پر هغه لاره چي خداى ته رسوي يعني جوده و الى انعامه ورضوانه، کلمة الفاء للسببية کما اشرت اليه اى ليس السبيل الى الله الا التذکرة فانه تعالى اقرب الينا من انفسنا کما ورد هو اقرب من حبل الوريد .... بيت:

دوست نزديکتر زمن بمن است ...... چه کنم که من هنوز مهجورم

وليس الحجاب بيننا وبين الله الا حجاب الغفلة فينا وحجاب الکبرياء والعظمة فيه تعالى.

اِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ اَنَّكَ تَقُوْمُ اَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهٗ وَثُلُثَهٗ

په تحقيق ستا خداى خبر دى چي ته يا رسول الله ﷺ درېږې يعني لطول الليل. (ادنى من ثلثى اليل) يعني نژدې و ثلث ته د شپې.

پوه سه: چي قرائت د کوفي قاريانو او ابن کثير په نصب سره د نصفه وثلثه نو عطف دى پر ادنى يعني تقوم ادنى من ثلثى الليل و تقوم النصف و تقوم الثلث، او جمهور قراء په جر د دواړو لفظو وايي نو معنى دا ده چي اقرب تر نصف او تر ثلث.

وَطَآئِفَةٌ مِّنَ الَّذِيْنَ مَعَكَ ؕ

او يوه ډله د اصحابو رض چي ستا سره پر دغه مقدار قيام الليل کوي اقتداءً بيعتک، او البغوي رح وايي في تفسير و طائفة آه، يعني المؤمنين کانوا يقومون مظهري دا خبره د البغوي رح رد کړې ده فان الذين معه المؤمنون دون الکافرين انتهى.

درويش وايي: چي تعجب دى و مظهري ته چي دده اکثره تفسير مبني دى پر قول د البغوي رح دلته يې ولي د بعيد جدًا حکم پر وکړى او سره دده چي د تصحيح د قول اللغوي خو روښانه کما يقولون المطلق ينصرف الى الفرد الکامل ته نو د مؤمنانو څخه کامل د مؤمنانو وهم الصحابة رضي الله عنهم، او دا مقوله اشهر ده تر قضى نبئک.

وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ

او خدای تـه معلومـه ده انـدازه او تقديـر د اجـزاء د شپې مـن الثلثين والثلث وغيره لكه تاسي ته چي نه در معلومېږي.

درويش وايي: چي په عصر نبوي كي دا آلات جديده من الساعات وغيرها نه وه نو ځكه دوی ته اندازه د اقسامو نه معلومېدی.

عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ

خدای خبر دی چي تاسي تـه اندازه د شپې د اقسامو نـه معلومېږي هم ددې سببه خدای پاک وجوب د صلوات خمسه په امور ظاهره ؤ سره مربوط كړی دی لكه طلوع الصبح لصلوة الفجر الى طلوع الشمس (الغاية خارجة) وزوالها لصلوة الظهر، وقدر الظل لصلوة العصر على اختلاف المذاهب وغروب الشمس لصلوة المغرب وغروب الشفق على اختلاف لصلوة العشاء.

فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ

ای رجع الله من التسديد الى التخفيف فاسقط عنک يا رسول الله كيلا يشق وعلى امتک برحمته، الفاء للسببيت يعني لامر دونه قيام الليل كوي چي درته آسانه وي.

پوه سه: چي په دې آيت كي يې تعبير وكړی د صلوة الليل په قرآن سره لكه تعبير د صلوة الليل په قيام سره كړی ؤ تسمية للكل باسم الجزء.

تفريع: لـه دې آيت څخه دا معلومـه سوه چي قرائت القرآن ركن د لمانځه لكه د مخه آيت څخه چي پر ركنيت د قيام دلالت كوي (يعني بغير العذر في الفرائض) وعلى هذا انعقد الاجماع ايضًا، وروسته چي مقادير المذكورة منسوخ سوه بقی مطلق قيام الليل واجبًا وروسته يې وجوب هم منسوخ سو فصار متوعًا بعد فريضة.

درويش وايي: چي په ابتداء كي قيام الليل واجب وه پر امت او عليه الصلوة والسلام دواړو لكن وروسته نسخ د وجوب لـه امت څخه مجمع عليه ده، لكن په دې كي اختلاف دی چي لكه وجوب يې په اجتماعي توګه وه آيا رفع د وجوب يې هم په اجتماعي توګه سره په دې اختلاف بعض فقهاء وايي چي وجوب يې عليه الصلوة والسلام ته باقي يعني صلوة الليل وجوب يې عليه الصلوة والسلام پاته ؤ

الى اخير عمره، وقيل د عليه الصلوة والسلام څخه يې هم وجوب منسوخ دى او عليه الصلوة والسلام تطوعًا كاوه د بعض علماء فتوى هم پردغه ده، فقير وايي چي و كتبو ته د فقه رجوع وكړئ.

درويش وايي: چي ضروري په لمانځه كي تعديل الاركان دى كما جاء في الحديث چي يو سړى مسجد نبوي ته راغلى او عليه الصلوة والسلام هم په مسجد كي تشريف فرماؤ هغه سړي چى لمونځ وكړى بيا راغلى و عليه الصلوة والسلام ته يې السلام عليكم ووايه عليه الصلوة والسلام يې د سلام جواب خو وركړى لكن دا يې ورته وويل چي صل فانک لم تصل، هغه سړي بيرته هغه معتاد لمونځ لكه هغه د مخه چي يې وګذارى، بيا راغلى و عليه الصلوة والسلام ته يې السلام عليكم ووايه، عليه الصلوة والسلام جواب وركړى او بيا يې ورته وويل صل فانک لم تصل حاصل دا چي درې واره عليه الصلوة والسلام په دغه سړي لمونځ راوګرځاوه، اخيرًا هغه سړي ورته وويل چي ته يې راوښيه چي زه څرنګه لمونځ وكړم او دا يې ورته وويل والذي ارسلک بالحق نبيًا ما احسن غير ذالک فقال[1] اذا قمت الى الصلوة فكبر (دا تكبير د افتتاح دى) ثم اقرء ما تيسر من القرآن معک ثم اركع حتى تطمئن راكعًا، وروسته سم ولاړ سه چي په قيام ښه آرام سي بيا سجده وكړه حتى تطمئن ساجدًا ثم ارفع رأسک من السجدة حتى تطمئن قاعدًا ثم اسجد حتى تطمئن ساجدًا، وروسته بل ركعت ته ولاړ سه ثم افعل في صلوتک كلها متفق عليه، حاصل دا چي په سړي كي واجب ده تعديل نه ؤ نو ځكه درې واره لمونځ راوګرځاوه وروسته واجب ده تعديل الاركان ورته بيان كړى.

درويش وايي: چي په اوسني وخت كي لمونځونه په سل كي يو پر تعديل الاركان مشتمل نه دى، كاشكي علماؤ دغسي كارونه سره كولاى لكه عليه الصلوة والسلام چي د هغه سړي سره وكړى، لكن عوام الناس كله د عالم دغه خبره مني بلكې ډېر بد يوسي الا ماشاء الله.

عَلِمَ اَنۡ سَيَكُوۡنُ مِنۡكُمۡ مَّرۡضٰى ۙ

كلمه د ان مخفف له مثقل څخه دى اسم ضمير شان محذوف دى وروسته خبر دى يعني (سيكون منكم مرضى) مريضان به وي دا استيناف لپاره د بيان دى

بل حکمت يې د تخفيف في قيام الليل غير ما تقدم من عشر احصاء الليل يعني مرض هم مقتضی د تخفيف دی.

وَاٰخَرُوْنَ يَضْرِبُوْنَ فِى الْاَرْضِ يَبْتَغُوْنَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ

(وآخرون) عطف دی پر اسم د ان (يضربون في الارض) چي سفر کوي په مځکه کي يا د جهاد في سبيل الله لپاره يا د تخصيص د علم لپاره يا د حج لپاره (يبتغون) حال دی له ضمير څخه د يضربون يعني چي دوی طلب کوي (من الله) ای الربح في التجارة او تحصيل العلم الشرعي و مبادی ذالک کالنحو والصرف واصول الفقه او الثواب کما في الحج، نو دا هم سبب د تخفيف في قيام الليل.

وَاٰخَرُوْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَلَا

او نور داسي کسان به وي چي په جهاد في سبيل الله بخت وي (فلا يطيقون سنة قيام الليل) نو تاسي وایاست د قرآن چي تاسي ته آسان وي منه ای من القرآن.

سوال: کلمه د ما عامه ده يشتمل جميع ماتيسر من القرآن فيلزم انيکون المأمور به جميع ماتيسر؟

ځواب: د کلام سوق دا معلومېږي چي سوق يې لپاره د تخفيف چي احتمال مذکور ساقط دی فافهم.

فائده سنيه: روی مسلم عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اقرؤا القرآن في کل شهر قال اني اجد قوة قال فاقرؤه في عشرين ليلة قال اني اجد قوة فأقرئه في کل سبع ولا تزد علی ذالک وعن عائشة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ احب الاعمال الی الله ادومها وان قل، رواه البخاري و مسلم، وفي البخاري وسمل عن انس رضي الله عنه اذا نعس احدکم چي خوب ورسي يوه ته ستاسي څخه يعني صلوة التهجد) وهو يصلی فليرقد، بيده دي سي حتی چي خوب ځني ولاړ سي، فان احدکم اذا صل وهو ناعس لايدري (دی په ځان نه پوهېږي) لعله نستغفر (شايد دده په خيال کي به اللهم اغفرلي وي ځان ته به ښکنځل وکړي يعني اللهم لاتغفرلي) وعن انس رضي الله عنه کما رواه البغوي انه سمع رسول الله ﷺ يقول من قرء (۵۰) آية في يوم و ليلة لم يکتب من الغافلين ومن قرء (۱۰۰) کان من القانتين ای العابدين، ومن قرء (۲۰۰) آية لم تحاجه القرآن، ومن

قرء (۵۰۰) کتب له قنطار من الاجر قالوا وما القنطار، قال اثنی عشر الف درجة.

فائده: مستحب په عمل کي توسط في العمل دی دون الافراط والتفریط ویستحب المداومة علی التوسط یعني اذا لم یکن له عذر و ادنی المتوسط ان یقرء (۱۵۰) آیة واکثر المتوسط الف آیت حتی یحصل الختم چي په هفته کي یعني په اووه ورځي کي به ختم د قرآن باعتبار تعدد الآیات حاصل سي.

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًاؕ

تاسي لمونځونه کوئ یعني المفروضة مع اداء ارکانها و واجباتها وسننها و مستحباتها ومن الامور الواجبة تعدیل الارکان ومن اجل سننها الجماعة عند الحنیفیة.

درویش وایي: چي مظهري تفسیر د زکوة په مفروضة سره کړی دی لکه تفسیر د صلوة چي یې هم په مفروضه سره کړی دی، لکه فقیر چي هم تفسیر د صلوة په مفروضه سره کړی دی، لکن روح المعاني داسي سوال پر کړی دی چي دا سورة خو له اولو سورتونو څخه دی چي په مکه کي نازل سوي دي، ولم تفرض الصلوة الخمس الا بعد الاسراء یعني بعد المعراج بالاتفاق، والزکوة انما فرضت بالمدینة، بیا یې داسي ځواب ورکړی دی چي هغه چي د زکوة مفروضه مراد بولي دا آیت به مدني بولي، او بعض علماء وایي چي نزول د آیت په مکه کي سوی دی لکن من غیر تعیین الانصاب والذي فرض بالمدینة تعیین الانصاب.

سوال: فرضیت د صلوات خمس اجماعًا بعد الاسراء دی نو په دې آیت کي که فرضي لمونځونه ځني مراد سي لان الاسراء کان بعد ذالک ای هذه السورة، واجاب بحمل هذه الآیة علی صلوة اللیل حیث کانت مفروضة کما مر یعني د مخه تر تخییر انتهی والله اعلم، او روح البیان د زکوة معنی به صدصة الفطر سره کړې ده وقال اذا لم یکن بمکة زکوة انتهی.

(واقرضوا الله) ابن عباس رض وایي انفاق سوی له زکوة څخه من صلة الرحم و ذی الضیف (مهماني ورکول میلمه ته) او دا هم احتمال لري چي مراد دي مطلق طاعات وي لله تعالی علی وجه الاخلاص والاحسان (قرضًا حسنًا) بطیب نفس ومن احسن الاعمال حسنًا صفت دی په اطلاق د قرض ترغیب لوعد العوض لان کل فرض موالاة.

فائده: قوله تعالی اقرضوا الله قرضًا حسنًا من قبیل انبته الله نباتًا حسنًا یعني

فعل د باب د مزيد او مفعول يې مجرد دی.

وَمَا تُقَدِّمُوا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا

او هغه شی چې تاسي د دنيا څخه دمخه واستوی و آخرت ته، هر د خير کار چې وي که بدني وي که مالي وي، تاسي به پيدا کوئ ثواب د هغه په نېز د خدای.

پوه سه: چې خيرًا مفعول ثاني دی دتجدوه او هو ضمير فصل دی لا محل له من الاعراب چې خير به وي من الذي تؤخروه للوصية عند الموت او من متاع الدنيا، عن بعد اللهؓ قال قال رسول اللهﷺ ايكم ما له احب من مال وارثه قالوا ما شاء الا واحد و ماله احب اليه من مال وارثه، قالؐ اعلموا ما تقولون قالوا ما نعلم الا ذالک يا رسول اللهﷺ قالؐ ما منكم رجل الا مال وارثه احب اليه من ماله، قالوا كيف ذالک يا رسول اللهﷺ؟ قال احدكم ما قدم چې دمخه يې آخرت ته واستاوه يعني يا زكوة يا صلة الرحم في سبيل الله يا فقراؤ او مساكينو ته، ومال وارثه ما اخره، رواه البغوي.

حكايت چشم ديد: يو سړی ؤ زموږ په كلي كي ډېري روپۍ يې درلودې، خير او خيرات خو څخه کوې زكوة او عشر يې هم نه وركاوه، د مرګ وخت چې يې نژدې سو يعني زكندن يې سو يو زوی يې درلودی هغه ته يې وويل چې پر ما باندي د څو كلو زكوة چې دومره روپۍ كېږي باندي دی دغه به وركړې، زوی يې ورته وويل چې بابا مال چې ستاؤ او ستا په تصرف كي ؤ ولې دي زكوة نه وركاوه اوس چې مال زما سو يعني چې ته مړ سې زما په مال كي تصرف كوې، والله كه يوه روپۍ لا وركړم.

درويش وايي: چې په قرار د حكم د شرع بايد زوی دده د پلار وصيت تر ثلث پوري عملي كړی وای لكن زوی يې دده د سپيتاني سره موافق كار وكړی.

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ

طلب د بخښني د خدای څخه وكړئ، ای ما في زمتكم من الله، نو دا جمله معطوفه ده قوله تعالى و اقيموا الصلوة.

فائده في الحديث النبويؐ: كل امرء على ما قدم قادم (هر سړی چې د يو خير كار په دنيا كي وكړي، وركونكی دی يعني على ثوابه) وكل امرء على ما خلف نادم (او

هر سړی چي مال یې تر شا پرې ایښی وي پښېمانه به وي) وعن النبي ﷺ ان العبد اذا مات قال الانسان (یعني نور خلک) ما خلف (څه دنیا یې وروسته پاته سوه) او ملکي وایي څه عمل د خیر یې دمخه استولی ؤ، له عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي یو وخت د مدینې منورې پر لوینه مقبره تېر سئ چي قدیم یې بقیع الغرقد دی فقال السلام علیکم دار قوم مؤمنین انتم سلفنا ونحن بالاثر احوال ما عندنا ان نسائکم قد تزوجن (ماینو مو مړونه وکړه) و دورکم قد سکنت (ستاسي په سرایو کي نور کسان اوسېږي) و اموالکم قد قسمت (مالونه مو ووېشل یعني ورثه ؤ سره وویشل) فاجابه هاطف (یعني غیبي آواز) یا ابن الخطاب اخبار ما عندنا ان ما قدمناه وجدناه ای ثوابه وما نفقناه (یعني في سبیل الله) فربحناه یعني په هغه کي مو ډېره ګټه وکړه، وما خلفناه خسرناه (چي تر شا مو پرېښوول په هغه کي مو تاوان وکړی) ... شعر:

فدم لنفسک قبل موتک صالحًا .... واعمل فلیست الی الخلود سبیل

فائده: ددې سورت په اخیر کي مؤمنان په استغفار سره خدای پاک امر کړه یعني لذنوبکم، په دې کي تنبیه پر دې ده چي انسان په اعمالو سره د بِر غره یعني خطا نه وزي او اعتماد دي هم پر اعمالو د بِر نه کوي بل لابد مع ذالک من الاستغفار فان ما صدر من الاعمال منه د تقصیراتو څخه به خلاص نه وي فان للشیطان دسائس خفیة، او بل له دې سببه استغفار ته ضرورت سته چي اعمال د بندګانو که څه هم جلیل وي لکن و جناب ته د قدس او عظمت د خدای حقیر دي.

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٠﴾

په تحقیق سره خدای بخښونکی دی (لتقصیراتکم بعد استفارکم) او خدای مهربان دی چي په عمل قلیل ثواب جزیل ورکوي.

درویش وایي: چي په لوی فضل او توفیق د خدای عزوجل له تفسیر څخه د سورة المزمل پر درو بجو تخمینًا پر (۲۵) تاریخ د شعبان المعظم په خپل هجره کي فارغ سوم (۱۴۳۳) هجري قمري، والحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سیدنا محمد وآله وصحبه اجمعین آمین یا رب العالمین.

سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتٌّ وَّ خَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّ فِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۙ﴿۱﴾

پوه سه: چي اصل يې متدثر ؤ تا يې په دال بدله کړه بيا يې په دال کي مدغمه کړه اى لابس الدثار.

پوه سه: چي د عربو بلکې د اکثره نړى والو دا عادت دى چي يو کوچنى قميص لاندي اغوندي چي هغه ته شعار وايي او يو لوى قميص سربېره پر اغوندي چي هغه ته دثار وايي، و منه قوله عليه الصلوة والسلام الانصار شعار (يعني په بدن پوري جامه چي په وېښتانو پوري متصل وي) و الناس دِثار.

روى جابرؓ عن النبي ﷺ چي په دې دوران کي زه پر جبل وم (يعني د ډېره زمانه په غار حراء کي خلوتونه کړي وه) کما سيجيئ تفصيله في تفسير سورة اقرأ باسم ربک الذي خلق آه، فنوديت (ماته نعره وکړه سوه) يا محمد انک رسول الله فنظرت عن يميني وعن يساري فلم ار شيئًا (هيڅ منادى مي نه وليدى) فنظرت فوقي فاذا هو اى المنادى قاعد على عرش (پر يوه تخت) بين السماء والارض فرعبت (زه ځني وبېرېدم) فرجعت الى خديجةؓ فقلت زملوني زملوني يعني يو شړى يا تلتک راباندي واچوه وصبوا عليّ ماء باردًا، فنزل جبريل فقال يا ايها المدثر.

قُمْ فَاَنْذِرْ ۙ﴿۲﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۙ﴿۳﴾

ولاړ سه له ځايه څخه (قيام جد و اجتهاد)

پوه سه: چي مفعول يې ذکر نه کړى اشارةً الى عمومه يعني ټول خلک (لعموم نبوته) من عذاب الله على الشرک، او (ربک) په دې ځاى کي او په مابعد کي لپاره د معنى د شرط ده، تقديره اما ربک فکبر، والمعنى دم همېشه توب وکړه پر تعظيم د خداى ؑ.

درويش وايي: چي جامع تفسير د کبر دا دى چي خداى عزوجل پاک بوله د حدوث څخه او د صفاتو څخه د نقص والزوال يعني العدم او د شريک څخه په وجوب الوجوب کي لکه ثنويه يعني المجوس چي وايي عالم لره دوه خدايه واجب الوجود سته، يو خالق دى د نافع شيانو لکه خوراکي مواد او نافع درختو لکه

خورما، انار، انگور وغیره دوی وايي ددې خدای نوم یزدان دی، او بل خدای پیدا کونکی دی د مضر شیانو لکه لړمان، ماران، درندګان وغیرها، دوی دې خدای ته اهرمن وايي يا شیطان ورته وايي، او داغه رنګه خدای عزوجل پاک دی له شریک څخه لکه مشرکین د مکې وغیرها مثلاً د لویي وچي د هندوانو هم دغه مذهب دی او خدای عزوجل به مشابه د هیڅ شي نه بولي من الممکنات لکه فلاسفه چي عقول عشره او له والدیت څخه لکه نصاری چي عیسی ابن الله بولي یا یهود وايي عزیر ابن الله دی، یا قوم د خزاعه چي وايي ملائکه بنات الله دي العیاذ با الله، والحاصل چي نه په ذات کي او نه په صفاتو د کمال او نه په افعالو کي به شریک ورته وایه، وهذا اول الواجبات علی المکلفین، او دا بیان سوي شیان که په چا کي وي هغه کافر دی احتمال د عفو نه لري.

پوښتنه: عوام الناس په دې ټولو خبرو څه پوهېږي نو د دوی ایمان صحیح دی او که څرنګه؟

ځواب: د عوام الناس لپاره ایمان اجمالي کافي دی مثلاً خدای حق دی شریک نه لري او رسول دده حق دی او ټوله کتابونه دده حق دي او جنت او دوږخ حق دی، قیامت حق دی، ثواب یا عذاب حق دی، بېله خدای موږ بل خدای نه لرو.

درویش وايي: چي مظهري وايي چي فقهاؤ په دغه آیت سره ویلي دي چي فرض ده تکبیر تحریمه د لمانځه لپاره، وروسته یې نور اختلاف رانقل کړي دي، د تعجب ځای دا دی چي مظهري دمخه دا خبره منلې وه چي سورة المزمل او سورة المدثر له اوائلو سورتو څخه د قرآن دي او سره ددې چي په احادیث صحیحه ؤ سره دا ثابته ده چي لمونځونه په شپه د اسراء یعني المعراج فرض سوي دي چي لیلة الاسراء د روایتو له رویه د نبوت د علیه الصلوة والسلام ډېر وروسته پېښه سوی دی، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب، البته په حدیث شریف کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ له مقام څخه د استغراق ده چي هوش راغلی د خوشحالی له کبله وویل الله اکبر، خدیجة الکبری هم الله اکبر ووایه او په خوشحاله سوه او یقین یې سو دا حالت چي علیه الصلوة والسلام طاري ؤ دا وحي وې، ولي چي شیطان څوک نه امر کوي په تکبیر سره کما هو معلوم من سیرته.

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾

قتاده او مجاهدؒ وايي چي ثوب کنايه له نفس څخه دی، نو معنی د آيت دا ده چي خپل نفس له ګنهو څخه پاک ساته، وهذا هو قول ابراهيم النخعي والضحاک والشعبي والزهري رحمهم الله، وقال عكرمةؓ سئل عن ابن عباسؓ عن قوله تعالی وثيابک فطهر قال ابن عباسؓ معناه لا تلبسها علی معصيته ولا علی عذره (پر مرداررويو) او الضحاکؒ وايي: عملک فاصلح قال السديؒ يقال للرجل الصالح طهر الثياب، ويقال لرجل اذا کان فاجرًا انه لخبيث الثياب، وقيل وثيابک فقصر يعني ډېر اوږده کالي مکروه دي ولي چي د ډېر اوږدوالي سره لمن د قاذرواتو سره مخامخ کېږي فيکون التطهير کناية عن التقصير لانه (ای التطهير) من لوازمه (ای التقصير) ومعنی التقصير انيکون الثوب الی انصاف الساقين، يعني نه لکه په دور حاضر کي چي قميصان د عربو تر بجلکو پوري دي دا د ترکانو قديمي لباس ؤ، و حضرت علي مرتضیٰ رضي الله عنه ګفت کوتاه کن جامه را فانه اتقی وانقی وابقی (يعني لنډ قميس د اتقی سره برابر دی او انقی د جامې پاک والی دی او ابقی جامه ډېره زمانه باقي پاتېږي) بعض مفسرين وايي چي منطوق د نص امر دی بتطهير د قلب ونفس فانه اقرب من البدن، والحاصل ان الله يحب التوابين ويحب المطهرين من الانجاس الظاهرة في الثوب والبدن واقوی من الکل تطهير القلب من الرزائل القلبية .... ابيات:

درتو پوشيده لطف يزدانی ..... خلعتی از صفات روحانی
دارش از لوث خشم وشهوت دور .... تا نيا کبر که شوی مشهور

عن ابن عباسؓ مر النبي ﷺ بقبرين فقال انهما (ای صاحبی القبرين) يعذبان وما يعذبان في کبيرة، ای التحرز عنهما ليس بکبير، اما احدهما فلا يسنزه من البول (يعني اودس يې ښه وچاوه يعني د بولو څخه به ولاړ سو دستي بې پرتو ګانښ وتاړه والآخر يمشي بالنميمة (شيطانت يې کاوه)

وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴿٥﴾

پوه سه: چي بعض قراء دا لفظ په کسره د راء وايي، او بعض يې په ضم الراء وايي دا يو لغت دی معنا يې يوه ده.

درويش وايي: چي مجاهد، عكرمه، قتاده، الزهري، ابن الزيد او ابو سلمه وايي چي مراد دده چي مراد له رجس څخه بتان دي يعني بتانو ته مه ورنژدې کېږئ وروى عن ابن عباس ان معناه اترک الاثيم (يعني گناه مه کوه) او ابو الربيع او ابو العالية وايي چي رجز بضم الراء بت ته وايي او په کسره د را نجاست او معصيت ته وايي، او الضحاک وايي چي رجز شرک ته وايي، او الکلبي وايي چي رجز عذاب ته وايي والمعنى اهجر ما يوجب العذاب من العقائد والافعال، فقير وايي چي لفظ د رجز خو يو لفظ دى او مشترک لفظي هم نه دى بايد ددې په ترجمه کي رجوع وکتابو ته د لغت وکړه سي، او بعض ترجمې د رسول اللهﷺ د لويه شان سره مناسب نه دى فافهم والله اعلم.

وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾

يعني د خپل مال څخه يو چا ته مه ورکوه چي ته طلب د کثرت د هغه څخه کوې لکه چي د بعض طماع خلکو چي عادت دى، هذا قول اكثر المفسرين، او قتاده وايي لا تعط شيئًا لمجازات الدنيا بل لوجه الله خالصًا.

پوه سه: چي جمله د تستكبر حال ده له فاعل څخه د لا تمنن، قيل هذا نهى تنزيهي دى، وقال الضحاک و مجاهد هذا الحكم في حق النبيﷺ، ولي دا طمع د ځينو خلکو کار دى او رسول اللهﷺ صاحب د همت عليا دى تعجز من همته وهمت الثقلين نعم الهدايا تقبلهﷺ لكن لا عوضًا مما اعطاه رسول اللهﷺ.

درويش وايي: چي مظهري حسب العادة نور ضعيفه اقوال هم را نقل کړي دي فايرادها وقت ضائع کول دي، ډېر مفسران پر دې رايه دي چي دا آيت مخصوص په حضرت النبيﷺ پوري دى.

وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴿٧﴾

اى لحكم ربک فاصبر ولا تتالم من اذية المشركين، ولي هر څوک چي مأمور په تبليغ لجملة المشركين سي له ازار څخه د خلکو نه خلاصيږي لكن په صبر سره تريخ شى ډېر خوږ کرځي .... بيت:

تحمل چو زهرت نمايد نخست ..... ولى شهد گردد چو در طبع رست

پوه سه: چي کلمه د فاء په فاصبر کي په تقدير د اما ده فالتقدير و اما لربک فالصبر لپاره د تاكيد دی، وقال ابن زيد واصبر على حرب الاسود والاحمر قال صاحب روح المعاني وفيه بعد لان الجهاد لم يكن وقت نزولها لان هذه السورة من اوائل مانزل في مكة والجهاد انما فرض بالمدينة كما هو المعلوم لكل احد فافهم.

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ﴿٨﴾

چي پوه کړي په صور کي د اسرافيل يو وار لپاره د صعق ای الموت ومرة للاحيا، وزن د ناقور فاعول دی من النقر ای التصوية، قال ابو الشيخ بن حيان في كتاب العظمة عن وهب بن منبه قال خلق الله الصور من الؤلؤ البيضاء في صفاء الزجاجة ثم قال لعرش خذ الصور نو صور په عرش پوري وځړيدی، ثم قال الله عزوجل كن فكان يعني اسرافيل يې پيدا کړی فامره ان يأخذ الصور فاخذه اسرافيل، د مذكور حديث موافق په دې صور كي دونه سوري دي لكه عدد د ټوله مخلوق چي ذي روح وي حتى چي دوه روحان تر يوه سوري نه وزي او په منځ کي د سوريو غار دی چي استداره يې لکه د آسمان دی په غار کي اسرافيل خوله ايښې ده ثم قال له الرب تعالى قد و كلمك بالنفخة (ای النفخة الآخرة) والصيحة (ای صيحة الموت للاحياء) او بالعكس.

فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ﴿١٠﴾

نو دغه ورځ سخته ده پر کافرانو باندي، يومئذ بدل دی.

پوه سه: چي له دې نفخه څخه مراد نفخه ثانيه ده چي په هغه سره خلک ژوندي کيږي، د دې عسر پر کافرانو باندي محصور دی لما رؤا من شدة الحساب وسوء العذاب واما النفخة الاولى فلا تختص بالكافر بل شاملة لمن كان حيًا في وقت وقوعها.

پوښتنه: عسر د نفخة ثانيه يې په كافر پوري خاص کړی لان المؤمن عن عسرها في امن بفضل الرب جل وعلا حتى يكون عليه كصلوة مفروضة يصليها في الدنيا كذا جاء في الحديث النبوي ذكر البغوي بسنده چي دا آيت چي خدای نازل کړی پر نبي عليه السلام حٰمٓ تَنْزِيلُ مِّنَ الْكِتَابِ الى قوله اليه المصير قام النبي ﷺ يقرئها بالمسجد، و الوليد بن المغيره و ده ته نژدې ناست ؤ غوږ يې نيولی ؤ فلما

ظن النبي ﷺ استماع الوليد لقرائته اعاد تلك الآيات فذهب الوليد و مجلس ته د نبیﷺ مخذوم او هغو ته يې وويل چي والله لقد سمعت من محمد لاهو من كلام الانس ولا هو من كلام الجن وان له لحلاوة (خوږ والی ؤ) وان عليه لطلاذة (تازګي) بيا يې د مېوه داره درختي سره مشابه کړی وان اعلاه لمثمر وان اسفله لمعذق او بيا يې دا هم وويل وانه ليعلوا ولا يعلى (دا کلام پر هر کلام بلند وي او کښته کېږي نه تر بل کلام) بيا کور ته ولاړی، قريش چي په دې خبرو د وليد خبر سو صبا والله الوليد (مرتد سو قسم الوليد) او دده د صباوت له سببه ټوله قريش مرتد سي، ولي الوليد په مکه کي تر ټولو مالدار سړی ؤ او لس ځوانان زامن يې درلوده او وليد د قريش ريحانه قريش باله، او ابو جهل چي خبر سو خلګو ته يې وويل چي د الوليد چاره زه کوم، نو ابو جهل راغلی د الوليد و ثنګ ته کښېنستی غمجن يعني هيئت د غم يې پر چهره جاري کړی، نو وليد ورته وويل مالي يا ابن اخي چي زه دي غمجن او خوابدی وينم؟ ابو جهل ورته وويل چي زه به ولي غم نه کوم دا دی قريش وايي چي وليد ته د محمد (ﷺ) خبرو خوند ورکړی دی چي موږ به تاته چنده وکړو څه نقود به درجمع کړو په سبب د لوی والي ستا، ذوی وايي چي الوليد مابنام محمد او ابن قحافه مېلمه کړی ؤ او ددوی پس مانده طعام يې ورکړی ؤ، فضب الوليد او داسي يې وويل چي قريش په دې خبره چي زه اکثر د دوی مالاً و ولداً يم خبر دي، نو زه به څرنګه احسان د محمد او د اصحابو دده پر ځان ورم چي ماته يې ډوډۍ راکړه، نو وليد سره د ابو جهل و مجلس ته د قوم ورغله، نو وليد او ابو جهل ودرېدل و مجلس ته د قوم، نو وليد قوم ته وويل تاسي ګمان کوئ چي محمد لېونی دی او دده خبري (مراد يې قرآن دی) يعني داسي خبري د لېوني وي، قوم يې ورته وويل اللهم لا (لېونی خو نه دی) بيا وليد ورته وويل چي ستاسي خيال دی چي کاهن دی د کهانت خبري او علامات تاسي پکښي ليدلي دي؟ قالوا اللهم لا (کاهن نه دی) بيا وليد دوی ته وويل چي ستاسي د شاعر ګمان پر کېږي، تاسي دی ليدلی دی چي غزلي يې جوړي کړي وي؟ فقالوا اللهم لا، بيا وليد ورته وويل چي تاسي د کذاب چي مفتري هم بولئ ګمان پر کېږي، نو تاسي ته دده دروغ ثابت سوي دي؟ قالوا اللهم لا (ولي رسول

الله ﷺ په آمين مكه مشهور ؤ په سبب دده د ريشتيا ويلو) نو قريشو وليد ته وويل چي ستا نو څه خيال دي پر محمد (ﷺ) باندي، وليد په خپل زړه کي فکر وواهه بيا به يې وکتل اخيريې په تريو تندي دا خبره وکړه ما هو الا ساحر، آيا تاسي دى نه وينئ چي په مابين کي د سړي او د خپلوانو جلاوالى راولي؟ (د خبيث مقصد دا ؤ چي پر ده څوک ايمان راوړي زوى او پلار وغيرهما نو کافران له هغو څخه جلاوالى مختاره کړي) وليد وويل نو دا صفت د ساحر دى، انتهى قصة الوليد بن المغيرة، ابن عباسؓ وايي فحينئذ نزلت.

ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ﴿١١﴾

الواو بمعنى مع كما في قوله تعالى ذرني والمكذبين ما پرېږده يا محمد او هغه څوک چي ما پيدا کړى وي تنها.

پوه سه: چي من موصله دى عائد يې محذوف دى اى خلقته چي مراد يې په دې آيت کي وليد بن المغيره دى (وحيدًا) يعني تنها.

پوه سه: چي وحيدًا يا حال دى له مفعول څخه د ذرني چي خداى پاک دى ولي چي فاعل د ذرني خو عليه الصلوة والسلام دى لان الخطاب معه تسلية له، وحاصل المعنى لا تهتم به يا محمد وذرني وحدي معه زه يې کفايت درکولاى سم، يا حال دى له فاعل څخه د خلقت اى خلقته (اى الوليد المذكور) وحيدًا يوازي لم يشاركني في خلقه غيره، او يا حال دى له عائد محذوف څخه چي وليد ته راجع ؤ فالمعنى خلقته وحيدًا فريدًا (تنها لا مال له ولا ولد)

وَّجَعَلْتُ لَهٗ مَالًا مَّمْدُوْدًا ﴿١٢﴾

او مو ورګرځولى ؤ د هغه لپاره مال فراخه چي خلګو به يې مدحه کول بالنماء كالزرع والتجارة، بعض المفسرين وايي چي تجارتي مال يې زر ديناره وه وهو قول مجاهد و سعيد بن الجبير، او قتاده وايي څلور زره ديناره، او سفيان ثوري وايي چي يو لک ديناريې درلوده (درويش وايي چي د سړي ګمان کېږي چي دوى شمېرلي وه) او ابن عباسؓ وايي چي نهه زره مثقال سپين زريې درلوده، او عطاء له ابن عباسؓ څخه روايت کړى دى کان له بين مکة والطائف اوښان او آسان او پسونه وعبيد و جواري.

وَّبَنِيْنَ شُهُوْدًا ﴿۱۳﴾

او زامن مي ورکړي وه چي په مکه کي به حاضر وه يعني حاجت يې نه درلودی چي سفر وکړي لپاره د طلب د معاش، مشهوره دا ده چي لس زامن يې وه، او مقاتل وايي چي اووه زامن يې وه الوليد بن الوليد وخالد و عمارة و هشام و العاص و قيس و عبد الشمس، چي په دې زامنو کي يې خالد او هشام او عمارة ايمان راوړی دی.

وَّمَهَّدْتُّ لَهٗ تَمْهِيْدًا ﴿۱۴﴾

مونږ فراخه رياست په قريشو کي ورکړی ؤ او جاه عريض حتی چي ريحانه د قريش يې باله، والتوحد بالاستحقاق يعني دی متوحد ؤ په استحقاق کي يعني په زور او جبر يې رياست نه کاوه بلکې په استحقاق سره يعني د خلکو له خوا منلی سوی سړی ؤ، او بعض وايي چي ډېر دراز عمر يې ورکړی ؤ.

ثُمَّ يَطْمَعُ اَنْ اَزِيْدَ ﴿۱۵﴾

وروسته دی اوس هم طمع لري د زيادت جاه او جلال او رياست او زيادة المال.

كَلَّا ؕ اِنَّهٗ كَانَ لِاٰيٰتِنَا عَنِيْدًا ﴿۱۶﴾

هيڅ کله نه (کلا حرف ردع دی) يعني دا طمع دي قطع کړي په سبب د کفر او کفران النعم المذکورة، البغوي وايي چي د دې آيت تر نزول وروسته رواة وايي چي هميشه حال د وليد په تنزل کي ورځ په ورځ هم په جميع اموال کي چي تاسي واورېده او هم په اولاد کي حتی هلک علی الکفر لعنه الله (انه کان لاٰيتنا عنيدًا) دی يعني وليد ؤ له آياتو څخه زمونږ چي د آيات قرآنيه معاند ؤ حيث کان لايؤمنوا بها او په اخير کي يې په ډېره بې حيايي وويل چي قرآن سحر دی او محمد ﷺ ساحر دی.

سَاُرْهِقُهٗ صَعُوْدًا ﴿۱۷﴾

دی په پټ کړو په ډېر سخت عذاب سره ای عذابًا شاقًا چي بلند او بالا وي پر هر عذاب للکفرة، له ابی سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی عن النبي ﷺ في قوله تعالی سارهقه صعودًا هو جبل في النار من النار، دی يعني کافر مکلف کوي چي ور وخېژه،

دی چي لاس پر کښېږدي لاس يې ويلي سي چي پورته يې کړي بيا يې لاس د پښو په شان سم سي، فاذا وضع رجليه زابتا فاذا رفعها عادت، دا روايت البغوي له ابی سعيد الخدري رضي الله عنه څخه کړی دی، وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه ورواه احمد والترمذي وابن حبان عن ابی سعيد رضي الله عنه عن النبي ﷺ چي صعود يو غر دی په اور کي چي کافر پر پورته کېږي او ويا کاله وروسته راشوه کېږي ترا بده پوري، وقال الکلبي الصعود صخرة لمساء (ښويه ډبره ده) لايترک نفس في صعوده ويصعد بسلاسل الحديد ويضرب من خلفه بمقامح الحديد (سندان د وسپني) فيصعد في اربعين عامًا.

درويش وايي: چي د الکلبي رحمه الله حديث خو مسند و عليه الصلوة والسلام ته نه دی، نو الکلبي رحمه الله څه رنګه دا ازمنه بيانوي؟ په خوب يې ليدلی دی يا يې ده ته تجربه حاصله وه.

پوښتنه: په احاديث مسنده ؤ کي خو هم د الوليد ځای نه سو معلوم؟

ځواب: الوليد به ګاهي يو ځای ګاهي بل ځای وي او ټول ځايونه سخت دي، فافهم، يا مراد له صعود څخه معنی جنسي دی فتدبر.

إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾

ده (يعني وليد خبيث) فکر وواهه، چي پر قرآن کريم کوم طعن ووايم چي ښه غور يې وکړی نو يې وويل چي قرآن سحر دی او عليه الصلوة والسلام ساحر دی (وقدر) اندازه يې ورته ولګول چي څه ووايم، دا جمله بيان ده د عناد دده او د سبب د شذت عذاب دده کمامر.

فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾

ای لعن لعنت دي وي پر ده (کيف) تعجب من تقرير استهزائه بالقرآن، تاکيد دده د فحش تقدير و تکرير اللعن علی الخبيث لان معنی قتل کمامر لعن.

ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾

بيا يې فکر وواهه چي کوم طعن پر قرآن ووايم چي قريشو ته مقبول سي (ثم عبس) بيا يې تندی تريو ونيوی (تندی يې ددې لپاره دريو کړی لانه لم يجد طعنًا ولم يدر مايقول، يا معنی دا ده چي عليه الصلوة والسلام ته يې وکتل او تندی يې

ورته تريو کړی لشدة العداوة) (وبسر) او بيا يې شا وګرځول روان سو، بيا يې شا وګرځول حق او ايمان ته يا عليه الصلوة والسلام ته او کبر يې مختار کړی د ايمان راوړلو پر عليه الصلوة والسلام.

فَقَالَ إِنْ هٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هٰذَآ إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

کلمه د فاء يې د دې لپاره راوړه چي دی خو د مخه متردد ؤ چي څه ووايم، لکن څه وخت چي يې دا کلمه خبيثه پر دماغ ور وګرځېده فورًا يې تر خوله راويستل (ان الا سحر يوتر) نه دی دغه قرآن مګر جادو دی چي له بل چا څخه نقل کړی سوی دی، نه دی دا قرآن مګر قول د انسان، مراد دده خبيث له بشر څخه عليه الصلوة والسلام ؤ يعني چي محمد (ﷺ) و خلګو ته وايي چي دا کلام الله دی.

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾

دا جمله بدل اشتمال دی له سارهقه صعودًا څخه، ژر دی چي زه به دی يعني وليد داخل کړم و سقر ته (سقر نوم دی له نومانو څخه د دوږخ يعني د طبقه خاصه نوم نه دی)

وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾

ته پوهېږې چي سقر څه شی دی؟ په دې کي تعظيم د شان د سقر دی.

لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾ لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾

باقي نه پرېږدي يو شی چي سقر ته يې ورواچوي بلکې علی الفورېې سوځي، او نه يې پرېږدي چي هلاک يې نه کړي (لواحة) خبر د مبتداء محذوفي دی ای هي لواحة (البشر) جمع د بشر ده والمعنی مغيرة للجلد من البياض الی السوداء وقال ابن عباسؓ وزيد بن اسلم محترقة للجلد، وقيل معناه لائحة للناس و خلګو ته ښکاره.

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

پر سقر نولس (۱۹) ملکي وظيفه داري دي چي دې ملکو ته خزنة جهنم وايي چي مالک دی چي مشر د خزنة جهنم د مع ثمانية عشر، اخرج البيهقي عن ابی العوام قال هم تسعة عشر ملګا چي به مابين کي د دوو وږو مسيره کذا و کذا، واخرج ابن وهب عن زيد بن اسلمؓ قال قال رسول الله ﷺ بين منکبی احدهم مسيرة

سنة چي به زړه کي يې هيڅ زړه سوی نسته، او يوه ملکه پورته کوي او ويا زره مقدار
ډبره فير ميهم حيث اراد، قال البغوي قال ابن عباس چي انه لما نزلت هذه الآية قال
ابو جهل لقريش ثکلتکم امهاتکم تاسي اورئ د ابن ابی خبري (کنيت ؤ د رسول
الله ﷺ په نېز د دغو خبيثانو) وانتم الدهن الشجعان (تور ځوانان ياست) آيا عاجز
هر لس له تاسي څخه چي ټينګ وتړي يوه ملکه من خزنة جهنم، نو ابو الاسود چي
غبنتلی په کافرانو کي ؤ ويل يې چي زه خو اوولس ملکي په شا پوري تړم، نيمی په
شا پوري نيمی په نس پوري، پاته دوې سوې د هغو کار به تاسي وکړئ، واخرج
البيهقي چي دا آيت چي نازل سو عليها تسعة عشر د قريشو يو سړی چي دوی به ابو
الاسدين باله هغه قريشو ته وويل چي د نوولس (۱۹) ملکو څخه مه بيريږئ، زه به پر
راسته وره لس (۱۰) او پر چپه وره نهه (۹) وتړم، فانزل الله تعالی هذه الآية.

وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً ص

او موږ نه دي ګرځولي (ای خزنة النار) مګر ملکي، لا رجالاً آدمين حتی يمکن
للکفار تدافعهم (يعني کفار هغه ملکي بلکې يوه له هغو ملکو څخه نسي دفع کولای
کما ظن کفار مکة چي دوی پر خزنة النار د انسانانو خيال پر کاوه حتی قالوا ما قالوا)

وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا لا لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ

موږ نه دی ګرځولی شمېر د دوی په لړوالي يعني نولس (۱۹) الا فتنة: يعني کفراً و
ضلالاً والاستهزاء بهم او دوی دا ښخي بعيد بلل بلکې محال يې بلل چي دا عدد قليل
چي (۱۹) ټولو د دنيا کفارو ته چي عدد يې مليار دو ته رسيږي عذاب دي ورکړي.
(للذين کفروا) حتی چي دوی څوني توپونه ويشتل کما مر عن مقالاتهم (ليستيقن)
چي يقين يې سي، متعلق بمحذوف ای نبئناک يا محمد بعددهم القليل تا چي يقين يې
سي يعني د هغو کسانو چي کتاب ورکړه سوی دی، يعني ستا پر نبوت او پر صدق د قرآن
کريم به يې يقين سي، ولي چي ستا قرآن موافق دی په وعدو کي د تورات او انجيل سره.

وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُونَ لا

او زيات کړی هغه کسانو ته چي ايمان يې راوړی دی يعني المؤمنين (ايماناً)
يعني تصديق د رسول او تصديق بما جئت به (ولا يرتاب الذين) او په حقيقت کي

د قرآن شک نه وکړی هغه کسانو چي کتاب ورکړه سوی دی یعنی الیهود چي کتاب یې تورات دی او نصاری چي کتاب یې انجیل دی او مؤمنانو ستا د امت، ابن ابی حاتم او البیهقي رح له البراء بن عاذب رض څخه روایت کړی دی: ان رهطًا (جماعة) من الیهود سئالوا رجلاً من المسلمین من اصحاب النبي ﷺ عن عدد خزنة جهنم فنزلت ساعة هده علیها تسعة عشر، فیکون هذا نبأ لاستیقان اهل الکتاب و ازدیاد المؤمنین ایمانًا.

وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ؕ

او وایي هغه کسان چي په زړو کي یې مرض وي، ای نفاق یا هغه کسان چي په زړو کي یې ناجوړي او نفاق وي.

پوښتنه: سورت خو مکي دی او منافقین خو په مدینه کي پیدا سوي وه؟

ځواب: دا اخبارؤ په مکه کي د هغه حال چي په مدینه کي به نمودار کېږي.

(ماذآ ارد الله) چي اراده وکړي خدای د (۱۹) په راوړو ضرب مثل یعني چي مستغرب دی لکه استغراب المثل او یا دا چي دوی (۱۹) ډېر مستبعد وبلل، حسبوا دوی ګمان وکړی انه مضروب مثلاً.

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِىْ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

همدا رنګه (متعلق دی بما بعده ای کما اضل الله بعدة بیان الخبر ده (۱۹) ګمراه کړه او هدایت یې ورکړی بل قوم ته) ګمراه کوي خدای بعض کسان چي اراده یې ورته وسي او هدایت کوي و یو چاته چي اراده یې ورته وسي.

وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ ؕ وَمَا هِىَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ۝۳۱

او نه دی خبر په کمیت او کیفیت بیله ده و اما عددهم (۱۹) لایحتمل الزیادة والنقصان، قال مقاتل رح دا جواب دی د قول د ابی جهل حین قال ما لمحمد اعوان الا (۱۹)، حاصل د جواب یې دا دی چي هغه چي خدای ج پیدا کړي لپاره د تعذیب د کافرانو فوجًا فوجًا لایعلم عدتهم الا الله عزوجل، او رئیسان د هغو (۱۹) ملکي دي وهذا کما قال القرطبي المراد بتسعة عشر رؤسائهم و اما جمله خزنة النار فلا یعلم عددهم الا الله الملک الجبار (وماهي الا ذکری للبشر) او نه دی (یعني سقر یا غدد (۱۹) یا دا سورة) مګر پند او وعظ د بشر لپاره.

كَلَّا وَالْقَمَرِ ﴿٣٢﴾ وَالَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ﴿٣٣﴾

(كلا حرف ردع دی يعني منع د لمن انكر السقر ای ارتدع عن انكاره يا ردع لمن انكر كون ملائكة العذاب (١٩) (والقمر) الواو للقسم (والليل اذا ادبر) معطوف على القسم چي شا وګرځوي يعني د تېرو پر خوا سي، قال ابو عمر ؒ هذه لغة قريش، وقال قطرب دبر په معنی د اقبل دی.

وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ﴿٣٤﴾

او قسم دی په سپېدو چي راوچوي يعني روښانه سي.

إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ﴿٣٥﴾ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ﴿٣٦﴾

په تحقيق دغه ای السقر يو دی له لويو بلاؤ څخه ان بلايا يوم القيامة كثيرة والسقر واحدة منها ولي بلاوي د قيامت ډېري دي جهنم، ولظی، والحطمة، والجحيم، والسقر، والهاوية، والجملة يعني انها لاحدی الكبر جواب د قسم ده (نذيرًا للبشر) منصوب دی على تميز من احدی الكبر ای انذارًا والحاصل انها ای السقر من معظمات الدور ای التي خلقها الله للتعذيب (د لوی بلاؤ څخه دی چي خدای ؒ پيدا كړی دی لپاره د تعذيب)

لِمَن شَاءَ مِنكُمْ أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴿٣٧﴾

لمن شاء منكم: بدل دی من قوله للبشر ای نذيرًا للفريقين (ان يتقدم او يتأخر) دا مفعول دی د شاء ای من يشاء ان يتقدم الی الايمان والخير والطاعة ولمن يشاء ان يتاخر في الشر والمعصية والكفر.

تفريع: تو بيخ او انذار دی ولهذا قال الحسن ؒ والله ما انذر بشيئ من هذا نذيره قوله تعالى فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر فهو تو بيخ و انذار لا الاختيار بين الايمان والكفر.

درويش وايي: چي د تو بيخ او انذار الفاظ په پښتو كي هم سته مثلاً د يو غني سړي زوی پلار ته وايي چي زه امريكا يا جرمني ته ځم، د پلار يې خوښه نه وي لكن زوی يې اصرار كوي، وروسته يې پلار ورته ووايي ورځه پر هره چي ځې ولاړ سه.

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ﴿٣٨﴾

اى من المعاصي والسيئات.

درويش وايي: چي ډېر علماء رهين فعيل په معنى د مفعول بولي اى مرهون لكن يرد عليه چي كه په معنى د مفعول واى، نو ولي به يې رهين لا رهينة لان النحات قالوا ان الفعل بمعنى المفعول يستوي فيه المذكر والمؤنث نو په قرآن مبارك كي ولي رهينة راغلى دى، بلكې صحيح دا ده چي رهينة مصدر دى كالشتيمة (معنى بنكنځل كول) نو معنى يې رهن ده چي مصدر دى لكن حمل يې پر نفس مبالغة دى نحو زيد عدل يا په حذف د مضاف يعني ذات رهن، وحاصل المعنى كل نفس عاصية كافرة محبوس في النار ابدًا.

إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٩﴾

درويش وايي: چي استثناء منقطع ده له اصحاب اليمين څخه، مراد د ابن عباس رض په روايت هغه كسان دي چي عملنامې په راسته لاس وركول كېږي، اخرج ابن المبارك رح عن رجل من بني اسد، قال قال عمر رض لكعب رض قل لي من حديث الآخرة قال نعم يا امير المؤمنين اذا كان يوم القيامة وضع اللوح المحفوظ فلم يبق من الخلائق الا هو ينظر الى عمله، وروسته بيا راوړل سي صحف چي په هغو كي اعمال د بندګانو نوشته وي، دا صحف ټوله د عرش كريم له خوا رانشر كېږي، بيا راوبلل سي مؤمن او كتاب په راسته لاس وركړي مؤمن يې مطالعه كړي، انتهى قول كعب رض، وقال مقاتل رح هم اهل الجنة الذين كانوا على يمين آدم عليه السلام يوم الميثاق، حاصل ددې اقوالو يو دى چي د اصحاب اليمين څخه مراد مؤمنان دي فانهم غير محبوسين في النار ابدًا بل ينجون بعد العذاب بقدر ذنوبهم او بلا تعذيب بالشفاعة او بمحض فضل ربه الكريم.

فِى جَنَّٰتٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾

پوه سه: چي في جنات خبر د مبتداء محذوف دى اى هم في جنات (عن المجرمين) اى عن حال المجرمين اى الكفار.

پوه سه: چي تفاعل په معنى د نفس فعل دى اى يسئلون المجرمين عن

احوالهم حذف المسؤل عنه يعني چي له ده څخه پوښتنه کوي لدلالة مابعده عليه، په حديث کي راغلي دي چي خدای پاک مطلع وګرځوي اهل جنت چي دوی هم په جنتو کي وي حتى يرون اهل النار وهم في النار فيسئلونهم.

مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾

تاسي څه عمل داخل کړي ياست دوږخ ته، دوی وواېي (اى المجرمين في جوابهم) موږ نه وُ د لمونځ کونکو څخه يعني لمونځونه مو نه کول (لم نک) نون په جزم سره حذف کړی لمشابهة حرف العلة في امتداد الصوت، ولي چي ن امتداد په خيشوم کي دی او حرف علت په حلق کي دی (من المصلين) اى الصلوة المفروضة (ولم نک نطعم المسکين) او طعام مو نه ورکاوه مسکين ته يعني مايجب اعطائهم کالوالدين الفقيرين، مفسرين وايي چي دا آيت دليل ددې دی چي کافران مخاطب او مکلف دي په فروع د عملو لکه لمونځ صدقه وغيرهما، دليل يې دا دی چي دوی ته مؤاخذة في الاخرة سته وانما سقط الخطاب في الدنيا لفقد الشرط آدائها وهو الايمان ولا وجه بسقوت التکليم عنهم يعني بالفروعات ولي چي کفر موجب د تشديد دی.

تفريع: حقوق د خدای عزوجل من العبادات والعقوبات يسقط بالاسلام، نو مسلمانان وروسته تر اسلام نه دي مکلف په قضاء د مافات عنه في حالة کالصلوة والصوم والزکوة ولايجري عليه حد الزنى في حالة وغيرها، قال رسول الله ﷺ الاسلام يهدم ماکان قبله اى من حقوق الله دون حقوق العباد.

وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰ أَتَانَا الْيَقِينُ ﴿٤٧﴾

موږ وُ چي په لعب او بېکاره خبرو کي چي خدای به نهي ځني کړي وې بحث مو کاوه سره د ورته موږ ته کسانو سره، او موږ تکذيب کاوه د يوم الجزاء يعني بعث بعد الموت چي له دې څخه مو انکار کاوه.

فائده: تکذيب د يوم الدين يې تر مامضى ګڼهو وروسته د تعظيم (يعني ترقي ده من الادنى الى الاعلى) (حتى اتانا اليقين) يعني الموت.

سوال: په مرګ سره دوی ته يقين پر ورځ د قيامت نه راتلى او سره ددې چي منکرين د قيامت تړوله خو مړه سوه؟

ځواب: په صحيح حديث کي راغلي دي: من مات فقد قامت قيامته يعني د

قبر په عذابو سره دوی ته چي بعد الموت عذاب سته فهو مقدمة ليوم القيامة.

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشَّافِعِينَ ﴿٤٨﴾

نو دوی ته فائده نه کوي شفاعت د ټولو شافعانو (الالف واللام للاستغراق) والكلام بناء على الفرض يعني که یې څه هم ټوله شافعين شفاعت وکړي والا فلا شفاعة لهم من شافع واحد فضلاً عن الكل، مظهري وايي چي دا جمله متصله ده اما بقوله تعالى كل نفس رهينة او بقوله لم تک من المصلين آه.

درويش وايي: چي دا آيت دلالت کوي چي مؤمنان پس له ايمان څخه په هر فسق سره مبتلا دي شفاعت د شافعينو فائده نه ورته کوي.

بيت په شان کي د سيد الشافعينﷺ:

عطای شفاعت چنانش دهند ..... که امت تمامی ز دوزخ رهند

احاديث صحيحه في باب الشفاعة: اسحق بن راهوية په خپل مسند کتاب کي د ام حبيبهؓ او ام سلمهؓ څخه روايت کړی دی ما من مسلم يموت له ثلثة من الولد (نه نر او نه ښځه) لم يبلغوا الحلم (چي بلوغ ته نه وي رسيدلي) الا جئ بهم حتى يوقفوا على باب (پر دروازه د جنت و درول سي) نو دې اطعامو ته وويل سي يعني د ملکو د خوا چي ځئ جنت ته ولاړ سئ دوی وو وايي فاين ابوانا؟ زموږ پلرونه چيري دي، بيا دوهم وار ملکي ورته ووايي ادخلوا الجنة، دوی هغه د مخه جواب ورکړي، بيا دريم وار ملکي د دخول الجنة ورکړي دوی هغه اولنی جواب ورته تکرار کړي، اخيرًا ملکي ورته ووايي چي داخل سئ و جنت و آبائكم (له اباء څخه يوازي نر نه دي مراد بلکې امهات يعني مندي هم پکښې داخل دي صرف هتڅًا يې هغه نه کړې ذکر) فذالک قوله تعالى: فما تنفعهم الشافعين (يعني چي نفي د فائدې د شفاعت يې پر کافرانو وکړی چي مفهوم يې دا دی چي مؤمنان شفاعت د شافعينو فائده کوي) وقال ابن مسعودؓ يشفع الملائكة والنبيون والشهداء والصالحون وجميع المؤمنين (يعني هغه مؤمنان چي د خپلو ځانو د غمه خلاص سي) نو نه پاتيږي په دوږخ کي مګر لږ کسان، ثم تلى ابن مسعودؓ قالوا لم نکن من المصلين چي لمونځ نه کوي که څه هم مؤمنين وي بايد شفاعت د شافعينو دي فائده ورته کوي لترتبت عدم قوله فما تنفعهم الخ على قوله لم يکن من المصلين مع ان الامر

ليس كك، لان تارک الصلوة مع كونه مؤمنًا لينفعه شفاعة الشافعين بالاجماع بين اهل السنة والجماعة، وكذالک قوله ولم نک نطعم المسكين چي مؤمن دي شفاعت د شافعينو ورته كوي بالاجماع، وكذا قوله وكنا نحوض مع الخائفين تنفهم شفاعة الشافعين بالاجماع، نعم قولهم وكنا نكذب بيوم الدين چي كفر دی شفاعت د شافعينو فائده نه ورته كوي بالاجماع لان الشفاعة لامجال له مع الكفر.

نو حاصل د سوال دا دی چي پر اولو درو ترتب د فما تنفعه شفاعة الشافعين څرنګه روا دی؟

ځواب: تفريع د ما تنفعه شفاعة الشافعين پر مجموع امور ..... دی لاكل واحد منهما نو پر مجموع خو دا حكم د عدم تقع الشفاعة شافعين خو روا دی، يو لوجود قوله تعالى: نكذب بيوم الدين چي مكذب بالدين خو كافر دی د كافر شفاعت نسته بالاجماع.

سوال: په دې خو موږ پوه سوو چي عدم نفع د شفاعة الشافعين خو سبب يې اخيري جز دی يعني وكنا نكذب ليوم، نو امور ثلثه اول يې ولي ورسره يو ځای كول؟

ځواب: مبالغةً في عدم جوازها.

فائده: اهل الاهواء يعني المعتزلة والخوارج والروافض قبحهم الله له شفاعت څخه منكر دي بناء مذهبهم الفاسد چي تعذيب د مؤمن عاصي مات بلا توبة واجب دی على الله تعالى، لكن شفاعت د عصات المؤمنين چي بلا توبه مړ سوی وي ثابت بالاحاديث المتواترة المعنى كه موږ ټوله را جمع كوو لطال الكلام غاية التطويل لكن تذكرة منها، عن ابن عباس رضي يقال للعالم اشفع لتلامذک ولو بلغت عدد نجوم السماء رواه الديلمي، وعن ابى الدرداء رضي مرفوعًا الشهيد يشفع في سبعين من اهل بيته، رواه ابو داؤد، وعن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اشفع لامتي حتى ينادى ربى ارضيت يا محمد فاقول رضيت اى ربي رواه البزار والطبراني، وعن انس رضي قال قال رسول الله ﷺ شفاعتي لاهل الكبائر من امتي رواه الترمذي وابن عباس رضي والحاكم وابن ماجه وروى الخطيب عن عثمان بن عفان رضي عن النبي چي يو عالم او بل عابد راوستل سي فيقال للعابد ادخل الجنة ويقال للعالم قف حتى تشفع، وعن انس قال قال رسول الله ﷺ من كذب بالشفاعة (كالفرق المذكورة قريبًا) فلا نصيب له فيها، و

من كذب الحوض فليس له فيه نصيب، وفي حديث عشر من الصحابة قول رسول الله ﷺ شفاعتي يوم القيامة حق فمن لم يؤمن بها لم يكن من اهلها.

فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ ﴿٤٩﴾

پس څه پيښه ده دوی ته، د تذكرة څخه مراد قرآن دی يا عام مذكرات دي (معرضين) مخ اړونكي دي يعني بې معنی.

پوه سه: چي كلمه د فاء سببية ده و كلمة ما استفهامية مبتداء ده ولهم خبره، وعن التذكرة استفهام انكاري دی عن شفاعة حالهم في الدنيا المفضي الى العذاب في الآخرة فان عذاب الآخرة سبب للابكار.

كَاَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنْفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ ﴿٥١﴾

گويا خره دي نفرت كونكي يا بېرونكي چي تښتېدلي وي د زمري څخه، ولي وحشي حيوان چي زمری ويني يهربون منه اشد الهرب.

پوه سه: چي په آيت متلوه كي حال د كفارو چي اعراض او نفرت كوي له اورېدو څخه د قرآن يا له موعظت څخه د عليه الصلوة والسلام په هغه خرو سره يې مشابه كړه چي نفرت كوي له زمري څخه، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي له قسوة څخه مراد زمريان دي، مجاهد او قتاده او الضحاك رحمهم الله وايي چي له قسوة څخه مراد ښكاريان دي مضر چي نفعه نه لري.

درويش وايي: چي پر هر تقدير مراد له حمر څخه د غره پوسونه دي چي گوره خرې بولي چي شكل يې د كورنيو خرو دی او ښكرونه لري او غوښې يې حلالي هم دي او مزه داره هم دي چي بعض كسان يې په تعليم يافته سپوو چي تازيان يې بولي يا په نورو تعليم يافته سپوو ښكاروي يا يې د مځكي په دامو يا تلكو ښكاروي، والله اعلم.

بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾

كلمه د بل ابتدائيه ده وليست الاعراض عن التوبيخ بلكې انتقال د حال امر اهم منه، قال المفسرون قال قريش لرسول الله ﷺ ليصبح عند رأس كل منا كتابًا منشورًا من ان رسول الله نؤمر بالتباعك (كفارو د قريشو وويل و رسول الله ﷺ ته

چي سهار دي و سر ته د هر سړي يو مكتوب چي خلاص پروت وي په هغه مكتوب كي دي زموږ امر وركړه سوى وي په متابعت ستا) منشرة جمع د منشور ده.

كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ الْآخِرَةَ ﴿٥٣﴾

داسي نه ده بلكې دوى نه بېرېږي له آخرت څخه (كلا) ردع ده اقتراح د آياتو بعد وضوع امر نبوية ﷺ بالمعجزات (بل) اضراب دى له قوم متقدم څخه يعني د صحف منشرة ؤ څخه مقصود د دوى دا نه دى چي امر د اتباع ستا پيدا كړي بل هو اقتراع محض ده، لكن اصلاً خبره دا ده چي دوى له آخرت څخه نه بېرېږي لانكارهم عن الآخرة، نو هر څه چي پر خوله ورغله وايي يې استهزاءً و تعنتًا.

كَلَّا إِنَّهُ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَاءَ ذَكَرَهُ ﴿٥٥﴾

(كلا) ردع على انكار الخوف وتاكيد للردع السابق (انه) اى القرآن (تذكرة) موعظة دى يذكر الله سبحانه وتعالى بصفاته الجميلة والجلالية و بالرحمة والعذاب الى غير ذالك (فمن شآء ذكره) كه د چا خوښه وي چي قبل الموت و ورود القبر خداى ج ذكر كړي

پوه سه: چي ظاهر د آيت تخيير دى او په واقع كي توبيخ دى.

وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ التَّقْوَىٰ وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

او دوى مشيت د ذكر نسي كولاى في وقت من الاوقات الا وقت مشيته تعالى، په دې سره دليل دى پر دې چي افعال د بندګانو په مشيت پوري مربوط دي، كريمه: وماتشآؤن الا ان يشآء الله رب العالمين.

(هو اهل التقوى) خداى عزوجل حقداره دى د دې چي سړى ځني بېرېږي له عقاب څخه دده پر معصيت، او خداى عزوجل لائق دى د دې چي خپل بندګان مؤمنان وبخښي، له انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ په تفسير كي د دې آيت داسي وويل هو اهل التقوى قال ربكم عزوجل هو اهل اتقى الشرك ولا يشرك بي غيري وانا اهل لمن اتقى ولايشرك بي ان اعفره اى سائر، رواه احمد والترمذي وابن ماجه.

درويش وايي: وقد تم تفسير سورة المدثر پر اتمه (۸) نېټه د روژې د مياشتي وقت القيلولة بتوفيقه تعالى، وحال ان اشرع بتفسير سورة القيامة بعين الوقت المذكور.

سُوْرَةُ الْقِيٰمَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۝۱

پوه سه: چي قنبل له قراؤ څخه دا كلمه بغير الالف بعد اللام وايي چي صورت يې داسي دى لا اقسم، دا خو حتمًا قسم دى او لام لپاره د تاكيد د قسم دى، والمشهور لا اقسم بكلمة الالف بعد الام، په دې قرائت كي بعض وايي چي كلمه د لا د نهي لپاره ده، يعني زه قسم نه اخلم يعني بې قسمه يې ومنه لان الامر ظاهر لاحاجة الى القسم، روح المعاني وايي چي ادخال د لا النافية پر فعل باندي مشهور دى في لغة العرب او دا شعار د دوى كما قول امرء القيس:

لا و ابيک ابنة العامري .... الى اخير البيتين، او خلاصه د كلام د جرار الزمخشري دا دى چي پر ځاى چي په مابين كي د كلام لا راسي كقوله فلا وربک هغه زائد دى تزاد لتاكيد القسم كما في قوله تعالى لئلا يعلم اى ليعلم، او روح البيان يې هم زيادت ته ترجيح وركړې ده واستدل قول الشاعر العربي:

تذكرت ليلى فاعترتنى صبابة ..... وكاد صغير القلب لا ينقطع

دا لا زائد دى اى وكاد صغير القلب ينقطع.

وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۝۲

په دواړه ځايه كي خو مقصود قسم دى وجواب القسم محذوف دل عليه مابعده اى لتبعثن وليجزين كل نفس بما كسبت ان خيرًا فخير وان شرًا فشر، قال البيضاوي وادخال لا النافية على فعل القسم التاكيد شائع في كلام العرب ووجه شيوع ذالک ان ذالک الامر ظاهر مستغن عن التاكيد بالقسم كمامر وذالک لان من له فهم وعقل او تأمل بعد ما يرى من الناس فاجر ظالم على الخلق قاطع الرحم مرتكب لامور يحكم العقل لقبحها وهو في رعد عيش (په فراخه عيش كي به وي) ومن هو شاكر لله راض عند الخلق (اى مرضى عند الخلق) في محبته يحكم بان ينجز دار آخر فافهم.

پوه سه: چي مراد له نفس اللوامة څخه اما المعنى الجنسي، قال الفراء ليس

من نفس فاجرة او بارة الا وهي تلوم انفسها اى في الاخرة لانها ان عملت خيرًا يقول هلا زدت وان كانت عملت سوء قال ليتني لم افعل هذا فانفس الناس في الآخرة محصورة كلها في اللوامة.

درویش وايي: چي مظهري ويلي دي قال فلان قال فلان كما هو عادته وليس في تلك الاهوال مزيد شيئ عمامر.

اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ﴿۳﴾

آيا گمان كوي انسان (دا استفهام انكاري دی لپاره د توبيخ) البغوي وايي چي دا آيت نازل سوی دی په عدي بن ربيعه چي حليف د بني زهرة ؤ ختن (زوم) الاخنس بن شريق الثقفي ؤ وكان النبي ﷺ يقول اللهم وفقني من جاري السوء يعني عديًا والاخنس وذالک ان عديًا جاء الى رسول الله ﷺ فقال يا محمد حدثني عن يوم القيامة او كله به وي وكيف امرها وحالها فاخبره النبي ﷺ فقال عدي كه زه دغه ورځ قيامت په سترگو هم ووينم لم اصدقک (ستا د نبوت تصديق نه كوم) في ان يجمع العظام الفرات المتفرقة وكان الاخنس اشد من عدي فانزل الله تعالى (ان لن يجمع عظامه) چي نه يې سي سره جمع كولای زما هډوكي يعنى بعد التفريق (چي سره جلا سي او بوسيده سي) چي غرض د انسان كافر دا ؤ چي بعث بعد الموت نسته، ولي چي هډوكي ځای د روح دي او اعاده د متفرع پر جمع د اعظاء والكافر منكر لجمع الاعضاء المتفرقة.

بَلٰى قٰدِرِيْنَ عَلٰۤى اَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهٗ ﴿۴﴾ بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ﴿۵﴾

هو كې (په رد كي د انكار د كافر خدای وايي بلى يجمعها الله پيا حيوة وركوي) دی له فاعل څخه چي له مضمون څخه د بلى فهمېدی (على ان نسوي بنانه) د گوتو بندونه او جوړونه چي په ډېر دقت سره برابرېږي (بل يريد الانسان) بلكې اراده لري انسان چي مخته هم گناه وكړي.

پوه سه: چي ليفجر منصوب دی په ان مقدر سره ولي چي حرف خو پر فعل نه داخلېږي بيله تقديره د ان؛ قال المظهري واللام زائدة قال مجاهد و عكرمة والحسن، والسدي معناه لايجهل ابن آدم ان ربه قادر على جمع عظامه لكنه يزيد

ان يخير اى يكفر امامه اى ما ياء عليه من الزمان المستقبل فيدوم على الكفر لاينزع ولايتوب، وقال سعيد بن جبير معناه يقدم على الذنب ويؤخره التوبة، ويقول سوف التقرب الى الله سوف اعمل علمًا صالحًا حتى يأتيه الموت على شر حالة او الضحاک وايي چي فجور امل دی چي په زړه کي دا وي چي زه ژوندی يم دومره دومره يعني لو سرمايه به لاس ته راولم ولا يذكر الموت، وقال ابن عباس رض وابن زيد چي دی يعني انسان فاجر تکذيب کوي په ما امامه سره يعني القيامة والبعث والحساب او فجور ميل ته وايي دی فاجر بولي لميله من الحق.

يَسْـَٔلُ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ﴿٦﴾

(يسئل) حال دی له فاعل څخه د يفجر ای سائلاً استبادًا او استهزاءً) پوښتنه کوي چي کله ده ورځ د قيامت غرض يې انکارؤ چي ورځ د قيامت نسته.

فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾

په قاموس کي وايي برق کفرح و تضر يعني پر دواړه بابه راغلی دی برقا و بروقا (دواړه يې مصدر دي) تحير بحيث لايطرف (چي سترگي به حيراني پاتي سوې پر داسي وجه چي رپولای يې نسوای من شراه ما يری من احوال يوم القيامة وشدائدها (وخسف القمر) او توره سي سپوږمۍ يعني نور يې ولاړ سي، في ذهاب نور کل واحد منهما کا جاء في الحديث النبوي[۴] او جمع بينهما في الطلوع من المغرب او في الالقاء في النار.

يَقُوْلُ الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ اَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾

وبه وايي انسان په دې ورځ چېري دی ځای د تېښتي، ای الانکار المنکر اذا رئ تلک الامور (المفر) يعني چېري ده تېښته کما قاله اکثر المفسرين (يعني په مصدر يې ترجمه کړې ده لا بالظرف)

كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾

هيڅ کله نه (کلا) ردع عن طلب الضرار، دليل يې دا دی (لاوزر) نه ځای د پناه نه يو قلا سته نه يو غر.

پوه سه: چي اصل معنی د وزر غر ده، لان العرب للحيوان الی الجبال عند الوقاع اليها ..... لکن دلته مراد مطلق ځای د پناه دی.

اِلٰی رَبِّكَ يَوْمَئِذِ ﹻالْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ ﴿١٣﴾

و حکم ته د خدای ؒ نن ورځ ځای د قرار او رجوع ده (ينبؤ الانسان) خدای به خبر کړي جنس انسان په دغه ورځ (بما قدم واخر) قال ابن مسعود رض وابن عباس رض ما قدم قبل موته من عمل صالح وسيئ او د ما اخر څخه مراد ما اخر بعد موته من سنة حسنة چي خلګ عمل د ښوو په کوي لکه يو مدرسه يا مسجد جامع چي په مدرسه کي به علماء درس کوي او په مسجد جامع کي خلګ لمونځونه کوي او ذکر الله به يا طريقه سيئه چي خلګ به عمل سيئ به پکښي لکه شرابخانه او د قمار ځای اشارة الی حديث صحيح من سن في الاسلام سنة حسنة يعمل، اشارة الی حديث صحيح من سن في الاسلام سنة حسنة يعمل بها الناس فله اجرها واجر واجر من عمل بها من غير ان يقض من اجورهم شيئ ومن سن في الاسلام سنة سيئة فله وزرها و وزر من عمل بها من ان ينقص من اوزارهم شيئًا.

بَلِ الْاِنْسَانُ عَلٰی نَفْسِهٖ بَصِيْرَةٌ ﴿١٤﴾ وَّلَوْ اَلْقٰی مَعَاذِيْرَهٗ ﴿١٥﴾

بلکي انسان ښه خبر دی بما عمل في الدنيا من حسنة يعني په ياد يې وي بما عمل في الدنيا من حسنة او سيئة حاجت وخبريد ته نه لري.

سوال: بصيرة خو مؤنث دی او انسان مذکر دی فکيف يصح الحمل؟

والجواب: ان القتاء للمبالغة لا للتانيث، کما قال الله تعالی کفی بنفسک اليوم حسيبًا، کذا رواه ابو العالية وعطاء ورواه البغوي عن ابن عباس رض او دا احتمال که څه هم بعيد دی چي بصيرة صفت دی د محذوف تقديره بل الانسان حين بصيرة علی نفسه ای علی اجمال نفسه، وقال مقاتل والکلبي معناه ان في الانسان علی نفسه بصيرة ای رقباء يرقبونه ويشهدون بعمله وهو سمعه ويصبره وخوارجه فحذف حرف الجر ای في الانسان علی نفسه اقباء يرقبونه في الدنيا فيشهدون بها يوم القيامة.

(ولو القی معاذيره) قال الضحاک والسدي که څه هم دی دروازې وتړي او پردې واچوي چي فعل د معصيت کوي چي پټ کړي ما يعمل فائده نه ورته کوي لان نفسه

عليه شاهدا وكذا جوارحه التي يزني بها وكذا الملائكة الحاضفة والله على كل شيئ شهيد، وابن اليمن يسمون الستر معذارًا، وجمعه معاذيره او مجاهد او قتاده او سعيد بن جبير وايي يشهد على العاصي الشاهد من الجوارح والملائكة واعتذر وجادل عن نفسه پر دې معنی معاذير جمع د معذار په معنی د عذر وجمع د معذرة على خلاف القياس، بخاري او مسلم له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی كان رسول الله ﷺ اذا نزل جبرئيل بالوحي يحرک لسانه وشفتيه وكان يستد عليه يريد حفظ ما انزل الله او خلک پر شدة د وحي پر عليه الصلوة والسلام توهېدل فانزل الله هذه الآية.

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ ﴿۱۶﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهٗ وَقُرْاٰنَهٗ ﴿۱۷﴾

ته مه ښوروه (يا محمد ﷺ) به: اى بالقرآن (لسانک) يعني قبل ان يتم وحی (لتجعل به) يعني چي على العجلة په قوت حافظه راوړي چي يو شی له قرآن راڅخه پاته نسي، په تحقيق پر موږ دی جمع د قرآن ستا په سينه کي (وقرآنه) او اثبات د قرائت ستا پر ژبه دا جمله تعطيل د نهي دی يعني لاتهرک.

فَإِذَا قَرَاْنٰهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ ﴿۱۸﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهٗ ﴿۱۹﴾

يعني په لسان د جبريل ع.

پوه سه: چي خدای پاک اضافت د جبريل و ځان ته وکړی مجازًا لانه تعالى سبب آمرله (فاتبع قرآنه) يعني اقراء بعد فراغ جبريل ع وكذالک التلميذ لابد له ان يقرء بعد تلاوة المقري ولايقرئه معه كيلا يحصل المزاحمة بالقرآئتين والتشويش (ثم ان علينا بيانه) اى القرآن که چيري يو مشکل لفظ يا مجمل په قرآن کي راسي زه يې بيان در ته کوم.

درويش وايي: چي د دې آيت څخه دا معلومه سوه چي هيڅ شی له قرآن څخه غير معين و عليه الصلوة والسلام ته نسته و الايخلو الخطاب عن الفائدة كالتكلم بالزنجي مع العربي.

كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ ﴿۲۰﴾ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴿۲۱﴾

(كلا) ردع على انكار البعث او على الفجور امامه يعني قبل البعث او القاء المعاذير الباطلة (بل تحبون) تاسي محبت لرئ د تحبون ضمير راجع دی و انسان المذكور.

سوال: انسان خو مفرد دی تحبون خو جمع دی فكيف الارجاع؟

ځواب: الجمعية بالنظر الى المعنى لانه بمعنى الجمع اى الجنس (العاجلة) هغه نژدې شى چي لذائذ او شهوات د دنيا دي ولي چي تړوله عمر د دغو په طلب كي سرګردانه ياست.

(وتذرون الآخرة) تاسي پرې ايښى دى آخرت، ولي چي د هغو سرګردانه به نه ياست بلكې لايعلمون ان الله قادر على البعث بعد الموت، او په دې هم نه پوهيږئ چي زموږ معاذير به موږ ته نفع وكړي او كه څرنګه.

وُجُوْهٌ يَّوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿۲۲﴾ اِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿۲۳﴾

مخان به په دغه ورځ سرسبز و شاداب وي وناعمة حسنة برېښي به.

پوهسه: چي (وجوه) مبتداء ده.

سوال: وجوه خو نكره ده نو ابتدائيه څرنګه صحيح ده؟

ځواب: دا نكره يا منصوص په تقدير صفة مقدرة اى وجوه بشره او وجوه منهم من جنس الانسان الذي مر ذكره (يومئذ) ظرف دى لما بعده اى يوم اذا كان من بروق البصر او يوم اذا كانت لقائه (ناضرة) خبر دى (الى ربها ناظرة) كتونكي به وي برؤية البصر لا كيفية ولا جهة ولا ثبوت مسافة بين الرب تعالى و عبده الرائي ولابقياس الغائب عن الشاهد، ولهذا قال المولى الجامي قدس سره:

مصرع:... نه پرس از ما زكيفيت كه چون بود.

واخرج البيهقي في كتاب الرؤية من طريقه عن ابن عباس رضي الله عنه قال وجوه يومئذ ناضرة نضرة الخالق، وعن ابن عمر رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان ادنى اهل الجنة منزلة ان ينظر الى احبابه وازواجه ونعيمه وخدمه وسرده مسيرة الف سنة واكرمه على الله من ينظر الى وجه ربه تعالى غدوة وعشية ثم قرء رسول الله ﷺ وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة، رواه احمد والترمذي والدار القطني، وفي الباب حديث انس رضي الله عنه رواه البزار والطبراني والبيهقي وابو يعلى بطوله وفيه يوم الجمعة يزداد فيها نظرًا الى وجهه تعالى له دې سببه يوم المزيد بولي، واخرج ابن عباس رضي الله عنه اهل الجنة يرون ربهم كل جمعة وعن انس رضي الله عنه مرفوعًا قال الله تعالى: من سلبت كريمتيه كه په دنيا كي څوک ما په دواړو ستركو ړوند كړى وي، جزائه الحلول في .... (من المتشابهات) والنظر الى وجهي.

درویش وايي: چي پر رؤيت د خداى عزوجل په ورځ د قيامت او په جنت كي انعقد اجماع اهل السنة والجماعة او له دوى څخه مخالف دي اهل الاهواء من المعتزلة والخوارج وغيرهم دوى وايي چي روئة ددې تقاضا كوي چي مرئي به جسم كثيف بلا حجاب وي او بل دا غواړي چي رائي او مرئ متوسط مسافت وي نه په غايت قرب، له دې سببه هيڅ سړى خپل بانړوګان نهويني، ولا الى غايت البعد بدون العصرية و وصوله الى المرئي المقتضى لثبوت الجهة له تعالى، او په منقولاتو كي دا دليل وايي چي لايدركه الابصار وهو يدرك الابصار.

درویش وايي: چي مظهري بحث د رؤيته تعالى ډېر اوږد كړى دى او ده د مخالفينو دلائل عقليه او نقليه هم راوړي دي بيا يې جواب هم نه دى وركړى، اصل خو دا ده چي ددې تحقيق او تفصيل او جوابات د مخالفينو علامه ثاني سعد الملة والدين التفتازاني په شرح العقائد كي په مختصره توګه راوړي دي، او په شرح المقاصد كي يې په مفصله توګه راوړي دي، او په دې باره كي قاضي عضد الملة والدين وشرحه للسيد الجرجاني ولاعليک ان تطالع كتاب الملل والنحل لعبد الكريم الشهرستاني في هذه المسائل.

درویش وايي: چي صاحب د روح البيان وايي چي نضرة طراوه ده د ابرو و جمالها وذالک من اثر التنعم والمعنى وجوه كثير وهي وجوه المؤمنين المخلصين يوم اذ تقوم مباهية شايد عليها نضرة النعيم الى ربها ناظرة على ان وجوه مبتداء ده و ناضرة يې خبر دى الى ربها ناظرة قوله ناظرة خبر ثاني دى والنظرة قلب البصر والبصيرة لادراک الشئ ورؤيته ثم قال وهذا عند اهل القال واما عند اهل الجان فلا ينحصر النظر والبصر والاجاء القيد والله منزه عن ذالک بل فيقلب الظاهر باطنًا والظاهر يقراء بجميع الاجزاء فيشاهد الحق به، كما يشاهد بالبصير والدنيا والآخرة وانما الحكم القلب والجسد الطاهر والطاهر الاجزاء فيشاهد الحق، بزرگى و ابرسيدند راه از كدام جانب گفت از جانب تو نيت چون از تو در گذشتي...

درویش وايي: چي د رؤية ډېر مثالونه يې راوړي دي او تر اندازه بالا بيان يې پكښې كړى دى كه دغه مقام په ډېر غور مطالعه سي فائده به ډېره وي ان شاء الله، واخرج الاجرى عن ابن عباس رض عن النبي ﷺ ان اهل الجنة يروون ربهم كل

جمعة، وفي حديث جرير البجلي موږ ناست وُ د عليه الصلوة والسلام سره چي ناڅاه وکتل و سپوږمۍ ته د څوارلسم (۱۴) تاريخ چي ليلة البدر ريې بولي، فقال سترون ربکم کما ترون هذا القمر ليلة البدر (التشبيه لا في العلو والسفل) بلکې مراد په تشبيه کي دا ده چي تاسي به ازدحام په رؤيت کي د خدایؒ نه کوي لکه ازدحام چي د څوارلسم په سپوږمۍ کي نه کوي.

فائده: تفسير ددې آيت: ناضرة الى ربها ناظرة و تفسير قوله تعالى: الذين احسنوا الحسنى وزيادة و قوله تعالى ولدينا مزيد وغيرها من الآيات په رؤيت سره د خدایؒ مسندة عن النبي ﷺ او د اصحابو﵃ او د تابيعنو څخه حتى بلغت مبلغ التواتر المعنوي عند اهل كذا ذكره السيوطي وغيره.

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾

او مخان په دې ورځ به ترش وي چي عبوس يې په عربي بولي په پښتو اصطلاح يې تريو و ترش، ګنجلک بولي.

پوه سه: چي (وجوه) مبتداء ده بتقدير الاضافة او بحذف الموصوف اى وجوه كثيرة (يومئذ) ظرف لما بعده، والمراد يوم القيامة ده.

تَظُنُّ أَنْ يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾

چي ګومان به کوي بلکې يقين به کوي، خبر ثان، چي د دوی سره به وکړل سي يوه لويه بلا چي دده د ملا فقار (يعني هډوکی به ورمات کړي قال هي دخول النار) وقال بعضهم اصح آنست كه ان بلا حجابست از رب الارباب، مصرع: بلای بدتر از فراق يار نيست.

كَلَّا إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾

(كلا) ردع على ايثار الدنيا على الآخرة كانه و اذكر والموت الذي ينقطع الدنيا وتقبل الآخرة مخلدة (اذا بلغت) چي ورسيږي نفس.

سوال: نفس خو نه دی ذکر سوی نو اضمار قبل الذكر به نه وي؟

ځواب: نفس له سياق څخه د کلام فهميږي اذا شرطي دی جزاء يې الى ربک يومئذ المساق دی.

پوه سه: چي (التراقي) هغه دوه هډوکي دي عن اليمين والشمال له ځايه سره د ذبح ويکنی ببلوغ النفس الى التراقي نژدې د مرګ.

وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾

او ووايي حاضرين د زکندن والا چي څوک نسته چي دم پر وکړي مماهو فيه من الشدة (وظن) او يقين سي د زکندن والا (انه) اى المرض الشديد الذي نزل به (الفراق) چي دا وقت د جلاوالي دی زما د اهل او عيال او هر له هر محبوب څخه.

وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾

الشعبيؒ وايي چي راوپېچل سي يوه پنډۍ پر بله پنډۍ چي ښورولای يې هم نسي، كناية عن خروج من البدن، او ابن عباسؓ وايي چي وپېچل سي امر د دنيا پر امر د آخرت نو اخير ورځ د دنيا وي او اول ورځ د آخرت وي، نو پر دې عاجز جمع سي شدت د فراق د دنيا بشدة اقبال الآخرة (الى ربک يومئذن المساق) يعني لا الى غيره تعالى په دغه ورځ سوق دده کېږي، سعدي شيرازيؒ د فراق کلي په باره کي ډېر خواږه ابيات ويلي دي:

کوس رحلت بکوفت دست اجل .... ای دو چشم وداع سر بکنيد
ای کف ودست وساعد وبازو .... همه توديع يکديگر بکنيد
برمن افتاده مرگ دشمن کام .... اخير ای دوستان گند بکنيد
روزه گارم بشد لبادانی .... من نکردم اخير شما حذر بکنيد

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ ﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾

نه تصديق وکړی دغه سړي يعني د رسول يا قرآن او يا معنى دا ده چي نه يې تصدق د مال وکړي يعني زکوة المال يې ورنه کړي (ولايصلى) او نې هم فرضي لمونځ وکړي.

فائده: ضمير د دې الفاظو راجع دی و انسان ته، له سياق څخه د کلام داسي فهمېږي چي اوسني حکايات په عدي بن ربيعة کي دی المذکور وقال البغويؒ المراد به ابوجهل.

درويش وايي: چي اولى دا ده چي انسان محمول پر جنس سي فيشمل امثال

ابو جهل وابن ابی ربیعة وامثالها في شدة الکفر کما لایخفی (لکن کذب) لکن تکذیب د رسول اللهﷺ یې وکړی (وتولی) او ایمان یې نه راوړی.

ثُمَّ ذَهَبَ اِلٰٓی اَهۡلِهٖ یَتَمَطّٰی ؕ﴿۳۳﴾

بیا راهي سو د کور پر خوا ای چابک چابک روانۀ، في القاموس مطی د في الیسرة.

پوهسه: چي روح البیان یې ترجمه په خیال روان کېدل په تګ کي تکبر کول دي.

اَوۡلٰی لَکَ فَاَوۡلٰی ﴿۳۴﴾ ثُمَّ اَوۡلٰی لَکَ فَاَوۡلٰی ؕ﴿۳۵﴾

جمله دعائیه ده بمعنی ویل لک یا تهدید او وعید دی وفیه التفات من الغیبة الی الخطاب (فاولی) هلاک پر تا.

پوهسه: چي دا تکرار یحتمل تائید دعاء الشر کما مر، ویحتمل ان یراد به ویل لک في الدنیا بالقتل واللعن ولذا ذکر بالسوء والتعذیب، و ویل لک یوم الموت و ویل یوم بعثت و ویل لک اذا دخلت النار، وقال قتادةؒ ذکر ان النبيﷺ چي دا آیت نازل سو نو علیه الصلوة والسلام په شېله کي د بطحاء ابو جهل تر پټو ټینګ کړی ثم قال اولی لک فاولی ثم اولا لک فاولی، ابو جهل ورته وویل چي ما بېروي یا محمد؟ والله لا تستطیع انت وربک ان تفعلان بي شیئًا، ابو جهل ورته وویل چي زه لوی غیرتمند سړی یم په منځ کي د غرو د مکې، فلما کان یوم بدر خدایؑ هلاک کړی په توګه د اسود نامي قتل کړی، وقال النبيﷺ ان لکل امة فرعونًا و فرعون هذه الامة ابو جهل، واخرج ابن جریر عن طریق العوفی کما نزلت هذه علیها تسعة عشر (یعني خزنه د دوږخ نوولس (۱۹) دي) قال ابو جهل لقریش ثکلتکم امهاتکم (میندي دي درباندي بوري سي) تاسي ته خبر درکوي ابن ابی کبشه چي دده په کنیت رسول اللهﷺ مرادۀ، ابو جهل قریشو ته وویل چي تاسي خو لوی جماعت یاست په لسو کسانو یوه ملکه من خزنة جهنم نسئ ټینګولای؟

اَیَحۡسَبُ الۡاِنۡسَانُ اَنۡ یُّتۡرَکَ سُدًی ؕ﴿۳۶﴾

آیا ګمان لري انسان، یعني ابو جهل چي دی دي پرېښوول سي مهملاً چي بعث دې نه کړي او جزاء دي ور نه کړي حیث ینکر البعث بعد الموت لان الحکمة في خلقه لیس الا التکلیف قال الله تعالی وما خلقت الجن والانس الا یعبدون.

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾

پوه سه: چي دا جمله مستأنفه ده لپاره د دفع د حسبان مذكور، ولي مفاد د حسبان مذكور چي دوی اعاده بعد الموت بعيد ده نو خدای په بدء الخلق سره دليل ووايه پر اعاده د بعد الموت، آيا نهٔ انسان يعنى دغسي ؤ چي نطفه وه چي توی کړه سوه په رحم کي د ښځي.

ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾

وروسته تر نطفې بيا وګرځېدی (علقة) وروسته تر څلوېښت ورځو، وروسته بيا مضغه جوړ سو ثم عظامًا چي غوښي پر هواري سوې (فخلق) بيا خدای پيدا کړی چي روح يې پکښې پوه کړی (فسوى) بيا يې برابر اعضاء وزکړه بېله تفاوته د بنيه انسانيه سره مثلاً که د انسان غوږونه لوی وای لکه د خره نو فسوى به نه وای.

فَجَعَلَ مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾

بيا يې وګرځاوه (ای الله جلت قدرته) له هغه څخه چي يو ولد علقه وه بيا مضغه وه ثم عظامًا ولحمًا (الزوجين) دوه صنفه يعني نر او ښځي، ګاهي په رحم کي دوه جمع وي ګاهي يو له بله سره جلا وي.

أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

آيا نه دی دغه الله چي دا افعال يې ټوله وکړه چي د مخه نه وه پيدا، او الله قادر دی دا چي مړي بيرته راژوندي کړي، وهذا قياس البعث على الله فالذي يقول بالله وعلى النظام العجب كما مر تفصيله وينكر البعث بعد الموت اما في غاية الحمق والجهالة دون غاية العناد، عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من قرء منكم والتين وانتهى الى اليس الله باحكم الحاكمين فليقل بلى وانا على ذالک من الشاهدين، ومن قرء والمرسلات فبلغ فبائ حديث بعده يؤمنون فليقل آمنًا بالله ومن قرء لا اقسم بيوم القيامة فبلغ الى اليس ذالک بقادر على ان يحيي الموتى فليقل بلى وانا على ذالک من الشاهدين.

درويش وايي: وهذا من الاداب القرآن.

سُوْرَةُ الدَّهْرِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اِحْدٰى وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ①

پوهسه: چي استفهام تقريري دی ای حمل المخاطب علی الاقرار ومعناه قد اتی و مضٰی (علی الانسان) المراد به جنس الانسان او آدم عليه السلام (حين) قال البيضاوي رحمه الله ای طائفة محدودة من الزمان وقال صاحب القاموس الحين وقت مبهم يصلح جميع الازمان طال او قصر، وقيل يختص باربعين سنة او بستين سنة او شهر وشهرين (من الدهر) ای الممتد الغير المحدود وفي القاموس الدهر الزمان الطويل او الف سنة چي مدة د عمرد آدم عليه السلام، وفي الصحاح الدهر في الاصل اسم لمدة العالم من مبدء وجوده الی منتهاها.

درويش وايي: چي پر دغه مبنی قوله تعالی: هل اتی علی الانسان حين من الدهر الآية و دهر الانسان مدة حيوته والله اعلم.

(لم يكن شيئًا مذكورًا) حال دی له انسان څخه ای حال کونه لايذكر مثلاً فلان بن فلان ولا يعرف نه چاپيژندی، له دې كلام څخه دا فهمېږي چي شئ خو ؤ لكن والالم يوصف بانه قد اتی عليه، حاصل دا چي په دغه حال كي انسان نسيًا منسيًا، وقد اختلف العلماء فقال بعضهم المراد به آدم عليه السلام دا هغه وخت چي آدم عليه السلام خدای عزوجل مصور كړی له ختو څخه نو پر دغه صورت بلا روح سره په مابين كي د مكې او طائف مصور پروت ؤ څلوېښت (۴۰) كاله، بيا يې روح پكښي پوه كړی يا روح بشر په لحم وركولو سره وګرځېدی، كه په انسان سره مراد جنس وي نو دغه حين څلور مياشتي دي حين كان نطفة او علقة الی نفخ الروح، وستة اشهر اقل مدة الحمل او سنتين اكثر مدة الحمل لكن پر هر تقدير كلام محمول دی پر مجاز، لان ذالک الحين لم يأت علی الانسان بل علی الطين المصور كما في صورة آدم عليه السلام او النطفة ونحوها.

اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ اَمْشَاجٍ ۖ

په تحقيق موږ پيدا كړی دی انسان (ای ذريته ان كان المراد بالانسان والمراد فيها الجنس) له داسي نطفې څخه چي ګډوډ او مختلف اجزاء يې دي.

سوال: نطفه خو مفرد دی او امشاج جمع ده فكيف التوصيف؟

ځواب: ان المراد مجموع مني الرجل والمرئة وكل واحد من النطفتين مختلف

الاجزاء والاوصاف في القوام والرقته والخواص، او بعض مفسرين وايي چي امشاج مفرد دی معنی يې مختلطة من مني الرجل والمرئة، وقال كل يومين اختلطا فهو امشاج، وقال قتادةؒ معنی امشاج اطوار ای ذات اطوار، نو مراد دده اطوار ده نطفة من العلقة والمضغة.

نَّبۡتَلِيۡهِ فَجَعَلۡنٰهُ سَمِيۡعًا بَصِيۡرًا ﴿٢﴾

(نبتليه) جمله حال ده له انسان څخه.

سوال: ابتدلاء خو امتحان ته وايي نو د نطفه انتقالاتو كي له يوه حال څخه بل حال ته دا څه شی امتحان پذير دی، لان الامتحان يكون للعاقل البالغ والنطفة في الحالات المذكورة ليست كذالک؟

ځواب: ابتلاء يې ذكر كړه چي منی يې امتحان دی او مراد ځني نقل د نطفة من حال كمامر بعلاقة اللزوم فافهم هداک الله.

(فجعلناه سميعًا بصيرًا) موږ دی ګرځولی دی اورېدونكی او ليدونكی تاچي په سبب د سمع اورېدل د دلائلو حقه ؤ وكړي او فكر پكښي و وهي من جهة الرسول و وعاظ الدين، او په بصر دلائل د توحيد د خدای عزوجل په افاقو كي و ويني او په دغو دلائلو د توحيد د صانع اكبر روښانه رڼا و ويني خلق السمٰوات والارض وهو العزيز الحكيم، وايضًا وفي انفسكم افلاتعقلون ... بيت:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار .... هر ورقی دفتريست معرفت كردگار

درويش وايي: چي د يو صحرائي باديه نشين څخه چا پوښتنه وكړه چي ته د خدای پر وجود څه دليل لرې؟ بدوي ورته وويل البعرة تدل على البعيرة وآثار الاقدام على المسير، فكيف لايدل هذا العالم الكبير على العالم القدير الخبير؟ ولنعم دليله هذا ولهذا قال الله تعالى.

اِنَّا هَدَيۡنٰهُ السَّبِيۡلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّاِمَّا كَفُوۡرًا ﴿٣﴾

يعني السبيل الى الله الواحد القدير والى مرضاته ببعث الدلائل وارسال الرسل وانزال الكتب.

پوه سه: چي مراد له دې هدايت څخه ارائة الطريق دی دون الدلائل الموصلة الى المطلوب لكه په دې آيت كي چي مراد دی.اهدنا الصراط المستقيم لان ارائة

الطريق حاصلة فطلبها طلب الحاصل وهو مستحيل عقلاً دون الهداية الموصلة فانها مترقب فطلبه واجب فافهم، نو ځکه پر محض ارائة خدایؒ دا بناء کړه.

پوه سه: چي (شاكرًا كفورًا) دواړه لفظه حال دي من الهاء في هديناه السبيل اى مقدرين احد الامرين الشكر على هداية وقبولها او الكفر والانكار.

إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾

موږ مهيا كړي دي د كفارو لپاره، سلاسلاً جمع د سلسلة ده يعني ځنځيران چي دوى په تړل كېږي بيا و اوور ته غورځول كېږي (اغلال) جمع د غل ده چي پر لاسو يې وړپېچلي وي تر غاړي پوري (وسعيرًا) او اوور په نهايت ګرمۍ سره، دا خو وه د كافرانو قرارګاه.

إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾

ابرار جمع د بر ده يعني نيكو كاران، والمراد بهم المؤمنين الصادقون في ايمانهم، په قاموس كي وايي چي مصدر د ابرار بِر بكسر الباء بمعنى صلة الرحم والخير، او فراخي په احسان كي والصدق والطاعة وكل ذالک صفات المؤمنين كما لايخفى، په صحاح كي وايي چي (كأس) لوښى دى يعني صراحي وغيره بما فيه الشراب اى المشروب مطلقًا لبنًا كان او عسلاً او خمرًا او ماءً يعني تخصيص په خمر پوري نه لري، لكه په پښتو كي خمر خاص شرابو ته وايي او هر يوه ته د لوښي او ما فيه دواړو ته هم كاسې وايي كما يقال كأس خال وشربت كأسًا.

(كان مزاجها) اى ما يمزج، والضمير راجع وكأس ته چي مؤنث سماعي دى كه په معنى د شرب سي، ويحتمل ان يكون الضمير راجعًا الى الاناء بمافيه (كافورًا) قال عكرمةؒ طعمها ككافور في طيب الطعم والريح الطيب، او عطاءؒ وايي چي كافور اسم لعين الماء في الجنة.

عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴿٦﴾

(عينًا) بدل دى له كافور څخه نوم دى د اوبو په جنت كي، او يا بدل دى له محل څخه من كأس على تقدير مضاف اى ماء عين (يشرب بها) الباء زائدة اى يشربها (عباد الله) بندګان د خدایؒ اى الذين عبدوا الله وحده مخلصين له الدين

كريم: الا لله الدين الخالص (يفجرونها تفجيرًا) له يوه ځايه بل ځاى ته د منازلو د دوى يعني په ډېره آسانى و قصورو ته د دوى كه لېري وي او كه نږدې، د ابر جوزب شخه چا پوښتنه وكړه چي دا مشروبات په ذريعه د څه شي يوې خوا او بلې خوا ته بيايي؟ هغه ورته وويل چي په نلانو كي د سرو زرو پر هره خوا چي د جنتي ورته ضرورت وي من الاعالي والاسافل.

يُوفُونَ بِالنَّذْرِ

چي دوى وفا كوي په نظر سره.

پوه سه: چي دا جمله مستأنفه بيانيه ده يعني چي جواب د سوال مقدر ده مابالهم يثابون بذالک يا په جواب كي د سوال الابرار ما هم؟ فهو تعريف للابرار بانهم يؤدون الواجبات او له خداى شخه بېرېږي، نو پرهېز كوي له كبائرو او صغائرو ګنهو شخه او پر بندګانو د خداى رحم كوي او په نذر سره وفا كوي، والنذر في اللغة ان توجب على نفسک كذا في الصحاح نو دوى وفاء كوي بما ليس بواجب من الله يقتضى بايفائهم بما فرض بالطريق الاولى.

وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا ۝٧

او دوى بېرېږي له هغې ورځي شخه چي شر د هغې ورځي (يعني مكروهيت) سره پاشلى چي هيڅ ځاى نه وي خالي لكه عرب چي وايي چي يو ځاى چي ډېر اوور واخلي او سره منتشر وي، لكه د موټرانو د ټيرو كارخانه چي اوور واخلي استطار الحريق، يا سپيدې چي ښه روښانه سي دوى وايي استطار الصبح، مقاتل وايي چي دا شر يعني د قيامت د ورځي شر اسمانو ته ورسېږي فانشقت، آسمانونه ټوكر ټوكر سي ستوري ګرده راتوى سي او لمر او سپوږمى خپل نور بايلي او ملكي هم بېرېږي ددې شر انتشار په ځمكه كي هم سته لكه غرونه چي له خپلو ځايو شخه ميده ميده فكانت صبا نبسًا، وغارت المياه او اوبه ټولي په ځمكه ننوزي.

درويش وايي: چي په دې آيت سره ويخافون آه د عبادالله و حسن عقيدة ته اشاره ده.

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۝٨

او عباد الله ته ډوډى وركوي پر محبت د خداى (يا معنى دا ده چي دى په خپله محبت ورسره لري ولي چي دى په خپله وږى وي) مسكين او يتيم ته.

پوه سه: چي مسکين هغه چا ته ويل کيږي چي د صبا ډوډۍ په کور کي نه لري وهذا غاية المسکنت، او بعض علماء وايي چي يو نصاب نه لري وهذا ابتداء المسکنت، واليتيم من لا اب له الى وقت البلوغ، قال رسول الله ﷺ لا يتيم بعد البلوغ، او يتيم د حيواناتو هغه دى چي مور نه لري، او يتيم د جواهراتو هغه دى چي مثل نه لري لکه دريتيمة.

درويش وايي: چي د يتيم حال او د مسکين حال خو تاسي واورېدى و اما حال فحاله ان رسول الله ﷺ لم يکن له اسير من اهل الاسلام لکن نزلت في اسير من اهل الشرک فکان النبي ﷺ بالاحسان اليهم يعني ظلم دي نه پر کوي بلکې د خوراکي موادو احسان دي ورسره کوي کذا قال قتاده، وقال المجاهد وسعيد بن جبير المراد المسجون من اهل القبلة في مجالس المسلمين او الکافرين وقيل الاسير المملوک يعني مريى، وقيل المرئة اى الزوجة کما قال رسول الله ﷺ اتق الله في الضعفين المملوک والمرئة، رواه ابن عساکر عن ابن عمرؓ عن ام سلمةؓ، وايضًا ورد عن رسول الله ﷺ اتق الله في الصلوة وما ملکت ايمانکم، يعني لمونځونه پر خپلو وختو کوئ او د ماملکت ايمانکم سره احسان کوي، رواه الخطيب، وروى البخاري عن علي رضي الله عنه مرفوعًا اتقوا الله في ما ملکت ايمانکم (يعني مريان او مينځياني) وروى البغويؒ اتقوا النساء فانهن عوان عندکم، قال لبغويؒ اختلفوا في سبب نزول هذه الآية قال مقاتلؒ نزل في رجل من الانصار اطعم في يوم واحد مسکينًا ويتيمًا واسيرًا.

إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴿٩﴾

دا جمله حال ده من ضمير و يطعمون بتقدير القول اى قائلين لمطعم لهم اما تحقيقًا او تقديرًا بلسان الحال، او مجاهد او سعيد بن جبير وايي لم يتکلموا به لکن علم الله من قلوبهم فاثنى عليهم وهذا اولى و احرى (لوجه الله) لفظ د وجه زائد دى معنى د آيت دا ده اى لطلب مرضاته وثوابه (لانريد منکم) موږ د تاسي څخه نه غواړو عوضًا ماليًا چي موږ ته مال راکړئ ولا بدينًا چي زموږ خدمت وکړئ (ولاشکورًا) او نه شکر په خوله، په حديث شريف کي راغلي دي چي عائشه رضي الله عنها يې روايت کړى دى چي دې به صدقه واستول الى اهل بيت (يعني المحتاجين) لم تسئال المبعوث اليهم شيئًا في ذالک فان ذکره دعاء عائشهؓ په

مثل د هغه ليبقى ثواب الصدقة لها خالصًا عند الله.

إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿١٠﴾

دا علت دی د اطعام لوجه الله او له عدم څخه ستاسي نه جزاء او نه شكور بلكې مونږ بېرېږو له غضب څخه د خدای، عن انس قال قال رسول الله ﷺ ان الصدقة تطفئ غضب الربه.

درويش وايي: خصوصًا اذا كانت الصدقة موصوفة بالصفات المذكورة (يومًا) ظرف دی د نخاف يعني في يوم، ويحتمل ان يكون مفعول به د نخاف (عبوسًا) دا اسناد د فعل دی و زماني ته، ومعنى العبوس رويها ترش گردد از شدت اهوال، نو عبوس چي صفت د مخ ؤ و زماني ته چي د يومًا اسناد يې وكړی مجازًا، نو عبوس صفت دی د مخ بسبب ضيق الصدر (قمطريرًا) الكلبي وايي شديد العبوس، او اخفش وايي چي قمطرير اشد ما يكون من الانا واطولها مع بلاء او قاموس الشديد ييا قاموس يې باب بيان كړی دی اقمطر اشتد نفسه وترقي من الادنى الى الاعلى.

فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ﴿١١﴾

پوښتنه: دا وائع خو تړوله په قيامت كي پيدا كېږي نو د ماضي د تعبير حكمت څه دی؟

ځواب: حكمت يې تنبيه ده پر قطع او يقين، و كلمة الفاء للسببية يعني لاجل خوفهم واجتنابهم من موجب العذاب في ذالك اليوم وقاهم الله.

(شر ذالك اليوم) اى مكارهه وشدائده (ولقى هم) اى بعد العبس (نضرة) تازګي او نورانيت د مخ (و سرورًا) خوشحالي د زړه

وَجَزَاهُم بِمَا صَبَرُوا جَنَّةً وَحَرِيرًا ﴿١٢﴾

او خدای جزاء او ثواب وركړي په هغه وخت كي چي جزاء نه طلبول كېږي بيله خدايه (بما صبروا) على طاعات الله (دي ته صبر على الشيئ وايي) وعن معاصيه (دي ته صبر عن الشيئ وايي) وعلى الجوع وفي القتل في الجهاد (دې ته صبر في الشيئ وايي)

درویش وايي: چي صبر سره مختصر والی په لفظ کي شامل دی لجميع الطاعات و الاجتناب عن جميع المعاصي والصبر في الجهاد والضلال صرف په تبدل د صلة يعني صبر على الشيئ والصبر عن الشيئ والصبر في الشيئ.

(جنة) ای دخلوها (وحريرًا) وریښمين کالي د اغوستلو لپاره.

مُّتَّكِـِٔيْنَ فِيْهَا عَلَى الْاَرَآئِكِ ۚ لَا يَرَوْنَ فِيْهَا شَمْسًا وَّلَا زَمْهَرِيْرًا ﴿۱۳﴾

تکيه کړې وي (دا عبارت حال دی له ضمير منصوب څخه في جزائهم (فيها) ای في الجنة (على الارآئک) ای السرر في الحجال.

پوه سه: چي سرر جمع د سرير ده يعني پلنګ يا چپرکټ، او حجال جمع د حجلة ده هغه نوي خېمه ده چي د زوم او ناوي لپاره جوړېږي حسب عادة العرب، البيهقي له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی قال لايكون الارآئک حتى يكون السرير في الحجلة ولا الحجلة بدون السرير من غير حجلة واذا اجتمعا كان ارآئكة (لاترون) حال دی من فاعل متكئين، دوی يعني اهل الجنة نه ويني (فيها) په جنت کي.

پوه سه: چي مراد له شمس څخه عين لمر نه دی، بلکې الحرارة الشديدة والزمهرير شدة البرد، فالحاصل ان هوا الجنة معتدلة غاية الاعتدال لکه په دنيا کي عين د پسرلي په وخت کي.

وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوْفُهَا تَذْلِيْلًا ﴿۱۴﴾

(دانية) يعني قريبة عطف على متكئين (عليهم) ای على اهل الجنة (ظللها) فاعل د دانية دی، سايه د درختي د جنت چي حامل د مېوو اطيب دي (وذللت) نژدې به وي (قطوفها) مېوې د درختي د جنت چي په ولاړي به هم خوړل کېږي او په پروتي به هم، ولي چي مېوې د جنت په اراده سره د جنتي لوړي او کښته کېږي نو دوی پر هر هيئت چي وي مېوې خوړلای سي.

وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِاٰنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَّاَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيْرَا۠ ﴿۱۵﴾

يعني غلمان د جنت پر دوی باندي ځېښنګ په لوښو کي د سپينو زرو چي په هغو کي شيدې، اوبه، عسل او خمر موجود وي (اکواب) جمع د کوب ده ای اواني، هغه لوښی چي څښکه او لاسي نه لري تا چه پر ځای يې ځېښنګ ممکن

وي (كانت) اى الاكواب (قواريرًا) اى الكونها پر مثال د ښيښنو په صفائي كي د رنګ چي ما فيها يې د دباندې ځخه معلوميږي.

قَوَارِيرَاْ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴿١٦﴾

بدل من الاول يعني صفائي د ښيښه وي چي په رنګ كې يا زرغونه يا بل رنګ وي مګر سپين والى يې د سپينو زرو وي، وهذا كالمتضادين اجتماع في اواني الجنة (قدروها تقديرًا) صفت ثانيه دى د اكواب يعني د اوبو اندازه كړې وي خادمانو د جنت من الغلمان وغيرهم پر اندازه د اوبېدو د دوى چي نه زياتيږي د دوى اوبه او نه كميږي.

درويش وايي: وذالك لالهام الله تعالى اياهم هذا القدر الرى وعدم الزيادة والنقصان فيها لانه لا علم للخدمة بالغيب فافهم.

وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا ﴿١٧﴾

درويش وايي: چي مظهري داسي دا آيت نوشته كړى دى مزاجها كافورًا، او روح البيان مزاجها زنجبيلاً، وفي روح المعاني مزاجها زنجبيلاً، وفي المصاحف المطبوعة مزاجها كافورًا، نو اولاً ته په دې پوه سه چي زنجبيل چي په پښتو يې شونډ بولي او په اردو يې سونټ بولي يو ډېر خوشمزه لرګى دى چي د ځكې د كښت ځخه پيدا كيږي، او دا زنجبيل چي ميده سي و چايو ته لږ اندازه ورواچوي چائ ډېري خوشمزه ګرځي چي اكثره پښتانه دغه زنجبيل چائ ته اچوي او د چايو خوند تېز ګرځوي، او كافوريو خوشبوئي لرګى دى دانې دانې دى چي هر قسم بدبويي دفع كوي، نو خوانندہ ګرامي فقير په دې تشويش كي سرګردانه ؤ چي دا دوه لفظه مرادف خو هم نه دي نو ځرنګه په يوه آيت كي كما ههنا د دواړو استعمال روا دى؟ په دې اضطراب كي مبتلا وم اخيرًا كه ګفته اند كه هر كه جوئينده بود پائينده بود، وقال روح المعاني والظاهر ان اهل الجنة قد يشربون من كأس كان مزاجها زنجبيلاً، ويشربون من كأس كان مزاجها كافورًا، يعني ان الغلمان وخدمة الجنة دا تبديل د كأس زنجبيل يا كأس د كافور د دوى پر غاړه كړي، لان النعمة الجديدة يجدد فائدة النعمة.

درويش وايي: فدفع الله عزوجل على قلبي الاضطراب المذكور و لله الحمد والمنة.

درويش وايي: وفي روح البيان بعد قوله كان مزاجها زنجبيلاً هذه العبارة.

عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾

(عينًا فيها) اى في الجنة، بدل من زنجبيل، (تسمى سلسبيلاً) لجريان مائها في الخلق سهلاً وفي عبارة القرآن في روح المعاني هذه العبارة موجدة، وقال الاعرابي لم اسمع لفظ السلسبيل الا في القرآن وكان العين انما سميت بذالک لسلاستها وسهولة ساعتها، وفي المظهري هذه العبارة موجودة يعنى كما سرى عينًا فيها تسمى سلسبيلاً والله اعلم.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا ﴿١٩﴾

(ويطوف عليهم) عطف على الجمل السابقة او طواف كوي پر جنتيانو (ولدان) دا ولدان په رنګ د ښوو ځوانانو خداى پيدا كوي په آخرت كي لپاره د خدمت د جنتيانو، و ولدان او نابالغه هلكان د كافرانو يجعلهم الله خدام اهل الجنة (مخلدون) اى لايموتون او نه زړيږي (اذا رئيتهم) چي ته يې و وينې ايها المخاطب الغير المعين، نو ته به ګمان كوې د ملغلرو چي وه يې پاشې، اما كونها لؤلؤ فباعتبار حسن الصورة واما كونها منشورًا چي دوى په مختلف خدماتو كي د جنتيانو آمد و رفت كوي، اخرج ابن المبارک وهناد والبيهقي عن ابن عمرؓ ان ادنى اهل الجنة يسعى عليه الف خادم هر يو پر جلا جلا خدمت وتلى ابن عمرؓ هذه الآية، واخرج ابن ابى الدنيا عن انسؓ قال قال رسول الله ﷺ ان اسفل اهل الجنة اجمعين من يقوم على رأسه (اى من الولدان عشرة الاف خادم) واخرج ابن الدنيا عن ابى الدنياؒ عن ابى هريرة رضی اللہ عنہ ان ادنى اهل الجنة منزلاً چي سهار او ماښام ده ته ولاړ وي پنځه زره خادمان من الولدان، واخرج ابن المنذر و عكرمة ان عمر رضی اللہ عنہ دخل على رسول الله ﷺ وهو راقد (پروت ؤ پر يوه بوريا) من جريد النخل فاثر في جنبه المبارک، فبكى عمرؓ، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي پر څه شي ژاړې؟ عمر رضی اللہ عنہ ورته وويل ذكرت لكسرى و ملكه وهرمز و ملكه وصاحب الحبشة وملكه وانت رسول الله، او ته پر لرګو د جريد النخلة پروت يې، فقال رسول الله ﷺ اما ترضى ان لهم الدنيا ولنا الآخرة فانزل الله تعالى هذه الآية.

وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾

چي ته و وينې، ايها المخاطب الغير المعين مفعول يې محذوف دی ای الجنة ونعيمها (ثم) ای في الجنة (رئيت) ته به و وينې (نيعمًا) ای كثيرًا ولهذا النكرة دلالة على الكثرة (وملكًا كبيرًا) او ملک لوی يعني هر جنتي لره به سلطنت وي لوی، وعن ابن عمر رض ادنی اهل الجنة منزلة لن ينظر الى احبابه وازواجه من الحور العين او مع زوجاته في الدنيا وخدمه وسرره مسيرة الف سنة يری اقصاه كما يری ادناه وقبل ملک لايزال يسلم عليه وسلم عليهم الملائكة ويستأذنونهم في الدخول في داره فيه مايشاؤن ويرون فيهم رب الجليل.

عَٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوٓا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ

ثياب و سندس ته مضاف دی مبتداء ده يا خبر يا فاعل دی د ماقبل، او سندس رقيق الديباج واستبرق ای ديباج مغلظ (خضر) يعني زرغونه، وعن جابر رضي الله عنه قال في الجنة شجرة ينسب السندس، وعن عمر بن الخطاب رض ان النبي ﷺ من لبس الحرير في الدنيا لم يلبسه في الارض، وزاد في حديث ابی هريرة رض من شرب الخمر في الدنيا لم يشربها في الآخرة (وحلوا) عطف دی على يطوف زيور ورکړه کېږي.

پوه سه: چي (اساور) صيغه د منتهی الجموع ده ولذا لم يدخله التنوين لانه غير منصرف بسبب واحد، كذا في كتب النحو جمع د اسورة ده اسورة جمع د سوار ده، په پښتو يې بنګړي بولي او په اردو يې كنګهن بولي او په فارسي يې دست برنجن بولي، او (فضة) سپينو زرو ته وايي يعني د سپينو زرو بنګړي.

پوه سه: چي بعض بنګړي د سرو زرو هم وي.

پوه سه: چي بعض علماء وايي چي بنګړي د سپينو زرو د خادمانو په لاس وي او سوار الذهب والؤلؤ د جنتيانو دي يتبلغ حلية المؤمن حيث يبلغ الوضوء بلغه ابو هريرة رض الى النبي ﷺ.

درويش وايي: چي د دې حديث معنی دا نه ده چي پر مخ يا پر پښو به يې هم داغونه وي لكه دا بناء پر عرف د دوی دی چي بنګړي خلک په لاس کوي، وعن عقبة بن عامر رض من شرب الخمر في الدنيا لم يشربها في الآخرة، من شرب من آنية الذهب والفضة لم يشربه في الآخرة، وعن كعب الاحبار ان لله ملكا يصوغ لاهل الجنة من اول الى يوم

القيامة ولو ان حليًا من حلى اهل الجنة الى الدنيا لذهب ضوء الشمس والقمر، وعن عقبة بن عامر رضي الله عنه ان كنتم تحبون حلية الجنة وحريرها لم تلبسوها في الدنيا.

وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴿۲۱﴾

معطوف على الجمل السابقة، په دوی خدای ځيښني مشروب پاک يعني چي له اقذارو څخه پاک وي ومسي الدنيا چي خلګ لاسونه پکښي وهي كخمر الدنيا لاغول فيها ولاهم منها ينزفون (نه د سر درد لري نه نشه كخمر الدنيا) وقال ابو قلابلة و ابراهيم لايصير الماء المشروب في الجنة ولا بخسًا بل رشحًا (يعني خوله) في ايديهم كريح المسک بلکې دوی طعام وخوري په دنيا كي به اخير الامر غائط پيدا كېده او په جنت كي هر څه اطعمه چي وخوري چي اخير يې سي ماء طهور به وچښي و يتطهر بها بطونهم ويسر ما اكلوا رشحًا يخرجون من بطونهم وجلودهم اطيب من المسک الاذفر (اى الخالص) ومن شرب من ماء الجنة نزع الله ما كان في قلبه من المسک الاذفر (اى الخالص) ومن شرب من ماء الجنة نزع الله ماكان في قلبه من بخل وحسد.

درويش وايي: چي دا ټوله كارونه د قدرت دي په دې ځاى كي نه چلېږي د طبيعت يا د حكمت كار، قال الشيخ يعقوب الكرخي رحمه الله ان السابقين المقربين يصلون الكأسات من تحت العرش بلا واسطة والمقتصدين يعني الابرار يعطيهم الكأسات الملائكة وغيرهم الذين دخلوها بعد المغفرت او العذاب يعطيهم الولدان انتهى.

اِنَّ هٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَّكَانَ سَعْيُكُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿۲۲﴾

په تحقيق سره دغه (اى نعيم الجنان) ده ستاسي لپاره جزاء لاعمالكم الحسنة في الدنيا، او ستاسي سعي چي اعمال حسنه يې نتيجه سوه محمود او مقبول كوشش ومرضيًا عندنا مجازًا منا، نو دا قول د خداى دوى ته دى يعني د دوى شكروايي ولي چي خلګو نه وليدى خپل سعي د غير له خوا من المسكين واليتيم وغيرهم.

اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا ﴿۲۳﴾

په تحقيق سره موږ نازل كړى دى پر تا باندي قرآن په نازلولو سره (نحن) يې تاكيد دى.

پوه سه: چي په خواصو د ابواب په علم د اعلی چي باب د تفعيل دی د تدريج لپاره دی او باب د افعال د مرة واحدة لکه نزول د تورات د انجيل او انجيل په قرآن مبارک کي خو دواړه صحيح دي، ولي قرآن مبارک په يوه شپه جبرئيل امين له لوح محفوظ څخه نقل کړی و بيت العزة ته چي په اول آسمان کي ده او له هغه ځايه څخه يې و عليه الصلوة والسلام ته په (۲۳) کاله په حسب د وقائع او احوالو عليه الصلوة والسلام ته راواستاوه، په دې آيت مؤکد په انا سره او تاکيد د جملې په تقديم المسند اليه چي نحن دی پر جزاء فعلي چي نزلنا دی او اضافت خدای و ځان ته وکړی للاشعار بان الحکمة والصواب منحصر في هذا النوع من التنزيل ای المنزل، نو ګويا دغه د تنزيه خدای پوري خاص ده والحکيم لايفعل الا فيه حکمة بالغة.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾

الفاء للسببية ای ان عرفت حال الابرار والفجار وتاخير جزاء الفريقين الی دار القرار فاصبر علی اذی الکفار ولاتعجل في طلب عقوبتهم ولا يحزنک تاخير نصرتک عليهم او دغه چي ته پوه سوې چي قرآن من عند الله دی نو خپل صبر وکړه پر طاعت او ځان منع کړه له معصيت څخه د خدای عزوجل لانه الآمر الناهي.

(ولاتطع منهم) او ته اطاعت مه کوه له دوی څخه د آثم يعني مرتکب الاثم چي دا اثم ته روا بولي که څه هم کفر نه وي خصوصًا و تا ته مثلاً چي زموږ خدايانو ته ډبري مه وايه يا مرتکب د کفر وي او تا ته هم دعوت د کفر درکوي.

فائده: چي په او سره يې کلام راوړی مطلب يې سلب کلي دی چي عموم السلب يې بولي يعني مه د آثم په خوله کوه او نه د کفور او نه د دواړو په خوله کوه، او که چېري په ځای کي د او واو راغلی وای چي معنی يې رفع د ايجاب کلي ده او په بل تعبير معنی سلب جبري دی، نو د آيت معنی به دا وي چي د آثم او کافر د دواړو په خوله مه کوه او د يوه په خوله انفرادًا که کوې پروا نه لري، وهذا ليس مقصود في هذه الآية کما لايخفی.

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾

پوه سه: چي مراد له ذکر څخه د خدای لمونځ دی لکن عبر عن الصلوة بالذکر تسمية للشئ وهو الصلوة يذکر جزئه فان التحريمة ذکر من اذکار الصلوة او يقال

افعال الصلوة كلها ذكر قال عليه الصلوة والسلام ان هذه الصلوة ليس فيها شيئ من كلام الناس انما هی التسبیح والتكبير و تلاوة القرآن، رواه مسلم (بكرة) اى اول النهار وهو صلوة الفجر واصيلاً وهي اخير الصلوة اليوم وهي الظهر و العصر ومن الليل فاسجد له و اراد المغرب والعشاء.

وَمِنَ الَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهٗ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيْلًا ﴿۲۶﴾

مراد له تسبیح څخه ليلاً طويلاً صلوة التهجد دی، یعني نصف الليل او ثلثة او الاكثر منه.

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُوْنَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيْلًا ﴿۲۷﴾

په تحقیق سره دوی (ای کفار مکة) تلوار او بیړه خوښوي (ای الدار العاجلة ای الدنيا) او دوی پرې ایښې ده و مخ ته خپل ورځ درنه، يعني د هغې ورځي ثقيل لپاره عمل نه کوي لانهم ينكرون هذا اليوم الثقيل وهو يوم القيامة والا لآمنوا وعملوا صالحًا.

پوه سه: چي ثقیل والی د ورځي د قيامت پر کافرانو دی لانهم يرون مقرهم ای النار المؤبدة.

نَحْنُ خَلَقْنٰهُمْ وَشَدَدْنَآ اَسْرَهُمْ ۚ وَاِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ اَمْثَالَهُمْ تَبْدِيْلًا ﴿۲۸﴾

موږ پیدا کړي دي خلګ، او محکم مو پیدا کړي دي بندونه د اعضاؤ د هغو او که زموږ اراده سي موږ به په عوض کي د دوی امثال د دوی پیدا کړو (تبديلاً) مصدر دی لپاره د تاکید.

پوه سه: چي په دې آيتو کي تشنیع د حال د کفارو دی علی کفرهم في مقابلة نعيمهم وذكر ايجاديهم وتمكينهم لانها اصل النعم وفي جملة واذا شئنا تسلية و عليه الصلوة والسلام ته چي ته برداشت د اذیت د دوی کوه او خدای وعده ورسره کوي چي زه به دوی هلاک کړم او په بل قوم به یې بدل کړم چي ستا مطيع به وي، وقد هلكهم الله عزوجل يوم بدر.

اِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿۲۹﴾

په تحقیق سره دغه (ای هذه السورة او هذه الآيات) موعظت او پند دی، نو چا

ته چي وغواړي يعني اراده د تقرب الى الله و سلوک سبيل الله (اتخذ الى ربه سبيلاً) يعني بالايمان والطاعة و دوام الذكر وتلاوة القرآن والاخلاص واتباع النبي ﷺ قائلاً رضينا بالله عزوجل ربًا وبالاسلام دينًا و بحمد ﷺ رسولاً وبالقرآن امامًا والمسلمين اخوانًا.

وَمَا تَشَآءُونَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۳۰﴾

او نسي پيدا کېدلای مشيت ستاسي ای خلګو (يا مشية الكفار باتخاذ السبيل الى الله عزوجل يا بشيئ من الاشياء وفي قرت من الاوقات الا في وقت مشية الله) په تحقيق خدای ج دی خبر په امور ماضيهؤ سره او په امور مستقبلهؤ سره او حكيم دی چي عبث او بې فائدې کار نه کوي.

يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۭ وَالظّٰلِمِيْنَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۱﴾

خدای ج داخلوي هغه څوک چي مشيت يې ورته وسي په خپل رحمت کي، ای في جنته لان محل الرحمة هو الجنة يعني خدای عزوجل داخل کړي دده په زړه کي ايمان او تصديق بالقرآن و رسوله بيا نو توفيق د طاعاتو ورکړي و حفظه او نفرت ورکړي عن الكفر والمعصية.

پوه سه: چي لفظ د (والظالمين) منصوب دی على شريطة التفسير وتفسيره مابعده (اعدلهم عذابًا اليمًا) آراسته کړی يې دی عذاب درد ورکونکی چي دوږخ دی.

فائده: اليم که څه هم مجرد دی لکن دلته په معنى مؤلم سره دی يعني اسم فاعل دی له بابه د افعال كما في قول الشاعر:

امن ريحانة الداعي السميع (ای مسمع)
يورقني واصحابي يجوج (بيده دي)

ولهذا البيت قصة طويلة مذكورة في كتب الادب.

درويش وايي: تمت بعونه تعالى سورة الدهر (٢٥) من شهر المبارک رمضان، (١۴٣٣) وقت العصر.

سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ خَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ﴿١﴾ فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا ﴿٢﴾ وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا ﴿٣﴾
فَالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا ﴿٤﴾ فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ﴿٥﴾ عُذْرًا اَوْ نُذْرًا ﴿٦﴾
اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾

الـواو للقسم، والمرسلات بمعنى الطوائف المرسلة، جمع د مرسلة ده، يعني طائفة مرسلة من الملائكة يعني الطائفة من الملائكة كل يوم او كل عام او كل حالة، او د عرفًا معنى ده متشابعة من عرف الفرس هغه وېښتان چي په كثرت سره د آس پر غاړه پراته وي، فهو من باب التشبيه البليغ بان شبه الملائكة المرسلون في تتابعهم بشعر عرف الفراس، والعاصفات تندو بادو ته وايي به امتثال كي د امروبه او عصفًا مفعول مطلق دی، والناشرات السحاب في الجو العالي (نشرًا) يې مفعول مطلق دی او فارقات هغه تړته ده د وريځي چي باران وكړي بيا سره جلا سي، نشرًا مفعول مطلق دی، بيا په هغو ملكو قسم دی چي دوی القاء د ذكر يعني الوحي و انبياء عليهم السلام ته كوي، چي دوی يعني الملائكة عذر وايي د اهل الحق في الدنيا والآخرة، او ښېرا كوي د اهل باطل لپاره لعدم اتباعهم الحق، وجواب للقسم (انما توعدون لواقع) هغه شی چي ستاسي سره يې وعده كړه كېږي من قيام القيامة والجزاء اما بالجنة او النار لواقع ای لا محالة لانه تعالى اخبر به واخبار الله متحقق الوقوع.

فَاِذَا النُّجُوْمُ طُمِسَتْ ﴿٨﴾ وَاِذَا السَّمَآءُ فُرِجَتْ ﴿٩﴾

نو څه وخت چي تورسي مخان يعني محو سي نور د دوی، وجواب اذا يفصل جلا والى به كېږي بين اهل الجنة واهل النار، او هغه وخت چي آسمانونه سره څيري سي او پرچه پرچه سي.

پوښتنه: په قرآن مبارک کي لفظ د سماء راغلی دی، تا يې ترجمه په آسمانو يعني په جمع وكړه؟

ځواب: الالف واللام في السماء للجنس فيصح معناه بالفرد كما هو شائع في العربية.

وَإِذَا الْجِبَالُ نُسِفَتْ ﴿١٠﴾ وَإِذَا الرُّسُلُ أُقِّتَتْ ﴿١١﴾

چي غرونه له خپلو ځايو څخه وخېژي او ټوټه ټوټه د خپلو ځايو څخه روان وي چي د مځکي ډب ځايونه به ډک کړي، او رسلان ښکاره سي او جمع سي چي پر خپلو امتو شاهدي ورکړي يعني چي امتيان انکار وکړي له تبليغ څخه.

لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴿١٣﴾

پوهسه: چي (لای يوم) متعلق دی په مابعد پوري چي اجلت دی قدم عليه لاقتضائه صدر الكلام باعتبار الاستفهام اجلت معنی يې اخرت ده وضرب الاجل لذالک الوقت استفهام دی لپاره د تعظيم او تهويل (ليوم الفصل) بدل دی من لای يوم وبيان له وجملة لای يوم معترضة.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴿١٤﴾

ته څه شي خبر کړې چي څه شی ده يوم الفصل، تعجيب اخر وتعظيم امر (يعني ددې ورځي) يعني کنهه ولم ترمثله والمخاطب غير معين، وقيل هو رسول اللهﷺ لکن پر هر تقدير مقصود تعجيب و شان ته ددې.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾

(ويل) مصدر دی په معنی د وقوع د شر او هلاک دی، وفي الاصل کي مصدر دی په تقدير د فعل دی لکن عدول وکړه سو ورفع ته بجعله مبتداء للدلالة على الثبات والدوام ای الشر والهلاک والجملة دعائية، اخرج احمد والترمذي وابن جرير وابن ابی حاتم والحاكم والبيهقي وابن ابی الدنيا وهناد عن ابی سعيد الخدري رضي الله عنه عن رسول اللهﷺ ويل واد (يوه شيله ده د اور) يهويه الكافر (چي کافر کښته پکښي روان وي څلوېښت (۴۰) کاله قبل ان يبلغ قعر (وبېخ ته د هغې شيلې) په بل روايت کي راغلي دي چي ټوله نوونه او ويني دالته جمع کېږي، په روايت کي راغلي دي چي که دې شيلې ته غر ورواچول سي ويلي به سي.

(يومئذ) يعني اذ النجوم طمست تر دې ځايه پوري (للمكذبين) يعني چي يوم الفصل دروا غ بولي لکه مشرکان د مکې بلکې د لويې وچې د هند، جاپان او دهريان کالروسية.

اَلَمۡ نُهۡلِكِ الۡاَوَّلِيۡنَ ؕ﴿۱۶﴾ ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ الۡاٰخِرِيۡنَ ﴿۱۷﴾

آيا موږ نه دي هلاک کړي مخکني خلګ بالعذاب لاجل تکذيبهم بيوم الدين نحو قوم نوح و قوم عاد و ثمود والاستفهام للتقرير کمامر، وروسته تر دوی تابع ګرځولي دي موږ نور کافران ککفار مکة السالکين الاولين في تکذيبهم الرسل.

کَذٰلِکَ نَفۡعَلُ بِالۡمُجۡرِمِيۡنَ ﴿۱۸﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُکَذِّبِيۡنَ ﴿۱۹﴾

داغه رنګه (کذالک مصدر محذوف دی ای فعلاً مثل ذالک الفعل) داسي فعل مناسب د دوی د عمل سره کوو بالمجرمين چي دوی جرم والا وي.

اَلَمۡ نَخۡلُقۡکُّمۡ مِّنۡ مَّآءٍ مَّهِيۡنٍ ﴿۲۰﴾ فَجَعَلۡنٰهُ فِيۡ قَرَارٍ مَّکِيۡنٍ ﴿۲۱﴾

آيا موږ تاسي نه ياست پيدا کړي (استفهام تقريري دی) د اوبو څخه چي حقير دي قدرًا هو نطفة الوالدين، نو موږ وګرځول هغه (ای الماء المهين المذکور) په ځای کي د قرار چي محکم دی ای رحم المرئة.

اِلٰی قَدَرٍ مَّعۡلُوۡمٍ ﴿۲۲﴾

تريو اجل معلوم پوري چي ادنی يې شپږ مياشتي او اکثره مدت يې هم په علم کي د خدای دی او ابو حنيفة وايي چي اکثره مدت يې دوه کاله دی.

فَقَدَرۡنَا ۖ فَنِعۡمَ الۡقٰدِرُوۡنَ ﴿۲۳﴾ وَيۡلٌ يَّوۡمَئِذٍ لِّلۡمُکَذِّبِيۡنَ ﴿۲۴﴾

موږ اندازه ايښې ده بعث لره دده في بطن امه وقت ولادته وعمله واجله ای الموت ورزقه و شقي او سعيد، عن ابن مسعود رض قال حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق ان خلق احدکم يجمع في بطن امه اربعين يومًا نطفة (تصرفات د قدرت پر ځای وي) ثم يکون علقة مثل ذالک ثم يکون مثل ذالک ثم يبعث الله اليه ملگا باربع کلمات فيکتب عمله واجله وشقي او سعيد ثم ينفخ فيه الروح الی اخير الحديث الطويل (فلنعم القادرون) ای موږ ښه قدرت والا يو پر هر شي (ويل يومئذ للمکذبين) چي تکذيب کوي په قدرت زموږ وهم الکفار من ای نوع کانوا وفي الوقت الحاضر کفار مکة.

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾

آيا موږ نه ده ګرځولې مځکه جمع کونکې د دوی، احياءً چې دوی ژوندي وه پر خپل شان، و امواتًا چې دوی لره وي د مځکي په نس کي يعني په قبرو کي بعض مفسرين وايي چي استفهام تقريري دی ای حمل المخاطب على الاقرار، او بعض مفسرين وايي چي استفهام انكاري دی داخل دی پر حرفي دی او نفي د نفي اثبات دی والمآل واحد.

وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُمْ مَاءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾

او موږ پيدا کړي دي په مځکه کي (رواسي) غرونه محكم پر مځکه لتكون اوتاد الارض (شامخات) لوړ لوړ نسبت د يوه و بل ته، او موږ په تاسي ځيښلي اوبه چي تندی د سړي ورماتوي، تنكير د ماءً لپاره د تعظيم دی چي دا اوس على الاغلب له چينو څخه يا له کاريزو څخه د مځکي يا د برمو څخه د مځکي كما في الحاضر او ګاهي د اوبه پيدا کيږي د لوړو غرو په چينو کي.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾

بامثال هذه النعم، قال مقاتل وهذه الامور المذكورة اعجب من البعث بعد الموت فمالهم يرون هذه وينكروا لبعث بعد الموت.

انْطَلِقُوا إِلَى مَا كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾

جمله مستأنفه ده في جواب ما يصلح ويضع المكذبين تقرير الجواب انطلقوا.

انْطَلِقُوا إِلَى ظِلٍّ ذِي ثَلَاثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾

ولاړ سئ و هغي سايې ته چي دري ښاخه ده، قال المفسرون اريد به دخان جهنم، قال البيضاوي وغيره الدخان العظيم المرتفع من جهنم نشر نشر ويتفرق ذو الذوائب.

پوه سه: چي بيضاوي په خصوص کي د هغه ذكر الثلثة ذكر البيضاوي وغيره وجوهًا لايرضيه غيره، مظهري وجه د خصويت په دروكي چي دخول د جهنم

منحصر دی په درو کي احدها الكفر بالله دی وتكذيب الرسل صريحًا وعبارة كقول الكفار افترى على الله كذبًا، وثانيًا اتباع الهوى وتكذيب الرسل وآيات الله اقتضاء كقول اهل الهوى بتأويلات فاسدة عن المجسمة والقدرية والخوارج والمرجئة على ظواهر النصوص القطعية على اجماع الامة المرحومة كما ان المسجمة يكذبون قوله وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة و ما انت عليه من وزن الاعمال والصراط على جهنم والروافض والخوارج درواغ بولي ما تواتر من رسول الله فی مدح ابی بكر و عمر و عثمان و علي ﷺ، وثالثًا اتباع الشهوات في ارتكاب الكبائر كالزنى واللواطة، والصغائر وترک الواجبات فهذا الامور الثلثة تصلح انتكون لانشقاق دخان جهنم الى ثلث شعب.

درويش وايي: چي توجيهات د مظهري تكلفات بلا امتنان احد ولي چي مظهري څو شعب سره يو ځای کړي بيا وايي دا اول شعب الدخان سبب، بيا يو څو شعب من سوء العقائد سره يو ځای کړي وايي دا سبب د وهم شعب الدخان بيا په معاصي د روافض وغيره وګرځوي وای دا دريم شعب الدخان دی، غرض زما د مراد دا دی چي مظهري ګاهي يو شعب چي کفر دی مثلاً شعبه وګرځوي ګاهي د خوارجو روافضو يا بيا بل شعبه د دخان بولي، نو دده پر تفصيل كه (١) كافر (٢)مجسمه (٣) خوارج (۴) روافض (۵) مرجئه (۶) د ابوبكر، عمر، عثمان، علي ﷺ فضيلت چي نه مني (٧) اتباع الشهوات پر داسي ډول تر سل خو ډېرېږي او كه يوه معتبره وي بل بيا جلا اعتبار نه وركوي يرجح بلا مرجح.

درويش وايي: چي په تېر آيت انطلقوا ذی ثلث شعب بيان د كثرت د دخان د جهنم دی، او معنا دلته د لفظ د ثلث على سبيل الاتفاق وارد سوی دی، والله اعلم او روح المعاني په تخصيص کي د درو شعبو درې سببه راوړي دي چي هغو درو ته د مظهري په دغونه اسبابو د تثليث چي ده بيان کړي دي يوه لا هم نسته، فالاولى كما قال الفقير الثلثة شعب اشارة الى كثرة دخان جهنم فافهم.

لَّا ظَلِيلٍ وَّلَا يُغْنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿۳۱﴾

سایه نه ده، کظل العرش وظل الجنة للمؤمنين (ظليل) صفت د ظل دی يعني دا ظل دی ثلاث شعب واقعي سایه نه لري ولي په واقع کي دود دی (ولا يغني عن اللهب) ای لایرد نهب جهنم صفت لموصوف محذوف والتقدير ولا ظل يغني من اللهب.

إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَٱلْقَصْرِ ﴿۳۲﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿۳۳﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۳۴﴾

الضمير راجع الى الظل من حيث المعنى اى يكون المراد به النار لان لفظ مذكر او که له ظل څخه سایه مراد وي يعني ظل ذی ثلث شعب فالضمير راجع الى غير دل عليه الكلام اجهنم (ترمی) تعليل لعدم الاغناء (بشرر) په پښتو غرځی بولي لکه خلگو چي په کلک يخ وچ بوټي د توت سره کښېښول چي اور به يې واخستی يوه خوا او بلي خوا ته به يې غورځکي پورته کېدې چي د اور کوچنی کوچنی ټوټې وې (کالقصر) يعني هره سره غورځکه يې لکه خونه د او ريا يوه قريه د او ريا قلا د اور کذا في القاموس (كانه جملات) گويا دا قصر لکه اوښ، نو د جملات معنی ډېر اوښان (صفر) جمع د اصفر ده ولي چي د اوښ وېښتان اور و اخلي او ريې ژړ معلومېږي (ويل يومئذ) يعني هلاکت دی د مکذبينو لپاره چي تکذيب د اور او عذاب يې کاوه يعني په دنيا کي، جمله دعائيه ده للشر وقد مر معناه تفصيلاً.

هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿۳۵﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿۳۶﴾

چي دوی ای الکفار نطقًا نطقًا يفيدهم او لاينطقون نطقًا اصلاً لفرط الدهشة والحيرة، او نه به اجازه وي دوی ته چي دوی عذر وکړي، لعدم العذر لهم.

وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿۳۷﴾

عطف على ان لايؤذن جمله دعائيه ده لانه يدل على ان الاحوال مطلقًا والاعتذار مطلقًا.

هَٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ ۖ جَمَعْنَٰكُمْ وَٱلْأَوَّلِينَ ﴿۳۸﴾

دا ورځ ده د فيصلې بين اهل الجنة واهل النار، چي سره جمع مي کړه تاسي والاولين من الكفار الاولين الآخرين وكذا القدماء من المؤمنين والكافرين.

فَإِنْ كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾

نو كه وي تاسي لره يو چم او حيله لپاره د خلاصون له عذاب څخه، نو هغه چم تاسي وكړئ، هلاكت دى مكذبينو لره په دې دنيا كي لكه په دنيا كي چي بعض وخت دفع كوله.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾

په تحقيق هغه كسان چي له شرك او له معاصيو څخه يې على تفاوت درجاتهم پرهېزكاوه په سايو كي به وي.

سوال: جنت خو تېوله سايه نه ده بلكې رڼا پكښې سته، لان النور نعمة عظيمة؟

ځواب: دا لفظ يعني في ظلال محمول پر حقيقت نه دى چي يكلخته سايه به وي بلكې دا لفظ كنايه ده له ډېر والي څخه د درختو (وعيون) او جاري ويالې به وي (۱) من ماء غير اسن (چي رنګ به يې تغير نه لري لكه اوبه د دنيا چي يو ځاى ودرېږي بدبويه سي) (۲) ولبن لم يتغير طعمه (لكه د دنيا شيدې چي يو وخت خيدک سي) (۳) وخمر لذة للشاربين (چي خالص خوند وردي څيښونكي لره يعني بېله سردرده يا خمار د عقل لكه د دې دنيا په شرابو كي چي اول وار ډېر دردسر ورسره وي او په اخير كي خمار او نشه ورسره وي) (۴) وعسل مصفى چي د مچمچۍ د شمعي له موادو څخه به هم خلاص وي (وفواكه مما يشتهون) او مېوې رنګارنګ چي د دوى اشتهاء ورته كېږي يعني لذيذة عزيزة نو ماكل او مشارب د مربوط په اشتهاء پوري د جنتيانو دى بخلاف ماكل و مشارب فانها قد تكون لغايت العطش والجوع كما في ايام شهر رمضان.

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾

وخورئ او وڅيښئ يعني يقال لهم من جانب خدمة الجنة والغلمان (هنيئًا) په پښتو وايي دارو درمان دي سه، په پارسي وايي درمان شد ترا لكه د دنيا اوبه چي ګاهي له ډېري تندي په كرنكي كي ولاړي سي، يا ډوډۍ او غوښې د دنيا د سي پر نس ور درد كړي حتى ګاهي انسداد الامعا ورپيدا سي چي بې افريشنه يې علاج نه كېږي (بما كنتم تعملون) من رسوغ والايمانيات في قلوبكم ومعالجاته امراض

السیئات بتداوي الطاعات مثلاً که یو معصیت ځني صادر سي سمدلاسه د ګولې وروسته د اوبو غړپ پسي وکړي.

فائده: جمله د ان المتقین الی اخیره جمله مستانفه ده یعني سائل چي حالات د مسیئنو واوریدی ګویا دی پوښتنه کوي چي د متقینو به څه حال وي؟

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾

موږ د غسي جزاء ورکوو و مخلصینو ته د اعمالو د طاعاتو.

درویش وايي: چي د احسان تفسیر په حدیث طویل کي د جبریل ؑ د پوښتنو د علیه الصلوة والسلام جبریل ؑ وویل ما الاحسان؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک.

درویش وايي: وهذا الحدیث الطویل قد رواه البخاري في صحیحه.

كُلُوا وَتَمَتَّعُوا قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾

خوراک کوي او نفه اخلئ (دا کلام مستأنف و خطاب دی و مکذبینو ته په دنیا کي علی وجه التهدید) لږ زمانه، بیشکه تاسي مجرمین یاست، هلاکت دی مکذبینو لره بالجنة حیث یجرمون نعیمها د ژوند د دوی په دنیا کي، دا زمانه که څه هم د بعض کفارو لپاره طویله وه غایة الطول لکن بالنسبة الی ایام الآخرة في نار الجحیم قلیلة جدًا، اخرج ابن المنذر عن مجاهد ان النبي ﷺ قال لوفد ثقیف آمنوا وامرهم بالصلوة الخمس فقالوا لکن لاینجی فانها مسبة والتحیة وضع یده علی رکبته و وجهه علی الارض کذا في القاموس، وقالوا فانها مسبة ای عارلنا لکه یو چاته چي سرې ښکنځل کوي، فنزلت هذه الآیة.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ارْكَعُوا لَا يَرْكَعُونَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾

او چي کله وویل سي دوی ته چي رکوع وکړئ نو دوی رکوع نه کوي (هذه الجملة معترضة لذم الکافرین)

فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٠﴾

نو په کومه خبره وروسته تر قرآن دوی ایمان راوړي؟ الاستفهام للانکار ای

لايؤمنون بشيئ من الحجج والبيان، اذا لم يؤمنوا بالقرآن لان احسن الكلام كلام الله تعالى وهو مشتمل على وجوه الاعجاز لفظًا ومعنىً وعلى الحجج الواضحة والبراهين الساطعة.

درويش وايي: چي و لله الحمد والمنة په توفيق دده ددې جزء (۲۹) تبارک الذي په يو ډېر مکرم وخت کي پاى ته ورسېدى اخيره ورځ د رمضان المبارک ساعت (۱۰) بجې پايه تکميل ته ورسېدى، يو جزء (۳۰) يعني عم يتسآئلون باقي دى د هغه تفسير په شرافت د مياشتي د روژې چي يو څو ساعته وروسته پوره کېږي د (۳۰) تفسير دي هم خداى عزوجل په خپل فضل او احسان پاى ته ورسوي، والله على كل شيئ قدير، والسؤال عنه تعالى في اخير اجزاء رمضان المبارک مستجاب ان شاء الله تعالى:

درويش وايي: تاريخ شروع سورة النباء في وقت الصبح بعد مضى (۳) ايام من الفراغ عن رمضان الشريف يوم الثلثاء (۱۴۳۳) هجري قمري.

اللهم بحرمة الله المتعال والقرآن العظيم وبحرمة اسمک العظيم الاعظم وفقني لتفسير هذا الجزء الآخرين للقرآن العزيز بالخير والصحة الكاملة والتوفيق الكامل من الله العزيز الرؤف الرحيم واحفظني من جميع الآفات والامراض المنافعة من هذا المرام، يا الله تفسير مي مه يتيم کوې .... بيت:

هغه ورځ به د فقير د ښادى ورځ وي
چي تفسير پر والناس باندي درېږي

ع: ... با كريمان کارها دشوار نيست

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم ۝

الجزء الثلاثون

عمّ ۳۰

تفسير ايوبي حنفي

حضرت مولانا محمد عبيد الله الأيوبي

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة اقرأ والتجويد

كاسي روڈ كوئته بلوچستان

سُوْرَةُ النَّبَاِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝١ عَنِ النَّبَاِ الْعَظِيْمِ ۝٢ الَّذِيْ هُمْ فِيْهِ مُخْتَلِفُوْنَ ۝٣

(عم) اصلها عنما بحذف الالف في الاستفهام چي وروسته تر حرف جر راسي نحو عم، وفيم ولم لپاره د تخفيف لكثر الاستعمال وفرقًا بينها وبين الموصولة او بل حرف فيم ورسره ضموي لبقائها على حرف واحد بعد الحذف، والاستفهام في كلامه تعالى مستعار من التهويل والتفخيم في شان ما وقع فيه الاستفهام فان الله تعالى لايخفى عليه شيئ في الارض ولا في السماء حتى يحتاج الى الاستفهام.

پوه سه: چي ضمير د يتسآئلون راجع دى و اهل مكه ته، وذالک چي نبي ﷺ دعوت ورکړی د توحيد د معبود بالحق او خبريې ورکړی د بعث بعد الموت، وتلى عليهم القرآن اهل مكة په خپل مابين كي خبري سره شروع كړي ما ذا جاء به محمد كذا ذكره البغوي واخرج ابى حاتم عن ابن جرير عن الحسن، نحوه ويحتمل ان يسئلوا عن محمد ﷺ والمؤمنين لپاره د استهزاء.

پوه سه: چي النباء هو الخبر الذي له شان (يعني عظمت لري) او دا هم جواب دى د لوی شان د مسؤل عنه كانه قيل من اى شيئ يتسآئلون هل اخبركم به احد، وروسته يې د نباء عظيم شان بيان كړی چي هغه خارج له عقولو څخه د دائرة الخق دى يتسآئلون على طريقة قوله تعالى لمن الملك اليوم؟ لله الواحد القهار، او بعض مفسرين وايي عن النباء العظيم استفهام اخر دی يعني امن النباء العظيم ام من غيره لكن حذف عنه حرف الاستفهام لدلالة المذكور عليه.

سوال: د يتسآئلون په تأويل چي ضمير و اهل مكه ته راجع دى او اهل مكه خو د مخه نه دي ذكر سوي؟

ځواب: په عدم ذكر كي د دوی تحقير او اهانت دى للاشارة ان ذكر اهم مما يصان به ساحة الحكيم چي قرآن كريم دى.

(الذي) موصول سره د صله صفت دى للنباء.

پوه سه: چي هم ضمير راجع دى الى ما رجع اليه الضمير المرفوع في يتسآئلون وهم كفار مكة دي پر تقدير د دې چي سوال استهزاءً او انكارًا ؤ وعلى

هذا فمعنى قوله (فيه مختلفون) يعني بعض د دوى قطعًا يې انكار كاوه او بعض په شک کي دي، او دا هم احتمال سته چي ضمير دي راجع وي و اهل مكة مؤمنهم و كافرهم اجمعين وعلى هذا فالمعنى ان منهم من يصدق ويسئال عن مزيد كشف الحال و ازدياد اليقين وهم المؤمنون، ومنهم من ينكر ويسئاله استهزاء وانكارًا وهم كفار اهل مكة دي.

كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُوْنَ ﴿٥﴾

(كلا) ردع او منع ده عن الاختلاف المبني على انكار بعضهم (سيعلمون) يعني يوم القيامة يعني الكافرون والمنكرون كونه عند فراق ارواحهم من ابدانهم في القبر (ثم كلا سيعلمون) يعني يوم القيامة.

پوښتنه: د دوه تكراره څه فائده ده؟

ځواب: مبالغة په تكرير د وعيد دوه واره يو په قبر کي او بل بعد البعث.

فائده: كلمه د ثم لپاره د دلالت پر دې ده چي وعيد ثاني يعني يوم القيامة ابلغ دى تر اول.

فائده: په راتلونکو آيتو کي ذكر الله سبحانه وتعالى العلائم الدالة على التوحيد والقدرة على البعث بعد الموت و وجوب شكر المنعم الحقيقي په مباهت د هغو شيانو چي سړى عبادت او توحيد ته رابولي لكه قرآن عزيز او الرسول الكريم ﷺ، فقال:

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهٰدًا ﴿٦﴾

آيا موږ نه وه ګرځولې ځمکه، يعني جنس ځمکه ستاسي لپاره فراش يعني د پرېوتو او د نوري ګذارې لپاره يا ستاسي د نورو امثالو لپاره كسائر الحيوانات، والاستفهام يا لپاره د تقرير دى اى حمل المخاطب باعثه كول د مخاطب پر اقرار چي هو، يا استفهام لپاره د انكار دى ونفي النفي اثبات في المعنى فالمآل واحد.

وَّالْجِبَالَ اَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَّخَلَقْنٰكُمْ اَزْوَاجًا ﴿٨﴾

او غرونه پر ځمکه لكه موږې (لپاره ددې چي ځمکه و نه ښوري په تاسي سره) او ما تاسي نه ياست پيدا كړي اصناف يعني الذكور والاناث، دا يوازي په

انسانانو پوري نه دى خاص بلکې ټوله اصناف د حيواناتو نر او ښځي دي، وهذا كله لبقاء نسل الى اليوم الموعود وهو النفخة الاولى.

وَّجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ﴿٩﴾ وَّجَعَلْنَا الَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَّجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾

موږ ګرځولى دى خوب ستاسي لپاره قطع د ټوله عمل ستاسي يعني چي په اعضاء سره د بدن اړه لري تاچي ستاسي بدونه استراحت وکړي.

فائده: سبت قطع ته وايي ځکه د شنبې ورځ سبت بولي، ولي خداى پاک پر بعض يهودانو چي د درياب پر غاړه اوسېدل د ماهيانو ښکاريې منع ګرځولى ؤ.

(الليل لباسًا) چي هر شى يې پټاوه په خپل تورو الي باندي.

پوهسه: چي دې ته په عربيت کي تشبيه بليغ وايي او په شپه کي عمومي آوازونه بند وي فتسريح النائم (والنهار معاشًا) او موږ ګرځولې ده ورځ معاشًا اى شيئًا للمعاش والرزق په ورځ کي هر سړى په يوه دنده او کار اخته وي يا تجارت يا دکان داري يا موټرواني يا مزدوري الى غيرها من اكساب الدنيا كما لايخفى.

وَّبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَّجَعَلْنَا سِرَاجًا وَّهَّاجًا ﴿١٣﴾

او موږ بناء کړي دي لوړ پر تاسي اووه آسمانونه سخت محكم چي پر دوى باندي مرور د ډېرو زمانو هيڅ تاثير نه دى کړى (يعني الى ان يأتي امر الله) او موږ پيدا کړى دى سراج چي مراد ځني لمر دى (وهاجًا) چي برېښني لکه څراغ، او مقاتلؒ وايي جعل له نورًا وحرارةً، دى وايي چي وهج هو جمع والحرارة.

وَّاَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرٰتِ مَآءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِّنُخْرِجَ بِهٖ حَبًّا وَّنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَّجَنّٰتٍ اَلْفَافًا ﴿١٦﴾

او موږ نازل کړي دي يعني اورولي مو دي (المعصرات) قال مجاهد و مقاتل والكلبي رحمة الله عليهم المراد منها هى الرياح التي تسير السحاب وهو رواية العوفى عن ابن عباس رضـ فعلى هذا كلمة من للنسبة وقال ابو العالية والضحاک المعصرات هى السحائب (وريځي) وقال الفراء المعصرات هي السحائب يتجلب بالمطر ولم يمطر كالمرئة المعصرة التي لم يلد لا اتى حيضًا ولم تحض بعد.

درويش وايي: وهذا يخالف سياق الكلام فيما بعد ولان الكلام في انعاماته تعالى وما قال الفراء فليس بنعمة وقال ابن كيسان هي المغيثات من قوله وفيه

تعصرون فعلى هذه التأويلات كلمة من للابتداء.
(ماءً ثجاجًا) قال قتادة متتابعًا پرله پسې، وقال ابن زيد كثيرًا ولا اختلاف بينهما الا في اللفظ (لتخرج) چې مونږ راوباسو په دغه باراني اوبو (حبًا) دانې چې انسانان يې خوري لکه غنم، اوربشي، جوار، وريجې الى غيرها من الثمرات (ونباتًا) وابښه، شوتل، شپيشتې چې دواب يې خوري (وجنات) باغونه د مېوو لکه انګور سېب وغيرها (الفافًا) چې ښاخونه يې يو پر بل له سببه د کثرت پېچل سوي وي، قالوا هذا من محسنات البساتين كما نرى في بساتين الدنيا، وبالفارسية درهم پيچيده وبيک ديگر نزديک شده، علماء وايي چې الفافًا مفرد لفظ نه لري كالاوزاع بمعنى الجماعات المتفرقة وكالاخياف، مظهري وايي مفرد يې لف دى كجذع وجذاع يا جمع د لفيف ده كشريف واشراف يا واحد د لفظ نه لري.

درويش وايي: چې حاصل د کلام الهي دا دى چې دا اورېدلي شيان چې تاسي ته ثابت سوا و خداى عزوجل پر اختراعاتو د دغو شيانو قادر دى نو قادري الى اعادتها وفي جملة ذالك الانس والجن وان تلك الامور العظام لايتصور وجودها الا من فاعل حليم ولاتكون عبثًا او منافيًا للقدرة نو سامع چې دا واورېده شوق يې پيدا سو و معرفت ته د صفات د وقت الفصل فاستأنف الكلام.

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾

په تحقيق ورځ د فصل بين الحق والباطل (كان) في علمه وحكمه (ميقاتًا) وقت د ثواب او عذاب وقتًا معينًا لهما.

پوه سه: چې فقير داسي وويل في علمه وحكمه يعني په تقدير ازلي کي د خداى عزوجل ددې لپاره چې ثبوت د يوم القيامة يوم الفصل غير مقيد بالزمان الماضي كما يتوهم من قوله كان لانه امر مقرر و مقدر قبل حدوث الزمان ايضًا فافهم.

يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾

هغه ورځ چې پوه کړل سي (يوم ينفخ) بدل دى له يوم الفصل څخه يا عطف بيان دى يا خبر ثان د كان دى (في الصور) په شپېلۍ يا قران کي، روى عن ابن مسعودؓ بسند صحيح الصور كهيئة القرآن (لاكقرن الدنيا) ينفخ فيه (يعني

اسرافيل) او وهب بن منبه وايي چي صور من لوءلوء بيضاء في صفاء الزجاجة (ښيښه) وفيه ثقب (سري سته) بعدد كل ذي روح، مراد له دې نفخه څخه نفخة ثانيه ده للبعث حتى ترد الارواح الى اجسادها، نو هغه ژوندي سي.

(فتأتون افواجًا) افواج حال دی له فاعل څخه د تأتون والمعنى جماعات مختلفة، له قبرو څخه كماهو عادت العرب چي دوی مړي په قبرو كي ښخوي او حيث كانت تلك الابدان المتزقه والاوصال المتفرقة الى مكان الحساب، عن ابى ذر رضي الله عنه قال حدثنا الصادق المصدوق عليه السلام ان الناس يحشرون يوم القيامة على ثلاثة افواج، يوه ډله طاعين كاسيين راكبين (اى على مركوب يناسب ذالك اليوم وقومًا يمشون يسعون) يوه ډله پياده روان وي چابک چابک (وفوج يسحنون) كشول كېږي على وجوههم، رواه النسائي والحاكم والبيهقي.

درويش وايي: چي د افواجًا په تفسير كي مظهري وايي په روايت د معاذ بن جبل رضي الله عنه چي زما امت به لس صنفه وي د هغو صنفو بيان يې كړى دى په اخير كي يې ويلي دي چي دا روايت ابن عساكر كړى دى وقال ابن عساكر هذا حديث منكر وفي اسناده مجاهيل (په سند كي يې مجهول كسان دي) بيا يې د خطيب بغدادي روايت راوړى دى چي په هغه كي وايي يحشر امتي (۱۰) صنف ثم بين الخطيب ينقل المظهري چي هغه مثل الاول له وضع څخه خالي نه دى، روح المعاني خو اول ويلي دي اى كل امة بامامها كما قال سبحانه و تعالى يوم ندعوا كل اناس بامامهم (وهذا صحيح) بيا يې ويلي دي جماعات مختلفة الاحوال حسب اختلاف الاعمال وهذا ايضًا صحيح، وروسته يې يو حديث په روايت د ابن مردوية له براء بن عاذب رضي الله عنه څخه راوړى دى چي مفصل جماعات يې پكښي راوړي دي، په اخير كي يې ويلي دي چي ابن حجر وايي دا حديث موضوعي دى او روح البيان هم ورته جماعات بيان كړي دي.

درويش وايي: چي زما شخصي نظريه دا ده چي كه د دغه آيت فتأتون افواجًا تفصيل دد فوجو او جماعاتو له يو عالم څخه ثوک وغواړي جواب دي داسي وركړي الله ورسوله اعلم، ولي چي خداى عزوجل په دې ګناه ثوک نه نسي چي تا ولي تفويض د علم و خداى ته وكړى، او كه په تفصيل بيان كي يوه جمله پر خداى

او رسول باندي درواغ وو ايي خداى عزوجل يې نسي، اخرج البخاري وغيره، قال رسول اللهﷺ من كذب علي متعمدًا فليتبؤ مقعده من النار او كما قال.

وَّفُتِحَتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ اَبْوَابًا ﴿١٩﴾

سره ټوک ټوک به سي آسمان (له آسمان څخه معنى جنسي مراد ده چي ټولو ته شامل سي)

پوه سه: چي قراء د كوفې يې په تخفيف د تا وايي كما في المصاحف المطبوعة في الزمان الحاضر، او قراء باقي يې په تشديد د تا وايي للمبالغة والتكثير (لكه دروېش چي دمخه وويل چي د سماء څخه معنى جنسي مراد ده) وهذا عطف على تأتون افواجًا.

سوال: په زمانه كي د نزول د قرآن خو دا شيان نه دي واقع سوي فكيف يصح التعبير عنها بالصيغ الماضية؟

ځواب: ذكر ماضي ده او مراد استقبال دى لكون هذه الامور متحققة الوقوع لا محالة، نو مستقبل يې لكه ماضي دى ولهذا عبر بالصيغ الماضية وعلى هذا فقس وسيرت (فكانت ابوابًا) په تقدير د مضاف اى ذات ابواب يا محمول پر مبالغه دى اى كانت السماء من كثرة الشقوق كانت كلها ابوابًا.

وَّسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾

او ولاړ به سي غرونه مع شدتها دمخه څخه د مځكي في الهواء كالهواء (دا غرونه چي هوا غوندي سوه په كښته ځايو كي مځكي لوېږي لتسوى الارض) فكانت سرابًا: نو وګرځي دغه غرونه چي د خپلو ځايو څخه ولاړه.

پوه سه: چي سرب په اصل كي ذهاب ته وايي كذا في الصحاح، او اصل معنى د سراب دا ده چي سړي ته په دښت كي اوبه برېښي اما سرا به په رائ العين كي وي والمراد ههنا صارت الجبال شيئًا لاحقيقة لها متفرق اجزائها تفرقًا تامًا.

پوه سه: چي رب جل و علا چي ذكر كړه چي الناس اجمعين يې لپاره د حساب په ورځ د قيامت جمع كړه كبرى بقوله جل ذكره فتأتون افواجًا اشتاق السامعين الى تفصيل احوالهم فذكر الطاغين اولًا لان الترهيب اعم من يرصد عند الاذهان فقال:

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿۲۱﴾ لِّلطَّٰغِينَ مَآبًا ﴿۲۲﴾

چونکه جهنم مؤنث سماعي ؤ ځکه يې ضمير د مؤنث په کانت کي ورته راجع کړی)

پوهسه: چي رصد انتظار ته وايي او هغه ته هم وايي چي د يوشي انتظار پکښي کېږي (کارصاد الرياضيين العلم باحوال حرکات الکواکب) ونيز گفته شده که ترهيب بهتر است از ترغيب، والمعنى على تقدير کونه الرصد موضع الانتظار چي ملائکه د غذاب او ملائکه د رحمت سره جمع وي انتظار کوي په نېز د پل صراط د خلګو، اما ملائکة العذاب فيرصدون الکفار تاچي ټينګ يې کړي او دوږخ ته يې ور وغورځوي ليعذبونهم، واما ملائکة الرحمة فيرصدون المؤمنين لى ليجرسنهم في مجاوزتهم على جسر جهنم من فيح جهنم د لمبو څخه د دوږخ او د چنګکانو څخه د صراط چي کلاليب يې بولي، نو پر دې تقدير ددې آيت معنى دا ده چي پل صراط ممر د ټولو خلګو دی يعني که مؤمنان وي او که کافران وي ويدل عليه قوله تعالى وان (نافيه دی) منکم الاواوردها، البيهقي روايت کړی دی له انس څخه قال سمعت النبي ﷺ يقول الصراط تېره دی لکه تېره والى د توري، وان الملائکة يحفظون المؤمنين والمؤمنات وان جبريل آخذ بحجزتي (د پرتګانښ تر ځای چي عليه الصلوة والسلام وويل په اور به ګډ نه سي يجب امته) وانا اقول رب سلم سلم (زما امت سالم وګرځوئ د دوږخ څخه) بلکې ټوله انبياءؑ د خپلو امتو لپاره يعني د مؤمنانو لپاره د سلم سلم نعرې وهي او چنګه کان پورته کوي چي مؤمنان ځني وژغوري، قال البيهقي عن مقسم عن ابن عباسؓ رواية على جسر جهنم (يعني پر پل سراط)

(۷) د پوښتنو ځايونه سته چي د بندګانو څخه پوښتنې کېږي (۱) پوښتنه د لآ اله الا الله که هغه بنده پوره اجراء کړه ورتېر سي بنده (۲) بيا د لمونځو پوښتنه ځني کېږي فان جاء بها تامة (۳) بيا ورتېر سي چي په هغه کي د زکوة پوښتنه کېږي فان جاء بها تامة وترتېر سي (۴) بيا د روژې پوښتنه ځني کېږي که يې د هغه جواب مثبت ورکړی نو (۵) د سوال ځای ته ورتېر سي، فيسئال عن الحج يعني که پر فرض ؤ، که يې دا جواب هم مثبت ؤ مثلاً و يې ويل چي مسکين وم حج نه ؤ راباندي فرض، دروېش وايي وهکذا في سوال الزکوة په دريم ځای کي.